# د پښتونولۍ

# دحقوقي نورمونو او ارزښتونو

# ایډیالوژیک بنسټ

لیکوال: سراج الحق ببرک زی

ایدیټ : رحمت آریا

تأریخ : ۲۰۲۴/۰۸/۲۲

# د پښـتـونولی
# دحقوقي نورمونو او ارزښتونو
# ایډیالوژیک بنسټ


مندرجات


موضوعات..........................................................................پاڼی
سریزه............................................................................... 4
لومړۍ برخه ....................................................................... 5 -
د پښـتـونـولی ټرمینالوژیک أصول............................................ 5 - 7
د افغانیت یا پښـتـونـولی ایتمولوژي .......................................... 7 -8
پښـتـون، پښـتـو او پښـتـونولي............................................... 8 -9
دویمه برخه ...................................................................... 9-15
د پښتـونـولی د حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ.......................... 9 - 10
اسلام او پښـتـونولي.............................................................. 10-11
پښـتـونولي او افغان ملي دولتونه ............................................... 11 -12
د پښـتـونولي کانسپټونه یا مفاهیم............................................. 12-15
دریمه برخه...................................................................... 15 -23
د پښـتـونـولی ایډیالوژیکي کانسپټ او د پښـتـون ولس د ملي تأریخ فلسفه............. 15-17
د پښتـنـو د مدني ټولني کانسپټ................................................ 17-18
اسلامي ایډیالوژي او د پښـتـونولی ایډیالوژي................................... 18-20
د پښتـنـي قبـیلـي د نسب ونه او د پښـتـونولی ایډیالوژي........................ 20-23
څلورمه برخه.................................................................... 23-26
د افغانستان د دولت او د افغان ملت د جوړوني په سیستم کي د پښـتـونـولی کانسپټ23 -26
پینځمه برخه..................................................................... 27-29
د پښـتـونـولی د حقوقي نورمونو ټرمینالوژیکي مهم منل شوي کانسپټونه............. 27-29
شپږمه برخه...................................................................... 30-37
پښـتـونولي د ننګ، غیرت، پت، پرده، سَتر، شرم، حیا او د اخلاقو لرغوني ټولنه...30-37
د پښـتـونـولی په رسمیت نه پیـژندل شوي حقوقي نورمونه............................ 33-37
اوومه برخه....................................................................... 38-44
د افغانانو د مـیلمه پالني او مـیلـمسـتیا سپیڅلی لرغونی کانسپټ.................... 38-39
د پښتـنـو د پښـتـونـولی د بدل کانسپټ........................................... 39-40
د پښتـنـو د افغانیت د ننـواتـي کانسپټ........................................... 40-41
د پښـتـونـولی د ننګ، پښـتـنـي غیرت، ناموس، شرم او د حیا کانسپټ............... 41-44
اتمه برخه......................................................................... 45- 47
د پښـتـونـولی د توري او عقل کانسپټ............................................ 45-47
نهمه برخه........................................................................ 48-52
پښـتـونولي د پښـتـون ولس د توکم او د شخصیت پیـژندني خپل یو انځور دئ...... 48-50
له سرکښو جنګیالیو څخه یو دم د عالي او ممتاز جنګیالي جوړیـدل................... 50-52
لسمه برخه........................................................................ 53-59
د افغانیت د بدل اخـیـستلو په کانسپټ کي د پښـتـون ولس د یو مخکښ ستر اتل
عجب خان اپریدي حماسي کیسه.................................................. 53-55
د عجب خان د ډارماتیکي کیسي پای............................................... 55
د یوه پښـتـون د هلو ځلو او هڅو موخه خاني که قومانداني ده......................... 56-57
شهادت او بریالیتوب............................................................... 57-58
د خبرو ټولیزه.................................................................... 58-59

يوولسمه برخه..........................................................................65-59
د طالبانو د رژيم وچ کلک سختدريځه قانون او اخلاقي اصول له اسلام پرته
نورې ريښې هم لري!...........................................................65-59
دولسمه برخه.........................................................................72-65
د پښتـونـولـی د مرکو، ملي جرګو، لويو جرګو سياسي او حقوقي کانسپټ........67-65
لويو جرګو د افغانستان د ملي دولتونو او د افغان ملت د ملي تأريخ د
فلسفي بنسټ ايښودلی دئ..........................................................70-67
د پښتـونـولـی د لويې جرګې تعريف، جوړېدل، څرنګوالی او
ترمينالوژيک ارزښت.................................................................72-70
ديارلسمه برخه ..........................................................................75-72
د افغانستان د ملي دولتونو په دولتي فلسفي کانسپټ کې د افغان ملي
هويت، د جرګو، مرکو او اساسي قوانينو ارزښت....................................74-72
لويه جرګه د سوله ييزو ملي خبرو اترو لپاره يو سياسي پلټفورم دئ...............75-74
څوارلسمه برخه...............................................................................75
د پښتـنـو او پښتـونـولی قومي جرګه................................................76-75
د پښتـونـولی د مرکو او جرګو له لارې د کليوالي ستونزو او شخړو هواري....76
د پښتـنـو د پښتـونولی دوديزه جرګې دوه ډولونه لري............................79-76
محکمي ته ورته جرګې او مرکې..........................................................79
جرګه په حقوقي کانسپټ کې د سوله ييز حل او خبرو اترو لپاره يو پلاټفورم......80-79
د پښتـنـو د جرګو او مرکو د رسمي اعتبار، پايښت او پالنې له پاره يو وړانديز82-80
د پينځه لسم برخه...........................................................................95-82
په ځوان افغان دولت کې د پښتـونـولی لرغونی زوړ دوديز قانون................89-82
شپاړلسمه برخه...........................................................................95-89
د پښتـونـولی د حجرې او جومات کانسپټ..........................................92-89
د پښتـونـولی د حجرې او جومات کانسپټ..........................................93-92
اربکيان که سيمه ييزه پوليس ؟.......................................................95-93
اوولسمه او ورستی برخه...................................................................105-95
د پښتـونـولی په قانونغونډه کې د تربور او تربورګلوي کانسپټ.................96-95
د پښتـونـولی د تيږې کانسپټ.......................................................97-96
د پښتـونـولی د بدرګي کانسپټ.........................................................97
د پښتـونولي د پګړي يا حشر کانسپټ.............................................98-97
د پښتـونـولی د لونګی، پټکي، پګړی، بګړی او د شملې کانسپټ................99-98
د پښتـونـولی د خان او قومي مشر کانسپټ.........................................100-99
پښتـونولي او پښتـنـه ټولنه کې ناوړه منفي دودونه او رواجونه................102-101
په پښتـنـي ټولنې کې پښتـنـو او پښتـونولي دغو لاندو ارزښتونو ته
ډېر پام کړی دئ..............................................................................102
راتلونه او لنډيز...............................................................................105-102

## سریزه

د افغان حکومت په کورني او بهرني سیاست کې، په عدلي او قضایي ارګانونو کې، د مشرانو په جرګې، ولسي جرګې او د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې پردي ارزښتونه، زموږ خپل منل شوي لرغوني افغاني ملي ارزښتونه لکه د افغان ملي هویت، افغانیت او ان د اسلامیت ارزښتونه پردي ګرځېدلي دي. حکومت کې دننه او بهر افغان ضد پردیپالي ډلې په افغاني اسلامي دودیزه ټولنه کې د خپلو شومو موخو ترلاسه کولو لپاره، د تبعیض او تعصب د خپراوي لپاره ټلویزیونونه او ډله ییزې رسنۍ فعالي کړي دي. نن ټول روڼ- اندي، هېوادپال پښتانه افغانان ویني چې د پښتنو په ملي اسلامي ارزښتونو، نورمونو او کلتوري هویت باندې د پردیپالو ناپوهو، متعصبو عناصرو لخوا په ډېرو نازکو، خونړیو جګړیزو حالاتو کې نوي ناځوانه پلید بریدونه تر سره کېږي. افغانان پښتانه مجبور دي د دغو متعصبو ډلو مخه په هره بیه چې وي او باید په جدي توګه یې په ګډه ونیسي. پښتانه اوس د خپل ملي هویت او لرغوني هېواد ارزښتونه، دوست او دښمن ډېر ښه پېژني. نور په خپل لستوني کې د مکار ډارن پردیپال دښمن چلونو ته بې تفاوته پاتې کېدل یوه ستره ولسي تېروتنه او ګناه ده. د پښتنو مرکې او جرګې د پښتونولۍ لرغوني اصول دي او دا د تفاهم، خبرو اترو، د زغم، صبر او زغملو ستر کلتور دئ. پښتونولي د پښتنو د ولسي منځلاریتوب، عدم تشدد، د سوله ییز ولسواکه ګډ ژوند، د حیا، پَردې، عزت، د ورورګلوۍ، پرته له هر ډول تبعیض او تعصب لاره ده.




د پښتونولۍ د اصولو له مخې هر څوک دا حق یا ریښته لري چې په ټولنه کې منل شویو ملي اسلامي ارزښتونو ته په درناوې سره په عزت، حیا او پَرده کې سوله ییز ګډ ژوند وکړي. د اسلام دین په لوی افغانستان کې پښتنو او پښتونولۍ ته اجازه نه ورکوي، چې له نورو لږکیو ورونو قومونو څخه ځان برتر یا پورته وګڼي او نه یې ګڼلی دئ. پښتانه خپل حق او د بل حق هم ډېر ښه پېژني. په افغانستان کې پښتانه نه یوازې ډېره کي دي، بلکې د افغانستان د معاصرو دولتونو بنسټ یې د جرګو له لارې ایښودلی دئ. له همدې امله په ټولنه او دولت کې د دوی حقوق د نورو لږکیو په پرتله د نړېوالو دولتي قوانیو پربنسټ قانوناً ډېر دي. پښتانه په افغان ملي دولتونو کې د دولتي ولس، دولت جوړونکي ولس او دولت ورونکي ولس په څېر پېژندل شوي وګړي دي. د پښتونولۍ اصلي منځ- زړی او بنسټیز فلسفي فکر هر ریښتیني افغان پښتون ته دا ورزده کړي چې ته، ستا کورنۍ، ستا قبیله، ستا سیمه، ستا ولس، ستا هېواد او ستا د پښتني افغاني ملي هویت ارزښتونه تل له ګواښونو سره مخامخ دي. دا ستا د ننګ او غیرت ایماني دنده ده چې د بهرني دښمن پر وړاندې ورڅخه دفاع او ساتنه وکړئ.

# لومړۍ برخه
# د پښتونولی ترمینالوژیک اصول

د پښتونولی ترمینالوژیک اصول انسان ته رښتینولي، خیرښېګڼه، د ارادې څواکمنتوب، نه ماتیدونکی او نه تسلمیدونکی لوړ افغاني هویت، افغاني ننګ، غیرت، ملي احساس، لوړ کرکټر، صبر، زغم او عالي کلک هوډ همت ور زده کوي. پښتونولي یا د پښتنو قبیلوي تعاملاتي قانون په لوی افغانستان کې او پر نړېوال کچ د پښتني ټولني، د ټولنیز پرستیژ، د ټولنیزو اخلاقي



عادتونو، د کړو وړو نورمونه او د انساني فلسفي د لرغونو ارزښتمندو ارزښتونو یوه ټولمنلي حقوقي ټولګه پېژندل شوي ده. افغانانو له پېړو پېړو راهیسي په دولتي چوکاټ کې او یا له دولتي ارګانونو څخه پرته، په خپل منظم خپلواکه سیستم او قبائیلي دودیزه نظام کې له خپلو ملي نورمونو او ارزښتونو سره ګډ ژوند کړی دئ. پښتونولي د پښتنو افغانانو په ستر هېواد کې د سوله ییز عدالتي ګډ ژوند لپاره هر پښتون ته یو منل شوی لرغونی ستر کانسپټ (Concept / Konzept) [مفهوم] دئ. دغه کانسپټ یو شمېر منل - شوي منطقي حقوقي نرخونه، فلسفي پاخه بنسټونه او څېرکي لري. پښتونولي یا افغانیت د پښتني ټولني قبائیلي لرغوني ایډیالوژي ده. پښتونواله یا پښتونولي پښتنو ته له پلرونو او نیکونو، له یو نسل څخه بل ته، په شفري، شفاهي او شعري تحریري ډول په میراث پاتی شوې ده. پښتونولي د بشریت په تأریخ کې، د پښتنو د تأریخ په اوږدو کې د پښتون ولس یو زوړ، لرغونی، تصوفي، معنوي، روحاني ټولنیز ګډ هویت دئ. پښتونولي د پښتني ټولني او د پښتون ولس یو نړېوال پېژندل شوي انځور دئ. پښتونولي په مستقیم ډول د پښتنو له ستر کور څخه، د قبائیلو، قبیلي، د افغان ستر ملت، د افغانانو له ملي دولتونو، د افغان له ملي هویت، د پښتون ولس له ارزښتونو څخه په خپل پلرني هېواد کې روحاً، جسماً او عملا دفاع او ساتنه کوي.

پښتونولي د افغانانو له سوله ییز ژوندانه او خپلواکی څخه د بې شرمه، بې ننګه، بې نامه، بې نښانه، بې حیا، بې عزته، بې وطنه، سپین سترګي یرغلګر دښمن پر وړاندې په خوندي توګه ساتنه او دفاع کوي. پښتونولي د پښتنو خپلواکه، عزتمن، غیرتمن، سوله مل او متمدن ژوند د ارزښتناکو ارزښتونو په خوندي ساتلو کې، د ټولني په امن او نظم او د سمون په لاره کې د ژوند کولو یوه ایډیالي ونډه یا رول لوبوي. پښتونولي د پښتني ټولني په کلتوري او ملي هویت پېژندنه کې یو ستر برلاسي څواکمن څواک پاتي شوی دئ. د پښتونولی څواک او اغېزې تر اوسه د پښتنو په زاره پاله، محافظه کاره ټولنه کې د حقوقي امن او نظم موازنه ساتلي ده. د جرګو او مرکو تأریخ ته په کتو سره پښتونولي د پښتون ولس لپاره یو دفاعي سیستم دئ. د پښتونولي دودیزه قانون او ارزښتونه له آمو تر اباسینه د ټولو پښتنو افغانانو ګډې ملي ځانګړتیاوې دي. د پښتونولی سیستم

د پښتون افغان ولس په ژوندانه کې، سره د خپلو ټولو کورنيو او بهرنيو ستونزو، جګړيزو خونړيو کړکيچونو، د خپلو ټولنيزو خيرښيګڼو چارو سره د اسلام له مبين دين څخه مخکې او راوروسته د پښتنو د ژوند او فکر د لارې مل دئ. د پښتونولۍ د پوهې اصلي مانا په دې کې نغښتې ده چې دغه انساني پوهه د انسانانو پر کولکټيفي سالمه ګډه پوهنه باندې راڅرخي. پښتونولي له پېړيو پېړيو راهيسې پښتنو ته په پښتنه ټولنه کې د ټولنيز امن او نظم، ټولنيز عدالت، عدم تشدد، د سوله ييز ګډ ژوند پر لور لارښوونه کړې ده. د پښتونولۍ دغه انساني دوديز قانون، له څو پېړيو راهيسې د اسلام له مبارک دين څخه پرته بل هېڅ مذهب او دين ته سر نه دئ ټيټ کړي. پښتو، پښتونولي او افغانيت په نړۍ کې د ستر پښتون ولس د ولسي شتون، د خودمختارۍ، خپلواکۍ، ولسي پرستيژ، حيثت، وقار، شان شوکت، د ولسي يووالي د وجود او بقا له پاره يو ضمانت يا يوه ګرانټي ده. پښتونولي د پښتون افغان ولس د ملي يووالي او ملي دولتونو ايډيالوژيک بنسټ ايښودلی دئ. پښتونولي په پښتنو کې د « موږ احساس » يا په پښتنو کې د پښتونتوب ملي ولسي احساس پياوړی کوي. پښتونولي نه دين، نه مذهب، نه کومه نوې سياسي پردۍ ايډيالوژي ده او نه کوم نشنليستي توپير چلنده غورځنګ دئ. د لويديځ د ښکيلاک او د زبرځواکي امپرياليستي نړۍ تأريخ پوهان او څېړونکې په دې خبرې ښه پوهېږي چې افغانستان د يرغلګرو زبرځواکو او امپراتوريو او د سترو هېوادونو هډ - ايره «هديره» ګرځېدلی دئ. دوی په دې هم پوهېدلي چې په افغانستان کې د دوی د ماتې اصلي لامل يا عنصر د پښتنو د پښتونولي اصول دي. همدې پښتونولۍ د پښتنو د خپلواکۍ مقاومت، د خپلواکۍ احساس، د پښتنو ننګ، غيرت، د پښتنو توريالیتوب، ننګياليتوب او د پښتنو اسلامي ايماني ځواک لا نور ځواکمن کړی دئ. پښتنو تر نورو مسلمانانو په خپله خپلواکۍ، خپله خاوره، پر خپل سپېڅلي دين او مذهب باندې ډېر ټينګ ننګ او غيرت کړی او کوي يې. د لويديځ يرغلګرو پوځونو د افغان ولس د خپلواکۍ مقاومت ځکه مات نشو کړای چې پښتنو افغانانو د خپل مقاومت او د خپلواکۍ په جګړه کې تل د پښتونولۍ د توري له شرنګ، غيرت او د اسلام د مبارک دين له سپېڅلو صفاتو او ارزښتونو څخه ګډ کار اخېستلی دئ. په نړۍ کې هيڅ يوه داسې انساني مدني ټولنه او ايډيالوژيک سياسي ټولنيز سيستم نشته، چې په هغه کې هر څه پرفيکټ / يا بې عيبه او کامل وي. پښتونولي له لرغونو زمانو څخه د سوکاله، خوشاله ټولنې لپاره د باوجدانه با ضميره انسانانو يو ګډ فکر دئ. په ډېرې خواشينۍ سره دا فکر او دوديز قانون لا تر اوسه نه دئ ليکل شوی. له شکه پرته چې د پښتنو دغه لرغونی قانون د اسلام د مبين دين او د شرعي قوانينو په رڼا کې سمون او ودې ته اړتيا لري. د بېلګې په ډول پښتونولي يو نارينه پال قانون ګرځېدلی دئ. په خواشينۍ سره ښځه په پښتنه ټولنه کې لکه د دريمې نړۍ په وروسته پاتو هېوادونو او ټولنو کې دويم ځای لري. په افغاني ټولنه کې اوسمهال پوهې لوستې ښځې ورو ورو خپل حقوق د اسلامي شريعت د پوهې په رڼا کې ترلاسه کوي. له څو لسيزو راهيسې، تجربه لرونکې مشرانې، سپين سرې ښځې د کلي او کورنيو شخړو په مرکو او لويو جرګو کې هم برخه اخلي. ښځې په پښتنې ټولنه کې د پوهې په تر لاسه کولو سره ورو ورو خپلو خدای - ورکړل شويو حقونو ته لاره خلاصوي. افغاني ټولنه د نړۍ يوه لرغوني دوديزه ستره ټولنه ده. افغانان لا تر اوسه د ملت جوړونې او دولت جوړونې په بهير کې لاس اوګريوان دي. زموږ په افغاني ټولنه کې کوم نورمونه او ارزښتونه چې پردي ګرځېدلي دي، هغه زموږ خپل لرغوني ملي اسلامي ارزښتونه دي. د پښتونولۍ قانون د اسلامي شريعت، قوانيونو او نورو مدني قوانينو پر بنياد ليکولو او سمون ته اړتيار لري. د افغانستان وروستي دولتونه يو په بل پسې ځکه له سقوط سره مخامخ شول چې دوی په خپل دولتي چوکاټ او د خپلو قوانينو په جوړښت کې د افغانيت او اسلاميت ارزښتونه، نورمونه د خلکو په خوښه په سمه توګه مشخص او تنظيم کړي نه ول. زما په اند په وروستيو سلو کلونو کې د افغانستان د نه پرمختګ او وروسته پاتې- والي اصلي لامل په دې کې نغښتي دی: په آسيا کې د لويې لوبې د سيالۍ پيل له يوې خوا او له بلې خوا انګريزانو او روسانو پښتانه تر سختو پوځي بريدونو لاندې راوستل او په انزوا کې يې وساتل. کله چې افغانانو د خپلې پښتونولۍ د لرغوني احساس له

مخې د انګریزانو او روسانو د پوځي استعماري ګوابنونو پر وړاندې تر خپل ځان یو فولادي دیوال را تاو کړ، پښتنو خپله دودیزه قبیلوي ټولنه د نړۍ له موازي پرمختګ څخه نوره هم په شا یا وروسته پاتې کړله. ورسره پښتانه په مادي او معنوي توګه بې وزلي شول او د خپل دودیز ساده ژوند په فورم کې وروسته پاتې کېدل یې خوښ شول، تر څو چې پښتانه د انګریزانو او روسانو تر نړېوال استعمار لاندې په مرییتوب یا غلامي کې ښه مادي ژوندغوره کړي. د افغانیت یا پښتونولۍ په اړه د نړۍ په ډېرو ژبو او بهرنیو ادبیاتو کې لکه آلماني، انګلیسي، فرانسوي، هالنډي، روسي، ایټالوي، هسپانوي، سویډني، چکي، جاپاني او د نړۍ په نورو ژبو کې، پوهنتوني او اکاډیمیکې ژورې څېړنې د حقوقپوهنې، سیاستپوهنې، توکمپوهنې او ټولنپوهنې په رڼا کې تر سره شوي دي. همدا راز د پښتونولۍ په اړه د نړۍ په ډېرو پوهنتونونو او پوهنځیو کې د سیاستپوهنې، حقوقپوهنې، توکمپوهنې او ټولنپوهنې په برخه کې د دوکتورا، ماسترۍ په کچه پوهنتوني - علمي څېړنې په ډېر په زړه پورې او په اعلي درجه بریالي ترسره شوي دي. همداسې د پښتونولۍ په اړه ډېرو څېړونکو، ډیپلوماتانو، توکمپوهانو، ټولنپوهانو او حقوقپوهانو د پښتنو د قبائیلي لرغوني قانون او ارزښتونو په اړه هراړخیز کتابونه، تیزسوونه، سیمینارونه، سیاسي، ادبي لیکنې او مقالې لیکلي دي. د پښتونولۍ د ارزښتونو، نورمونو او ځواک په اړه دا لیکنه څو برخي لري. د نړېوالو پوهنتوني اکاډیمیکو لیکنو، څېړنو او کتابونو پر بنسټ کومې چې ما تر خپل وس په آلماني ژبه کې لوستي دي، له بېلګو او اخځلیکونو سره چمتو، ترتیب او لیکلي دي. د پښتونولۍ د قانون د څېړنو او پېژندګلوۍ لپاره نړېوال څېړونکي په خپله افغانستان ته د پښتنو سیمو ته تللي دي او هلته یې په خپله پښتانه له نېږدې لېدلي دي او د پښتونولۍ، د هغوی د کړو وړو، عرفونو او عادتونو په اړه ورسره غږېدلي دي. له دوی سره یې د پښتونولۍ په اړه خبرې اترې، پېژندګلوي، څېړنې او تجربې تر سره کړي دي. دوی په سیمه کې د پښتنو له سپین ږیرو، مشرانو او پوهانو سره خپله پوهه شریکه کړې ده، د لویدیځ ټولو مخورو نامتو ښاغلو څېړنکو د پښتنو افغانانو د پښتونولۍ یا د هغوی له فلسفي حقوقي فکر څخه لږ یا ډېر یو ډول انځور او پوهنې اخېستنه کړي ده. د پښتونولۍ د تعریف او مفهوم په اړه ټول لویدیځوال نامتو پوهان، څېړنوال او لیکوال په یوه خوله دي، چې پښتونولي د حقوقو، اخلاقو، مورال یا د ښې کړنې کوډ یا شفر دئ، د حقوقي تعاملاتو، د ښه خوی او عادت، د ژوندانه معقول دودیز تصورونه نورمونه، کلتوري اړیکې او جوړښتونه یې په خپل غېږ کې ټینګ نیولي دي. دوی دا هم وایي، چې د پښتنو د کړو وړو او د عزت «کوډکس» یا [د قوانینو د مجموعې] وَده او د پرمختګ ټولنیزه سیاسي ښکارنده نه یوازې د اسلام په مبین دین کې خپلې ریښې لري، بلکې د ابراهیم (ع) تر دین پورې یې خپلې ریښې غځولي دي. پوښتنه دا ده، چې څنګه د پښتونولۍ سیمه ییزې جرګې د پښتنو په لرغوني ټولنه کې د دولتي حاکمیت په شتون کې او یا له دولتي سیاسي ادارو پرته او یا دولتي عدلي، قضایي ځواک ته د خلکو د نه لاسرسي له امله، خلک بیا هم سیمه ییزو جرګو ته ورځي او د دوی په حقوقي، جزایي اجراأتو، خپلمنځي شخړو او د دعوی ګانو په حلولو کې د جرګو د پرېکړو میکانیزم پلي کېږي. په لیکنه کې د پښتني ټولنې د یوې سیمه ییزې جرګې د دعوی بهیر او ډول د بېلګې په توګه وړاندې کېږي. په دغه لیکنه کې د پښتونولۍ له ادبیاتو څخه د مهمو ترمینالوژیکو مصطلحاتو تشریح له څو لنډو بېلګو سره وړاندې کېږي لکه د پښتونولۍ لویه جرګې، د ملي جرګو او مرکو لنډ تأریخ او په وروستۍ برخه کې د پښتونولۍ په اړه د یوه ایټالوي توکمپوه څېړنه د( زوړ قانون په ځوان دولت کې) په نامه ژباړل شوې ده. هیله ده چې د ملي ارزښتونو دا موضوع د خپل مهموالي له امله خپلو ارزښتمندو مینوالو ته په زړه پورې وګرځي.

# د افغانیت یا پښتونولی ایتمولوژي

ایتمولوژي په نوی ژبپوهنه کې د یوې کلمې پیدایښت او تشریح ته ویل کېږي. داسې مالومېږي، چې تر اوسه د پښتي، پښتونولی د نورمونوو ارزښتونو د بنسټ ایښودلو او دودیز قانون د پېل نېټه او ځای سم مالوم نه دئ. موږ پوهېږو، چې د پښتنو ټولنه د نړي له زړو ټولنو څخه یوه ستره ټولنه ده. افغانان په سیمه کې د پنځو زرو کالو لرغونی تأریخي ثبوت لري. پښتي، پښتو، د پښتون نوم او پښتونولي د لویي پکتیا په تأریخ کې خپلې لومړنی ریښې لري. له پخوا څخه د پښتونولی په اړه ډېر لږ لیکل ـ شوي اسناد یا لاسوندونه شتون لري. ډېري پښتانه په دې اند دي چې دا قانون او حقوقي نورمونه ځکه نه دي لیکل شوي چې پښتي، پښتونولي د پښتنو په زړونو، په فکرونو، په وینه او جین Genes کې شتون لري. پر همدې بنسټ کولي شو ووایو، چې پښتونولي له پنځو زرو کالو څخه تر نن پورې د پښتنو د ټولنیزو، حقوقي، سیاسي او ملي دولتي چارو، د راکړې ورکړي او کړو وړو بنسټ جوړوي. پښتونولي یا افغانیت په لوی افغانستان کې د ننه او بهر یا په ټوله نړۍ کې د درست پښتون افغان ولس د سړیتوب یا د شخصیت د یو ایډیالي انځور په څېر پېژندل کېږي. دا د افغانانو ټولمنلي اصیل لرغوني اصول دي. افغانستان کې پښتانه په خپله، پښتونولي ته د افغانیت د کلمې نوم کاروي او کله هم په ځینو سیمو کې ورته پښتي او پښتونواله هم ویل کېږي.

په ۱۹۳۶ کال کې د افغانستان د ملي ژبې پښتو په ریفورم کې افغانیت یا پښتونولي، پښتون افغان اوسېدل، په بله وینا پښتونتوب ته ویل کېږي او په دري ژبه کې افغانیت او افغان بودن ته ویل شوي دي. د افغانستان د اساسي قانون په تأریخ کې د افغان نوم د افغانستان هر وګړي او هر اوسېدونکي ته ویل کېږي. دا منل شوې تأریخي خبره ده، څوک چې د افغانستان وي، هغه افغان دئ. په ۱۹۳۹ کال کې د ستر پښتون، ستر افغانپوه او په ملګرو ملتونو کې د ستر افغان ډیپلومات مرحوم پوهاند عبدالرحمن پژواک له خوا د پښتنو قانون، پښتونولي، رسماً د کابل په کلنۍ /سالنامه کې د افغانیت په نامه درج او ولیکل شوه.

# پښتون، پښتو او پښتونولي

پښتانه په افغانستان کې، د افغانستان لپاره، په سیمه او نړۍ کې خپل یو ځانګړی ستراتیژیک ځای لري. ورسره په کې د پښتنو ټولنه د نړۍ یوه ستره لرغوني ټولنه پېژندل شوي ده. پښتونولي یا افغانیت د افغانانو د تأریخ په اوږدو کې د ملي حاکمیت، د ملي احساس، ملي هویت او ټولنیز ژوندانه په برخه کې یوه ستره برخلیک ټاکونکې ونډه درلودلې ده. پښتونولي د پښتنو افغانانو په فکرونو او زړونو کې له لرغونو زمانو څخه را په دېخوا د یوې پټې خزانې په څېر ساتل شوي ده. پښتونولي د پښتنو پېژندګلوي ده. پښتو له یوه لوري د پښتنو ژبه ده، له بل لورې پښتو د پښتون ولس د قبیلوي کړو وړو کوډکس او د نرخونو قانون ته ویل کېږي. لوی افغانستان په نړۍ کې د اټکل پنځوس میلیونو پښتنو افغانانو ګډ پلرنی لرغونی ګران هېواد دئ. [دا شمېر لږ ویل سوی دئ، د اټکل له مخې دا شمیر باید له ۶۵ میلیونو لوړ وي ځکه یوازې د پاکستان د نفوسو په رسمي احصائیې کې د پښتنو شمېر نېږدې ۴۴ میلیونه ښودل سوی دئ. مصحح] دوی لږ یا ډېر د پښتونولی د قانون تر سیوري لاندې هم ژوند کوي. په ۱۸۹۳ کال کې د انګریز ښکېوال کولونیالیستي سیاست له خوا د پښتون پر لوی کور د کاغذ پرمخ د ډیورنډ توره کرښه وایستل شوه. له همدې امله نن د نړۍ په ډېریو برخو کې له څه باندې یوې پېړۍ څخه پښتانه په استرالیا، افریقا او سویلي امریکا کې ژوند کوي. د وروستیو څلویښتو کلنو جګړو په بهیر کې څو میلیونه پښتانه افغانان په اروپا، امریکا، استرالیا، افریقا او آسیا کې د ګډوالۍ د ژوند شپې ورځې تېروي. پښتانه په لوی افغانستان او په خپلو کې ځانونه د افغان یا پټان له نومو څخه

مخکې د پښتـون یا پختون په نامه یاده وي. یو پښتـون له خپل هېـواد څخه بهر ځان په ویاړ سره د افغان په نوم ځان درپېـژنـي. د نړۍ نور ولسونه هم لکه پښتــانـه همداسـې په مترادفو نومونو یادېږي. د بېلـګې په ډول المانان، ځانونه په المان او په خپلو کې د (دویچ) په نامه یاده وي، او خپله ژبه د آلماني یا جرمني په نامه نه بلکې د ( دویچ) په نامه یاده وي. دوی د المان له هېواد څخه بهر ځانونه د جرمن په نامه درپېـژنـي. د المان او د نړۍ په ټولو هـېوادونو کې لړکي توکمونه په اساسي قانون کې لیکل شوی ملي هویت، پرته له کومو ناندریو مني.

*******

## دویمه برخه

# د پـښتـونـولی د حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ

## پـښتـون او پـښتـونولي


اصیل پـښتـون اوسـېدلو ته دا یوازې کفایت نه کوي چې یو سړی دې له مور او پلار څخه پـښتـون زېږېدلي وي. په بله وینا دی دې له پـښتـنـو سره د ویني شریکوالی او اړیکي ولري. پـښتـون مجبور دئ چې د پـښتـونولی ارزښتونه او نورمونه ومنئ او په خپله یې پر خپل ځان باندې تطبیق او پلي کړي.
پـښتـون په خپله پـښتـنـه ټولنه کې وجداناً ځان مکلف بولي چې د پـښتـونولی ټولمنلي اصول په خپل ځان کې پلي کړي.

پښتي، پـښتـو، پـښتـونواله او پـښتـونولي د خپل متحرک (Dynamik) او انعطاف پزیرۍ (Flexibelität)ځواک د درلودلو له امله، د خپلو مېړنو او لرغونو پرنسیبونو له امله له یوه ربښتیني عزتمن، غیرتمن، مـېړني پـښتـون څخه غواړي چې لومړی باید د خپل ځان حیثیت، عزت او شرافت ته درناوې ولري. دی باید خپله خپلواکي ولري او د خپل کور، د خپلې سیمې او د خپلې خاورې واک په خپل لاس کې ولري، دی باید عدالت، مـېلمه پالنه، مینه، بخښنه، بدل، زغم او رحم د ټول بشریت پر وړاندې پرته له تبعیض څخه ولري. په ځانـګړې ډول له پردي او خپل مـېلمه څخه مـېلمه پالنه په سر او زړه کې ولري. ټول دغه انساني ارزښتونه د انساني ژوند له قاعدې سره مرسته کوي، تر څو په پـښتـنـه ټولنه کې ټولنیز عدالت، اخلاقي ارزښتونه، موړال،امن،نظم،د سولې، ثبات او سوکالۍ موازنه برابره وساتل شي.د پـښتـونولی اصول په ډېـر قوت سره د پـښتـون افغان ولس په ملي هویت، انفرادي کرکتر او کړو وړو باندې راولاړل شوي دي. د بېلګې په ډول د پـښتـونولی په حکم او قانون کې سړی له خپل سر څخه هم تېرېـږي او دا نه مني چې له پښتي یا پـښتـونولۍ څخه دې وایستل شي. پـښتـنـه ټولنه یوه هویتي دودیزه قبـیلـوي هراړخیزه رنګه ټولنه ده، په پـښتـنـو کې هر څه نشنلیستي نه دي. د پـښتـونولی په قانون کې اصلاً د لویدیځوالو د نشنلیستي سیاستونو په څـېـر نشنلیستي رنګ او خوند نشته.

د پـښتـونولی نورمونه په ټولنه کې یو شمېر اخلاقي، موړالي او د ژوندانه د خیرښېګني کړنلارې او قاعدې سره راغونډوي. پـښتـونولي د پـښتـنـو نالیکل شوي لرغوني قبائـیلي نورمونه، د عزت کوډکس او یو ټولګـټی - ټولنیز انساني قانون دئ.

پـښتـونولي په پـښتـنـي ټولني کې په حقوقي، سیاسي، اقتصادي او کلتوري برخو کې د هر اړخیزو سمونونو یا ریفورم راوستلو ته لارې خلاصوي. په ملي او نـړیـواله کچه د پـښتـنـي ټولنې د عزت کوډکس، نورمونه، ارزښتونه، دود-دستور، قومي نرخونه او په ټولنه کې ښې چارې، کړه وړه د یو قبائـیلي قانون په څـېـر پـېـژندل شوي دي. پـښتـنـي ټولنه کې د پـښتـونولی د قانون اصلي فلسفه او د

اصولو اصلي ستني، په افغاني ټولنه کې دعدالت، سولې او امن ساتل او د پښتني ټولنې پايښت لپاره لاره هواره ول دي. پښتونولي د ټولنې ټول غړي د عزت د کوډکس له لارې له پښتون سره د خپلوي په تار تړي.




د پښتونولی په اړه د نړۍ په تأريخي کتابونو کې او د نړېوالې مدني ټولنې هر توکمپوه، ټولنپوه او حقوقپوه په خپلو ليکنو او څېړنو کې د پښتنو د لرغونو او انساني ټولنيزو نورمونو يادونه په عزت او درنښت کړې ده. دوی هم اقرار کوي چې پښتني ټولنه له پخوا څخه کومه ابتدايي، آسانه ټولنه نه وه.

د هر افغان او د هرې پښتنۍ خور شخصي ايماني وجداني مسؤوليت او دنده ده چې وپلټي، وڅېړي، ومومي رابرسيره کړي او بيا هم رابرسيره کړي، چې د پښتونولي انساني، افغاني، اسلامي ګډو ارزښتونو، ارزښت، شته والی او مانا په څه کې نغښتې ده. مه پرېږدۍ چې د پښتني ټولنې د پايښت لپاره زموږ د پلرونو او نيکونو ښکلې فکرونه د جنګ، جګړو په اور کې له خاورو سره خاورې ايرې شي.

## اسلام او پښتونولي

د افغانستان په اساسي قانون کې ليکل شوي دي چې د افغانستان دين د اسلام سپېڅلی دين دئ. افغانستان پرته له شکه يو اسلامي هېواد دئ او يوه افغاني اسلامي دوديزه ټولنه ده. په افغانستان کې هيڅ قانون نشي کولی د اسلام د سپېڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي. په افغانستان کې د اسلام د سپېڅلي دين الهي احکام او ارزښتونه له افغاني زاړو ټولنيزو ارزښتونو، دودونو، نورمونو او نرخونو سره ګډ شوي دي. له دې امله پښتونولي يا افغانيت له اسلاميت سره په ټکر کې نه شي کېداې. اسلام په افغانستان کې لکه د نړۍ نورو اسلامي هېوادونو په شان خپل افغاني روحيه او رنګ لري.

د اسلام سپېڅلی دين په افغانستان کې خپل افغاني رنګ او خوند لري. همداسې اسلام په پنجاب کې پنجابي، په ايران کې ايراني، په تاجکستان کې تاجکي، په تورکيه کې تورکي، په ماليزيا کې ماليزيايي، په عربستان کې عربي او مصر کې مصري رنګ لري.

افغانستان کې د اسلام سپېڅلی دين د افغانيت خپل رنګ او خوند لري. زموږ مذهبي ارزښتونه او قبيلوي منل شوي انساني ارزښتونه داسې له يو بل سره ګډ شوي دي چې پښتنو افغانانو ته ډېره ګرانه شوې چې دغه دواړه ارزښتونو له يو بل څخه بېل کړي.

کله چې یوه جرګه راوبلل شي، نو جرګه د مرکچیانو لخوا د قرآن کریم د آیاتو په ویلو سره پیل کېږي. د جرګې پرېکړې د قرآن شریف د آیاتو په ویلو سره د دواړو دعوی ګیرو خواو له لوري منل کېږي. د جرګې د پرېکړې پر مهال د قوم مشران، سپین ږیري او دیني عالمان او ملایان په ګډه سره ناست وي.
د پښتـونولۍ اصول په هېڅ صورت د قرآن کریم او د اسلامي شریعت صریح احکام له پامه نه شي غورځولی او نه یې ماتولی شي. ځکه پښتـونولي د انسانانو یو نا لیکل شوي قانون دئ او د اسلامي شریعت صریح احکام الهي احکام دي. هغه حقوق چې الله (ج) خپل بنده ته ورکړي دي پښتـونولي هغه مني او ورته درنښت لري. د همدغو حقوقو او احکامو د پلي کولو ننګه هم کوي.
ځکه د پښتـونولي ارزښتونه هم د انساني سوله ییز ژوند، ټولنیز امن نظم او عدالت لپاره رامنځته شوي دي. دا هغه ټولنیز نورمونه دي، چې ریښې یې له اسلام څخه ځو زره کاله مخکې له پښتـونولي څخه اخېستل شوي دي. دا ټولنیز نورمونه، ارزښتونه او دودونه په پښتـنـو کې شتون او ژورې ریښې لري. د پښتـونولی ارزښتونه او ټولنیز نورمونه د یوې ډېرې زاړه پالې ټولنې ارزښتونه او نا لیکل شوي پاتـې شوني دي او په شفاهي او شفري یا د کوډکسونو په ډول له یوه پښت څخه بل ته سینه پر سینه او خوله پر خوله را لېږل سوي دي. د پښتـونولۍ اصول په ځینو وختونو کې د لنډۍ یا د شعر په بڼه کې هم لیکلي شوي دي.
د پښتـونولۍ پوهنه د اسلام په مبارک دین کې خپـلـې ریښې لري. پښتـونولي تر اسلام مخکې د افغانانو د قبیـلـوي ټولنې د خپلواکۍ، مقاومت، ټولنیز، سوله ییز دودیز ژوند نا لیکل شوی قانون او اصول دي. پښتـونولي د پښتـنـو  د ننګ او عزت کوډکس یا د یو با عزته ژوند شفرونه دي. پښتـونولي د افغانانو د ژوندانه یوه ځانګړې فلسفه ده.

پښتـونولي د ځمکې پر مخ د هر با عزته انسان لپاره د ننګ، غیرت او انساني ژوند یو سینګـارتون ګرځېدلی شي. پښتـونولي په لوی افغانستان کې تر اوسه د لر او بر افغانانو ترمنځ د ګډ سوله ییز ژوند اصلي اصول او د ولسي ملي یووالي منځ - زړي یا هستې جوړوي.

په افغاني ټولنه کې ځینو ناپوهو خلکو او ان ځینو اسلامي ډلو د الهي له صریحو احکامو، قوانینو او ارشاداتو څخه شرمونکې سرغړونه او ناوړه استفاده کړې او ان ناروا وژنې یې تر سره کړي دي.

زموږ په نالوستي وروسته پاتـې ټولنه کې به خامخا زښتي ډېرې سرغړونې، بدمعاشي او له کرکې ډک جرمي عملونه د پښتـونولی په نامه ترسره شوي وي. دغه غیر انساني، غیر افغاني او غیر اسلامي زړه بوږنونکي جرمي عملونه د اسلام له سپېڅلـي دین او پښتـونولی سره هېڅ تړاو نه لري.

## پښتـونولي او افغان ملي دولتونه

د افغانستان په لرغوني او معاصر تأریخ کې کله چې افغان ملي دولتونه غښتلي، پیاوړي، ځواکمن - ولسي او فعال واوسي، نو دولتي چارواکي په ډېریو برخو کې له قبائیلي جوړښتـونو او نورمونه سره په ګډه همکاریو ته اړ شوي دي. له همدې امله مدرن ملي دولتونو ته قبائیلي دودیزه سیستم د اصلاحي او مرسته کوونکي ځواک په څېر پېژندل کېږي. یو افغان ځواکمن بریالی ملي دولت به هغه مهال بري ته لار ومومي، کله چې دا قبائیلي دودیز جوړښتونو او نورمونه د دولت جوړولو او ملت جوړولو په بهیر کې په مناسب ډول قانوناً په خپل کورني او بهرني سیاست کې مدغم کړي. دغه مهم، مدرن او دودیز ټکي ته د افغانستان د ډېرو پاچاهانو او دولتمشرانو پام شوی دئ.د افغانستان په سویلي ولایاتو لویه پکتیا، پکتیکا، خوست او د وزیرستان په قبائیلي سیمو کې د پښتـونـولۍ قبائیلي

دودونه او نرخونه لا تر اوسه په ولس کې ډېـرې ژورې ريښې لري. دغه درې ولايتونه او وزيرستان بيا له نورو سترو سيمو لکه، ننگرهار، غزني، لوگـر، کابل، پـېښور او زابل سره په گـاونـډ کې پراته دي. دلته د قبـيـلـي او د قبـيـلـو ترمنځ اړيکې په ډېـره ښکاره توگـه فورمول بندي شوي دي. له همدې امله افغانستان کې د پـښـتـنـو دوديزه ټولنه يو ستر سياسي، ټولنيز او ټلپاتې اتحاد او يووالی جوړوي. د طالبانو له رژيم څخه مخکې او د هغوی د رژيم له ړنگـېـدو څخه لږ وروسته په افغانستان کې د دولتي واک تشه رامنځ ته شوه. د افغانستان په سويل ختيځو ولايتونو يا لويه پکتيا کې د دولتي واک تشه نسبت نورو سيمو ته ډېـره لږه محسوس شوه. ځکه دلته قبائـيلي جوړښتونو، نرخونو او د پـښـتـونولی نورمونو د انارشی، گډوډې او پاټکسالاری مخه تر ډېره بربېده ونيوله.

د لويې پکتيا قامونه، مشران د جرگو او مرکو له لارې د نويو نورمونو، قوانينو يا قانون جوړولو واک هم لري. د بېـلگې په توگه د قبائـيلي جرگې او دوديز قانون له مـخـې د کوکنارو کښت په دريو واړو ولايتونو کې منع اعلان شوی دئ. د قبائـيلي قانون له مـخـې متخلف ته سزا هم ټاکل شوې ده. که څوک دا قانون مات کړي، د هغه کور ته اور اچول کـېـږي. لويه پکتيا کې دولتي ځواک او امنيت تل د قومي مشرانو، مخورو سپين ږيرو، خانانو او اربکيو له لارې تامين شوی دئ.

پـښـتـونولي د هغو گـډو کولکټيفي غوښتـنو او پوښتـنو پايله ده چې يوه ډله يا قـبـيـلـه يې له خپلو غړيو څخه تمه لري. دا هغه نورمونه، ارزښتونه او دودونه دي چې يوې ډلې د خپل ژوندي پاتې کـېـدلو او سوکاليو لپاره ټاکلي دي، لکه په حقوقي، ټولنيزو، کلتوري چارو کې خپلواکي او يووالی. په ټولنه کې د پـښـتـونولی د ناليکل شويو نورمونو د پلي کولو او تطبيقولو لپاره هـېـڅ دولتي اداري او وسله وال ځواک ته اړتيا نشته. د پـښـتـنـي ټولنې غړي دا نورمونه په همدې ځواک او شدت سره په خپله عملي کوي. د پـښـتـونولی د قانون په عملي کـېـدو سره د يوې پاک ضميرې او پاک وجداني ټولنې پوښتـنه په مستقيم ډول سره رامنځته کـېـږي. د دې پر ځای چې د پـښـتـونولی نورمونه او پرېکړې د دولت د اجرائيوي ځواک يا پوليس له خوا پر خلکو تطبيق شي، پـښـتــانـه پرته له کوم دولتي ځواک څخه قوانين او نورمونه په خپله پرخپل ځان تطبيق او عملي کوي.

په اروپايي مانا پـښـتـنـي ټولنه کې له حق او قانون څخه خبرې کول ډېـر گران کار دئ. ځکه د اروپايانو په اند، د قانون پلي کول د دولت د يو ارگان له خوا بايد تطبيق شي. په پـښـتـنـي ټولنه کې دا فکر ناشونی دئ. د پـښـتـونولی حقوقي سيسټم بايد په خپله له ځان سره د لښکر يا اربکيانو له لارې د پرېکړو له تطبيقولو سره مرسته وکړي. د پـښـتـنـو ټولنه په خپل بنسټ کې د کنټرول کومه مرکزي قانوني مرجع نه پـېـژنـي، چې هغه مرجع د قانون د تطبيقولو چارې پر غاړه واخلي. د پـښـتـنـو په ټولنه کې د دعوی په صورت کې د دولتي قانون د پلي کولو او تطبيقولو پر ځای جرگه رابلل کـېـږي. کله چې په پـښـتـنـي ټولنه کې د پـښـتـونولی له کوم نورم او دود څخه سرغړونه وشي، جرگه سمدستي قانون نه پلی کوي، بلکې جرگه د مدعی او مدعي عليه تر منځ د منځگړتوب يوه مرجع گرځي. جرگه يا مرکه تر هغو کينې او خبرې اترې کوي، تر څو د دواړو غاړو ترمنځ يوه موافقه رامنځ ته شي.

## د پـښـتـونولي کانسپټونه يا مفاهيم

پـښـتـونولي د پـښـتـنـو د ارزښتونو، نورمونو او د عزت کوډکس يوه لرغوني پټه خزانه او حقوقي شفري ټولگه ده. پـښـتـونولي په پـښـتـنـه ټولنه کې د پـښـتـنـو د ټولنيز ژوند کړه وړه، نرخونه، دود او دستور د اسلام د سپـېـڅـلـي دين د الهي ارشاداتو په رڼا کې ټاکي. د پـښـتـونولي کانسپټونه (Konzepts)يا مفاهيم د پـښـتـنـو عادتي قبـيـلـوي قانون ته يوه ستره مانا ورکوي. د پـښـتـونولی په ادبياتو کې تر ټولو لومړی د ننگ، مـېـلمه پالنې او د توري (شمشير) کانسپټونه راځي. د ننگ کانسپټ

یو پښتون په خپله ټولنه کې ګډو ټولنیزو چارو یا د خیرښېګڼې دندې ته رابولي. ورسپارل شوې چارې د یوې ډلې یا یوې قبیلې د ساتنې او دفاع لپاره تر سره کېږي. پښتون دغه چاره د هغه چا لپاره تر سره کوي چې مسؤولیت یې ور په غاړه وي. لکه له خپلې کورني څخه دفاع، له خپلې قبیلې څخه دفاع، له خپلې سیمې څخه دفاع، له خپل پلرني هېواد څخه دفاع او له خپل مذهب څخه دفاع ده. پښتونولي یو پښتون ته دنده سپاري چې : له خپلو مېلمنو څخه دفاع وکړه، د اړتیا په صورت کې د خپل مېلمه د سر ساتنه وکړه، همداراز مېلمه تر خپل مصوؤن ځای پورې بدرګه کړه. یو پښتون د توري کانسپټ د سرېتوب، د خپل ځان او د خپلو غوښتنو یا انټرست لپاره کاروي. پښتانه په دې اند دي چې یو پښتون سړی تل په یو تربورګریزه چاپیریال کې ژوند کوي، دی باید په ټولنه کې له خپل موقعیت یا پوزیشن څخه، له خپلې کورنۍ او ځمکې څخه دفاع وکړي، تر څو له ده څخه د ژوند دغه یادې شوې مادي او معنوي زیرمې وانه خیستل شي. کله چې د پښتونولۍ دغه درې مهم ټکي له ګواښ سره مخامخ شي، پښتون له یو جګړیز او قهرجن حالت سره مخامخ کېږي، ده ته چې هر شی په لاس ورځي، دی مجبور دئ چې له خپل ځان او ارزښتونو څخه دفاع وکړي. پښتونولي یا افغانیت د پښتنو د نورمونو، ارزښتونو یو سیستم دئ. پښتونولي د پښتنو قبائیلي قانون دئ. پښتونولي د پښتنو د اساسي قانون په نامه هم یاده شوې ده. پښتونولي نه یوازې د پښتنو قبائیلي لرغوني قانون دئ بلکې د پښتنو د غیرت او عزت کوډکس یا کوډ په نامه ههم یادېږي.

پښتنو له ډېرو لرغونو زمانو څخه د خپل ټولنیز امن او نظم او سوله ییز ګډ ژوند لپاره یو ځانګړی حقوقي او ټولنیز جوړښت او د خپلمنځې شخړو د سوله ییز حل لپاره یو منطقي میکانیزم رامنځ ته کړی دئ. دوی د خپل ټولنیز ژوند ژواک خپلمنځي شخړې او کړکېچونه، حقوقي، سیاسي او ملي پرېکړې د جرګو مرکو د فیصلو له لارې حل او فصل کوي. له همدې امله تر ننه د پښتنو په قبائیلي سیمو کې د نوي دولتي نظم او قانون نشتون دوام لري. افغان دولتونو هم نه دي غوښتي، څو خپل ملي حاکمیت دلته ټینګ کړي. د دولت او ولس ترمنځ واټن له همدې ځایه پیلېږي. د پښتنو د لرغوني قبائیلي سیستم د نوي کولو او یا سمون لپاره د افغان مرکزي ملي دولتونو لږ برسیرنو یا سرسري هڅو پر پښتنو کومه اغېزمنه اغېزه نه ده شیندلې. انګریزي او روسي یرغلګرو هم په خپل وارسره هڅې وکړې تر څو د پښتنو فیوډالي جوړښتونه ورغوي. دغه ټولې هڅې تر اوسه ناکامې شوې دي. د پښتنو لرغوني قبائیلي سیستم تر اوسه همداسې د جګړو د اور په لمبو کې سوځي او چلېږي.

له یوې پېړۍ راهیسې د نړۍ د سترو ځواکونو یرغلګرو، ښکیلاګرو پر وړاندې د جنګ جګړو له امله د لر او بر پښتنو هڅو ته دا فرصت په لاس نه دئ ورغلي، څو د خپل ولسي توکمي ګډ هویت، کلتوري ګډ هویت، خپله مورنۍ ګډه ژبه او د پښتونولۍ لرغونی ګډ قانون، دود دستور، ګډ هویت په ملي سیاسي ډول په ګډه د یو واحد ملت په څېر مطرح کړي. پوښتنه دا ده، چې د پښتنو د پښتونولۍ لرغوني نورمونه او حقوقي ارزښتونه د یو ټولنیز تړون په چوکاټ کې د ننۍ نړۍ له نویو مدړنو پرمختګونو سره اړخ لګوي او یا د بشري حقوقو د سمون له لارې یو ځای کېدلی شي؟ پښتونولي د پښتنو یو نالیکل شوی عرفي تعاملاتي قانون دئ. خو په ټولنه کې منل شوي حقوقي ټولنیز ارزښتونه او نورمونه دي چې د پښتنو حقوقي شخړې، د ملکیت حقوق او شخړې او نور ټولنیز کړکېچونه لکه د ځمکې، د څړځایونو ویش او یا کله چې څوک د پښتني ټولنې نورمونو نرخونو او ارزښتونو ته درناوې نه کوي، دغه نورمونه او ارزښتونه په ولس کې د قامونو د مشرانو، سپین ږیرو، خانانو، ملکانو او ان د ملایانو لخوا پلي کېږي.
په ټولیزه توګه پښتونولي د افغاني پښتني ټولنې د شتون، پایښت، بقا او لارښوونې لپاره شتون لري او د پښتونولۍ په چوکاټ کې د هر یوه پښتون افغان د مثبتو کړو وکړه د ساتلو لپاره یو

ځواک دئ. په بله وينا په پښتونولۍ کې ټول هغه ارزښتونه او نورمونه راټول کړل شوي دي چې يو پښتون په يوه انساني ټولنه کې څه وکړي او څه ونه کړي.

په پښتونولی کې د پښتنو افغانانو لپاره د پښتونتوب د کړو وړو کوډکسونه یا شفرونه پراته دي. د پښتونولی دا کوډکسونه یوازې د پښتنو د ټولنې له جوړښت سره تړاو لري. د پښتنو ټولنه د قومونو او قبیلو د خپلوۍ او د وینې د شریکوالي پر بنسټ تنظیم او رامنځته شوې ده. په ټولو ټولنیزو، سیاسي چارو کې لکه له یوې کورنۍ، قوم، قبیلې او توکم سره تړاو درلودل یوازې او یوازې د دوی د انفرادي هویت یوه نښه ده. دا په دې مانا نه ده چې پښتون ولس په قومونو او قبیلو ویشل شوی ولس دئ. بلکې د یو پښتون تړاو او خپلوي له یوې قبیلې سره دا د دوی ترمنځ خپلمنځي او له ټولنیزو پرنسیپونو څخه ګټل کیږي. له همدې امله افغاني ټولنه لا تر اوسه د ملت جوړوني په بهیر کې لاس او ګریوان ټولنه ده. پښتانه اوس پوهېدلي او مجبورشوي چې د قبیلویت له ټوټې ټوټې ژوند څخه ورو ورو راووځي او د يو موټي واحد افغان ملت په لاره کې اوچت او ګړندي ګامونه واخلي.

راتلونکي افغان ملي دولتونه باید په خپل کورنی، بهرنی سیاست او ملي قوانینو کې د افغانانو ملي هویت د افغانیت او اسلامیت د ارزښتونو ترچتر لاندې نوی تعریف کړي. د افغان ملي دولت په اساسي قانون کې او دولتي ایډیالوژۍ کې پښتانه باید د دولت جوړونکي، دولت وړونکي او د دولتي ولس په څېر تثبیت او پېژندل شي. کله چې د افغان مرکزي ملي دولتونو دولتي ایډیالوژي د لرغونو افغاني ارزښتونو کرکتر ولري، زموږ په افغاني ټولنه کې به د ټولنیزو، سیاسي ګډوډیو تاوتریخوالي او ناپوهۍ مخه هم ونیول شي.

پښتونولي د افغانانو د حقونو او د با عزته ژوند، کوډ یا کوډکس او یو ځانګړی قبائیلي قانون دئ. دغه لرغونی قانون د پښتون د کور د یووالي، د پښتنو د قبیلوي یووالي، د دولت او د هېواد د یووالي لپاره او د پښتون افغان د عزت د ساتنې او د پښتون ولس د ایډیالونو او د فزیکي شتون لپاره یو خورا مهم لرغونی کانسپټ دئ. د پښتنو قبائیل خپلې شخصي او دولتي شخړې د پښتونولۍ د نورمونو او نرخونو پر بنسټ حل اوفصل کوي. که څه هم دا نورمونه او ارزښتونه د پښتنو په هره سیمه کې لږ توپیرلري، خو په بنسټیزه توګه په ټول افغانستان کې یو ډول دي.

افغان ستر ملي شاعر ملنګ جان د پښتونولی په اړه لیکي

زما ځواني ډول کوي له پښتونواله سره

زه په پښتو او پښتونواله باندې سر ورکوم

چې بې ننګ او بې پښتو وي، پښتون نه دئ

چې د قوم په شرمېدو وي، پښتون نه دئ

پښتون هغه دئ چې غم د تمام قوم خوري

چې د ځان په جګېدو دئ، پښتون نه دئ

د پښتون نظر مدام په ننګ و نام وي

چې نظر يي په پېسو وي، پښتـون نه دئ

پښتـون هر کله طالب د خپل شرف وي

چې طالب د سپينوسرو وي، پښتـون نه دئ

پښتـون تل په خپله ژبه ټينـګ ولاړ وي

چه په دروغو يي ګفتګو وي، پښتـون نه دئ

پښتـون نه شي باداري د چا منلی

چې اختيار يي د پرودو وي، پښتـون نه دئ

په نصيب د ملنګ جان دغه مسري شوې

چې خپه په دې مسرو (مصراع) دئ، پښتـون نه دئ

## دريمه برخه

## د پښتـونـولی ايډيالوژيکي کانسپټ او د پښتـون ولس د ملي تأريخ فلسفه


پښتـونولي د پښتـنـو يو ناليکل شوي سيستماټيک دوديز قانون او يو لرغونی قبائيلي کانسپټ دئ. پښتـونولي د پښتـون ولس د فلسفي ژوند او د ولسي فکر لار ده. پښتـونولي د پښتـنـو د ولسي دوديزه ژوند يو ايډيالوژيک فلسفي ښوونځی دئ. پښتـونولي د پښتـنـي ټولنی خپل ځانګړی فکري ډول، د پښتـنـي ټولني د نورمونو، ارزښتونو او د ملي سياسي تأريخ فلسفي ايډيالوژي ده، چې له پلرونو او نيکونو څخه ورته په ميراث پاتـي شوې ده. پښتـو او پښتـونولي ده چې يو افغان پښتـون د نړۍ له نورو ولسونو او ارزښتونو څخه رابېلوي. د پښتـونـولی پر بنسټ پښتـون ولس ځـانـتـه ځانګړی ټولنيز جوړښت او اصول لري. پښتـونولي د افغانانو د ملي هويت او د ملي کلتوري هويت په ورپېـژندلو کې يو ستر ځواکمن عنصر پېـژندل شوی دئ. پښتـونولي له زرګونو کلونو راهيسي د پښتـنـو يوه زَړه پاله، محافظه کاره، خپلواکه، ولسواکه او هېـوادپاله ملي ايډيالوژي ده.

د پښتـونـولی لرغوني ښکارنده (پديده) نن هم لکه څو پېړۍ وړاندې د زړو آريايانو په شان د پښتـون ولس په سياسي، حقوقي، کلتوري او ټولنيزو چارو کې خپل منل شوي نورمونه، ارزښتونه او بنسټيک جوړښتونه لري. پښتـانـه د زړو آريايانو يوه ستره لرغوني قبـيلـه ده چې له زرګونو کلونو راهيسي د آمو او اباسين د سيندونو ترمنځ استوګنه لري. لوی افغانستان د ټولو پښتـنـو پلرنی ګران هېـواد دئ. لر او بر پښتـانـه نن په نړۍ کې يو ستر واحد افغان ملت جوړوي.

پښتـونولي په نړیـوال کلي کې د افغان ستر کور، د افغانانو د ملي هویت، د افغانانو د ملي ویاړلي تأریخ فلسفه، د افغانانو د ملي سیاست، د افغانانو د مدني ټولنې پېژند، د ټولنیز دودیز ژوند د کړو وړو د څرنګوالي ستره نښه، نښانه او سمبول دئ. د افغان پېژندني ځانـګړتیاوې او د افغانانو د ملي کلتور کوډ یا شفر د پـښتـونـولی په منځ - زړي کې پروت دئ.

د پښتـونـولی د لرغوني قانون اصول، دودونه، نرخونونه، د قبائیلو د کړو وړو او د معنویاتو شفرونه یا کوډکسونه هغه مهال هم په پـښـتـنـي ټولنه کې چلېدل، کله چې په نړۍ کې د نن ورځې مدرن پېچلي حقوقي، عدلي او قضایي نظام شتون نه درلود. پښتـون ولس د پښتـونـولی منل شوې نورمونه او ارزښتونه پرته له دولتي کنټرول او پوځي زور ځواک څخه د دې لپاره وجداناً په خپله خوښه پرخپل ځان منلي چې په ټولنه کې سیاسي ثبات او خپل پایښت تضمین کړي، ټولنه کې امن، نظم، مساوات، ټولنیز عدالت رامنځته او عملي کړي ترڅو په پـښـتـنـي ټولنه کې د انارشیزم، هرج اومرج، ګـډوډیو او د خپلمنځي جګړو مخه ونیول شي. د پـښـتـنـو په ټولنه کې پـښـتـونولی د ډېرو ناروا دودونو، بې ننګیو، بې عزتیو، ناحقه دعوی ګانو، زړه بوږنوونکو ظلمونو، ناوړو عملونو او بې ګناه وژنو مخه نیولي ده. پښتـونولي پـښـتـنـون ولس ته په افغاني لرغوني ټولنې کې د منل شوي دودیز قانون او نرخونو له لارې سوله، عدم تشدد، خیرښېګنـه، منځلاریتوب، عدالت، انصاف او مساوات ته لارښوونه کړې او کوي یې. له همدې امله په پـښـتـنـو او پـښـتـنـي ټولنه کې د عدالت او د انصاف چیغه او احساس ژوندی او زښت ډېـر دئ.

پښتـون ولس له همدې امله تر اوسه د پـښـتـونـولـی زوړ دودیز قانون په خپل غـېـږ کې ټینګ نیولي دئ، ځکه دا قانون یو زوړ روحاني فلسفي قانون دئ، دا د ننګ، ناموس، حیا او غیرت ټولنیز لرغونی قانون دئ، دا د پـښـتـنـو د سیاسي روح قانون دئ، دا زوړ قانون په ټولنې کې د پـښـتـنـو له کړو وړو او ملي هویت سره مستقیماً تړاو لري. د پـښـتـونـولی تأریخ په مسلسل ډول پـیـنځو زرو کالو ته رسـېـږي. پـښـتـونولي د انساني سوله ییز ژوند لپاره یو شمـېـر تصوفي، مورالي قاعدې رامنځ ته کړي دي. پـښـتـونولي پـښـتـنـو ته په ټولنه کې د مشرتوب، مشرولی، رهبرۍ لارښوونه او په ټولنه کې د انفرادي کړو وړو لپاره معیارونه ټاکلي دي. د پـښـتـونولی منل شوي نورمونه، ارزښتونه د اکثریتو اصیلو پـښـتـنـو افغانانو له خوا وجداناً په یو ډېـرعالي احساس سره عملي او ساتل کـېـږي.




د افغانیت قانون د خپل ځواکمن ځواک په درلودلو او د خپل مدرن، انـتـیـک یا د لرغونو پرنسیـبـونو په لرلو سره له هر پـښـتـون څخه په کلکه غوښتنه کوي چې یو رښتـنې اصیل پـښـتـون باید خپل حیثیت، وقار، آبرو، عزت النفس، استقلالیت، خپلواکي، عدالت، انصاف، مـېـلمه پالنه، مینه، بخښنه، بدل او زغم د ټول بشریت پر وړاندې په ځانګړي ډول د خپل مـېـلمه پر وړاندې ولري. د پـښـتـونولی د اصولو، نرخونو او ارزښتونو پلي کول له دې سره مرسته کوي چې په پـښـتـنـه ټولنه کې ټولنیز عدالت، مساوات، انصاف او د انعطاف پزیرۍ بـېـلانس یا موازنـه وساتل شي.

پښتنو ته په پښتنه ټولنه کې د پښتونولۍ د اصولو، نرخونو او پرېکړو د پلي کولو او عملي کولو په بدل کې څوک حق الزحمه یا معاش نه ورکوي، بلکې بل پښتون د خپل ټولنيز مکلفيت او مسؤولیت د ترسره کولو په بدل کې په ټولنه کې ستایل کېږي، ویاړ، ښه نوم، عزت ورکول کېږي او په پښتنه ټولنه کې په درنښت یادېږي. د دې برعکس که څوک خپل ولسي مسؤولیت اداء نه کړي، نو په ټولنه کې له شرم، بې ننګۍ او سرټیټوالي سره مخامخ کېږي، دی له پښتنې ټولنې څخه ایستل کېږي او په ځینو مواردو کې د مرګ په سزا هم محکوم کېږي.

پښتون ولس د پښتونولۍ خپل حقوقي نورمونه او آرونه لري او د دوديز ژوند ټرمینالوژیک ایډیالونه، ارزښتونه يې په يو شمېر کانسپټي څېرکيو کې ويشلي دي. د پښتنو په زاړه پاله محافظه کاره ټولنه کې د پښتنو د کړو وړو لپاره پښتونولي يو لرغوني دوديز نظام او يو منظم ټاکل شوی قبائيلي دوديز قانون دئ. پښتونولي د پښتنو يو نړېوال انځور او نړېوال فلسفي ليدلوری دئ. د پښتونولۍ د تصوفي، روحاني، معنوي او د ټولنيزې خيرښېګنې ارزښتونه او آرونه نه يوازې د محمد (ص) د عيسی (ع) او د ابراهيم (خليل الله) په دين کې خپلې ريښې لري، بلکې د پښتونولۍ د معنوياتو دوديز قانون، د ننګ او مورال کوډکسونه د لرغوني يونان په قوانينو او کوډکسونوکې هم ليدل کېږي.

## د پښتنو د مدني ټولنې کانسپټ

مدني ټولنه یا (societas civills) يوه لاتيني کلمه ده، د مدني ټولنې کانسپټ ډېر اوږد او لرغوني تأريخ لري. په مدني ټولنه کې د ټولنې د وګړو قابليت او فعاليت ښودل کېږي، چې څومره يې په خپله خپل ځان تنظيم او منظم کړی دئ. يوه مدني ټولنه هغه مهال رامنځته کېږي کله چې د يوې ټولنې وګړي په خپله خوښه سره يوځای شي، تر څو خپله په خپلواک او ولسواک ډول پرته له دولتي اغېزو څخه خپل مقصد، مرام او موخې تعقيب کړي. د مدني ټولنې ايډيا يا فکر په خپل بنسټ کې پر دې ټکي را څرخي چې دولتي سکتور او شخصي سکتور له يو بل څخه بېل کړي. مدني ټولنه د ټولنې يو موډل دئ، بې له دې چې په ټولنه کې له زور زياتي څخه کار واخېستل شي ټولنه د عدم تشدد کرکټر لري او په خپلواک ډول خپل تنظيم شوي نورمونه، ټولنيز ارزښتونه او جوړښتونه لري. داسې يوه ټولنه يوه مدنې ټولنه بلل کېږي. پرته له شکه که پښتنه ټولنه د ټولنپوهنې او ټولنپېژندنې له اړخه وڅېړل شي، افغاني ټولنه د انسانيت، مدنيت او د مدني ټولنې د خپلواکۍ او ولسواکۍ يو لرغوني اوږد تأريخي کانسپټ لري.

کانسپټ (concipere) یا (Konzeption) يوه لاتيني کلمه ده. کانسپټ ډېر اړخيزې ماناوې لري. په لنډه توګه د اوسنيو شته حالاتو، شرايطو يا د ستونزو د حل لپاره سمدستي د يوې طرحې يا يو پلان جوړولو ته کانسپټ ويل کېږي او يا کله چې د يوې موخې لپاره يو جامع هراړخيز، وسيع عمومي پلان د ځانګړو ميتودونو، ارزښتونو او نورمونو له مخې له مالوماتو سره ترتيب او تنظيم شي، يو کانسپټ بلل کېږي.

په اصل کې کانسپټ يوه فکري طرحه د راتلونکې لپاره ده، کانسپټ د راتلونکې لپاره يو پلان دئ چې پرته له جزئياتو څخه جوړ او راتلونکې دې په څه ډول ترتيب او تنظيم شي. طبيعي خبره ده چې

یوه عمومي طرحه په خپله دا جوتوي، چې سخت دریځي په کې نشته او انعطاف پزیري له ورایه په کې بریښي. یعني قانون یا طرحه کې یو څه بدلون او سمون راتللی شي. پر همدې بنسټ د پښتـون ولس پښتـونولي یوه نالیکل شوې طرحه یا یو کانسپټ دئ، چې د پښتـنـو د مدني ټولنې د بنسټ لپاره خورا مهم بنسټ ګڼل کېدای شی. د پښتـونولی طرحه په تېره کې لیکلي شوي نه ده. نن په پښتـنـې ټولنه کې د پښتـونولی د مهمو منل شویو ټرمینالوژیکي مصطلحاتو را ټولولو او د اسلامي قوانینو او نړیوالو بشري حقونو او مدني قوانینو په رڼا کې سمون، رغون او لیکلو ته زښته ډېره اړتیا احساس کېږي.

## اسلامي ایډیالوژي او د پښتـونولی ایډیالوژي

ایډیالوژي (iddeologie) یا مفکوره یو یوناني کلمه ده، چې د فکر یا د (Idea) یو هني ته ویل کېږي. په ۱۷۷۰ کال کې ښاغلی (Antoine Louis Claude Destutt de Tacy) وایي چې ایډیالوژي د یوې ډلې، د یو ولس نړۍ لید، نړیوال انځور یا د فلسفي ارزښتونو او د نړیوال انځور یا د فلسفي ارزښتونو سیستم ته ویل کېږي. د نن ورځې په ورځني سیاسي ژوند کې د ایډیالوژۍ کلمه د ټولنې د فکري لارې، ارزښتونو او د نورمونو سیستم لپاره کاورل کېږي.

د ایډیالوژۍ تأریخ د وګړو او د ټولنې له تأریخ سره ټینګې اړیکې لري. پښتـونولي د پښتـنـو د لرغونو نورمونو، ارزښتونو یو نړیوال لیدلوری او د یوې ولسي، سیاسي ایډیالوژۍ فلسفي ټولګه ده.

پښتــانـه پر خپلو قبیلـوي ټولنیزو اړیکو یا پښتـونولی باندې ځکه ویاړي چې پښتـونولي د ولسواکۍ لومړنی ګام او د خپلواکۍ روح او د اصل پېل ګڼل کېږي. پښتـنـو له یوې خوا د پښتـونـولی ریښې د اسلام په سپیڅلي دین کې موندلي دي او له بلې خوا په قبائیلي لرغوني قانون کې پښتـو او پښتـونولي د پښتـون ولس ولسي فطرت دئ.

د الله (ج) په نزد ټول انسانان یو شان برابر دي، له همدې امله د پښتـنـې قبیلـو ترمنځ د خپلوۍ - عزیز ګلوۍ اړیکي او یا له پښتـنـو قبائیلو څخه په خپلو کې د ورور ګلوۍ او د یووالي نېږدې اړیکو تمه کېږي. د یووالي اړیکي باید د دوی په ورځني ژوند کې هم ولیدل شي. ښایي مادیات ځینې شتمني پښتـنـې کورنی له بې وزلو کورنیو څخه او یا انفرادي ټولنیز موقف یو پښتـون له بل څخه بېل کړي خو له دغو ټولو مادي توپیرونو سره سره بیا هم پښتـونولي له پښتـنـو څخه د یو بل پر وړاندې د درناوي، درنښت، عزت او د انساني کرامت د مساوي چلند غوښتنه کوي.

په لوی افغانستان کې د مسلمان او پښتـون نومونه له یو بل څخه نه بېلـېدونکي ټینګ - تړلي نومونه دي، دغه نوم د یو عمل کوونکي، ایمان لرونکي، صادق، ژمن، ډاډمن، ځواکمن او غیرتمن انسان نوم دئ. همدغه عمل کوونکی مسؤول مسلمان انسان ځان پښتـون در پېژنـي چې عقیدوي ایډیالوژي یې په اسلامیت او توکمي ایډیالوژي یا هویت یې په افغانیت کې نغښتی دئ. پښتـون که مسلمان نه وي، هغه پښتـون نه دی او که مسلمان پښتـون ځان پښتـون احساس نکړي او خپل ځان ونه پېژنـي، هغه پښتـون افغان کېدای نه شي. دا ځکه چې د پښتـنـو په کورونو کې داسـې کور نه شته چې قرآن کریم په کې نه وي او د پښتـنـو په سیمو کې داسـې سیمه نشته، چې په هغه کې حجره او جومات څنګ په څنګ نه وي. په پښتـنـو کې داسـې جومات هم نـشته، چې هغه حجره ونه لري. پښتــانـه له همدغو حجرو او جوماتونو څخه ښوونځیو، مدرسو او پوهنتونونو ته ورځي. په دغه بهیر کې اسلامي ایډیالوژي د پښتـونولی له ایډیالوژۍ سره یو ځای کېږي.

د پښتـون ولس د بنسټیزو سیاسي – ایډیالوژیکو، ټولنیزو، ناخوالو او ستونزو د حل یوه لار له

همدغه ځايه پيل کېږي. د افغانستان په راتلونکي دولتي ملي سياست کې بايد نور د حجرې د پښتون، د جومات د پښتون او د پوهنتون د پښتون د ځانځانۍ، ځانپالني او د ناپوهۍ لنډ مهالو ناکامو سياستونو، تضادونو او ټکرونو ته د پای ټکي کښېښودل شي. پښتانه يا د افغانستان دولتي ولس بايد د لوی افغانستان د بيا يووالي، د سولې او ملي وحدت رامنځ ته کولو مسؤوليت ومني، دوی بايد د افغانانو د يووالي لپاره د زړه له کومې ملي منځلاري افغانشموله سياستونه پلي کړي. د افغان په ملي دولتونو کې بايد هر افغان او هره افغانه، چې له هرې قبيلې او توکم څخه وي، خپل ځان اوخپل ملي اسلامي ارزښتونونه د يو افغان په جامه کې احساس کړي تر څو دا وياړلی تأريخي هېواد او مېړنی واحد ملت په خپلو پښو ودرېږي او د حجرو، جوماتونو، ملت او حکومتونو ترمنځ ستر واټن له منځه يوړل شي.

سياست تل له ايډيالوژۍ سره تړاو لري. په افغانستان کې پرديو بهرنيو افغان ضد ايډيالوژيو لکه کولونياليزم، امپرياليزم، کپيټاليزم، شوونيزم، سختدريزم او داسې نورو ايزمونو ته نور ځای نشته ځکه ټولې پردۍ ايډيالوژۍ ناکامې شولې. په افغانستان کې پردۍ ايډيالوژۍ داسې ښکاري لکه پوډين يا فرني چې د غړې کوټې په ديوال کې يې ميخ کړي.

د افغانانو د افغانيت ملي ايډيالوژکي فلسفه پر انسانيت، اسلاميت، د حق، عدالت او انصاف په لار ولاړه ده. د يو رښتني پښتون افغان انسان عقيده اسلامي او ملي هويت، افغان دئ. په افغانستان کې د اسلاميت او افغانيت ايډيالوژيکي اتحاد او يووالي نه ماتېدونکی دئ.

دا يو حقيقت دئ چې په افغاني ټولنه کې د افغانستان اساسي قانون، اسلامي قوانين، د شريعت قانون او د نړېوالو بشري قوانينو په څنګ کې د پښتونولۍ دوديز قانون د افغانانو ورځني ژوند تنظيموي.

د پښتنو ټولنه د انصاف او مساوات ټولنه ده، دا به ډېره بې انصافي، بې عدالتي، تېری او ظلم وي چې د پښتنې
ښځې خپل – خدای - ورکړل شوي حقوق ورنه کړل شي.

موږ پوهېږو چې ښځه په ټولنه کې مکلفيتونه او حقوق لري. د پښتنو په قبائيلي سيستم کې د ښځو حقوق په سمه توګه نه دئ ځرګند. دا په دې مانا نه ده چې خدای مکړه په پښتنه ټولنه کې د پښتنې ښځې حقوق نشته. ښځه، خور، مور او لور ده. الله تعالی دوی ته خپل حقوق ورکړي دي. د دغو حقوقو او د بشري بنسټيزو حقوقو په ورکولو کې په پښتونولۍ کې کوم اعتراض او يا مخالفت نشته. پښتنو ښځو ته د هغوی د مدني او انساني حقوقو په ورکولو سره د پښتنو قبيلوي جوړښتونه په هېڅ وجهې نه ماتيږي. بلکې پښتنه ټولنه نوره د ښځو له لارې ژوندۍ او ټينګېږي. د پښتنې ښځې ټيکری د اسلامي حجاب ټيکری دئ. پښتونولي دا مني، چې ښځو ته بايد له اسلامي شريعت سره په سمون کې په مال او دولت کې او د خپل پلار په پلرنۍ ځمکه کې د ميراث خپل ټاکلی حق ورکړل شي.

مهر يا ولور د ښځې خپل حق دئ، د هغې پلار، ورور، تره او يا بل چا ته دداسې حق اخېستل مطلق حرام دي. مهر د ښځې بشپړ او مُسَلَم شرعي او قانوني حق دئ او له هغه څخه د نورو ټولو حقوقو په څېر ګڼه اخېستلی شي. هېڅ څوک د ښځې دغه حق نه شي صلب کولی او نه يې د صلب کولو حق لري يا ښځه په بدو کې ورکول، دا غير انساني کړنه له پښتونولۍ سره هېڅ تړاو نه لري.

پښتونولي نه يوازې د پښتنو د ژوند حقوقي قاعده ټاکي، بلکې د هرې پښتنې او د هر پښتون لپاره يې د انفرادي ژوند، د ټولنيز ژوند اړيکي او کړه وړه، جوړښتونه، او د ژوند کولو ښه نورمونه، ارزښتونه او تصورات تقريراً تفسيرکړي دي.

پښتـنـي ټولني کې د پښتـونولی د ارزښتونو او نورمونو د سیسټم اساسي ټکي د ننګ، غیرت، ناموس، شرم او حیا مفهومونه دي، چې د ټولني د ساتـني او د قبائـیلي نورمونو او جوړښتونو ساتل په کې رانغښتل شوي دي. یو رښتـنی مخکښ اصیل پـښـتـون افغان مکلف دئ او دنده لري چې هر وخت خپل ځان له کمزوریو څخه وساتي، خپله کورنی، خپله قبیلـه، خپل پـښـتـون ولس او خپله پښتـو ژبه له کلتوري یرغل، بې شرمی، رسوایی، نوم بدی او سپکاوي او شرم څخه وژغوري. ترڅو په ټولنه کې خپل دروند ځای له لاسه ورنه کړي. (۲۱)

د ننګ مفهوم په لومړي ګام کې یو انفرادي عمل دئ، که لږ نور په کې وړاندې لاړ شو، ننګ یو ډله ییز کانسیپټ دئ، په ټولنه کې د ښځي او نارینه ننګیالیتوب، میـړانه، زړورتیا او شجاعت، امن، نظم او اخلاقي ثبات ته تداوم وربخښي. افغاني ټولنه کې ننګ، پت، عزت،آبرو، حیا او شرافت درلودل سړی د ښه او نیک نوم خاوند ګرځـوي.

پښتـنـي ټولنه کې ننګ، ناموس،عزت، غیرت او پت د یوپښتـون د انساني کرامت تر ټولو ستر مقام بلل کـېږي. د پـښـتـنـو په اړه د اصل او نسب د ونې (Genealogie) د ایډیالوژیکي پوهنېزې څـېړني او پلټـني پر بنسټ یا د پښتـنـو د قومي ولسي سلسلي او ایډیالوژیک یووالی، د پـښـتـنـو د توکمي احساس د (مورڼ احساس) یا د پـښـتـون توب احساس د پـښـتـون اوسـېدلو پر بنسټ د پښتـونولی د قبائـیلي دودیز ایډیالوژیک قانون پربنسټ ایښودل شوی دئ. د پښتـونـولـی د بنسټیزو اصولو منځ- زړی یا ایډیالوژي پر دې محور را څرخي چې پـښـتـنـي ټولنه کې د پښتـني قبیـلـوي هویت، د پـښـتـنـو قبیـلـوي خودمختاري او ورسره جوخت د یو ګډ ولسي ټولنیز عدالتي نظم د را منځته کولو په لاره کې یو سیسټم وګرځي. د سیسټم یوه برخه د پـښـتـنـو نـړیـوال لیدلوری ورښیي او بله برخه یې د نن ورځې د پـښـتـون ولس د ژوند روحي هینداره ورښیي چې د پـښـتـنـو د ژوند- بڼې او ډولونو په فورمول بندي کولو کې مهمه ونډه لوبوي. (۱)

لویدیځوال شننونکي او څـېړونکي لکه (Gründerg und Rachimow) پـښـتـونولي ته د پـښـتـنـي قبائـیلي اخلاق او د پـښـتـنـو د کړو وړو د سیسټم په سترګه ګوري، چې په کې د آدابو او اخلاقو پرنسیبونه له یو بل سر تړاو لري.
د (Snoy) په نامه یو بل لویدیځوال څـېړونکی، د پـښـتـونولی د غوښتـنو، وجود او شتون په اړه لیکي چې په پښتـونولی کې کرکـېچنه یا ستونزمنه خبره د غیرت یا میـړاني ښودل او یا له خپل غیرت څخه د دفاع مسئـله ده. په پـښـتـون کې دغه ځواکمن احساس یا دغیرت د غریزې د ښودلو لامل د عدالت د ببـرتـه پرځای کولو لپاره په غورځنګي یا احساساتي ډول را پورته کـېږي. ځکه چې د پـښـتـون عزت او غیرت ته د بې انصافۍ او بې عدالتۍ له امله زیان رسـېدلی دئ، دی باید د پښتـونولۍ د پرنسیب پربنسټ د پـښـتـونولی له سرې کرښې څخه هم وانه وړي، رښتـنی پـښـتـون مجبور دئ چې د بې انصافۍ او بې عدالتۍ پر وړاندې د پـښـتـونولۍ په ټول کاري چاپیریال، دود دستور او د نرخونو په چوکاټ کې یو مناسب غبرګون وښیي.

د پـښـتـنـو قبائـیلي دودیز ژوند، تولنیز نظام او قبائـیلي نظم د پـښـتـونولۍ له نورمونو ارزښتونو، دودونو، نرخونو، روایتونو او رواجونو څخه ډک ژوند دئ.

## د پـښـتـنـې قـبـیـلـې د نسب ونه او د پـښـتـونولۍ ایډیالوژي

پښتـانـه یوازي د خپلو پلرونو په نومونو سره ویشل شوي دي. په پای کې د پلرونو ټول نومونه یوه پښتـون غورنیکه ته ورګدیږي. ټول پـښـتـانـه د خپلو پلرونو او نیکونو له لارې له یو بل سره د

خپلوۍ اړیکې لري. د پښتـنـو د اصل او نسب ونه په خپله د پښـتـون ولس اوږد او لرغوني تأریخ لیکي.

د قوم یا قـبـیـلـې تعریف د انټروپولوژۍ (Anthropologie) له اړخه : قوم یا قـبـیـلـه یوه سمبولیکه ټولنیزه ډله ده چې د هغې بنسټ په نورو وړو قـبـیـلـو باندې ایښودل شوی وي او یا دوی ټل سیاسي ساتـنې او پالنې ته اړتیا ولري. (۲)

پښتـنـې قـبـیـلـې یا قبائیلي ډلې په دودیزه توګـه د اصل او نسب یا شجرې له مـخـې د یو ګـډ پـښـتـون نیکه نسل او اولاده ده چې ګـډه ژبه، ګـډ کلتور او یوه ګـډه ملي ایډیالوژي لري.

قام یا قوم د وګړو یو ګڼ اړخیز، ټولنیز تنظیم شوی فورم دئ، چې غړي یې له یو نسل څخه او په خپلو کې د خپلوۍ د اړیکو له لارې له یو بل سره یووالی ولري.

**<u>په توکمپوهنه (Ethnologie) او انسانپوهنه (Anthropologie) کې د قـبـیـلـې یا Clan ) تعریف:</u>**

قـبـیـلـې یا قبائیلي ډلې په خپلو کې د خپلوۍ قومي اړیکې لري او پرته له دې چې خپله قامي کړۍ یا سر چـیـنـه سمه وښودلی شي خپل ځانونه له یو ګـډ نیکه او یا غورنیکه څخه ګڼي.

د (Clan) یا قـبـیـلـې یو دقیق تعریف ، چې په انګریزي، آلماني ژبو او د څـېـړنو په ادبیاتو کې منل شوی دئ، د متحده ایالاتو امریکایي انسانپوه یا Anthroplogies(t) ښاغلي ګیورګي موردوک دئ چې په (Georgie P. (Murdock)1897 -1985) کې قـبـیـلـه داسـې تعریفوي:

«کله چې قبائـیلي ډلې په خپلو کې د خپلوۍ داړیکو له لارې په یوه ګـډه خاوره یا جغرافیوي قلمرو یا تر ملي حاکمیت لانـدې یوې سیمې کې یو ځای او ګـډ ژوند وکړي او د دوی تر منځ خپلوي د یوغور نیکه په بنسټ رامنځته سي.»
د قـبـیـلـې دغه تعریف د لوی افغانستان د پـښـتـنـې قـبـیـلـې په اړه سم مطابقت لري او سم ارزول کـېـږي.

توکم د انسانانو یوه ډله ده، چې یو ګـډ کولکتیفي هویت لري. د دوی مشخصات په لاندې ډول دي :
« یو اصل او نسب یا د نسب یوه ګـډه سلسله، ګـډ تأریخ، کلتور، ژبه، مذهب او په یوه ګـډه خاوره کې، په یوه جغرافیوي ملي قلمرو یا د ملي حاکمیت تر چتر لاندې یا د هغه له لارې خپل ملي پیوستون ته یو ګـډ ملي احساس ولري. »(۲)

د نړۍ او د لوی افغانستان په سیاسي، حقوقي، ټولنیزو څـېـړنو، افغاني ادبیاتو او رسنیو کې د قبائـیل یا (tribal)ټرمینالوژیکي کلمه کارول کـېـږي، دا کلمه په هـېـڅ وجهه منفي یا نګټیف مانا نه ورکوي. د قبائیلو په نوم یا د قبائیلو په کلمې پورې اړوندو سیمو کې اوسـېـدونکي وګړي خپله خپلوي له خپل ستر واحد توکم سره ښیي. قبائـیلي وګړي د قبائـیلو د کلمې په کارولو سره خپل حقوقي شتون او مدني مشروعیت د خپل توکمي سیاسي ځواک له لارې سمدستي همداوس، همدلته ترلاسه کول او ښکاره کول غواړي.

په بله وینا پښـتـنـې قبائیلي وګړي د یو ستر توکم یا ستر ولس قـبـیـلـوي واحدونه یا قومي ګـروپونه دي، چې په خپلو کې نه یوازي ګـډه موروني خاوره، ګـډ پلرنـي هـېـواد، ګـډه ژبه، ګـډ ملي تأریخ ، د دین یا مذهب، ګـډ ملي اسلامي مقدسات، یا ملي نوامیس، دود دستور او ګـډ ملي کلتوري ارزښتونه، نورمونه، عزیزګلوي، وروروګلوي او ګـډ اقتصاد لري، بلکې د اصل او نسب د پرنسیب پربنسټ له یو بل سره د خپلوۍ او د وینې جنیټکې نه شلـېـدونکې تأریخي اړیکې هم لري.

دا به زموږ یوه ستر تېروتنه او اشتباه وي چې قبائیلي جوړښتونو ته د منځني پېړۍ د جوړوښتونو په څېر وګورو. که له دغې هڅې او له دغې زاویې ورته وکتل شي، بیا قبائیلي جوړښتونه له وروسته پاتیوالي سره په تړاو تعریف کېږي. که د افغانستان سیاسي دولتي تأریخ وڅېړل شي، له ډېر خوا څخه له قبائیلي جوړښتونو سره د مډرنیزم او ملت جوړونې په بهیر کې موافقه یا هوکړه شوې ده. په نړۍ کې نن قومي قبائیلي جوړښتونه په مډرن ژوند او د مډرنو دولتونو په جوړښتونو کې خپل ځانګړی ځای لري.

د پښتنو لرغونی تأریخ نن هم هر پښتون افغان ته د پښتنو قبائیلي ارزښتونه او حقوقي نورمونه ورزده کوي، چې ستا ولس، ستا د ټولنې د هر یوه غړي وجود او پایښت، د یو پښتون افغان انفرادي آزادي یا خپلواکي، توکمي ملي هویت، د پښتون د کور سَتر او پ ََرده، مصؤونیت، امن، د صمیمیت سوله ییزه فضا، قبیلوي هویت، د پښتنو ستر ټبر او د پلار نیکه هېواد د دښمن له پرله پسې سپین سترګو ګواښونو او یرغلونو سره مخامخ دي. دا ستا او د هر پښتون او پښتنې افغاني او ایماني او وجداني دنده ده چې د بهرني دښمن پر وړاندې په ویښه او ګډه دفاع وکړئ. په همدې ترتیب پښتونولي پښتون ولس ته ورزده کوي چې د نن ورځ په دغه له دښمنیو، تربګنیو او سیالیو ډکه نړۍ کې خپل سیاسي، حقوقي ،ټولنیز ارزښتونه او ولسي شتون په نړېوال کلي کې ج َو َت کړي او د خپل ولسي یووالي لپاره خپله روا مبارزه په اغېزمنه توګه پرته له وېرې څخه نوره هم ګړندۍ کړي. د پښتنې افغان- ټولنې هر غړی مجبور دئ چې د خپلې فردي خپلواکۍ د ساتلو له لارې د کورنې او باندنې دښمن، د تور او سپین دښمن د پټو او ښرګندو بریدونو مخه ونیسي. د اړتیا او شونتیا په صورت کې پښتون باید خپل بدل هم ترې واخلي. که پښتون افغان داسې ونه کړي، بیا نو په ټولنه او نړېوال کلي کې خپل ټولنیز پرستیژ، حیثیت، افغاني غیرت، مېړانه، او دعزت ټول ارزښتونه له لاسه ورکوي.

یو پښتون هغه مهال په خپله قبیله او خپل ولس کې منل کېږي چې د خپل ژوند په چاپریال کې افغاني مېړانه، ننګیالتوب، خپلواکي، درنښت او جګړه ییز قابلیت په ځان کې ولري، دی باید د پښتونولۍ ارونه او ځانګړتیاوې نورو ته ورښکاره کړي. د ریښتینو هېوادپالو افغانانو پښتنو ژوند، غیرت، عزت، د الله تعالی په لاره کې مبارزه، سرښندنه او د خپل پلرني هېواد د خپلواکۍ لپاره جګړه ټاکي. له همدې امله یوې پښتنې کورنۍ ته خورا مهمه ده چې په کور کې نارینه ولري. په پښتنه ټولنه کې د پښتون په کور کې د نارینه شتون، دوی ته په خپل کلیوالي چاپیریال کې د کورنۍ موقف، امنیت او سوکالي ټاکي او د خپل سر او ځان تضمین یا ګرانټي په کې ویني. په پښتنو کې د زوی نه درلودل، د پښتون د کورنۍ د ورانۍ او د پلرنو او نیکونو د نومونه د ورکېدلو په مانا ګڼل کېږي.

پښتنې قبیلې او قبائیل د نړۍ له نویو پرمختګونو او نوي - پالنې یا مډرنېزم سره کومه ستونزه نه لري، له دې امله قبائیلي سیستم له منځه نه ځي. قبائیلي سیستم ورو ورو د نړېوالتوب او له خپلې عالي ملي لرغونې ایډیالوژۍ سره د نن ورځې له مدني ټولنې سره اړخ لګوي. د پښتون ستر قام به په نړۍ کې تل ژوندی وي او د پښتون د ولس کور به په نړېوال کلي کې د یو سوله - مل کور په شان شتون ولري. د پښتنو دا خورې ورې قبیلې د یوې ونې ډډه یا د یوې ستې ښاخونه دي، د پښتون د نسب تکه شنه - زرغونه ونه د نړۍ هېڅ زبر ځواک نشي لنډه ولی. له همدې امله د پښتون افغان په ستر ولس کې بېلتون نشي راتللي. الله (ج) شاهد دئ، چې د پښتون ولس بیا یووالی شته او د پښتنو بېرته یووالی له وخت او زمان سره راروان دئ.

د پښتون ستر مظلوم ولس به ان شاءالله نن یا سبا خپل ولسي بیا یووالی نړېوالو ته، د انګریز او

امريکا شين سترګو جنرالانو ته، د روس سپـين سترګو مارشالانو ته، د پنجاب تور مخو ميجرانو، اجنټانو ته او د ايران تور فکرو يرغلګرو اخوندانو ته اعلان کړي.

د يادوني وړ ده: کله چې په ۱۹۹۸ کال کې د برلين ديوال ونړېـد، له همدې ورځي يا نېټي څخه درې مياشتي مخکې د ختيځې او لويديځې نړۍ هېـڅ يوه سياسي چاروا کي، سياستوال، سياسي شنونکي او څېړونکي دا خيال او تصور نه کاوه چې د برلين ديوال به په داسي آسانۍ سره ونړېږي. د پېـرنګيانو د امپراتورۍ نسکورېـدل او د ډيورنډ د کرښي د لمنځه تللو حالت به له يو بل څخه ډېـر لږ توپير ولري.

# څلورمه برخه

## د افغانستان د دولت او د افغان ملت د جوړوني په سيستم کې د پـښتـونـولۍ کانسپټ

لوی افغانستان د ټولو لر او بر پـښتـنـو افغانانو ستر ګډ کور دئ؛ لږه کي قومونه له پـښتـنـو سره په دغه ستر هېـواد کي د وروړګلوۍ برابر ګډ ژوند کوي. د افغانستان په ملي دولت جوړونه کې او د افغانستان د ملي سياستونو په تأريخ کې د پـښتـنـي قـبـيـلـو او افغان لږه کيو قومونو رول ډېـر اوږد او مهم دئ. د افغانستان شريفو، مـېـړنيو، ويښو قـبـيـلـو، عزتمندو، غيرتمندو او هـېـوادپالو قومونو په اتلسمه پـېـړۍ کې له نهو ورځو جرګه کـېـدو وروسته لوی احمد شاه بابا د لوی افغانستان د ستر ټولواک پاچا په توګـه وټاکـهٔ. د افغانستان په معاصر تأريخ، د افغانستان ملي دولت په خپل سياسي دولتي جوړښت او د افغان ملت جوړوني د بهير په اوږدو کې د افغانيت يا د پـښتـونـولۍ د کانسپټونو مهم عناصر لکه لويه جرګه، ملي جرګه، د مشرانو جرګه، ولسي جرګه، څارنوالی او ستره محکمه رسماً منلي دي. افغانستان کې د ملي دولت او ملت جوړولو په بهير کې د پـښتـنـي قـبـيـلـو رول او د پښتـنـو هويت يعني د پـښتـونولی د ارزښتونو ارزښتمن څواکمن هـېـڅ- څوک له پامه نشي غورځولي. په خواشينی سره څينو پرديپـالو، کمزورو، ناپوهو، مزدورو، متعصبو عناصرو او چارواکو هڅه وکړه چې د پـښتـنـو تأريخي ملي هويت د افغانيت او اسلاميت مقدسات او ژبنۍ ټرمينالوژي له پامه وغورځوي. د دا ډول حکومتونو او دولتونو په تأريخ کې د دغو پرديپـالو عناصرو برخليک ټولو افغانانو ته څرګند مالوم دئ.

لوی افغانستان په خپل وروستـني دوه سوه کلن جګړه ييز تأريخ کې تر ډېـره بريده د خپل نامتمرکز، کمزوري، پاشلي، ويشلي حالت په لرلو سره سره په دې وتوانيد چې په وړو، وړو ډايرو کې د ګوريلايي ټکتيکي جګړو او مقاومت له لارې نـړېـوال يرغلګر زبرځواکونه د جګړو په ډګر کې څو څوځلي چې د خپل وخت او زمان په مدرنو ګوابښمنو وسلو سمبال وو د خپل افغاني غيرت او پوځي زور په مټ په ګونډو کړي. له همدې امله تر نن پورې افغانستان له دوو پـېـړيـو راهيسې د نـړېـوالو د پرلپسي سياسي لويو لوبو يو ستر نـړېـوال ستيډيوم، يو جنګي لابراتوار او يو نـړېـوال حربي پوهنتون ګرځـېـدلي دئ.

ددولت جوړولو (state – building) او ملت جوړولو (nation -building) کلمات اکثرا په ناسمه او په مترادفه توګـه کارول کيږي. افغانستان کې د دولتمشر او د دولتي اداري هنر هم همداسـې په ناسم ډول له يو بل څخه نه بـېـل کـېـږي.

ملت جوړول او د ملت جوړوني مفهوم یو ستر هر اړخیزه بحث ته اړتیا لري، چې په کې د ملي هویت عنصر ستر رول لوبوي. د دولت جوړوني مفهوم ستراتیجیکو اړیکو ته اړتیا لري، چې ور سره په هېـواد کې دولتي اداره یا بیروکراسي جوړېږي. د ملت جوړوني له بهیر سره کلتوري هویت او اقتصادي سیاست په یوې جغرافیې پورې اړوندې سیمې کې رامنځ ته کېږي. (۴) ډېـر شمېـر دولتي حقوقپوهان په دې اند دي چې یوه بریالی دولت جوړونه، د یوې بریالی ملت جوړوني پر بنسټ رامنځته کېږي. د یوې ګټورې، بریالی او باثباته دولت جوړوني شرط، ملت جوړونه ده. د دولت او ملت جوړوني ترمنځ بل توپیر دا دی چې دولت جوړونه د بهرنیو هېـوادنو په مرستو او د هغوی په مټ هم رامنځ ته کېـداې شي، اما ملت جوړونه یوازې د ټولني د وګړو لخوا تر سره کېـداې شي. د افغانستان د دولتي تأریخ ډېـر شمېـر شنونکي په دې اند توافق لري چې په افغانستان کې دولت جوړونه په همدا تېـرو اوسنیو حالاتو کې د نـړېـوالي ټولني او نـړېـوالو ځواکونو له لاسوهني سره سره بریالی نه وه. دوی د افغانستان په دولت جوړونه کې پاتـې راغل.

افغانستان اوسمهال یو(failed-state) یا یو ناکامه دولت لري. افغانستان کې د مهمو سیاسي توکو نشتون لکه د امنیت نشتون، د یو عدلي او قضایي سیستم نشتون، د هېـواد د پرمختګ لپاره د بنسـټیـزو پروژو نشتون، له فساد څخه ډکه اداره، د دولت پر سیاسي خپلواک بهیر باندې د خلکو لږ باورمنتوب، افغان ولس د خپل دولت په سیاست کې خپل ملي ارزښتونه او ملي هویت نه ویني او نه یې احساسوي، چې له دې امله د دولت او خلکو ترمنځ یو ډېـر ستر واټن رامنځ ته شوی دئ. داسـې نور لاملونه شته چې په افغانستان کې یو ناکام دولت رامنځ ته شي.

د افغانستان د دولتي تأریخ سیاسي کارپوه ښاغلي (Schetter) لیکي: د افغانستان تـېـر تأریخ ته په کـتـو سره باید وویل شي چې په افغانستان کې د ملت جوړوني کانسپت تل په یوې پـښـتـنـي پوهې او تر یوه پـښـتـنـي تفکر لاندې لیکل شوی دئ. په دې مانا کله چې موږ وغواړو په افغانستان کې سمه ملت جوړونه ترسره کړو او لکه چې تل دا هڅه شوې، د افغانستان د ملت جوړوني په بهیر کې د پـښـتـنـو د ملت جوړوني له نموني او یا د پـښـتـنـو له توکمي سمپل څخه باید کار واخـېـستل شي. په دغه سمپل یا نموني کې نه یوازې ملي سندره، ملي اتڼ، ملي جامې او جګې شملې شاملې دي، بلکې د پـښـتـنـو دود دستور او د



پـښـتـونـولـی کانسپټونه هم شامل دي. افغانستان یو ګڼ توکمیزه هېـواد دئ، که په افغانستان کې په میتودیک ډول ملت او دولت جوړونه پلي کېـږي، باید ټولو وګړو، سیاسي واحدونو او واقعیتونو ته پام وشي. دولتونه دي چې خواره واره ولسونه سره یو ځای کولي شي، ملیتونو او د قبائـیلو له واحدونو څخه د ملي هویت پربنسټ یو ځواکمن واحد افغان ملت جوړېدلی شي. د پـښـتـونولی د قانون په لیکل کېـدو سره او له لږ سمون څخه وروسته کېـدای سي چې د افغانستان د راتلونکو دولتي، حقوقي نظامونو بنسټ کـېـږدو. د پـښـتـونولی منل شوي حقوقي نورمونه د افغان ولس له خوا په ډېـر ښه ډول منل شوي دي. د پـښـتـونولی د قانون ډېـریو نورمونو او اصولو د افغانستان پر لږکیو توکمونو باندې

خپله اغېزه هم شیندلي ده. دوی د پښتـونولۍ له اصولو سره ښه بلد شوي دي. په بله وینا د افغانستان ټول وروڼه قومونه د پښتـونولۍ نورمونو ته ورته حقوقي دود دستور او یا عرفي تعاملات لري. لکه مېلمه پالنه، ننګ، غیرت، ناموس، خان، ملک، افغاني ننګ او غیرت او هېـوادپالنه.

د لوی افغانستان په ټولو کلیو او بانډو کې د پښـتـنـو افغانانو قبائیلي کلتور، دود، دستور او افغانیت ژوندی او په خلکو کې له پېړیو راهیسې خپور دئ. پښـتـنـو په افغانستان کې خپل انسانیت، مېـلمه پالنه، عزت، غیرت، مېړانه، اتلولي، د ننګیالیتوب او د توریالیتوب ویاړونه او د خپلې خپلواکۍ جګړه ییز تأریخ له نورو لږه کیو وروڼو قومونو سره سم شریک او ویشلی دئ او لږه کیو وروڼو قومونو له پښـتـنـو سره په ګډه د هېـواد په ساتـنـې، خپلواکۍ، د سوکالۍ او آبادۍ لپاره تل ټینګه ملا تړلي ده. په افغانستان کې د پښـتـنـو افغانانو تأریخي رول، دولتي ځواک او د دولت د بنسټ جوړولو نوښت او ابتکار او د پښـتـونولۍ منل شوي نورمونه او د ارزښتونو سیستم د نورو لږکیو قومونو له خوا هم منل شوي او هم عملي کېږي. فعلا له افغان حکومت سره د افغان ملت جوړونې او د افغانانو لپاره د یو ګډ ملي مذهبي او افغاني هویت سیاست یو منل شوي تعریف او یوه وېښه ملي سیاسي ستراتیژي نشته.

اخځلیکونه:


1- Willi Steul: Steul 190.Seite 255 ff. Pashtunwali und Widerstand – Stammesgesellschaft im Staat: Die Pashtunen in Paktia In: Berliner Institut für vergleichende Sozialforschung [Red.: Kurt Greussing u. Jan-Heeren Grevemeyer] (Hrsg.): Revolution in Iran und Afghanistan – mardom nameh – Jahrbuch zur Geschichte und Gesellschaft des Mittleren Orients Syndikat, Frankfurt am Main 1980, S. 250-263, ISBN 3-8108-0147-X
2- Britninnica Encyclopedia,Retrieved November 8. 2012, fromBritnnic Encyclopedai
3- Georg Elwert: Ethnie, in Christian F. Feest, Hans Fischer und Thomas Schweizer ( Hrsg) , Lexikon der Verkerkunde, Dietrich Reimer Verlag , Stuttgart 1999, S 99 f .

# پېنځمه برخه
# د پښتـونـولۍ د حقوقي نورمونو ټرمینالوژیکي مهم منل شوي کانسپټونـه

**افغانیت**: د افغاني دودیزې ټولنې د حقوقي نورمونو، ټولنیزو ارزښتونو او اصولو یوه منل شوې لرغونې ټولګه ګڼل کېږي. پښتـونولي د پښتـنـو قبائیلو یا د پښتـون ولس ترمنځ یو حقوقي، سیاسي، ټولنیز، کلتوري او د قومي هویت یو نه ماتیدونکی نسلي تړون دئ. په پښتـنـه ټولنه کې د پښتـونـولی حقوقي نورمونه او ټولنیز ارزښتونه له څو پېړیـو راهیسې تر نن پورې د پښتـون افغان ستر ولس د سیاسي، حقوقي، ټولنیز او کلتوري سوله ییز ګډ ژوند، کړه وړه سمبالوي.



د پښتـونـولۍ د حقوقي پوهي بنسټ په پرلپسي توګـه د خپل عصر او زمان د حقوقي ژورې پوهې د خاوندانو، د مخوَرو تجربه لرونکو متنفذو مشرانو، د باوجدانو، باضمیرو او سپیـن خولو انسانانو د کولکټیفي پوهي پر بنسټ ایښودل شوي دئ. دوی د پښتـونـولۍ ارونه، حقوقي نورمونه او ټولنیز ارزښتونه په یو شمـېر کانسپټونو کې په نالیکل شوي توګـه د یو ولسي ټولنیز تړون په څېـر مشخص کړي دي. د پښتـونـولی په فلسفه او فکري نړۍ کې د ستر پښتـون افغان ولس د شخصیت پېـژندنې هر اړخیز انځور، د پښتـونتـوب تعریف، تفسیر او د یو پښتـون د پېـژندګلوۍ خورا مهم توکمي عناصر پراته دي. د لوی افغانستان د خپلواکی لپاره د پښتـنـو د سیاسي ـ حماسي مبارزو، ډول ډول ایډیالوژیک اړخونه، د افغان پښتـون د ځانګړي درونـد شخصیت د ځانګړتیاو اوصاف او پېـژند د هغۀ په انسانیت، ځواکمنتوب، ننګیالیتوب، توریالیتوب، مېړنتوب، غښتلتوب، ژمنتوب، زړورتوب او د پښتـونتوب په دودیز نارینتوب کې نغښتی دئ. د دغو ځانګړو خصوصیاتو په مقابل کې یو ننګیالي پښتـون ته سلیم عقل، پوهه، فهم، زغم، نـنـواتـې او ټولنیز ولسي مسؤولیتونه ولاړ دي. د ژوند په دغسې یوه خورا حساسه سیاسي لار کې یو اصیل پښتـون افغان خامخا منځلاریتوب، نرمښت او انعطاف پذیري ته مجبورېـږي. پښتـون ولس د پښتـونـولۍ په دودیز قانون او کانسپټونو کې خپل ټولنیز عالي ایډیالونه، خپل نـړیـوال لید، خپل حقوقي نورمونه، خپل ټولنیز اصول، ارزښتونه، نرخونه، دودونه او معیارونه ټاکلي دي.

د همدغو لاملونو پر بنسټ افغانیت، پښتـون افغان ولس ته د کولکټیفي مدني غوښتـنو، تمو (طمعو)،

ارمانونو او هیلو یو بنسټیز تأریخي رسالت گرځېدلی دئ. پښتـونولي خپل حقوقي نورمونه، ملي ارزښتونه، خپل اصولي نرخونه او غوښتنې له خپلو غړو او په ټولنه کې له خپلو وگړو څخه لري. دا هغه زاړه حقوقي نورمونه او ټولنیز ولسي ارزښتـناکـه ارزښتونه دي چې درست پښتــانــه افغانان یې د بشري تأریخ د لیکلو له پېل څخه ترنن پورې د یو واحد خپلواک ولس په څېر د خپل ملي هویت، سیاسي، ټولنیزو او کلتوري چارو د پېژندگلوی په برخه کې په یوه اوږده تأریخي مزي باندې له یو بل سره یو ځای ټینگ گنډلي دي.

پښتـنـو د پښتـونولي حقوقي نورمونه او تولنیز ارزښتونه د لرغوني آریانا د مدنـیتونـو د تأریخ په بهیر کې د خپل ځان لپاره ټاکلي او رامنځ ته کړي دي. په لومړي ځل پیر روښان خیرالبیـان په پښتـو ژبه ولیکـهٔ او ورسره جوخت د اسلام د سپېڅلـي دین فلسفه او د پښتـونـولی فلسفه یې په گډه وځېړله. له همدې مهاله د پښتـنـو افغانانو د ملي تأریخ د فلسفي لیکلو پـَیـر «عصر» پېل شوی دئ. د پښتـو او پښتـونولی حقوقي لرغوني نورمونه او ټولنیز ارزښتونه نه پردي، نه بهرني، نه دولتي او نه د تأریخ تـېـرې زړې وروسته پاتـې خبرې دي. پښتـونولي نه کوم مستبد ډیکټاتوري سرزوري سیستم دئ، نه د ظلم زیاتي، نه د تبعیض، تعصب، تحقیر، نه د ښکنځلو او سپکاوي کلتور دئ، نه د شر، نه د بدمرغۍ او نه د بدبیني لار ده. پښتـونولي د افغاني ننگ او غیرت یو عالي لوړ احساس دئ. پښتــانــه له دغه انساني پاک احساس څخه د خپل ژوند په ورځنیو چارو کې کار اخلي. نن ډېرى پښتــانــه مجبور شوي دي چې د خپلو پلرونو او نیکونو په شان د نن ورځ په نـړېـوال کلي کې له خپـلـې فردي خپلواکۍ څخه، له خپل خپلواکه ستر گډ کور لوی افغانستان څخه، له خپل ملي یووالي څخه، له خپل ملي احساس څخه، له خپل ملي هویت افغانیت، اسلامیت او له دیني مقدساتو، صفاتو او ارزښتـونو څخه په پوره مېړانه او زړورتیا ساتـنـه او دفاع وکړي. افغانان مجبور دي چې د اسلامیت او د خپل سپېڅلـي دین د مقرراتو او هدایاتو په رڼا کې او د افغانیت یا د رښتونولی د احساس په لرلو سره د خپل ملي ولسي یووالي په لاره کې یو بل ته د وروړگلوۍ رښتوني ډاډمن او اعتباري لاسونه ورکړي او د یوه روښانه هوسا سباوون پر لور باید په گډه روان شي.

پښتـونولي له لرغونو زمانو څخه تراوسه په پښتـنـه ټولنه کې د اړتیا په صورت کې د خپل عصر او زمان مطابق تل په خپلو کانسپتونو کې په ولسواکه توگه د ټولنیز عدل، انصاف، سمون، رغون، بدلون راوستو په لاره کې د بحث، خبرو اترو، د نوی مدني انساني تعریف او تفسیر د رامنځ ته کېـدو لپاره حجرو، جرگو، دېرو، جوماتونو او ان گردیو مېزنو ته لارې خلاصې پرېښې دي. د ساري په توگه، نن په افغاني مدني ټولنه کې په کومو حالاتو کې او څنگه د پښتـونولی د ننگ، غیرت، سیالۍ او د بدل له کانسپټونو څخه کار اخېستل کېداي شي. د پښتـونولي قانون د پښتـنـو په ټولو سیمو کې یو شانته نه پلی کېږي، پښتـونولي د پښتـنـو په یوه او بله سیمه کې په لږ څه توپیر لیدل کېږي. د بېلگې په ډول که څه هم دغه بېلـگه یو ناوړه دود یا رواج دئ لکه د ولور ناوړه دود، چې د پښتـونولی له قانون سره نیغ په نیغه تړاو نه لري؛ لویه پکتیا کې یوه ښځه د یو ستر جرم یا قتل په بدل کې په بدو کې ورکول کېږي. کله چې یو څوک قتل وکړي، د بدل اخېستلو د مخنیوي لپاره د یوې جرگې لخوا یوه نـجلـې د مقتول په کور کې یوه سړي ته په نکاح کېږي. په لوی ننگرهار کې په عیني جرم کې ښځه په بدو کې نه ورکول کېږي، بلکې د جرم په بدل کې نغدې پېسـې ورکول کېږي. یولامل ښایي د خلکو د پوهاوي ټیټه کچه او بد اقتصادي حالت وي. بله خبره کله چې د پښتـونـولی د دودیز قانون په چوکاټ کې یوه سمه انساني، افغاني او د اسلامي حقوقو پر بنسټ یوه حقوقي پرېـکـړه وشي، دغه پرېـکـړه یا فیصله د یوې قاعدوي پرېکړې په توگه د یوه دودیز نرخ په څېر په ټولو پښتـنـو یا افغانانو کې په متوازنه توگه نه خپرېږي او د یوې معیاري منل سوې پرېکړې په څېر په نورو قضیو کې ورڅخه کار نه اخېستل کېږي. د پښتـونولی قانون یا د پښتـنـو د جرگې دغسي پرېـکړې په لیکل شوې بڼه په آرشیفونو کې هم نه ساتل کېږي.

د پښتـنـو د مشرانو او د مخورو ړون اندو مـخـې ته داسـې نوري مسئـلې، موضوعگـانې خبرې اترې د سم تفسیر او تعبیر او عامه پوهوې لپاره پرتـې دي.

پښتـونولي له یوې خوا د حقوقي او جغرافیایي سختو شرایطو، د خونړیو تأریخي پېـښو، ناورینونو، د بهرنیو زبرځواکو د یرغلونو، پېـچلو ټولنیزو کړکېچونو، کورنیو جګړه ییزو حالاتو او د داسې نورو لاملونو له امله یو تصوفي، تصوري، خیالي، بې جسمه، بې حرکته، بې کالبده، بې چوکاټه قانون دئ، خو پر دې برسیره پښتـونولي له خپلو لرغونو منل شویو کانسپټونو سره بیا هم د پښتـون ولس یو وچ کلک نالیکل شوي بنسټیز قانون گرځـېدلی دئ. په ټولیزه توگه پښتـونولي د خپلو ټولنیزو، حقوقي، سیاسي، فلسفي پرنسپونو پربنسټ د افغانانو خپله نـږه (خالصه) پښتـنـي، ملي، سیاسي ټولنیزه فلسفي ایډیالوژي ده. د پښتـونولی د دودیز قانون او د حقوقي نورمونو، ټولنیزو ارزښتـونو د علمیتوب په اړه د افغانستان په پوهنتونونو، د علومو په اکادیمیو، پښتـو ټولنې کې، د پښتـنـو د مخورو پوهانو، حقوقي شخصیتونو، ړون اندو، حقوقپوهانو، ټولنپوهانو له لوري او په اکاډیمیکو پوهنتوني مرکزونو کې ډېـرې لږې علمي اکاډیمکې څـېړنیزې لیکنې، سیمینارونه تر سره شوي دي. په خواشینۍ سره د پښتـونـولۍ د دودونو او نرخونو په اړه په افغاني ټولنه او ډله ییزو رسنیو کې د خلکو د عامه پوهاوي، د اصلاح، سمون، گوتـنـیوونکي اند جوړونې په اړه خبرو اترو او بحثونو ته هېـڅ ځای او وخت نشته.

جگړه تل یو استـثـنایي بیرنی ځانـگړی حالت دئ. نـېږدې څلویښت کاله افغانان پښتــانـه په یوه بـېړني استـثـنایي جگړه ییز او بد حالت کې ژوند کوي. د اسلام سپـېڅلـي مکمل دین، د پښتـونولی د قانون ټولي حقوقي نیمگړتیاوې او کمښتونه ور پوره کړي دي. افغان پښتــانـه او پښتـونولي ویاړي چې په دوی کې د اسلام د سپـېڅلـي دین روح، ساه او د سپـېڅلـو ارزښتونو صفات شته دي. د پښتـونـولی مهم پرنسیبـونه سیالي او مـېلـمستـیا په پښتـنـه ټولنه کې د انسانانو تر منځ د مشروع سیالی له لارې ټولنیز، اقتصادي پرمختگ او د ژوندي پاتې کـېدو په ستراتیژۍ کې اغـېزمنه همکاري او همغږي رامنځ ته کوي. په پښتـونولي کې د افغاني ټولنې د ځانگړو شخړو، ستونزو، افغاني لانجو، حقوقي کړکـېچونو او دعوی گانو د هواری مهم عناصر شته. په پښتـونولي کې د سولې او پخلاینی، د ورورولی او عزیزگلوی ښکلي انساني پرنسیبـونه او ارزښتونه شته. پښتـونولي په خپل ټولنیز سیستم کې نه یوازې له لرغونو زمانو څخه د یوې خپلواکې مدني ټولنې پرنسیبـونه لري، بلکې په افغانانو کې د خپل گران هـېواد له خپلواکۍ، له ملي نوامیسو او ملي گـټـو څخه د دفاع اراده او په دوی کې د هـېـوادنۍ مینې د ځواکمنتوب یو گډ ملي احساس هم را ویښوي.

پښتـونولي د خپل ځواکمن ځواک په درلودلو سره د پښتـنـي افغاني کلتور، افغاني اسلامي هویت او د پښتـنـي ټولنې د ټولنیزو اصولو یوه لرغوني ایډیالوژي گرځـېدلي ده. لرغونې پښتـونولي لا تر اوسه د پښتـنـي ټولنې په ټولنیز جوړښت، ملي کلتور راویښولو او په ټولنیزو سیاسي چاروکې یوه ځواکمنه پٔخه او کاري ښکارنده ده. پښتـونولي د پښتـنـو په ټولنه کې په ډول، ډول حقوقي، دولتي، سیاسي، اقتصادي، کلتوري او تأریخي چارو کې پرفیکټ «عالي» ریفورمونه او بدلونونه رامنځ ته کړي دي. پښتـونولي د خپل تأریخ په بهیر کې ورو ورو له یو شمـېـر حساسو تأریخي مرحلو څخه په تـېـرویدو سره د پښتـنـو یو بنسټیز قانون ته وده کړي ده.

پښتــانـه پوهـېږي چې دوی ته د پښتـونـولی د جرگو مرکو، د خبرو اترو او د زغم ستر کلتوري سیستم له پلرونو او نیکونو څخه په میراث ورپاتـې دی. دوی اوس مجبور دي د خپلو پلرونو او نیکونو له میراثي ارزښـتـونو څخه په مـېړانه ننگه، پالنه او ساتـنـه وکړي. پښتــانـه مجبور دي د خپل د سر د بقا، د ارتقاء لپاره دغه ټولنیز مهم اصول او ارزښتونه په خپل ورځني سیاسي، ټولنیز ژوند کې نور جوت او ښکاره کړي او د افغان ملي اسلامي دولتونو په جوړښت کې، د کورنې او

بهرني سیاست په افغانیزه کولو کې ورځخه په پوره اندازه کار واخلي تر څو ایرانیانو، پنجابیانو او نورو مغررو بهرنیو او کورنیو غلیمانو ته پته ولګیږي چې دا افغانستان دئ او لوی افغانستان د ټولو افغانانو پښتنو د ملي ارزښتونو او دودونو ګډ سوله ییز کور دئ.

د نړۍ په تأریخ کې دا ثابته خبره ده چې پښتانه افغانان په خپل دین، مذهب او د خپل هېواد پر خپلواکۍ باندې تل پښتنې ننګ او افغاني غیرت کړی او کوي یې. له مقدوني ستر سکندر او د فارس د داریوش له امپراتورۍ څخه را نیولي، بیا کله چې د انګریزانو په امپراتورۍ کې لمر نه ډوبیده او همداسې د پخواني شوروي اتحاد شپاړلسو جمهوریتونو اسلامي هېوادونه لاندې کړي ول، خو په نړۍ کې داسې اسلامي یا غیر اسلامي هېواد او ولس نشته چې د انګریزانو د ښکېلاک او د شوروي کمونیستي نړېوالو زبرځواکونو پر وړاندې یې د افغان باغیرته، با توره، با شهامته ولس په څېر وسله وال مقاومت کړي وي او د خپل هېواد د خپلواکۍ جهاد یې په بریالۍ توګه ترسره کړی وي. هېڅ څوک د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو په سترو حماسي تأریخي معرکو کې د اسلام د سپېڅلي دین ایماني جذبات او د پښتونولی د ننګ، غیرت او د پښتون د تورې د ګډ ځواک او ارزښتونو رول له پامه نشي غورځولي.

د پښتونولۍ قبائیلي حقوقي نورمونه، حقوقي تصورات او ملي آزادي بخښونکي ارزښتونه اصلاً پر دې بنسټ رامنځته شوي دي چې د هر پښتون خپلواکه انفرادي شتون او مدني آزاد ژوند په کې تضمین شي. د هر پښتون افغان د درنې کورنۍ سَتر، عزت، پت، پرده او بشري حقونه خوندي وساتل شي. د هرې پښتنې قبیلې قبائیلي جوړښت څرګند او د یوه واحد ملت په وجود کې باید را غونډ وساتل شي. هره پښتنه قبیله باید د خپلې سیمې واک او اختیار د یو واحد ستر افغان ملت د رامنځ ته کېدو لپاره په خپل لاس کې ولري. نن هم پښتانه پوهېږي، چې دوی د خپل توکمي او قبائیلي ځانګړي جوړښت له امله تل د پښتون ولس وجود، د پښتنو پاکه خاوره، د پښتنو افغاني ملي کلتوري، ټولنیز ارزښتونه د ناځوانه سپین سترګي د ښمن تر بریدونو او ګواښونو لاندې راغلي دي. د پښتنو افغانانو، کورني او باندني دښمنان هڅه کوي د پښتنو افغانانو د همدغه توکمي او قبیلوي جوړښت، بې اتفاقي، ځانځاني، د پښتنو له ګډوډیو او ناپوهۍ څخه په ګټه اخیستنې او د پښتنو د مشرانو د مرکزیت د نشتون او یا عملاً په یوه واحد مرکزیت باندې د پښتنو مشرانو د نه راټولیدو له امله او د یو پوه متفکر مشر پښتون افغان د نه شتون د تشې له امله او د پښتنو د ملي مشرتابه د جرګې د نشتون له امله، ځینې بې ننګه، نا پوهه، بې خبره، بې غیرته، بې عزته او د پیسو وږي پښتانه د دښمن لخوا په څو روپیو په کرایه اخیستل کیږي. دښمن دغه ناپوهه خلک د پښتون د در په دره ولس پر وړاندې د خپلو شومو موخو لپاره استعمالوي او بالاخره دښمن، د پښتون افغان ولس له هرې کمزورۍ څخه ګټه اخلي او خپل بې شرمه، ناځوانه، بې رحمه بریدونه تر سره کوي.

# شپږمه برخه
# پښتـونولي د ننګ، غیرت، پت، پرده، سَتر، شرم، حیا او د اخلاقو لرغوني ټولنه

لوی افغانستان د پښتـونـولی د حقوقي نورمونو، ټولنیزو ارزښتونو او عرفي قوانینو یوه ستره نه ماتیدونکې دودیزه لرغونې کلا یا مانۍ ده. په افغاني ټولنه کې افغانانو ته پښتـنـي حقوقي نورمونه، ټولنیز ارزښتونه، اصول، دود او دستور ځکه منل شوي دي چې دا ارزښتونه د ولس په فکرونو، ذهنونو او زړونو کې خـپلـې ژورې ریښې لري. په افغاني دودیزه ټولنه کې د افغانیت نالیکل شوی عرفي قانون له ټولنیزو اخلاقي قوانینونو څخه شمېـرل کېږي، چې له لرغونو زمانو څخه د ولس په ضمیر، وجدان او ذهنونو کې یې خـپلـې ژورې ریښې ځغلولي دي.

د پښتـونـولی حقوقي نورمونه د الزامي قوانینونو په څېـر دي، چې ولسي وګړو ته د خیر ښېـګڼې او د ټولګټو عامه چارو په برخه کې لارښوونې کوي او له دغو حقوقي نورمونو څخه د شخړو، دعوی ګانو په حل او فصل کې د مرکچیانو له خوا په جرګو او مرکو کې کار اخـېستل کـېږي. که څوک په پښتـنـه ټولنه کې د پښتـونـولی قانون نه مني او یا ورسره مخالفت کوي، دی له پښتـنـي ټولنې څخه شړل کـېږي، یا په پښتـنـه ټولنه کې خامخا د ټولنې هر غړی ورته په سپکه سترګه ګوري چې یو بې اصوله سړی دئ. د ټولنې ساتـنـه، په ټولنه کې د خیر ښېګڼې او د ټولنیز پیوستون چارې د یوې ټولنې د ملا ستـن جوړوي. له همدې امله په پښتـنـي ټولنه کې نارینه وو ته په ماشومتوب کې د ننګیالیتوب او توریالیتوب دوه ګوني ایډیالونه او ارزښتونه ورزده کول کـېږي. هر اصیل پښتـون ته په کور د ننه او په ټولنه کې د همدې ارزښتمندو ارزښتـونو په چوکاټ کې ښوونه او روزنه ورکول کـېږي تر څو په ټولنه کې هر نارینه سړی یو رښتـني ننګیالی او توریالی پښتـون افغان واوسي.



یو پښتـون په پښتـنـه ټولنه کې هغه مهال یو ننګیالی سړی پېـژندل کـېږي، کله چې دی د پښتي یا د افغانیت په عالي ارزښتونو او اصولو کې روزل شوی وي. د پښتـنـو په پښتـنـي مفکوره کې یو ننګیالی سړی یو سپېـڅلـی، سوچه، شریف، با عزته، ممتاز، دروند صفته،

یو ربښتـنی هودمن او اصولو ته ژمن انسان دئ. یو ننګیالی سړی تل د کمزورو او بې وسو انسانانو مرستي ته وردانګي، او همداسـي نوموړی له ښځو او ماشومانو څخه په مېړانه ساتـنـه او دفاع کوي. یو ننګیالی د خپل کلي له بې وسو، نېستمنو، بې وزلو، فقیرانو، نایـیانو، ډمانو، هنرمندانو او مساپرو څخه ساتـنـه او په مـېړانه د سر په بیه دفاع کوي. ځکه دغه ډله خلک په ټولنه کې بې وسلې، بې دفاع او زر زیانمن کېـدونکي خلک پېـژندل شوي دي. یو ننګیالی سړی تل وجداناً ځان د ټولنې یو خدایي خدمتګار بولي، دی د خپل سر په بیه په ټولنه کې د الله (ج) د رضـا لپاره د خیر ښېګڼې ټولګټې چارې تر سره کوي. یو ننګیالی اصیل پښـتـون خپل ځان ته زیان مني، خو هېـڅ کله خپل قام ته زیان نه وراړوي او د خپلې ټولنې ملا هم نه ماتوي، دی په ټولنه کې په خپله خوښه له ځانه (zivilcourage) یا ولسي جرأت ښیي. ولسي جرأت د انساني ژوند یو مهم اصل دئ، چې په یوه خپلواکه ټولنه کې سړی پرته له وېـرې او زورزیاتي څخه خپل نورمال ژوند وکړي. یو زړور تکړه توریالی غیرتمن، جنتل- مین اصیل پښـتـون پوهېـږي چې څنګه په خپله وسله د خـپـلـې کورنۍ له خوندیتوب، د خپل عزت، د خپلو خپلوانو، د خپل کلي، د خپل پټي، د خـپـلـې سیمې، د خپل ولس، د خپل اسلامي هـېـواد له کلتوري ارزښتونو څخه ساتـنـه او دفاع وکړي. دی په دې هم پوهېـږي، چې دی خپله توره څنګه د بې انصافۍ، بې عدالتۍ، د ظالم او تـېـري کوونکي پر وړاندې بریالی استعمال کړي. نن د پـښـتـنـو په سیمو کې د اوږدو جګړو له امله د کلاشـنـیـکوف او ډالرو کلتور خپور شوي دئ. د دغه ناوړه او پـښـتـنـي ضد کلتور له وجهې وررور خپل بې ګناه وررور وژني، جوماتونه، جنازې او ښوونځي په بمونه کې الوزوي. د کلاشنیکوف او ډالرو کلتور په رامنځ ته کېـدو سره افغاني ټولنه کې مادي او معنوي ارزښتونه مخ په له منځه تللو شوي دي. د دې ناوړه دود او ناوړه کلتور او د دغه خطرناکه ویروس د لمنځه وړلو یوازنۍ لاره پوهه ده او د پښـتـو او پښـتـونولۍ د اصیلو اصولو بیا ژوندي کول دي.

پښـتـانـه مېـلمه پال خلک دي. په پـښـتـنـي ټولنه کې نه یوازې د مېـلمه پالنې سپېـڅلـی حق یا ربښت شتون لري، بلکې د یو محتاج او د پناوړونکي انسان د بنسټیزو حقونو د ساتـنـي حق هم شته دئ. کله چې څوک د کلي یو خان یا مخور مشر ته پناه وروړي، د کلي خان مجبور دئ د خپل پـښـتـنـي ننګ، غیرت، نام او نښان د ساتـنـي لپاره د پناه ور وړونکي سړي له ژوند څخه د خـپـلـې وینې په بیه ساتـنـه وکړي. د اړتیا په صورت کې د مېـلمه پال لخوا پناه وروړنکی سړی د امن تر سیمې پورې هم بـدرګـه کـېـږي.

په پـښـتـنـي ټولنه کې د حساسو ملي مرکزي او د مهمو ټولنیزو چارو او د انفرادي ټولنیزو ملي مسؤولیتونو په تر سره کولو کې څوک چا ته پـېـسـي یا اجوره نه ورکوي، بلکې د پـښـتـنـو د مشرانو له لوري ورته د قدر، عزت، درنښت او د غیرتمن انسان درانده القاب ورکول کـېـږي، خلک ده ته په درنه سترګه ګوري، ده ته د عزت او ګرانښت معنوي اجوره ورکول کـېـږي او ده ته د قا م د مشر په توګه پـټکی ور په سر کـېـږي. دی تل په مـېـړانـتـوب او ښو نومونو ستایل او نازول کـېـږي. په بله وینا، ده ته په ژوند کې دنیوي او اخروي معنوي حق الزحمه ورکول کـېـږي. پـښـتـانـه د چا ښه او بد نه هیروي. افغانان خپل امن، نظم او سوله بیز ګډ ژوند ته په دوه مهمو پرنسیـپونو کې د ننګ او شرم په کانسپټونو کې لاره موندلی شي. که څوک په پـښـتـنـي ټولنه کې د خپلو مسؤولیتونو او ټولنیزو چارو په تر سره کولو کې پاتـې راشي، دی له سر ټیټوالي، شرم، بې عزتۍ او بې ننګۍ سره مخامخ کیږې. دی له ټولنې څخه د ویستل کـېـدو په سزا هم محکوم کـېـږي. په پـښـتـنـو کې د پـښـتـونولۍ مهمې مرکزي ټولنیزې چارې په دودیزه توګـه د پـښـتـونـولـۍ د حقوقي نورمونو او مذهـبـي - اسلامي عقایدو په چوکاټ کې د اسلامي قانون او مورال پر بنسټ ټاکل او فیصله کـېـږي. له دې لارې د پـښـتـنـو مشرانو او په ټولنه کې د اغـېـزو د خاوندانو پرېـکـړو ته لا نور حقوقي، عدالتي، مذهـبـي،اعتبار، ثبات او حیثیت ور بخښل کـېـږي

په پښتون ولس او په پښتنه ټولنه کې عزت، درنښت او مشرتوب هغه چا ته ورکول کېږي کله چې یو څوک د پښتونولۍ ارزښتونه او نورمونه عملاً په خپل ژوند کې عملي وښيي او په افغاني ټولنه کې د ولس په چوپړ کې د خیر ښیګڼې او ټولګټې مهم مثبت رول ولوبوي. کوم سړی چې په ټولنه کې د خپلو ټولنیزو چارو په ترسره کولو کې په ښکاره توګه پاتې یا ناکامه شي، دی له شرم سره مخامخ کېږي؛ له ټولنې څخه ایستل کېږي او ان په ځینو مواردو کې په مرګ هم محکوم کېږي.

د پښتنې ټولنې د ننګ، غیرت، ویاړ او د شرم ارزښتونه د نارینه او ښځینه وګړو په روح او ذهن کې یو شانته او په برابره توګه چلښت لري. د ټولنې په ټولنیزو چارو کې د ننګ او شرم کلتوري ارزښتونه ښځینه او نارینه جنسیت ته په کتو سره د دوی د ځانګړو چارو له رول او په ټولنه کې د دوی د مسؤولیت له منلو او ونډې سره تړاو لري. پښتنه ټولنه کې نه یوازې په ملي او نړېواله کچه پېژندل شوې ننګیالۍ اتلې ښځې لکه د میوند ملالۍ شتون لري، بلکې ډېرې بې نامه او بې نښانه ننګیالۍ، توریالۍ، غیرتمنې او اتلې پښتنې ښځې شتون لري.

کله چې په پښتنې ټولنې یا په یوې پښتنې کورنۍ کې د نارینه کمښت احساس یا رامنځ ته شي، یا نارینه په جګړو یا کومې بلې طبیعي پېښې کې لمنځه لاړ شي، او پښتنې ټولنې کې داسې هم پېښ شوي دي او دا شوني ده، چې پښتنې ښځې دې په زغرده او جرئت سره د نارینه وو چارې پر خپله غاړه واخلي. پښتنې ښځې په پښتنه نارینه سالاره یا نرواکه ټولنه کې د نارینه وو د ننګ او غیرت چارې تر سره کوي. په دې مانا، پښتنه ښځه د نارینه جامې اغوندي، پښتنه ښځه د نارینه پټکی او یا هم خپل ټیکری پر سر کوي. ښځې وسله په لاس ګرځي، ښځه وسله استعمالوي شي. که څه هم پښتنه ټولنه یوه نارینه پاله ټولنه ده، خو بیا هم یوه پښتنه ښځه کولی شي د نارینه په شان ژوند وکړي. په همدغه نارینه پاله پښتنه ټولنه کې ښځې ته د نارینه په څېر درنښت کېږي. په پښتنه ټولنه کې پښتنې ښځې په پښتنې سَتر او اسلامي حجاب کې د نارینه په رول کې په درناوي، په درنښت او عزت کې ستایل او نازول کېږي. ښځې له دغو اشرافي عالي ارزښتونو څخه چې د ننګیالیو نارینه وو د شان او شوکت لپاره اعتبار او چلښت لري، خوند اخلي. دغو پښتنې ارزښتونو ته ددې لپاره ښځینه جنسیت نه ورکول کېږي،چې ګڼې ښځه ده، بلکې د یو انسان شخصیت یا ښځینه شخصیت ورته ورکول کېږي؛ هغې ته داسې یوه شخصیت ورکول کېږي چې د ټولنې د ساتنې لپاره او د یوې سترې ګوابښنې ملي ټولګټې دندې د تر سره کولو او د خپل ولس د چوپړ او ساتنې او په ټولنه کې د یو مثبت رول د لوبولو لپاره يې ملا تړلې ده.

په پښتنې ټولنه کې مهمې مرکزي ټولنیزې چارې د دودیزو حقوقي نورمونو او په مذهبي عقیدوي چوکاټ کې تر سره کېږي. په ټولنه کې مکافات او مجازات د همدغو دوو حقوقي لارو په وسیلې پلې کېږي.

پښتنو کې امن، نظم او ګډ سوله ییز ژوند پر دوو عنصري پرنسیبونو یا د ننګ او شرم پربنسټ باندې تنظیم شوی دئ. عزت او درنښت د هغه چا په نصیب او برخه کېږي چې خپل ټولنیز مسؤولیت ادا کړي. شرم هغه چا ته متوجه کېږي چې په ښکاره ډول د یو انفرادي شخص په څېر ناکامه شي او د خپل د ولس ملا ماته کړي.

پښتانه پوهېږي چې دوی په داسې یوې نړۍ کې ژوند کوي چې له دښمنې او تربګنۍ څخه ډکه ده. پښتون مجبور دئ چې د خپل فردي شتون لپاره، د خپل خود مختاره ژوند لپاره، د خپل ولس د بقا او ارتقاء د دعوی لپاره په ګډه د دښمن د ناروا بریدونو پر وړاندې ودرېږي تر څو خپل ځانونه د دښمن له ګوابښونو څخه وساتي، ورسره د خپلې قبیلې د هر یوه غړي خپلواکي یا خود ارادیت

جَوَت وساتلی شي. د اړتیا په صورت کې دوی مجبور دي چې له دښمن څخه په متناسبه ډول خپل بدل واخلي. که یو پښتـون داسـې ونه کړي، دی په خپلې قبـیـلـوي ډلې او ټبر کې خپل عزت، حیثیت، خپلواکي او ټولنیز پرستیژ له لاسه ورکوي.

پښتـانـه پوهېـدلي دي او په دې فکر دي چې ټوله نړۍ د دوی پر وړاندې په دښمنی، بدۍ او تربـګنـۍ کې بوخت ده. له نړۍ څخه د یو داسـې تربګنیزه، کړکېـچن او له دښمنیو څخه د ډک انځور د لرلو په چوکاټ کې،چې یو قبائیلي پښـتـون افغان نارینه غړی ژوند او حرکت کوي، پښـتـون دې ته مجبورېـږي، مخکې له دې چې د یو غیرتمن، هوډمن او یو مېـړني سړي ښه نوم وګـټـي، دی باید په ټولنه کې د یو عزتمن، غیرتمن او ژمن سړي په توګـه خپله خپلواکۍ په پوره ډول په خپل واک او اختیار کې ولري. تر څو ځان ته د مېـړنتوب، سربښندنې یا سړیتوب په ځانګـړو اوصافو او صفاتو کې لکه د پښـتـنـي ننګ، افغاني غیرت، توري او توریالیتوب ښه نومونه انعام او ډالی کړي. یو رښتـنی اصیل پښـتـون افغان په دې باور او مفکوره دئ چې دی په نړۍ کې یوازې د یو داسـې ښه نوم، عالي انساني ارزښتونو د ګټلو لپاره ژوند کوي.

## د پښـتـونـولۍ په رسمیت نه پېـژندل شوي حقوقي نورمونه

حقوقي نورمونونه د حق او قانون مهمې برخې جوړوي یا د حقوقي سیستم نه بېـلـېـدونکي مهم توکي دي. نورم یا(norme) یوه لاتینه کلمه ده او د یوې زاویې د واحد مانا ورکوي. حقوقي نورم هـغـې قاعدې ته ویل کېـږي چې حق یا قانون په کې شتون ولري. په دې مانا، حقوقي نورم باید له یو مشخص عمل یا کړنې څخه ممانعت وکړي او یوې کړنې یا عمل ته اجازه ورکړي. په عمومي ډول حقوقي نورمونه او ټولنیز نورمونه له یو بل څخه توپیر لري.

حقوق د حق یا ریښت جمع ته ویل کېـږي. حقوق د قوانینو مجموعه او یو ټولنیز نظام دئ چې د انسانانو له طبیعت څخه الهام اخلي او هغه څه تـثـبـتـوي چې انصاف او عدالت ورته ویل کېـږي. په لنډه توګـه حقوق د یو شمـېـر قواعدو او مقرراتو مجموعه ده چې د وضع شویو مقرراتو له لارې په ټولنه کې د انسانانو ترمنځ له یو بل سره اړیکې لري او د دوی اړیکې له نورو عالي ارګانو سره تنظیموي. دغه قواعد او مقررات د قانون یا حقوقي نورمونو له لارې تاکل کېـږي، ښودل کېـږي او پلي کېـږي. په همدې ترتیب سره په ولس کې یا د وګـړو ترمنځ دودونه، نرخونه او رواجونه، د یوې اوږدې مودې په بهیرکې ورو ورو دود کېـږي. دا دودونه، نرخونه او رواجونه د دودیز قانون یا د عرفي حقوقو په نامه پېـژندل کېـږي او په ټولنه کې له همدې نرخونو او نورمونو څخه استفاده کېـږي. په بله وینا، حقوق د یو شمـېـر قواعدو او مقرراتو ټولګې ته ویل کېـږي، چې د تأریخ په یوه ټاکلې پَـیـر یا مُـعَـینه زمانه کې پر خلکو باندې مسلط او حاکم شوي وي او خلک مجبور وي چې دغه وضع شوي قواعد او مقررات رعایت کړي. د نړۍ د نن ورځ په اصولو ولاړه حقوقپوهنه، حقوقي سیستم، د حق یا د حقونو مجموعه، پایله او منځ - زړی په ټولنه کې له چلـېـدونکو حقوقي نورمونو څخه که هغه لیکل شوي او یا نالیکل شوي نومونه دي، رامنځ ته شوي دي. حقوقي نورمونه، معیارنونه او قاعدې د یو انسان د کړو وړو او یا د یوې انساني ټولنې لپاره رامنځ ته کېـږي. حقوقي نورمونه د دې لپاره رامنځ ته کېـږي چې انساني مدنې ګډ ژوند په انصاف او عدالت کې سمبال شي. حقوقي نورمونه ټولنیز کړکېـچونه حل او فصل کوي او په ځینو اضطراري حالاتو کې له زور څخه هم په کې کار اخـېـستل کېـږي. لکه د پښـتـونولۍ د جرګو پرېـکړې او فیصلې د اربکیانو یا قومي لښکر لخوا هم پرخلکو باندې د زور د استعمال له لارې هم تطبیق شوي دي.

په پښـتـنـه ټولنه کې د پښـتـونـولۍ حقوقي نورمونه او ټولنیز اصول هم د همدغو عامو منل شویو حقوقي پرنسیبونو پر بنسټ رامنځ ته شوي دي.

حقوقي نورمونه، حقوقي معیارونه دي او په ټولنه کې د وګړو د ډلو ورو لپاره یو قاعدوي کرکټر لري. د دولت لخوا ګرنټي شوي، منل شوي حقوقي کړه وړه او د حقوقي نورمونو ټولګې او پایلې ته رسمي حق، یا په رسمیت پېژندل شوي حقوق ویل کېږي. د حق مفهوم هغه عمومي نورمونه او قاعدې احتوا کوي چې د دولت لخوا ګرنټي شوي وي، تر څو د انساني مدني ژوند او د انساني ژوند د لانجو او شخړو د هواري د قضایي پرېکړو له لارې په دولتي چوکاټ کې تر سره شي. په عمومي ډول نورم یو الزامي معیار یا (باید معیار) ته ویل کېږي. حقوقي نورمي معیارونه خپل مخاطب لري او د لیک اخیستوونکي پته یې مالومه وي.

د پښتنو د پښتنونولی قانون او حقوقي نورمونو د جرم له پېښېدو څخه مخکې ټاکلي دي چې څوک په کومو حالاتو کې برأت اخلي او یا څوک په کومه سزا محکوم او یا نه محکومېږي، یا یو څوک څنګه د ګواښ په حالت کې ساتل کېږي او یا پناه ورکول کېږي. یو چا ته څنګه د یو ناوړه عمل په بدل کې سزا ورکول کېږي. یو څوک څنګه په قتل محکوم کېږي. یو څوک څنګه نغدي جریمې ته اړ ایستل کېږي، یا یو څوک څنګه خپله پښېماني، ګرموالی، پړوالی مني او یو څوک په څه ډول ننواتې کولي شي. که هر چا په پښتني ټولنه کې یو حقوقي نورم یا نرخ مات کړ، پرته له دې چې د جرمي عمل انګیزه یې وڅېړل شي، هغه یو تېرې کړی دئ او د پښتونولی یو نرخ یا حقوقي نورم یې مات کړي دئ. د حق منبع، سرچینه او بنسټ تل یوه حقوقي ټولنه وي، په کومه کې چې خلک ژوند کوي. که څه هم تر اوسه د افغانستان قضایي او عدلي سیستم د پښتونولی حقوقي نورمونه په رسمیت نه دي پېژندلي خو بیا هم د پښتونولی د نالیکل شویو او غیر رسمي قوانینو یوه برخه د افغانستان په رسمي قوانینو او دولتي جوړښت کې لیدل کېږي. د افغانستان په تقنیني قوانینو کې دود، دستور یا عرف اعتبار لري او ځای ورکړل شوی دئ. د افغانستان په مدني قوانینو کې راغلي، کله چې حکم په قوانینو کې، د اسلامي شریعت احکام او د حنفي فقې په اساساتو کې شتون ونه لري، محکمه کولي شي د عمومي عرف، دود او دستور مطابق حکم صادر کړي. شرط دا دئ، چې عرف د قانون د احکامو له اساساتو او عدالت سره په ټکر کې نه وي. د افغانستان د معاصرو قوانینو یا د عدلي او قضایي نظام جوړوني سیستم د ۱۹ پېړۍ په نیماي کې د امیر شیرعلي خان له دویمې دورې څخه را پیل شوی دئ. د افغانستان حقوقي سیستم یو پلورالیستي سیستم دئ. که موږ د افغانستان د قوانینو مجموعه په یو هرم یا مثلث کې د سلسله ـ مراتب په بڼه ولیکو، لومړی د افغانستان اساسي قانون راځي، دوهم د قرآن قانون یا داسلامي شریعت قانون، دریم د افغانستان د جزاء قانون، همداسې د افغانستان مدني قوانین، د افغانستان د جزائي اجرأاتو قانون، د پولیسو، د ترافیکو د جادې قانون، نړېوال منل شوي قوانین او نور. تر ټولو قوانینو لاندې او د افغانستان د قوانینو په بنسټ کې د افغاني ټولني حقوقي نورمونه او حقوقي تعاملاتي دودیز قانون راځي. دغه دودیز قانون او حقوقي نورمونه باید د افغانستان په ټولو قوانینو کې منعکس شي او څرګند واوسي. تر څو هر ځوان افغان او هرې پېغلې افغان ښځې ته دا احساس پیدا شي چې دغه افغاني قانون زما لپاره دئ، دغه قانون زما د ټولنیز ژوند د کړو وړو چوکاټ تعینوي او بالاخره یو افغان باید باوري شي چې دا قانون زما په ګټه دئ. په افغانستان کې د قانون د حاکمیت نشتون ډېر لاملونه لري، یو لامل یې دا دئ چې خلک قانون ته ځکه درناوی نه کوي چې خپل ملي منل شوي ارزښتونه او دودونه په قانون کې نه ویني. پښتونولي د افغانستان یو نا رسمي حقوقي سیستم دئ. له اوسني رسمي قانوني سیستم څخه مخکې دغو نا رسمي بنسټونو او یا د سیمه ییزو جرګو سیستم شتون درلود. کله چې د پښتنو یا د پښتنو په سیمه کې لانجې، شخړې یا اختلافونه رامنځ ته کېږي، دعوی یا قضیه د دواړو دعوی ګیرو غاړو له لوري په خوښه محلي جرګې ته وړاندې کېږي.

همدا اوس د افغانستان رسمي حقوقي قضایي سیستم د څو لسیزو د جګړو له امله فلج او د لمنځه تللو په حال کې دئ. کلیوالي خلک د خپلو لانجو د حل او فصل په برخه کې نا رسمي بنسټونو ته په

ځانګړي ډول سیمه ییزو جرګو ته مخه کوي. د افغانستان په کلیوالي سیمو کې نېږدې ۷۰ سلنه شخړې او دعوی ګانې د پښتـونـولی د قانون او سیستم له مخې هواري کېږي. په افغانستان کې نن د نافذه قوانینو پر ځای د پښتـونولی حقوقي نورمونه او عرفي قوانین عملي کېږي. جرګه یا مرکه د قبیلـې د مشرانو، د مخورو سپین ږیرو او د ټولنې د اغېـزناکو څېـرو غونډه ده، چې شخړو او اختلافونو ته افغاني حل مومي او یا د یوې مهمې موضوع په هکله د پرېکړې نیولو لپاره د یوې لوی ډایرې په بڼه سره جرګه کېږي. دا نا رسمي بنسټونه د شخړو په حل کې د افغانستان مـدنـي او یا جـزائـي قوانین نه پلي کوي، بلکې اسلامي قوانین، قبیـلـوي دودیز قانون، د لویانو، مخورو مشرانو، سپین ږیرو جـمـعـي عقل، تجربو او د انصافي پوهې ترکیب ته یوه عملي بڼه ورکوي.

غیر رسمي قوانین باید له ساده یا غیر اصولي او یا بې مسلکو مفاهیمو سره ګډ نه کړل شي. د پښتـونـولی سیمه ییز عدلي او قضایي سیستم پر نالیکول شویو عرفي مدني قوانینو او پښتـنـي حقوقي نورمونو باندې ډېره لګولې ده. د بېلګې په توګـه د پښتـونولی د قانون پر بنسټ په معمولي سیمه ییزو جرګو او مرکو کې پرېـکړې د اخلاقو، انصـاف، عدالت او لـه رښتینولی څخه په ښه درک کې ترسره کېږي.

پښتـنـه ټولنه په دودونو او نرخونو ولاړه ټولنه ده. لویه پکتیا د پښتـونولی د جرګو او مرکو ستر ټاټوبی دئ. په ۱۹۷۵ کال کې آلماني حقوقپوه ښاغلي ویلي ستیول (Steul Willi) د خوست په ولایت کې د پښتـونولی د جرګو او مرکو په ستر تأریخي ټاټوبې کې د پښتـنـو او پښتـونولی له حقوقي نورمونو څخه له نـېـژدې لیدنه او کتـنـه کړې ده. ښاغلي ویلي ستیول د پښتـنـو په حقوقي دعوی ګانو او شخړو کې په خپله ناست دئ او برخه یې اخېـستلې ده. آلماني څېـړونکي د پښتـونولی د حقوقي نورمونو قضیې د نـړېـوالو حقوقي نورمونو او معیارونو په تله کې تللي، څېـړلي، تجزیه او تحلیل کړي دي، د پښتـنـو د حقوقي نورمونو له څېـړنو او کـتـنـو څخه وروسته دې پـایـلـې ته رسېږي چې د پښتـونولی حقوقي نورمونه د نـړېـوالو له حقوقي نورمونو سره برابر نورمونه دي او په نـړېـواله کچه پېـژندل شوي حقوقي نورمونه دي، ده د پښتـونولی حقوقي نورمونه له نـړېـوالو حقوقو نورمونو سره برابر ګڼلي دي. دغه څېـړونکي لاندې حقوقي نورمونه، یو شمېـر مهمې ځانګړې حقوقي دعوی ګانې، شخړې او کړکېـچونه، چې د پښتـونولی له حقوقي نورمونو څخه په کې استفاده شوي ده، د حقوقپوهنې په رڼا کې ښه ژور تحلیل کړي او څېـړلي دي. ښاغلي ویلی ستیول (Steul) د پښتـونولی حقوقي نورمونه په ډېـر شمېـر حقوقي دعوی ګانو کې له نـېږدې څارلي دي. ښاغلي څېـړنوال د پښتـونـولی حقوقي نورمونه د حقوقي زاویې له اړخه له ملاحظاتو یا کـتـنـو، تحلیلونو او څېـړنو وروسته په پـینځو کټګوریو ویشلي دي. ده د پښتـنـو د ډېـرو مهمو حقوقي نورمونو ماتول یا د پښتـونولی پر حقوقي نورمونو باندې تـېـری له نـړېـوالو حقوقي نورمونو سره پرتله کړي دي او په لاندې ډول یې لیکلي دي.

۱ . د یو انسان عمدي یا قصدي وژنه یا د یو انسان د وژنـې هڅه، که د هغه ګناه وي او یا هغه بې ګناه وي (۱)

۲ . یو انسان په قصدي توګه جسماً ټپي کول یا د یو چا د ژوبلولو هڅه، په دې مانا، کله چې یو انسان ته په دوامداره او یا لنډ مهاله توګـه په خپل جسمي فعالیت کې معلولیت یا محدودیت ورپـېـښ کړل شي. (۲)

۳ . د یو انسان د ناموس بې عزتي او یا د یو چا د ناموس د بې عزته کولو هڅه، په دې مانا، که یو څوک یو بد یا ناوړه عمل تر سره کړي او دغه کړنه د خبرو له لارې په شفاهي ډو ل اثبات او مستـنـده شي، یا د یو شخص په ټولنیز مورالي ژوند کې شک رامنځ ته شي یا د قـبـیـلـې او توکمي ټولنې تر منځ درز، یا شک را پیدا کاندي (۳)

۴. یو تر سره شوی ناوړه ناروا ناجایزه جنسي عمل یا د یوې ښځې یا د یو سړي په حق کې د جنسي اړیکو له لارې د بې عزته کولو هڅه وشي او یا تېرې وربادنې وشي. (۴)

(۵) د یو انسان پر شخصي ملکیت، ځمکې یا پر شخصي جایداد باندې برید او یا د برید هڅه وشي. (۵)

ښاغلي ستیول په خوست کې د خپلو څېړنو په ترڅ کې دې پایلې ته رسېږي چې پښتـونولي د پښتـنـو د عزت کوډکس، د پښتـنـي حقوقپوهنې بنسټ او د پښتـنـي ټولنې د ټولنیزو اخلاقو بنسټ ایښودلی دئ. دی لیکي، دا واضحه خبره ده چې د پښتـونولی حقوقي پوهه په ټولنیزو حقوقي مورالي ایډیالونو باندې څرخي. څېړنوال لیکي په ډېرې خواشینۍ سره پښتـانـه افغانان او پښتـنـه ټولنه تر اوسه په دې نه ده توانیدلې چې په پښتـنـه ټولنه کې یو باثباته، دایمي، منظم، تنظیم او لیکل شوي حقوقي افغاني اسلامي رسمي سیستم را منځ ته کړي، په داسې یوه سیستم کې چې د پښتـونـولـی حقوقي نورمونه راټول شوي وي چې د پښتـونولی حقوقي سیستم ته په دولتي کچه رسماً وده، ټینګښت او اعتبار ورکړل شي.

پښتـانـه، پښتـونولي د یو حقوقي او قانوني بنسټ په توګه پېژني. جرګه د افغانانو د ځانګړو حقوقي چارو لپاره یوه مهمه معتبره مرجع او بنسټ دئ. پښتـونولي یو حقوقي سیستم دئ چې خپله په خپلو پښو ولاړ دئ او پښتـونولي په خپله له ځان سره مرسته کوي. کله چې یوه دعوی رامنځ ته شي، جرګه رابلل کېږي. سیمه ییزه جرګه منظم او تنظیم شوي دایمي اداري تشکیلات نه لري. جرګه په ځانګړي حالت کې، یوه دعوی یا د پښتـونولی قانون، د اصولو، د نورم ماتولو او د تـېـري په حالت او قضیاوو کې رابلل کېږي. جرګه کوم قانون نه پلی کوي، بلکې جرګه یا مرکچیان د دعوی دوواړو غاړو ترمنځ د خبرو اترو له لارې د منځګړیتوب یوه معتبره مرجع ګرځي. جرګه د حقوقي محکمې له حالت سره مطابقت لري، اروپایي حقوقپوهان، څارونکي او څېړونکي په دې اند دي چې د جرګې بهیر د محکمې له جریان او بهیر سره ډېر مطابقت لري. دوی وایي، محکمې ته د جرګې ورته والی د جرګې په ناسته، ډول، بهیر او اجراأتو کې لیدل کېږي او د جرګې بهیر تر ډېره بریده د یوې حقوقي مرجع په حیث د نړۍ او اروپایي عدلي او قضایي اساساتو له تصوراتو سره سمون خوري. د جرګې دنده د پېښې په اړه د رښتیا او حقیقت موندل دي، تر څو په قضیه کې مجرم، ګناهکار، ملامت، ګرم او یا پړه غاړه مالومه شي. کله نا کله د ګناهکار او بېګناه سړي د مالومولو او ثبوت لپاره د جرګې په بهیر کې د مرکچیانو لخوا یوې او یا بلې غاړې ته په قرآن کریم سوګند ورکول کېږي. په جرګو او دعوی ګانو کې د سوګند ورکولو دود یو مشروع عنصر یا توکې دئ. ځکه پښتـانـه په خپلو دیني مذهبـي اسلامي عقیدتي چوکاټ او حقوقي فلسفي مفکورو کې په دې فکر او باور دي چې که څوک په درواغو لوړه کوي یا سوګند خوري، دی به د الله (ج) له قهر سره خامخا مخامخ کېږي. که څوک په درواغو قسم خوري، دی د مرګ له سزا سره هم مخامخ کېداي شي. دغه ډول جرګې، مرکې په تـېـره بیا په قومي سیمه ییزو لانجو، شخړو او دعوی ګانو کې راغوښتل کېږي. د شخړې موضوع اکثراً د ملکیت، ځمکې، ځنګلونو، لرګیو او داسې نورو ګټه اخېستوونکو شیانو په اړوند وي. له پېړیو پېړیو را هیسې د درست پښتـون ولس او د پښتـنـي ټولنې سیاسي، ټولنیز فورم او توکمي جوړښت د مرکزیت او دولتي چوکاټ له خوا او یا له یوې مرکزي سر مشریزې جرګې پرته ایښودل شوی دئ. له همدې امله پښتـنـي ټولنه کې دغه خورا مهمې حقوقي چارې د سیمه ییزو جرګو مشرانو ته په لاس ورکړل شوي دي. د جرګې د رابللو شرط دا وي چې د جرګې له راغونډېدو څخه مخکې د پښتـونولی له اصولو سره سم چا بدل نه وي اخېستی او د شخړې د هوارۍ لپاره د دواړو غاړو خوښه او غوښتنه د جرګو له لارې وي. پښتـونولي د خپلو حقوقي دعوی ګانو د بهیر د لیکلو لپاره لاسوندونه او زیرمتونونه یا ارشیفونه نه لري، چې

مرکچیان د اړتیا په صورت کې هغو زیرمتونونو ته مراجعه وکړي. جرګه وال یوازې په شفایي دول د پښـتـنـي ټولنې حقوقي نورمونو او ټولنیزو ارزښتونه ته پام کوي او وده ورکوي.

اخځلیکونه:




1. Steul, Willi: Paschtunwali. Ein Ehrenkodex und seine rechtliche Relevanz. Franz Steiner Verlag: Wiesbaden, 1981: 137

2 .ibid.: 141. „Frauen" und „Land" gehören beim Paschtunen zum namus. Namus beinhaltet u.a. „Ehre, Ruf [und] Würde" des männlichen Paschtunen. (Janata, A. und Hassas, R.: Ghairatman - Der gute Pashtune. Exkurs über die Grundlagen des Paschtunwali. In: Afghanistan Journal, 3, Graz: 1975: 83-97. zitiert in Steul: 140.)

3. vgl. Steul: 141.

4 . vgl. Steul: 143-147.

5 . ibid.: 152.

## اوومه برخه

# د افغانانو د مېلمه پالنې او مېلـمستـیا سپېڅلی لرغونی کانسیپټ

مېلمه، مېلمه پالنه، مېلـمستـیا د پښتـونـولۍ په دودیز قانون او د پښتـونـولی د ارزښتونو په سیستم کې لومړنی منل شوی اصل دئ. پښتـانـه مېلمه پالنه د خپل مېلمه یو بنسټیز حق ګڼي.

مېلمه پالنه د پښتونولۍ په کانسپټونو او قانون کې له ټولو اصولو او نرخونو څخه مخکې د پښتنو يو مهم منل شوي انساني کلتوري درونډ ارزښت دئ. له همدې امله مېلمه پالنه پښتنو ته له لرغونو زمانو څخه يو سپېڅلی دود ګرځېدلي دئ. پښتانه د مېلمه پالنې د قانون په چوکاټ کې له خپل مېلمه يا له مېلمنو څخه په مينه او د زړه له کومي مېلمه پالنه کوي. مېلمه پالنه په ستړی مه شئ، روغبړ، قدر، عزت، درناوي، خوراک او څښاک سره پرځای کېږي. پښتون که هر څومره نېستمن وي, بيا هم د خپل مېلمه، پالنه، قدر او عزت کوي. په پښتنو کې که څوک مېلمه او دسترخوان ونلري هغه په ولس کې سپک او بې اعتباره سړی برېښي. پښتانه پرته له دې چې له مېلمه څخه د مېلمه پالنې په بدل کې کومه مادي تمه ولري، د خپل مېلمه، مېلمه پالنه کوي. پښتانه چې هر ډول خوراک او څښاک په خپل کور کې ولري هغه د خپل مېلمه مخې ته ږدي. پښتانه خپله يوازينۍ وچه غنمينه يا ګډلۍ/ ګډوله ډوډۍ او شړومبې لومړی خپل مېلمه ته ږدي. افغانان، مسافر مېلمه ته توده ډوډۍ ږدي او سړه پخپله خوري، کوربه يا مېلمه پال سړی ځان تاواني او پوروړي کوي، دی د خپل مېلمه د خوشاله کولو مينه، هيله او مېلمه پالنه په زړه کې لري. همدا لاملونه دي چې مېلمه پالنه په پښتنو کې د ټولو ارزښتونو، نورمونو، نرخونو او اصولو په سرليکه کې راځي. په پښتنو کې داسې کور، دېره او کلي نشته چې په هغه کې دې د مېلمه لپاره حجره يا ميلمستون شتون ونلري. د پښتنو په کليو کې د حجرې دړۍ/دروازه شپه او ورځ مېلمه ته، د لارو مسافرو ته، د ګاونډيو او د نورو کليو کليوالو خلکو پرمخ په ښه راغلاست ويلو سره خلاصې پرېښې وي. پښتانه چې کله خپلو کورنو ته ننوځي، لومړۍ دېرې يا حجرې ته ورننوځي، وګوري چې حجره کې مېلمه شته که نه، تر څو له مېلمه سره ستړی مه شي ورکړي. په دېرو او حجرو کې کليوال د جَمعي/ مجلس او د بنډار لپاره راغونډېږي، حجرو کې خانان، مخور مشران، ملکان، ملايان او د اغېزې خاوندان له خپلو خلکو سره په قدر او عزت ناسته پاڅه کوي.

په پښتنه ټولنه کې حجرې د خبرو اترو او اند جوړولو لپاره يو مهم ځای دئ. کله نا کله مرکې او جرګې هم په حجرو کې را بلل کېږي. له يوې خوا پښتانه د خپل جغرافيايي موقعيت له امله د آسيا د کلتورونو په څلور لارې کې پراته دي، له بلې خوا د دوی له سيمو څخه د وربښمو لرغوني سوداګريزې لارې تېرېږي . له همدې امله د آسيا په زړغون کمربند او د پښتنو په سيمو کې د مسافرو ګڼه ګونه، تګ را تګ زښت ډېر دئ. پښتنو ته دا مهمه نه ده چې مېلمه مسلمان او يا کافر دئ، دی له کوم ځای څخه راغلي دئ، تور يا سپين پوستکی لري، تورې که شنې سترګې لري، جګه که ټيټه پوزه لري يا مېلمه ځواکمن مزی يا کمزورۍ دئ، شتمن يا نېستمن دئ. دوی دې ته نه ګوري چې مېلمه له ځانه سره څه راوړي او چېرې يې وړي. پښتانه پرته له دې چې له خپل مېلمه څخه کومه متقابله مادي يا معنوي تمه ولري، له خپل مېلمه څخه د پښتونولۍ په اصولو مېلمه پالنې کوي. له همدې امله د افغان نوم په نړۍ کې د مېلمه پالنې په دود کې ستر پېژندل شوي نوم او شهرت دئ. پښتانه د خپل لومړني قانون په مېلمه پالنه کې عملاً ښيي چې په دوی کې توکمي تعصب او تبعيض نشته، پښتانه د هر انسان بنسټيزو حقوقو او انساني کرامت ته په درنه سترګه ګوري.

کله چې يو انسان په خپل ژوند کې د مرګ له ګواښ سره مخامخ وي او بيا پښتنو ته پناه راوړي، پښتانه د پښتونولي د دود له مخې دغه سړي ته د خوندي ساتنې پناه ورکوي. د پښتنو او پښتونولۍ د پناه ورکولو دغه ډول د نن ورځ د کډوالۍ له نړېوال قانون سره سمون خوري. د مېلمه ساتنه او بدرګه هم د کوربه له مسؤليتونو څخه ګڼل کېږي. پښتانه فکر کوي چې پناه راوړونکی مېلمه په هره بيه چې وي بايد وساتل شي. کله چې يو پښتون له ګاونډي کلي سره قومي شخړه، بدي يا دښمني ولري او غواړي يوې بلې بې پرې سيمې ته له بدرګي سره ولاړ شي، کوربه مجبور دئ چې د بدۍ داره مېلمه سړي بدرګه وکړي او دی خپل مصئون ځای ته ورسوي. پښتنو کې دا يو ستر شرم او پيغور دئ، کله چې يو بديداره سړی بدرګه کېږي او پر هغه باندې

د دښمن له خوا وسله وال برید وشي نو بـدرګـه کوونـکي داسـي احساس کوي، چې برید پر ده باندې هم شوی دئ. داسـي یو عمل یوې بلې نوی دښمنۍ ته لاره خلاصوي. په اصل کې مېـلمه پالنه د پښتـنـو قومونو ترمنځ ورورولئ ټینګوي، د دوی ترمنځ خپلوي، پیوستون او د اتفاق تضمین یا ګرنټي رامنځ ته کوي. نن د پښتـنـو د امن ستر کور په نا بلل شویو بې ارزښته او شر جوړونکو ظالمو مېـلمنو ډک دئ. دغه نا بلل شوي نامالوم، بې نامه او بې نښانه، بې رحمه، بې مخه مېـلمانه د پښتـنـو د مېلمه پالنې له دود دستور څخه ډېره ناوړه ناځوانه استفادې کوي. نن په کابل او پېښور کې له دغو غیر انساني، زړه بوګنوونکو خونړیو اعمالو او کړنو څخه د هر مسلمان افغان پښتـون د ننګ او غیرت چیغه آسمان ته پورته شوې ده.

## د پښتـنـو د پښتـونـولی د بدل کانسپټ

بدل د پښتـونـولی د قانون دویم کانسپټ یا دویم څپرکی دئ. کله چې پښتـنـو کې یوه ستره بې عدالتي، ظلم او بد ـ جرمي عمل تر سره شي، بدل اخېـستل کـېږي. بدل اکثراً په غلطه یعني د انتقام یا غچ اخېستلو په مانا ژباړل یا تفسیر کـېږي. د بدل مانا به په دې ډول ناسمه وي. بدل د یو په یو بدلولو مانا ورکوي. لومړی د ښځو بدل دئ چې له اسلامي نکاح څخه وروسته د دوو کورنیو ترمنځ د دوو پېـغلـو نجونو او د دوو ځوانو سړیو ترمنځ بدل تر سره کـېږي. دویم بدل په سوداګـریزو چارو کې هم تر سره کـېږي. دریم د اجناسو یا د دوو هېـوادونو د کرنسی تبادلې ته هم بدل ویل کـېږي. پښتـونولي خپله ټرمینالوژیکه کلمه : بدل داسـي تعریف کړي دئ : هر هغه ناوړه غیر انساني بدعمل یا جرمي عمل چې تر سره شوی وي، یوازې هماغه نا حقه ناروا بدعمل یا ناوړه کړنه باید بېـرته پرځای شي. لکه د غاښ په بدل کې غاښ، د لاس په بدل کې لاس، د سترګې په بدل کې سترګه او د انسان په بدل کې انسان بېـرتـه اخېـستل کـېږي. د پښتـونولی د قانون پر بنسټ کوم سړی چې څوک وژني، دی باید هم مړ شي. تر څو په ټولنه کې عدالت، انصاف، عامه نظم بېـرتـه پر ځای شي. پښتـونولي د انسان ژوند ته، انساني کرامت او د انسان مقام ته زښت ډېـر ارزښت ورکوي. په پښتـونولی کې له بدو څخه بدي او له بدي څخه بدل رامنځ ته کـېږي. پښتــانـه هغه بدي چې په روغه/ توافق نه وي بدله شوي، چا ته نه ورپرېـږدي. پښتـنـو کې بدل اړین دئ، بدل باید واخېستل شي. پښتـنـه ټولنه کې که بدل نه وي، بدل نه ورک کـېږي. هر څومره موده چې تـېر شي بدي نه زړېږي. پښتـون چې هر څومره بې وسه او کمزوری وي، خپل بدل سل کاله وروسته هم اخلي. په هرې بدی کې نـنـواتـی نه تر سره کـېږي. کله چې پښتـنـي ټولنه کې یوه بې عدالتي یا جرمي بد عمل تر سره شي، د هغې بدل باید واخېـستل شي. تورن یا متهم ته بې له دې چې د ده بده کړنه سهواً یا قصدي عمل وي نه کټل کـېږي. تورن ته خامخا سزا ورکول کـېږي. مـګـر په هغه صورت کې چې تورن په خپله د پښتـونولی د اصولو، دود، دستور او مراسمو له لارې له متضرر څخه بخښنه وغواړي او دی په خپله متضرر ته په نـنـواتـې ورشي. د پېـښمانتیا څرګـنـدولو او بخښنې یا عذر غوښتل یا پور پرې کولو سره بدي هم ورکه کـېږي. د پښتـو ژبې متل دی؛ هغه خوند چې په بخښنه کې شته،په انتقام او غچ اخېـستلو کې نشته.

بدل په پښتـونولي کې هغه مهال یو مشروع غبرګون ګڼل کـېږي، چې د بدل اخېـستلو کچه له تر سره شوي جرم څخه ډېـره نه وي. د بدل له اخېـستلو سره سم باید حالت نورمال حالت ته راوګرځي. یو پښتـون پوهېږي، چې کله دی یو څوک ووژني، ده خپل ځان او یا د خپلـي کورنی یو بل غړي هم وژلي دئ، ځکه پښتـون خپل بدل اخلي. مجرم سړی یا وژل کـېږي یا له خپل کلي څخه له خپلې کډې سره فراري کـېږي. د بدل اخېـستلو یو بل مهم لامل دا دئ چې یو پښتـون پوهېږي چې دی مجبور دئ چې له خپلې کورنی، خپلې قبـیلـې او خپل خپل ولس څخه د دښمن د پرله پسې ګواښونو، بریدونو پر وړاندې په مجموعي توګـه ساتـنـه او دفاع وکړي. یو پښتـون ته د ده له کورنی، ډلې یا قبـیلـې څخه د یو دفاع کوونکي سړي ضایعه کـېدل یا وژل کـېدل ډېـره ستره مانا لري. له دې امله

يو پښتون ته دا مهمه ده چې بايد د بريدګر يا دښمن د لوري يو مدافع بايد کم شي تر څو د دوی ترمنځ د ځواک موازنه بېرته د پخوا په شان يو شانته برابره وساتل شي. نن پښتانه د پرلپسې سياسي وژنو په لړ کې حيران پاتې دي چې له چا څخه بدل واخلي. نا ځوانه، بې غيرته، بې ننګه قاتل ځکه نه پېژندل کېږي چې خاين،خايف قاتل يا پټ دئ يا د بې ګناه مقتول د جنازې په لمانځه کې د خپل/ خپلوان او دوست په نامه ډرېږي. الله تعالی دې زموږ ښکلي قومي مشران نور په خپل امن او امان کې وساتي، آمين.
*د بدل د اصلي مفهوم په اړه د عجب خان اپردي حماسي کيسه په بله برخه کې لوستلی شئ.

## د پښتنو د افغانيت د ننواتې کانسپټ

ننواتې د پښتي او پښتونولۍ دريم کانسپټ يا دريم قانون دئ. ننواتې د پښتونولۍ د سوله ييزو کوډکسونو او ټولنيزو ارزښتونو يوه هر اړخيز ه ځانګړې متمدنه او له اسراره ډکه ښکارنده/پديده ده. ننواتې له ننوتلو څخه اخېستل شوي ده، ننواتې په ننواتې ورتللو ته ويل کېږي. ننواتې په عذر او زارۍ د بخښنې غوښتلو لپاره ورتللو ته ويل کېږي. په ننواتې کې يو لوري ته د پناه ورکولو اراده شته او په بل لوري کې د پخلايني علامي يا د رامنځ ته شوي ټولنيز کړکېچ د هوارۍ هيله او غوښتنه شته. پښتنه ټولنه د نړۍ يوه با وجدانه او باضميره انساني لرغوني ټولنه ده، کله چې يو پښتون سهواً يا قصداً يو جرم تر سره کړي، په هغه کې دومره، جرئت، مېړانه او وجدان شته چې د خپل جرم د منلو ترڅنګ له متضرر يا له خپل مدعي څخه معافي او بخښنه وغواړي. د ننواتې ښکارنده په سيمه ييزه او نړېواله کچه د افغاني کلتور او د مدني ټولنې يوه ستره بيسارې متمدنه انساني بېلګه پېژندل شوي ده.

ننواتې له چا څخه نه غوښتل کېږي. د ننواتې يا بخښنې غوښتل د يو لړ تشريفاتي مراسمو په لړ کې تر سره کېږي. ننواتې هغه مهال تر سره کېږي، کله چې د دوو کورنيو يا د دوو قومونو ترمنځ بدي او شخړه رامنځ ته شوې وي او د روغې جوړې کولو لپاره هغې کورنۍ يا قوم چې خپله ګناه او غلطي منلي وي، په ننواتې ورځي او ننواتې کوي. ننواتې په هغو شخړو او دعوی ګانو کې نه تر سر ه کېږي کله چې د يوې ښځې بې عزتي په کې شوي وي. په بله وينا ننواتې له هر انسان سره چې کوم بې ننګه، بې غيرته او بې ناموسه عمل نه وي ترسره کړی نو ننواتې کېداي شي. ننواتې د ننۍ متمدني نړۍ له نورمونو او ارزښتونو څخه لږ نوره مخکې ستر متمدنه انساني سوله ييزه ښکارنده ګڼل کېږي. ننواتې په پښتنې ټولنه کې دبديو، دښمنيو او د نورو وينو تويولو مخه نيسي او د قومونو او قبيلو ترمنځ سوله او ورورګلوي تضمينوي. کله چې د ننواتې غږ وشي، بيا ننواتې خامخا کېږي. دا د پښتونولۍ اصول دي، چې يو ملامت يا ګرم انسان هڅول کېږي چې متضرر ته په ننواتې ورشي. متضرر مجبور کېږي، چې د ضرر رسوونکي مدعي يا د دښمن ننواتې ومني. په ننواتې کې رښتنی او اصيل پښتون د خپل د سر دښمن ته هم په خپل کور کې پناه او ځای ورکوي، دی د هغه خونديتوب، امنيت د خپل د سر په بيه هم کوي.

په ننواتې کې مجرم يا ضرر رسوونکی بايد په خپله د متضرر يا مدعي کور ته د پښېمانتيا او د بخښنې د غوښتلو لپاره ورشي. مجرم يا په خپله يا د خپل کلي يا د قبيلې له يو شمېر مخورو مشرانو او سپين ږيرو سره په رښتني توګه په ډېرې عاجزۍ، پېښمانۍ او سرټيټوالي د متضرر کور ته رسی يا پړي پر غاړه ورځي او متضرر ته قرآن مجيد ږدي. مجرم مجبور دئ د متضرر يا خفه شوي سړي په کور کې د ټولو په مخکې بخښنه وغواړي. د جرم اصلي فاعل بايد د متضرر انسان پر وړاندې ځان مجرم احساس کړي او د خپل ژوند او مرګ ټول واک او اختيار د راټولې شوي جرګې په مخکې خپل دښمن ته په لاس کې ورکړي. که مجرم يا اصلي فاعل د خلکو په مخکې داسې بخښنه ونه غواړي، بيا د هغه بخښنه د متضرر د کورنۍ پر وړاندې هېڅ اعتبار او مانا نه

لري. یوازې له دې لارې پښتنه ټولنه کې د متضرر انسان حقوق، عزت، انساني حیثت او وقار بېرته پر ځای کېداي شي. که داسې ونشي متضرر انسان د پښتونولی د اصولو پربنسټ خپل بدل ضرور اخلي.

په عنعنوي توګه ننواتې کې پسه یا پسونه هم د متضرر کورته وروستل کېږي. پسه نه یوازې د کړکېچ په هواری کې کارول کېږي، بلکې د پناه غوښتلو، عذر غوښتلو او د پښېمانتیا له ډول سره اړیکه لري. ننواتې نه یوازې د قتل په قضیو او مسایلو کې مطرح کېږي، بلکې په نورو جرمي قضیو کې هم اعتبار لري. د پښتونولی د قانون پر بنسټ ننواتي کوونکی سړی باید ځان د مړ سړي په توګه وښیي او یا لکه چې یو سړی په محکمه کې پړ یا ګرَم پېژندل شوي وي. له همدې امله ننواتې او یا په ننواتې ورتلل هر انسان ته کوم آسانه کار هم نه دئ. همدا راز د متضرر کورنۍ ته د ننواتې د مراسمو په تر سره کېدو او د پښتنو د دود، دستور پر بنسټ ډېره ګرانه ده چې ننواتې ونه منل شي. پښتانه بیا داسې کورنۍ ته په ټولنه کې په درنه سترګه نه ګوري. دغه کورنۍ خپل ټول حقوقي ربښتي یا حقونه په خپله قبیله او کورني چاپریال کې له لاسه ورکوي. پښتون د ننواتې منل کېدلو ته ځکه مجبور بېږي چې مېلمه یې کورته ورغلي دئ. ځکه د ننواتې او مېلمه پالنې کانسپتونه له یو بل سره تړاو لري. د ننواتې یو بل مهم ارزښت په دې کې هم نغښتي دئ، چې یو څوک د پښتون کور ته په ډېرې عاجزۍ مېلمه ورغلی وي. کله چې څوک د چا ننواتې ونه مني، هغه غیرتمن او پتمن سړی نه ګڼل کېږي، دی په ټولنه کې له ستر شرم سره مخامخ کېږي او په سپکه سترګه ورته کتل کېږي.

# د پښتونولی د ننګ، پښتني غیرت، ناموس، شرم او د حیا کانسپټ

پښتني ننګ او افغاني غیرت د پښتونولی څلورم قانون دئ. یو غیرتمن او ننګیالي سړی د پښتوتوب د نړۍ یو ایډیالي انځور انځوروي. غیرتمن، پتمن سړی تل د ننګ او عزت په لټه کې اوسي. غیرتمن سړی د پښتونتوب او مېړنیتوب ټولې غوښتنې او تصورکېدونکي ارزښتونه او نورمونه په خپل ځان کې لري. پښتني ننګ د پښتون یا د پښتون له کورنۍ او له پښتني قبیلې څخه عبارت دئ.

ننګ د یوه سړي د سپېڅلو انساني او عالي احساساتو د ویاړ یوه ځانګړې ټولګه ده. ننګیالی پښتون باید لومړی په خپل قبیلوي ټبر یا ستّه باندې ټینګ باور ولري، تر څو دی له یوه لوري پر خپل قبیلوي جوړښت او خپل توکمي یووالي باندې اغېزه ولرلي شي، له بل لوري همهماله دی ځان له نورو څخه د ننګ په چارو کې بېل وښولي شي. ننګ، غیرت او عزت په پښتنو کې دوې خواوې لري. له یوې خوا یو پښتون باید په جرئت سره د توري له لارې خپله جګړیزه تیاري وښیي، له بلې خوا دی باید د عقل او منطق له لارې د خپلې ټولنې ټولنیز مسؤولیت پر غاړه واخلي ځکه چې سیلم عقل پر هر ډول انساني احساساتو باندې برلاسي دئ. څوک چې ننګ کوي، هغه یو ننګیالي سړی دئ. څوک چې له بې ننګي سره ژوند کوي، دی له خپل ژوند سره جفا کوي.

د پښتونولي په کانسپټونو کې ننګ، غیرت او ناموس خورا مهم رول لوبوي. ننګ د سړیتوب عزت دئ، ننګ د زړورتیا او د توري له لارې ترلاسه او پر ځای کېږي. د پښتون موخه اصلاً دا نه ده چې توره په لاس کې ولري، بلکې دی د توري له لارې د خپل ننګ، غیرت او ناموس ساتنه کوي. یو پښتون د ننګ له لارې د یوه توریالي سړي نوم ګټلی شي. د یوه ننګیالي ټول کړه وړه او چارې

باید د خپل ټول قام په ګټه وي، نه دا چې د ده کړه وړه دده د شخصي چارو او انفرادي ګټو لپاره وي. د بېلګې په ډول په خپل پلرني هېواد او مورنۍ خاورې باندې ننګ کول، په خپل افغانیت او اسلامیت باندې ننګ کول، د خپلواکۍ او د جهاد په سپېڅلي جګړه کې برخه اخېستلو ته ننګ وايي. کله چې یو پښتـون سړی یوه مهمه موخه ترلاسه کړي، پښتــانـه وايي، چې توره یې وکړه. د ناموس کلمه د ښځینه عزت لپاره که هغه مور، خور او لور وي کارول کېږي. همداسې له خپلې کورنۍ څخه ساتنـه، له خپل پټي او ځمکې څخه دفاع او همداسې له خپل وطن څخه دفاع او ساتنـې ته ناموس ویل کېږي. په پښتـنـه ټولنه کې چې څوک ټولګټي ملي مثبت کړه وړه تر سره کړي هغه سړی د غیرتمن او ننګیالي سړي په نامه يادېږي.

په پښتـونولۍ کې د پښتـون د کورنۍ ټولې ښځینه غړې مور، خور، لور او د خپل پلرني هېـواد ملي ګټو ته د ناموس په څېـر کتل کېږي. د پښتـو ژبې ادبیات او فولکلوري کیسې په ننګ، غیرت او ناموس ډکې کیسې دي.
غیرت په خپل ځان ډادمنتوب ته ویل کېږي، غیرت خپلواکۍ ته ویل کېږي. غیرت پر خپل ځان باور، پر خپل ځان خبرتیا، د خپل ځان پېـژندنه، سرلوړیتوب، جرئت، ویاړ،صله رحمي، هوښیاري او بلاخره د خپل ویښ- پښتـنـي احساس ټولګـي ته ویل کېږي. غیرت نه یوازې د یوه سړي د کرکټر مانا نه افاده کوي، بلکې غیرتمن سړی هغه سړی دی چې دغه ځانـګړتیاوې په خپل ځان کې ولري. غیرتمن سړی یو جنټلمن/ شریف او خپلواک سړی دئ. ښايي له خپلواکۍ سره دغیرتمنو، سر کښو پښتـنـو افغانانو بې کچه مینه یو بل خنډ د لر او بر افغانانو د بیا یووالي په لاره کې وي.

د افغانیت د اصولو منځ - زړي او په پښتـونـولۍ کې تر ټولو مهم ټوکی ننګ او غیرت دئ. کله چې یو افغان د مېـړانې، سرښندنې، فدا کارۍ، شجاعت، زړورتیا، جرئت، درنښت او یا د پښتـونـولۍ له نورو نورمونو، ارزښتونو څخه سرغړونه وکړي، دی ځان ته، خپلـې قبیلـې ته شرم، بې عزتي او بې ننګي رامنځ ته کوي. یو ننګیالی پښتـون تل خپلـې قبیلـې ته ویاړ، شان، شوکت او ښه نوم راوړي. نه دا چې دی په بې ننګۍ، بې عزتۍ، بې شرمۍ او نورو ته د غلامۍ په سرټیټوالي سپک ژوند وکړي.

په پښتـنـو کې د بې ننګه، بې غیرته، بې شرمه، بې حیا او بې ناموسه ښکنځل تر ټولو له سختو فکر کېـدونکو ښکنځلو څخه ګڼل کېږي. کله چې یو پښتـون په دې ونه توانېږي چې خپل ننګ او غیرت د توهین کوونکي یا تحقیرکوونکي سړي د وژلو له لارې بېـرتـه پرځای کړای نو ښکنځلې سپکې او سپورې دی په ټولنه کې دومره سخت راټیټوي، چې همدغه سړی خپل ټولنیز موقف، پرستیژ، سړیتوب په خپله ټولنه او قبیلـه کې له لاسه ورکوي. شرم او بې شرمي هم د ننګ کانسپټ یوه مهمه برخه ده. شرم د بې آبۍ په مانا هم ژباړل کېږي. شرم د ښځې له کړو وړو سره هم اړیکې لري، شرم د نارینه وو کنټرول پر ښځینه باندې وي، ښځې د ټولـنـې نیمايي برخه جوړوي. په عمومي توګـه پښتـنـه ټولنه کې د پـېـغلې نـجلـۍ جنسي غرایضو او فعالیتونو ته په کمه سترګه کتل کېږي. پښتــانـه فکر کوي، چې ښايي پـېـغلې نـجلـۍ د نارینوو د جنسي غریضو لپار ه یو آسانه ښکار وي.

پښتــانـه فکر کوي، ناموس باید وساتل شي. په همدې وجهې دوی فکر کوي او مجبورېږي چې ښځې په خپل کور کې تر خپل کنټرول لاندې وساتي. پښتــانـه دومره ستره ویره د ښځو له نامشروع اړیکو او کړو وړو څخه نه لري، لکه چې دوی یې په خپل کلي او سیمه کې د خلکو او تربورونو له خبرو او پېـغورنو څخه لري. پښتــانـه فکر کوي، که ښځه، خور او مور یې په سَتر یا په مخ پټولو کې پـټـمن ژوند وکړي نو د کلیوالو او د توربورونو د پیغورونو خبرې به هم هېڅ نه وي. برعکس پښتــانـه کوچیان او ډېـرې نور دودیز پښتــانـه له ښځو سره دا ډول چلند ته د نارینه وو د کمزورتیا په سترګه ګوري. پښتــانـه کوچیان وايي، دوی د خپلو ښځو ایسارولو ته هېڅ اړتیا نه لري. کوچیان زیاتوي، که موږ له ښځو سره داسې چلند وکړو، بیا موږ پوره سړي نه یو او دا د نارینه کمزوتیا او

ناتواني ده چې ښځه په کور کې ایساره وي، ناموس د کورنۍ هرې ښځینه غړې ته منسوب کېږي. افغانانو ته ناموس په خپلې پراخې او هر اړخیزې مانا کې خپل کور، خپل ټبر، خپلې قبیلې، پښتنې ټولنې، هېواد، مورنۍ خاورې او د خپل دین ساتنې ته هم د ناموس مانا وروکوي. څوک چې دغو ارزښتونو ته ارزښت نه ورکوي هغه بې ناموسه دئ.

د ننګ کانسپټ له پښتون څخه غواړي چې باید او تل د ټولنې په چوپړ او ساتنه کې واوسي. دغه ساتنه او دنده په ځانګړي ډول د هغه له ډلې او له قبیلو څخه عبارت ده، دا هغه چارې دي چې یو پښتون د هغو ساتنه، دفاع او مسؤولیت پر غاړه لري. یوه اصیل او رښتني پښتون ته ور په غاړه چارې او مسؤولیتونه په لاندې ډول دي.

۱. د خپلې کورنۍ د ښځینه غړو ، د خپل قام د ښځینه غړو، ان د هغو ښځینه وو دفاع چې دی یو ډول نه ډول له دوی سره پېژند ګلوي او خپلوي لري.

۲. له خپلې سیمې، د خپلې قبیلې له سیمې، له خپل ولس، له خپل وطن او د خپل پلرني هېواد د له ملي او اسلامي ارزښتونو څخه دفاع.

۳. د بې وسو کمزورو، بې وزلو خلکو دفاع او هغه خلک چې ورته په ننواتې ورغلي او دوی له هغه څخه فیزیکي ساتنه غواړي.

۴. له خپلو مېلمنو څخه ساتنه، کله چې دی مجبور شي له بدی داره مېلمه څخه د تللو پر مهال بدرګه وکړي.

له یوه پښتون څخه د ننګ د کانسپټ اصلي غوښتنې د خپل ځان ځار کولو یا قربانولو په مانا دي او د توری/ شمشیر د کانسپټ موخې د یو پښتون له خپلو لیوالتیاوو او انټرسټ څخه د دفاع مسلې رانغاړي.

په پښتنې تفکر کې یو پښتون سړی تل په یوه تربګنیز، له دښمنیو او کړکېچونو څخه ډک چېریال کې ژوند کوي. د دښمنیو دغه چېریال له ده څخه هره شیبه د ژوند ټولې زیرمې اخلي. لکه د ده کورنۍ، ځمکه او ناموس. له همدې امله یو پښتون مجبور کېږي چې له خپل موقف او له خپلو مسؤولیتونو څخه په ټولنه کې ساتنه او دفاع وکړي. دغه خورا مهم مسایل او مسؤولیتونه یو پښتون یو قهرجن او جګړه ییز حالت ته ورهڅوي، دی په دې باوري کېږي، تر څو له ټولو شیانو څخه دفاع وکړي. په دې ډول د پښتونولی د کلمې په کانسپټ کې د یو پښتون نړۍ - لید انځور شوي دئ. له همدې امله یو پښتون د خپل پور یا بدل اخېستلو ته اړ کېږي. د بدل اخېستلو پرنسیب دا دی، چې د سترګې په بدل کې سترګه، دغاښ په بدل کې غاښ، د ژوند په بدل کې ژوند اخېستل کېږي.

د یوه اصیل او مسؤول پښتون ژوند له ډېرو سختیو او ګواښونو څخه ډک ژوند دئ. دی بیا هم هڅه کوي چې په خپل ژوند کې یو ننګیالی انسان واوسي. سربېره پردې دی ځان د یوه ننګیالي په څېر د کمزورو، بې وسو انسانانو لاس نیوي او ساتنې ته اړ بولي. په پښتنه ټولنه کې یو ننګیالی سړی ځان د نورو لپاره یو مخکښ یا بې مثاله او یا د یو سرمشق سړي بېلګه ګرځوي. د یوه ننګیالي پښتون د کړو وړو موډل د پښتنې ننګ پر کانسپټ راڅرخي. د یو ننګیالی پښتون حیثیت، پرستیژ، شخصیت او مورالي ځواک دی دې ته هڅوي چې له مرسته غوښتونکو او ساتنې غوښتونکو او له مظلومو خلکو څخه ننګه او ساتنه وکړي. ننګیالی یو ډېر هراړخیز کلتوري مفهوم دئ، چې له ناموس سره مستقیماً تړاو لري. په افغانستان کې یو کرزماتیک ملي مشر شخصیت باید تر ټولو لومړی د واک یا د قدرت او د ټولنیزو ایډیالي مسؤولیتونو او چارو ترمنځ اړیکي په مناسبه توګه

برابرې وساتي. په پښتنه ټولنه کې چې څوک د پښتني ننګ، غیرت او د پښتونولی حقوقي کوډکسونه او پښتني تصورات پر خپل ځان باندې پلي نه کړي او عملاً یې په خپل ځان کې ونه ښیي، هغه هېڅکله پښتنو ته د قوم یو ایډیالي غیرتمن مخکښ مشر نشي کېدی. د پښتونولی د ننګ او غیرت ارزښتونه یو پښتون افغان مشر ته زښت ډېر اړین دي، تر څو په ولس کې د یو مشر په توګه ومنل شي. د افغان ملت ستر مخکښ افغان او کرزماتیک ملي شخصیت خوشال خان خټک لیکي:

د افغان په ننګ مې وتړله توره

ننګیالی د زمانی خوشال خټک یم

## اتمه برخه
## د پښتونولی د تورې او عقل کانسپټ

پښتنو ته پښتونولي په ټولو کانسپتونو کې او د پښتنو په دودیز قانون کې څه شی چې ډېره ستره مانا او ارزښت لري، هغه د ننګ او د توري کانسپتونه دي. د ننګ کانسپټ له یوه اصیل پښتون څخه غواړي چې د خپلې ټولنې او ولس په چوپړ کې ودرېږي. یوه ننګیالي پښتون ته ټل ملي مسؤولیتونه او ملي چارې ور په غاړه وي، ځکه دی په دې باور دئ چې دغه ملي چارې د ټولنې، د قبیلې او د پښتون افغان ولس د ساتنې او دفاع لپاره ځانګړي شوي دي. پښتانه یوازې په توره باندې مین خلک ندي، دوی فکر کوي، چې توره د پښتني غیرت د ساتنې لپاره کارول کېږي.

تأریخ او تجربو ثابته کړې هغه پښتانه چې له پښتني غیرت او افغاني ننګ څخه بې برخې ول،

دوی که پوهېدلي یا نه دي پوهېدلي، په ډېره آسانه او ډېر ژر د پښتون ضد قوتونو او د یرغلګرو تر اغېزې لاندې راغلي دي.
په پښتنو کې توره : مېړنتوب، سربښندنې، زړورتیا او اتلولي ته ویل کېږي. توره یو پښتون ته د توریالیتوب، مېړنتوب ستر احساس ورپه برخه کوي. پښتانه د خپلواکۍ په سپېڅلې جګړه کې مرګ ته د عزت په سترګه ګوري. د پښتنې تورې او د پښتنې ننګیالیتوب په اړه د پښتنو په حماسي ادبیاتو کې ډېرې لیکنې شوې دي.




توره د پښتنو د غیرت، عزت او جنګیالیتوب یوه ستره نښه او نښانه ده. د یوه پښتون توره په هغه حالت کې را ایستل کېږي کله چې د ده خپلواکي، غیرت او د ننګ مسئله یا د دوی وطن او خاوره د یرغلګرو له برید سره مخامخ شي، یا د افغانانو د ملي نوامیسو، د ملي ګټو، د دین دفاع مسئلې او خبرې مطرح شي. افغانان پښتانه تورې هغه مهال هم کاروي کله چې د دوی ناموس، کورنی، شخصي ملکیت، حق او مال له ګواښ سره مخامخ شي او یا په سپېڅلې جګړه یا جهاد کې برخه اخېستل فرض وګرځي:

یو اصیل پښتون د ظالم د ظلم پر وړاندې د مظلوم د دفاع لپاره هم را پورته کېږي. توریالی هغه سړی دئ چې د تورې ځانګړې ځانګړتیاوې په خپل ځان کې ولري. توریالی سړی لومړی د خپل عزت، پت او انفرادي خپلواکۍ لپاره جګړه او مبارزه کوي، او بیا د خپلې کورنۍ او قبیلې لپاره د اتلولۍ چارې ترسره کوي. دی ځان ته له دې لارې د توریالي سړي نوم راخپلوي. د دغو چارو له تر سره کولو څخه وروسته دی په خپل ټبر او قبیلوي ټولنه کې مساوي حقوق ترلاسه کولي شي، دی بیا د خپل ځان پر ډاډمنتوب باندې باوري کېدای شي. دی بیا هېڅ وخت د یوه بهرني د ښمن د مادي او معنوي ځواک د استعماري ارادې تر اغېز لاندې نشي راتلي او د افغان سترولس پر وړاندې استعمالېدي هم نه شي.

په دا لاندې بېلګه کې د یوه توریالي او ننګیالي افغان د ننګ او غیرت تأریخي کیسه لوستلي شي.

د برتانوی هند په وخت کې دولتي واک ته دغازي امان الله خان د بېرته راستنېدو په اړه د ملي خپلواکۍ د اتل غازي ببرک خان ځدران د زامنو اختلاف د افغانستان له شاهي دولت سره پیدا شو. د ببرک خان ځدران زامن په لویه پکتیا کې د غازی امان الله خان د بېرته راوستلو په تور، د افغانستان د پوځ د یوه پوځي برید په ترڅ کې له خپل کور او کلي څخه برتانوي هند ته فراري کړل شول. کله

چې پاکستان له برتانوي هند څخه وزېږېد، دوی هماغه مهال هماغلته اوسېدل. د پاکستان د هغه وخت صدراعظم لیاقت علي، سید اکبر خان ببرک زی ځدراڼ د افغانستان د شاهي دولت د مخالف په څېر یوې غونډې ته وربللی وو. په غونده کې د خبرو اترو پر مهال کله چې افغان ضد لیا قت علی د ډیورنډ کرښې د کړکېچ په اړه د افغانستان ملي دولت او د افغان ولس د ناموس بې عزتي وکړه او سپکی سپوری ویل پېل کړل نو د افغان په ننگ د سید اکبر خان ببرک زي ځدراڼ پښتني ملي غرو راوپارید او د پاکستان صدراعظم لیاقت علي یې سمدستي د تمانچې په ډزو په خوله کې وویشت او ځای پر ځای یې په قتل ورساوه. دی هم هماغلته د پېښې پر مهال ووژل شو. که څه هم د افغانستان د هغه وخت شاهي دولت د سید اکبر خان ځدراڼ کور او کلی په عسکري توپونو ویشتلی او وران کړي وو، او دوی یې په ډېر بد حالت کې وزیرستان او برتانوی هند ته فراري کړي ول خو د ببرک خان ځدراڼ زامن هېڅ کله د افغانستان د دولت او د افغان ملت پر ضد ونه دربېدل او نه د انگریزي امپراتورۍ تر استعماري ارادې لاندې راغلل او نه پنجابي پوځیان په دې ونه توانېدل چې د خپلو تورو پالیسیو او سیاستونو په ترڅ کې یې د افغان ولس پر ضد استعمال کړي. سل افسوس دئ چې د نن ورځ په ځینو پښتنو مشرانو کې کله چې پنجابي پوځیان زموږ پر خاوره باندې توغندي توغوي، په دوی کې ولې د پنجابي پوځ د راکټي بریدنو پر وړاندې د خپلې سپېڅلې خاورې د ساتنې احساس نشته، ښځې، ماشومان په وینو کې لامبي، د پښتون په کور کې ژړا او چېغه گډه، ځنگلونه، کورونه سوځي خو ټول لر او بر پښتانه ورته ردې ردې گوري.

خیر په هر صورت د یوه ننگیالی پښتون د تورې په مقابل کې د پښتونولۍ د ننگ کانسپټ هم رالوېږي. د ننگ کانسپټ یو پښتون تر یوې کچې پورې له ځانپالنې، ځانځانې، خپلسرې او یا یې یوازې له خپلو غوښتنو، لیوالتیاوو یا له انټرست څخه منع کوي. د کړکېچ په حالت کې له یو پښتون څخه د ننگ په کانسپټ کې غوښتنه کېږي چې په خپل سرو کړو وړو او د یوه سړي شخصي غبرگون دۀ ته دومره اغېزمن نه پریوځي. دی باید په کړکېچن یا بیړني اصطراري حالت کې د تورې د کانسپټ تر څنگ د ننگ له کانسپټ څخه هم کار وا خلي. یو ننگیالی پښتون ځلمي پوهېږي، چې د یوه کلي یا یوې قبیلې غوښتنې یا انټرسټ د یو کس له غوښتنو او گټو څخه ډېرې غوره او لوړې دي. دغه ټولنیز اخلاق، نورمونه او ارزښتونه د پښتنو د ژوند، د پښتنو د ژوندي پاتې کېدلو په نړۍ کې خورا مهم اړین توکې دي.
د ننگ دوه اړخونه عقل او توره، د ژوند یا د عمر په اوږدو کې له دوو برخو سره تړاو لري. له یوه ځوان سړي څخه په خپل سر د تورې د را ایستلو یا جگولو تمه نه کېږي. کېدای شي چې دی یو سرتمبه او احساساتي سړی واوسي. په وړو خبرو سمدستۍ توپک ته بلوټ/ باروت ورتېرکړي. د پښتنو په سیمو کې د یو ځوان سړي توره د کلیوالي او پښتني دودونو، نرخونو له لارې د سپین ږیرو قومي مشرانو د تجربو، د عقل او منطق د خاوندانو د صبر او د زغم له لارې کنټرول کېږي. په همدې ترتیب په پښتنه ټولنه کې ځوانان خپلو سپین ږیرو او قومي مشرانوته د درنښت او د سر د ټیټولو په روحیه روزل کېږي. د پښتونولۍ قانون توره په هغه قضیو کې هم مني، کله چې د یوې ښځې، خور، مور د ننگ او عزت خبره رامنځ ته شي. پښتنو ته توره پېښه یوازې هغه مهال په سپینه پېښه بدلیدي شي کله چې ضرر رسوونکی یا مدعي ووژل شي، دوی فکر کوي، چې د هغه له مرگ څخه پرته بله لار نشته.

د پښتونولۍ د تورې ایډیالي کانسپټ له یوه پښتون څخه غواړي، چې په قهرجنه او جگړییزه توگه له خپل ځان، له خپلو گټو او له خپل انټرسټ څخه دفاع وکړي. د پښتونولۍ د تورې ایډیال یا کانسپټ له یوه پښتون څخه غواړي چې د خپل ځان دفاع او د خپل انټرسټ د د فاع لپاره له سختو جگړییزو اسبابو څخه کار واخلي؛ کېداي شي نن دغه کړنچاره، طرزالعمل یا وسله وال غبرگون د لویدیځوالو په سترگو کې خام او یا یو نا متمدن عمل وي. خو دغه ډول غبرگونونه د یو پښتون د ژوند په نړۍ کې د ژوندي پاتې کېدو په بهیر کې زښت ډېر اړین دي.

یوه رښتنـي پـښـتـون ته د توري د کارولو په حساسه مرحله کې بیا د پـښـتـونولی د ننګ کانسپټ را ولاړېږي او له پـښـتـون څخه یوه اندازه نرمښت، زغم او د مـېـرانـي غوښتـنـه کوي. د ننګ کانسپټ د یوه ځلمي پـښـتـون پام له ځانخاني او یوازې د خپلو ګـټـو د تر لاسه کولو لپاره هر څه ته له لاس اچولو څخه را ګرځـوي او له بې ځایه زور زیاتي څخه یې په شا کوي. له همدې امله د ننګ کانسپټ د توري له کانسپټ سره د سیالی لوبه کوي. په دغه کړکـېـچن او خورا هیجاني جګړه ییز حالت کې د ننګ د کانسپټ غوښتـنـي په ډاډمنه توګه کولای شي د یو شخص د غبرګونیز عمل په ترڅ کې مقابل لوري ته بې کچه زیانونه او تاوانونه وروا نه اړوي. په بله وینا د انسان د فکر په دغه لوبه کې د ننګ کانسپټ، د توری کانسپټ د غوښتـنو پر وړاندې انټاګونیستي یا په لوبه کې د مقابل لوري لوبغاړی ګرځي. د ننګ کانسپټ د ټول ولس د خیرښـېـګـنې، انټرسټ یا د ټولنې له هوسایني او یا د ټولنې د هر غړي د عزت له خوندیتوب سره تړاو لري. د توری کانسپټ یوازې د ځان د انترسټ لپاره کارول کـېـږي. کله چې یو ځوان پـښـتـون افغان عقلاً او شعوراً په متوازي توګـه د توري او د ننګ له کانسپټ څخه کار واخلي، دی یو ننګیالی پـښـتـون سړی شمـېـرل کـېـداي شي. په ټولیزه توګه د پـښـتـونولي لرغوني نورمونه او ارزښتونه د یو پـښـتـون په ورځني ژوند کې د هغه په غوښتـنو، انټرسټ، د پـښـتـنـي ټولنې د غوښتـنو او حقوقي اړیکو په را کړه ورکړه کې خورا مهم رول لوبوي.

## نـهمه برخه
## پـښـتـونولي د پـښـتـون ولس د توکم او د شخصیت پـېـژندنې خپل یو انځور دئ

### د خبرو سرېزه

په ۱۹۶۷ کال کې ما د لومړي ځل لپاره په یوه له احساساتو ډک پوهنیز کنفرانس کې له ښاغلي پروفیسور ډاکټر کریستیان زیګرست (Christan Sigrist) څخه په افغانستان کې د پـښـتـنـو او د دوی د وچ کلک حقوقي سیستم یا د پـښـتـونولی د قانونغونډې په اړه زړه راښکونکې او هـېـښوونکې خبرې اترې واورېـدلې. ښاغلي توکـمـپوه کریستیان زیګرست چې د المان د مونسټر په پوهنتون کې

د توکمپوهنې او ټولنپوهنې استاد دئ دا خبره په علمي توګه تشریح کړه چې په پښتونولۍ کې په رښتیني توګه د نورماتیف ژوند، طرز یا د ډول منځ - زړي «هسته» شتون لري. پښتونولي نه یوازې د پښتنو د ژوند طرز دئ، بلکې ټولو پښتنو ته یوه طبیعي خبره ده چې پښتونولي د دوی د حقوقي نورمونو نظم، کلتوري ارزښتونو، اخلاقي معیارونو، ټولنیزو اصولو او دودیزو نرخونو ترمنځ د اړیکو د رامنځته کولو او ساتلو یو سیستم دئ. سره له دې چې د پښتونولۍ په اصولو کې د پښتنو په یوه او بله سیمه کې لږ څه توپیر لیدل کېږي خو ورسره د پښتونولۍ د دودیز قانون د نورمونو او ارزښتونو سیستم، د پښتنو په سیمو کې له ختیځ - لویدیځ اړخ څخه مخ په ښکته له اباسینه د ایران تر پولې پورې خپل اغېزمن شتون او اغېزمن چلښت ثابت کړي دئ.



(Khoster Becken, Frühjahr 1967: Der weißgekleidete Mann mit dem quergehaltenen Enfield-Gewehr ist Christian Sigrist. Rechts von ihm: Sher Mohamad Khan Zadran, Sohn von Babrak Khan Zadran, der 1915/16 die Niedermayer-Hentig-Delegation in Kabul betreut hatte. Links von Sigrist: Gäste aus Wasiristan (ein Ältester, 4.v.r., mit seinen beiden Söhnen). C.S.: Die vorübergehende Einkleidung sollte den deutschen Gast ehren; hätte ich unanständiger Weise die Qualität der Tracht bewundert, hätten mir die Gastgeber diese überlassen müssen. Das Statarische der Aufnahme war damals in Afghanistan normal. *Copyright Sigrist*)

په ۱۹۷۰ کال کې کله چې زه په خپله (څېړنوال، لیکوال: الماني توکمپوه او د پښتونولۍ څېړنوال داکټر برنت ګلاتزیر) د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د څېړنې په ډګر کې د پښتونولۍ په اړه په علمي څېړنو، ارزونو او پلټنو باندې بوخت وم، د افغانستان په شمال لویدیځ کې په یوه ډله پښتنو کوچیانو باندې واوښتم، دوی په نولسمه پېړۍ کې د دراني پښتنو له قبیلې څخه راکډوال شوي ول. له دوی سره مې د پښتونولۍ د ترمینالوژیکو اساساتو، د پښتونولۍ د توکمي کوډکس د ځانګړتیاوو، د پښتونولۍ د ټولنیزو ارزښتونو او نورمونو په اړه مخامخ او په ژوندۍ بڼه خبرې اترې وکړې:

په پښتني تفکر او افکارو کې او د پښتونولۍ په ادبیاتو کې مهم مرکزي، فلسفي مفهوم د یوه غیرتمن سړي دئ. یو غیرتمن سړی د یوه پیاوړي کلک هوډ څښتن دی؛ یو غیرتمن سړی د ممتاز، سوچه، شریف او نجیب انسان ټول منل شوي ارزښتناکه صفات او ځانګړتیاوې یا خصوصیتونه په خپل ځان کې لري. د پښتونولۍ نور مهم مفاهیم ننګ، غیرت، زوړرتیا، جرئت، مېړانه، ویاړ، سربښندنه، انساني کرامت ته درنښت، شرافت، حیثیت، وقار، شان، شوکت، سرلوړیتوب او د پښتنو افغانانو خپلواکۍ ده. یو ننګیالی سړی تل خپل ولس ته ښه نوم نښان، شان شوکت، عزت، شهرت، شرف، پت او ننګ راوړي. د دې برخلاف یو بې ننګه سړی خپل ولس ته بې عزتي، بې غیرتي، بې حیثیتي، بې آبرویي، سرټیټوالی، غلامي او بې ناموسي راوړي. په پښتنو کې بې ننګه سړي ته د هېڅ چا له خوا په درنه سترګه نه کتل کېږي. د پښتونولۍ د فلسفي منځ – زړی «هسته» له همدغو ارزښتناکو انساني ځانګړتیاوو څخه جوړو شوی دئ. د پښتني ننګ د کانسپټ په بېلا بېلو برخو کې شرم او حیا هم په خپل وارسره ځای لري.

یو توریالی سړی د تورې ټول خصوصیات په خپل ځان کې لري. یو توریالی سړی تل د فردي یا د انفرادي اتلولۍ د کړنو له لارې خپل ځان ښیي. دی په لومړي پړاو کې د خپل شخصي فردي ننګ او

خپلواکۍ لپاره مبارزه کوي. په دویم پړاو کې د خپـلـي کورنـۍ، خپـلـي قبیـلـې او خپل ولس لپاره مبارزه کوي. یو توریالی سړی له دې لارې هڅه کوي په ډاګه کړي چې دی په خپله قبائیلي ټولنه کې یو خپلواک سړی دئ او له نورو سره په ټولنه کې مساوي حقوق لري. دی د هېـڅ کوم بل زور واکي او سر زوري سړي تر واک، اغېـز او لاس لاندې نه دئ.

زما (څېـړنوال) ارزونو، کتنو، تحقیقاتو او څېـړنو د ښاغلي زیګرسټ له مفصلو علمي تشریحاتو او توضیحاتو سره په مقایسه یا پرتله کې هېـڅ ډول توپیر نه درلود. ښاغلي زیګرست د لومړي ځل لپاره د پـښـتـونـولـی په اړه په یوه نوي علمي اکاډیمیک چار باندې کار کړی دئ. له ده وروسته ښاغلي الفرډ جناتا (Alfred Jananta) او ښاغلي ریحان الدین حسن (Reihanodin Hassen) په خپلو توضیحاتو، پلټنو او څېـړنو کې د غیرتمن سړي د ننګ کانسپټ پر ځواکمنو اړخونو باندې ډېـر علمي څـېـړنیز کارونه ترسره کړي دي. دوی په خپلو څـېـړنو کې دا ثابته کړې چې پـښـتـونولي د پښـتـنـو ولسي ټولنیز قانون او د ننګ او غیرت کوډکس دئ. پـښـتـونولي په خپلې وسیعي یا پراخې مانا کې د پـښـتـنـو ټولمنلي شوي دودونه، دستورونه، رسم او راجونه احتوا کوي. په ۱۹۸۱ کال کې د پـښـتـونولی په اړه د ښاغلي ویلي ستویلس (Willi Steuls) مونوګرافیکه څـېـړنه چې (پـښـتـونولي او مقاومت، په دولت کې قبائیلي ټولنه) نومـېـږي د ښاغلي زیګرسټ له لارښودونکې او لار پرانیستوونکي څـېـړنې پرته ناشوني علمي څـېـړنه وه، د هغه په څـېـړنه کې موږ د پـښـتـونولی په اړه ټولو علمي او حقوقي پوښتنـو ته ځواب موندلي شو.

په ۱۹۸۷ کال کې د ختیځ المان د برلین په همبولت پوهنتون کې ښاغلي (Rzehak Prof.Dr.Lutz) د پـښـتـونولی په اړه یوه بله ستره علمي اکاډیمیکه څـېـړنه تر سره کړې ده.

زه څـېـړنوال غواړم دلته په خپله څـېـړنه کې د پـښـتـونولی هغه اړخ را په ګوته کړم، چې ښاغلي زیګرسټ دېرش کاله مخکې مطرح کړی وو. د پـښـتـونولی دغه اړخ د پـښـتـنـو د طبیعت منځ- زړی دئ. نوموړي په خپله علمي څـېـړنه کې تر ډېـره بریده هڅه کړې چې خپل فکري تمرکز په پـښـتـنـې شخصیت او پـښـتـنـي ایډیالي انځور باندې له دننه وساتي. ما ته هم دلته دا مهمه ده ځکه زه غواړم د پـښـتـنـو ظاهرې، اخلاقي ځانښودنه وڅـېـړمه، نه د دوی د ورځنۍ ژوند د کړو وړو نمونې او یا د دوی د کلتوري جوړښتونو ځانـګـړتیاووې.(۲)

په افغانستان کې اټکل له شلو میلیونو ډېـر پـښـتـــانـه استوګن دي، په میلیونونه نور پـښـتـــانـه په آزادو قبائیلو، پـښـتـونخوا او بلوچستان کې مېشت دي. د پـښـتـنـو د اصل نسب، د پـښـتـنـو د قومي ونې سټه، د پـښـتـنـو د قومي جوړښتونو د پرنسیب پر بنسټ او د دوی د توکمي اصل او نسب د پوهنې پر بنسټ، پـښـتـــانـه د زرګونو قـبـیـلـو، ټبرونو او ډلو له لارې یو په بل پسې په سلسله، له یوه ستر نیکه څخه سرچینه اخلي. له همدې امله پـښـتـــانـه د نړۍ یوه ستره لرغونې قبائیلي ټولنه ګڼل کـېـږي.

پـښـتـنـو د افغانیت خپل فکري تصورات، افکار او مفاهیم لکه ننګ، ناموس، غیرت، ویاړ، مـېـړانه، شجاعت، سرښندنه، د مبارزې ډولونه، جـګـړییزمورال، خپلواکي او نور کلتوري ارزښتونه د افغانستان له نورو لږکیو توکمونو سره هم ویشلي دي. د پخواني شوروي اتحاد د نیواک پر وړاندې او د خپلواکۍ د سپـېـڅـلـي جـګـړې او د جهاد پر مهال د افغانستان لږکي توکمونه په دې ونه توانیدل، لکه چې پـښـتـــانـه وتوانیدل، پـښـتـنـو په خپل اوږد تأریخ کې د افغانستان د خپلواکۍ د جګړو او مبارزو په بهیر کې د نیواکګرو او یرغلګرو پر وړاندې په پرله پسې توګـه له خپل ځان، له خپل شتون او له خپل توکمي افغاني ایډیالي انځور څخه په سیستماتیک ډول تر نن پورې ساتـنـه او دفاع کړې ده.

## له سرکښو جنګیالیو څخه یو دم د عالي او ممتاز جنګیالي جوړېدل

په نولسمه پېړۍ کې د انـګريـزانو نړېـواله امپراتوري او په شلمه پېړۍ کې د شوروي اتحاد کمونيستي امپراتوري يوازينۍ نـړېـوالې نيواکګرې او زبرځواکي امپراتورۍ نه وې چې غوښتل يې افغانستان خپله مستعمره وګرځـوي. د تأريخ پاڼـې په دې شاهدي ورکوي چې افغانان په دې توانـېدلي دي چې ښکيلاګر ځواکونه او نـړېـوالې امپراتورۍ دې ته اړباسي مخکې له دې چې دا ستر هېـواد مستعمره کړي خپل استعماري پلانونه له خونړيو ټپونو سره ټول او په کومه لار چې راغلي بېـرتـه ولاړ شي.

په نولسمه پـېړۍ کې د انـګريـزانو مسؤولو سياسي چارواکو، پوځـي کارپوهانو او همداسـې د انګريزانو اوسنيو معاصرو تأريخپوهانو او د برتانوي ښکيلاک شنونکو دا مسئله تر اوسه سمه تشريح نشواې کړاې چې څنګه په ډلو ډلو ويشلي سرکښه، بې نظمه، پـښـتــانــه جنګيالي په دې وتوانيدل چې ددوی نه ماتـېدونکی ځواک دړې وړې کړي. په افغانستان کې د پېـرنګي درې ځلې ماتې ددوی د ستروا‌کۍ لمنه ورټوله کړه. په ۱۸۴۲ز کال کې د افغان - انګليس په لومړۍ جګړه کې د بري او د پرمختګ پر لور روان د انـګريـز د نړېـوالې امپراتورۍ د ځواک مخه ونيول سوه. دا جګړه په لومړۍ ځل د انـګريـزانو په تأريخ کې په سخته تباه کوونکې او شرموونکي پوځي ماته باندې واوښتله. ښايي دا لاندې لاملونه وي چې دغه سرکښه، بې نظمه او خپلسري جنګيالي يو دم د انـګريـزانو په سترګو کې په ممتازو او عالي صفاتو ننګياليو او توريالیو جنګياليو باندې بدل شول، برتانوي شنونکو فکر کاوه چې افغانان به د مقدوني سکندر د سرتـېـرو اولاده وي. وروسته دوی دا ومنله که موږ ووايو، چې موږ ته په جګړه کې اصيلو آريايانو ماتې راکړې او موږ دوی ته جګړه وبايلله دا خبره به موږ (برتانويانو) ته په تأريخ کې لږ د شرم او خجالت وړ وګرځي.

ښاغلی ځـېـړنوال ليکي: سړی کولی شي د افغانانو دغه نه ماتيدونکي، نه لمنځه تلونکي او تلپاتې مـېـړانه، پت، ننګ، غيرت،سپـېـڅلـتيا، عالي او ښه خويونه د خپلو ځوانانو مخې ته د مخکښو انسانانو په څـېـړ کـېـږدي.

په ۵۸ ـ ۱۱۶ ز کال کې د روميانو د هغې زمانې نوموتي تأريخپوه، ليکوال او د روم سناتور ښاغلي تسيتوس کورنيليوس (Cornelius Tacitus) دا کار وکړو، کله چې جرمنانانو د جـګـړې په ډګـر کې پر روميانو باندې بري وموند، دغه تأريخپوه لږ موده وروسته د جرمنيانو د کرکټر په اړه وليکل، په نړۍ کې هـېـڅ کوم بل ولس ونشواې کړاې چې ځان د جرمنيانو په څـېـر په زړورتيا او وفاداري کې مخکښ وښيي.

په ۱۸۱۵ز کال کې نوموتي انـګريـز مورخ، افغان پـېـژندونکی الفنستون د افغانستان څـېـړندوی او محقق په خپل معيارې اثر کې د (افغانانو سياسي، ټولنيز نظم او ترون ) په نامه چې په خپل وخت کې زښت ډېـر لوستل شوي کتاب وو د پـښـتــنو او د پـښـتـنـي قـبـيـلـو سياسي او ټولنيز ګـډوډ حالت د سکاټلنديانو، يونانيانو او د روميانو له جمهوري غوښتونکو له قـبـيـلـو سره پرتله کړی دئ.

افغان شاعرانو او ليکوالانو هم په خپل وار سره له دغه علمي اثر څخه په خپلو ليکنو او څـېـړنو کې ستره ګټه اخـېـستي ده. دوی د افغانانو د ننګياليتوب، توريالیتوب، ممتازو او عالي صفاتو انځور ته، نور د مـېـړانې ښکلي رنګونه ورکړل. د الفنستون دغه کتاب د افغان روڼ- اندو په منځ کې يو ډېـر مشهور علمي اثر دئ. له بلې خوا اروپايي څـېـړونکو او ليکوالانو هم له دغه اثر څخه په خپلو څـېـړنو کې استفادې کړي او هڅې يې کړي دي دا تشريح کړي چې څنګه برتانويان په افغانستان کې له سترې شرموونکې پوځي ماتې سره مخامخ شول. د دې اثر له لارې د ختيځ او لويديځ څـېـړونکو تر منځ په خپلو کې د افغانانو د شخصيت د انځور او ايډيالونو په اړه يو ډېـر ښه کلتوري او د ادبي راکړې ورکړې کار پيل شو. افغانانو په ځانګړي ډول د سويل ختيځو سيمو پـښـتـنـو قـبـيـلـو خپل ايډيالونه

او د خپل شخصیت انځور په خپل دودیز عرفي قانون یا د پـښتـونولی په قانونغونډ کي مدغم یا ذوب کړی دئ.
لمنلیک:

۱. ښاغلي ځـپـړنوال ګلاتزار لیکي. ما ته شخصاً په خپله ښاغلي کریستیان زیګریسټ د افغانستان په اړه زما د لومړیو سیمه ییزو ځـپـړنو او پلټنو د تشویقولو لپاره مهم مالومات او لاسوندونه په لاس راکړل.

۲. زه (ځـپـړنوال) په دې باوري یم چي ما ته او ټولو پـښتـنـو ته دا خبره جوته او روښانه ده چي د پښتـونـولۍ پت، ننګ، سپـېڅلـتیا او انساني ارزښتونه په کلکه د وروستیو څو لسیزو له ظلمونو او وحشت او بربریت څخه ډکو جنګ جـګـړو سره په مخالفت او ټکر کي واقع دي. پـښتـونولي له اوسنیو جنګي او جنايي جرایمو سره هـېـڅ ډول تړاو نه لري.

۳. په ۱۹۷۶ کال کي ښاغلي کریستیان زیګرسټ په خپله د افغانستان د لویې پکتیا خوست ولایت ته تللی او هلته یې د نادرشاه کوټ په ولسوالي کي د ځدرانو له خانانو سره د غازي ببرک خان ځدراڼ د خانانو د کورنۍ له غړو سره د پـښتـونولۍ په اړه خبرې اترې کړي او د ځـپـړنو په چارو باندې بوخت لیدل سوی وو. په دغې لاندنۍ انټرنیټي پته کي د هغه یو انځور او د نومړي ۲ په آلماني ژبې لیکل سوې مرکې لوستلی شئ.

په دغه انځور کي په سپینو جامو کي له تـوپک سره ولاړل سړی په خپله جرمن ځـپـړنوال کرسیتان زیګرسټ دئ. د هغه ښۍ خوا ته ښاغلی شیر مـحـمـد خان ببرک زی ځدراڼ د غازي ببر ک خان ځدراڼ زوی ولاړل دئ، چا چي په /۱۶/ ۱۹۱۵ کال په کابل کي د جرمنانو له یوه تأریخي رسمي پلاوي سره لیدلي او پـېـژندګلوی یې ورسره درلوده او د خپل مـېلمه، مـېلمه پالنه یې ترسره کړې وه. د کرستیان زیګرسټ کیڼې خوا ته له وزیرستان څخه راغلی یو مشر مـېلمه، له خپلو دواړو زامنو سره ولاړ دئ. د غازي ببرک خان د کورنۍ غړو دغه ښکلي سپین کالي د خپل جرمن مـېلمه لپاره د پـښتـنـو د مـېلمه پالنې د اصولو له مخې جوړ کړي ول چي د وخت د ځانګړي کیفیت یا کوالیټي پـښتـنـي جامي یا کالي ول:
_4
[http://www.germananthropology.com/cms/media/uploads/4e53c31888fd9/interviewf06f3b397399.pdf](http://www.germananthropology.com/cms/media/uploads/4e53c31888fd9/interviewf06f3b397399.pdf)

۴ . دا لاندې د هغه کتاب نوم دئ چي ښاغلي پرفیسر ډاکټر زیګرسټ د پـښتـنـو او پـښتـونولۍ په اړه لیکلی دئ

Soziologie und Anthropologie 12

Die Pashtunen und ihre Bedeutung für regionale und internationale Konflikte von Robert Haag 1. Auflage

Die Pashtunen und ihre Bedeutung für regionale und internationale Konflikte – Haag

schnell und portofrei erhältlich bei beck-shop.de DIE

FACHBUCHHANDLUNG
Peter Lang 2012 Verlag C.H. Beck im Internet:

www.beck.de ISBN 978 3 631 62315 2

# لسمه برخه

## د افغانیت د بدل اخېستلو په کانسپټ کې د پښتون ولس د یو مخکښ ستر اتل عجب خان اپریدي حماسي کیسه

د پښتنو په کلیوالي سیمو کې د نجونو او هلکانو پالنه او روزنه په ډېره مینه او محبت ترسره کېږي. پښتانه ماشومان په کوم ځانګړي سختدریځه سیستم او یا اتوریتي چاپیریال کې نه روزل کېږي. د پښتنو په کورني چاپریال کې پلار د خپلو ماشومانو لپاره د یو مخکښ او ښه انسان رول لوبوي. پلار په کورني چاپیریال کې د یوې جزایي مرجع رول هم نه لوبوي. د پښتنو ماشومان او تنکي ځوانان اکثراً له لویانو سره په حجرو او دېرو کې ګډه ناسته پاځه لري. دوی همدلته په مرکو او جرګو کې له خپلو مشرانو څخه د پښتونولۍ ترمینالوژیک اساسات، اصول، نرخونه، د افغانیت ځانګړنې، په پښتون افغان ولس کې د منل شویو نورمونو او ارزښتونو بېلګې زده کوي.

دا یوه ښکاره خبره ده چې ماشومان له لویانو څخه زده کوي، پښتانه تنکي ځوانان هم له خپلو لویانو څخه زده کړه کوي چې یو ننګیالی، توریالی، غیرتمن، عزتمن، پتمن او قدرمن مسلمان پښتون افغان سړی څه ډول او په کومه کچه د اتلولۍ د ځانګړو ځانګړتیاو، عالي، ممتاز صفاتو او د عالي ارزښتونو خاوند وي. د پښتنو په کلیوالي پښتني تفکر کې د یوه توریالي، ننګیالي پښتون روزنه او پالنه له توري سره پیل کېږي. له همدې امله یو پښتون پلار دې ته اړ کېږي چې له خپلو زامنو سره چې د ۳ او ۱۱ کالو د عمر په منځ کې وي جګړیزې لوبې پیل کړي. د دوی په لوبو باندې د نورو تنکیو ځوانانو له خوا تبصرې او خبرې اترې هم کېږي. د کلي مشرې سپین سرې ښځې، د کلي مشران او سپین ږیري سړي په ډېرې مینه او دقت خپلو ماشومانو ته د پښتنو د نوموتو اتلانو کیسې وراوروي. د هغو اتلانو کیسې، چې دوی د پښتونولۍ اصول، نرخونه، نورمونه او ارزښتونه یې په خپل ژوند کې مراعات او پلي کړي وي او دوی د پښتونولۍ په ایډیالونو کې روزل شوي پښتانه وي لکه د پښتون عجب خان اپریدي کیسه؛ عجب خان د پښتنو افغانانو د ویاړلي اوږده تأریخ یوه ستره تأریخي حماسي څېره ده. د عجب خان اپریدي د مېړانې او اتلولۍ داستان نه یوازې د پښتنو په معاصرو حماسي ادبیاتو کې ځانګړی ځای لري بلکې د عجب خان حماسي کیسې د پښتونولۍ د اصولو او اتلولۍ کیسه په یوه ښکلې ښه بریالي پښتو فلم کې هم خلکو ته ښودل سوې ده.

جرمن څېړندوی ښاغلي برنت ګلاتزار لیکي، زه دلته پرته له معمول څخه چې د نړۍ په حماسي ادبي کیسو او په جګو ادبیاتو لیکل شویو ناولونو کې له منل شویو ادبي، شعري، ښکلا، پرداز ورکولو او ډیزاینونو څخه کار اخیستل کیږې ورتېرېږم. زه د عجب خان اپریدي تأریخي کیسه د یوه لکچر په څېر د تاسو درانه حضور ته وړاندې کوم.
د پېښور په سویل کې د کوهاټ د پوځي اډې په سیمه کې د انګریزي امپراتورۍ یوه تر ټولو ستره ټینګه او پخه پوځي اده ګڼل کېده. له همدغې پوځي اډې څخه د برتانوي امپراتورۍ سرتېري لسګونه کلونه د برتانوي هند او افغاني پولو یا سرحداتو په اوږدو کې د پښتنو قبائیلو د پاڅونونو پر وړاندې په جګړه کې بوخت وو.

په ۱۹۲۳ز کال کې د (بوستي خیلو) پر وړاندې د انګریزي امپراتورۍ پوځي عملیات پیل شول. بوستي خیل د کوهاټ په قبائیلي سیمه کې د اپریدیو د قبیلې یوه وړه څانګه ده. د پوځي عملیاتو په بهیر کې انګریزي سرتېري د بوستي خیلو د قبیلې کورونو ته ورننوتل. د پوځي عملیاتو په بهیر

کې انګریزي سرتیرې پښتنې ښځو ته ورننېړدې شوي ول چې په هر ډول ورننېړدې شوي ول هغه بېله خبره ده خو انګریزانو د عملیاتو په ترڅ کې د اپریدیو د بوستي خیلو د قبیلې بې ناموسي کړي وه. د پښتنو کورونو ته د انګریزي سرتیرو ننوتل او دغه ناوړه عمل ددې لامل سو چې د اپریدیو په قبیله کې د انګریزانو خلاف د پاڅون او د بدل چیغه خپره شي. څو اوونۍ وروسته د اپریدیو د بوستي خیلو قبیلې درې تنو ځوانانو یو عجب خان او د هغه دوه نورو نیږدې ملګرو، سر بیره پر دې چې د انګریزي افسرانو تر بنګلو او کورونو څو ټینګ امنیتي کمربندونه را تاو شوي هم ول، برید وکړ. د بوستي خیلو درې واړو ځوانانو د یوه انګریزي افسر لور د مولیس ایلي (Molly Ellis) په نامه له ځان سره تیرا ته یرغمل بوتله. په دغه برید کې درې واړه سړي بې له دې چې وپیژندل شي په تیښته هم بریالي کېږي، دوی له انګریزي پیغلې نجلۍ سره د اپریدیانو په سیمه کې د خوښۍ او خوشحالۍ ډزې کولې او ورسره د بدل اخیستلو لاریون یې ترسره کاوه. همماله په کوهاټ، ډهلي او لندن کې د پیښې په اړه بیړني ناستې یا کریځناستې راوبلل شوې. له یوې خوا په ګرده نړۍ کې د نړیوالو اخبارونو له لارې له یرغمل شوي ښځې سره خواخوږي ښودل کېدله، له بلې خوا به یې په ډېرو ملنډو، پیغور او له خوښیو ډکو جملو کې لیکل چې تر اوسه هېڅ چا د انګریز زمري غاښونه داسې نه وو ورمات کړي، لکه چې افغانانو ور مات کړل. د اپریدیانو پر سیمه باندې پوځي عملیات منع شوي ول، ځکه چې پوځي عملیات به د پیغلې نجلۍ ژوند او امنیت له جدي ګواښ سره مخامخ کړي. انګریزانو د (FCR) تور قانون له مخې اپریدي قبیلې ته د نجلۍ د یرغمل نیولو په اړه ډېرې سختې ډله ییزې او د بشریت ضد سزاګانې ور واورولې.

په همدې بهیر کې یوه بله روغتیاپاله انګریزه ښځه له وسله والو ساتونکو پرته په پښو د اپریدیانو سیمو ته ورغله. دغه انګریزه روغتیاپاله په دې وتوانیده چې له عجب خان سره ووینې او د یرغمل شوې نجلۍ بېرته خلاصون ته یې وهڅوي. کله چې مېرمن (Molly Ellis) په پښتنې ننګ، امن او عزت کې سمه سلامته، بې تکلیفه بېرته خپل کور ته راستنه شوه، انګریزانو له اپریدي قبیلې څخه د عجب خان د نیولو او دوی ته د ور تسلیمولو غوښتنه وکړه. ددې پیښې په اړه د اپریدیانو قومي جرګه له یوې ګرانې غوښتنې، پوښتنې او ګواښجن حالت سره مخامخ شوه. د عجب خان نیول او انګریزانو ته د هغه ورسپارل، داسې یو عمل د پښتونولۍ د قانون خلاف یو عمل دئ. اپریدیان پوهېدل او مجبور شوي ول چې د انګریزانو د انتقام یا غچ اخیستلو ګواښونه جدي ونیسي. ځکه په ۱۹۱۹ کال کې انګریزي جنګي الوتکو څو ځلې د پښتنو کلي او کورونه په ډېرې بیرحمې سره ډېر سخت بمباري کړي ول.

عجب خان د خپلو هېوادوالو په سترګو کې خپل مېړانتوب، ننګیالیتوب، بدل، د پښتنې اتلولۍ فرض او مسؤولیت اداء کړ، دی په خپله خوښه د افغانستان شمال ته کډوال سو.

په ۱۹۶۱ کال کې عجب خان په خپل طبعي مرګ مړ سو او په ډېر عزت او درنښت سره خاورو ته وسپارل شو. د افغانستان شمال ته د عجب خان تګ ددې لامل سو چې خپله قبیله او خپل ولس د انګریزانو له وېرونکو سزاګانو او جزائي پوځي عملیاتو څخه وژغوري. په دغه کیسه کې مهم ټکي په دې کې نغښتي دي چې عجب خان خپلې مېړانې، خپل ننګیالیتوب او غیرتمنتوب دې ته اړ کړ چې د خپل ژوندانه له ټولو خوږو، درنو، ګرانو او له خپلو ټولو ارزښتمنو شیانو څخه تېر شي تر څو خپل قام د دښمن له مرګونو ګواښونو څخه خوندي وساتي او یا یې وژغوري. دا لاندې هغه ارزښتونه دي چې هره پښتنې قبیله یې خپل هر یو مېړنې او اتل وګړي ته د ګواښ پر مهال په وړیا توګه ور ډالۍ کوي، لکه د سرخوندیتوب، ټولنیز امن، مادي او معنوي مرسته او ساتنه. کله چې د پښتنو د یوې قامي جرګې یا محکمې له خوا یو سړي ته د کډې بارولو امر وشي، یا کله د کلي یا د قبیلې د جرګې له خوا پریکړه وشي، چې دغه سړی دې نور له کلي څخه خپله کډه

بارکړي، دغه سزا د يو پـښـتـون په ژوند کې تر ټولو سخترينه او بدترينه سزا ګڼل کـېږي. د تعجب خبره دا ده چې عجب خان په خپله خپل ځان له يوې داسـې سختې سزا او جـزائـي حالت سره مخامخ کړ. په دغه دود پاله مـېـړنـي ويش پـښـتـون ځلمي کې دومره اخلاق، وجدان، ضمير، غيرت او جرئت موجود وو چې د خپل ولس د ولسي جرګې له پرېـکړي پرته په خپله خوښه کډه وکړي. دی په خپل دې عمل سره خپل ولس ته د خپل ژوند تر ټولوستره انساني قرباني ورکوي. د اپريديو قـبـيـلـه مجبوره شوه، انـګريـزانو ته د عجب خان د نه ور تسليمولو په بدل کې (4200) روپۍ ورکړي. پر دې برسيره انـګريـزانو د عجب خان کور او کلی له خاورې سره سم برابر کړ.

## د عجب خان د ډرماتيکې کيسې پای

په ۱۹۸۲ کال کې په پـښـتـو او پـښـتـنـو ټينګه ولاړه سپين سري مـېـرمـن (Ellis Molly) د پـېـښور ګـورنر په بلنه او بـدرګـې پـېـښور ته راغله. مـېـرمـن ايلس مولي له پـېـښور څخه د کوهاټ پر لور روانه شوه. د انـګريـزي مـېـرمـنـي د هر کلي په لاره کې په زرګونـه اپريديان او نور پـښـتـانـه د ښه راغلاست لپاره ولاړ ول.

د نړۍ تأريخ به د عجب خان کيسه د نمونې په ډول وليکي چې د پـښـتـنـو د ارزښتونو جـګـړې او مبارزې، د پـښـتـنـو د مـېـړانې او غيرت جـګـړې د پـښـتـونولی د توري او عقل پر کانسپټ باندې عملاً جامي واغوستې. پرته له شکه چې د انـګريـز کولونيالستي ځواک د اپريدي قـبـيـلـې ننګ، ناموس، شرم او د مـېـړانې احساس زښت ډېـر ژوبل کړی وو. که اپريدي قـبـيـلـې انـګريـزانو ته د خپلې بې آبۍ، بې عزتۍ په بدل کې يو داسـې سم حيرانونکې ځواب ورکړې نه واې، نو د ډېـرو پـښـتـنـو په سترګو کې به د اپريدي قـبـيـلـه له شرم، بې ننګۍ او بې عزتۍ سره مخامخ شوې وای. که اپريدي ځوانانو په همدغسې يو حيرانونـکي عمل لاس پـوري کړی نه واې نو د انـګريـزانو همدغه بې عزته ناړوه عمل به د اپريديانو او نورو پـښـتـنـو په سترګو کې له شرم او پيغوره ډک ناوړه چلند وای.

د اپريدي قـبـيـلـې له خوا انـګريـزانو ته سزا ورکول يو ناشوني کار وو، ځکه دوی په دې برخه کې د انـګريـزانو د ځواک په مقابل کې بالکل ناتوانه خلک ول. پـښـتـنـو ته يوازې همدغه يوه لاره پاتـې وه چې د پـښـتـونولی د بَـدَل اخـېـستلو په کانسپټ کې د يو په يو بدل واخلي. په پـښـتـنـه ټولنه کې شرم د کمزورې علامه ده، شرم کمزورۍ سرې غچ اخـېستلو ته هڅوي. کـېـدای شي شرم او کمزوري د بريدګر سړي د وژلو له لارې بير ته جبران شي. په ځينو مواردو کې دا هم کافي ده چې شرم او کمزوري د خنداني کولو له لارې ورته په يوه ټيټه بيه ورکړل شي.

په دغه قضيه کې (بوستي خيلو) خپله بې عزتي او شرم په يوه له غيرته ډک بري او وياړ باندې واړاوه، د (بوستي خيلو) دغه عمل د نورو پـښـتـنـو په سترګه کې ځکه يوه ځانګړې ځلانده پرکه ورکوونکې او ځلا ورکوونکي پېښه ده چې يوه سړي د خپلو دوو مـلـګـرو په مرسته د نړۍ يو ستر زبرځواک يا امپراتورۍ ته چلنيچ ورکړ. تر هر څه د مخه دغـې ځانګړې پېښې او انفرادي عمل نه يوازې يو پـښـتـون او د هغه قـبـيـلـې ته ستر بری او وياړ له ځانه سره راوړ، بلکې د دغې پېښې د وياړونو وړانګې پر درست پـښـتـون ولس باندې وځلولې.

ښايي د انـګريـزانو له خوا اپريدي قـبـيـلـې ته سزا ورکول ډېـر سخت او درانده عمليات احساس شوي وي، خو جرم ته په کـتـو سره د پـښـتـنـو په سترګو کې دغه سزا ډېـره لږ وه، ځکه د دوی عمليات د انـګريـزانو ټول شرم او ټوله بې ننګي يې نه شوه جبران کولی.

# د یوه پښتون د هلو ځلو او هڅو موخه خاني که قوماندانی ده

د پښتنو د مېړنتوب د ایډیالونو په انځور کې نه یوازې توره بلکې د عقلانیت یا د عقل شعوري عمل، وړتیا او ټولنیز مسؤولیتونه هم شتون لري. په خپله خوښه د عجب خان کډوالي یا کډه بارول دا ثابتوي چې د دغه پښتون سړي په شخصیت کې توره، عقل، شعوري وړتیا او ټولنیزو مسؤولیتونو عملاً یو ځای په ګډه اتفاق او عمل کړی دئ یا همدغه ارزښتناکه ارزښتونه په ده کې هم مهاله یو ځای شوي دي. په پښتنۍ ټولنه کې یوه پښتون د یوه داسې له ویاړ ډک عمل په تر سره کولو د خان د نوم یا د خاني د لقب د ګټلو لپاره مهم ارکان یا اصالتونه پر ځای کړي دي او له ده څخه اوس په افغاني ټولنه کې یو مېړنی خان سړی جوړیدای شي. دغه مېړنی خان سړی باید د یوې ستري او ژورې پوهې خاوند هم وي، دی باید شعوري وړتیا ولري، تر څو دی د شخړو پر مهال سمې پرېکړې او فیصلې وکړي. دی باید یو تکړه ویاند هم واوسي. دی باید د پښتونولی له منل شویو نورمونو او ارزښتونو څخه پالنه او ساتنه وکړي. دی باید په مېلمه پالنه کې ستر زړه او پراخ خلاص لاس ولري. دی باید اقتصادي بریالیتوبونه ولري. دی باید دې ته تیار او چمتو واوسي چې په خپلو بریاوو کې خپلو پلویانو ته، خپلو مېلمنو ته، د پناه او د خوندي ساتنې مستحقو کسانو ته خپله برخه ورکړي.

د خان خبره او د خان مشرتوب د سیمې په ټولو غوندو، مرکو، جرګو او د خیر ښیګڼې په چارو کې مهم رول، ارزښت او خپل ځانګړی وزن لري. خلک د خان خبرې اوري او مني یې، د خان واک او قدرت د ده د پلویانو په شمېر کې محاسبه کېږي؛ دا هغه خلک دي چې د ده په حجره کې تل دېره وي. دغه خلک بیا له ده سره د شخړو او دعوی ګانو د حل کولو په بهیر کې درېږي. خان د دې لپاره راغونډل کېږي چې شخړې ته نور د پای ټکی کېږدي، خلک خان د خپل استازي په نامه هر چېرې لېږي. خلک له خان څخه د عدالت، برابری او مساوات غوښتونوونکي دي، کله چې خان دغه وړتیاووې له لاسه ورکړي، دی نور د خان نوم یا لقب هم له لاسه ورکوي.

د افغانستان د تېرو جګړو په بهیر کې جنګي قوماندانو، خان شاتګ ته مجبور کړ، ځکه په افغاني ټولنه کې دفعتاً نویو راتوکېدلو مشرانو ته اړتیا پیدا شوه او دا هغه مهال وو چې له پاکستان، ایران او له ګردې نړی څخه راروانو وسلو، پیسو او خوراکي توکو ته لاره ومونده شوه. قوماندان مجبور ول چې د مقاومت د یوه تنظیم غړي شي تر څو سلاح او مهمات تر لاسه کړي. ځینو دودیزو خانانو دا نشوای کولای چې له هر چا څخه وسله واخلي یا یې تر لاسه کړي. دوی مجبور شول چې بهر ته ولاړ شي. له دې سره خانانو په ټولنه کې خپل ځای او موقف د را توکېدلو قوماندانو نوي نسل ته وسپارهٔ.

خلکو اکثراً قوماندان د خانانو په شان د خپلو لوړیتوبونو او غوښتنو لپاره وکارول. خلکو د قوماندانو جنګي تجربو، تکتیکونو، وړتیاوو او لوژیستیکي ځواک ته سرونه ټیټ کړ. هر مجاهد ځان د یو قوماندان کېدو په لاره کې لیده. قوماندان مجبور وو تل خپله وړتیا او بر لاسی خلکو ته ثابته کړي. د دوی پر سر بل کوم عمومي قوماندان نه وو چې د هغه پر اتوریتي باندې دی ډډه ولګول شي.

سړی کولي شي لږ په زغرده ووایي چې د افغان شوروي په جګړه کې هر مجاهد خپل یو ډول ځانګړی جهاد چلاوهٔ. په جګړه کې د پښتنو مجاهدینو د جګړو انفرادیت او دغه ډول د دواړ خواوو د پلان کوونکو (امریکا او پخواني شوروي اتحاد) لپاره یو ستر ستراتیژیک پرابلم وګرځېد چې ان د جګړې ځینې مرسته کوونکي، څېړونکي او شننونکي یې په خپلو شکونو کې حیران کړل.

ښاغلي برنت ګلاتزار وايي زما په اند، د مجاهدينو د بري لامل په دې کې نغښتي وو چې د مجاهدينو اکثره بې نظمه عمليات د دې لامل شول چې د مقابل لوري د جګړې متخصصين او د جګړې ستراتيجستانو ته ګرانه شوه، چې څنګه داسې خلک په جګړه کې مات کړي او يا درانه، سخت زيانونه ورواړوي، کله چې د مجاهدينو يو قوماندان په جګړه کې لمنځه تللو، نور به د هغه پر ځای د واښو په شان بېرته را شنه شول.

## شهادت او برياليتوب

پښتـانـه خپلـې پښتـونولۍ ته د يو ډول عملي اسلام په څېر ګوري. پښتـنـو خپل اسلام او اسلاميت ته خپل پښتـنـي افغاني رنګ، خوند او ډول ورکړی دئ. اوسمهال د افغانانو ملي هويت، د افغانانو افغانيت او اسلاميت دئ. دوی ته دا مهمه نه ده چې نور د دوی په اړه څه وايي، دوی پوهېږي چې نورو مسلمانو ولسونو هم اسلام ته خپل رنګ او خوند ورکړی دئ. کله چې وهابي سختدريزه عرب جنګيالي د جګړې لپاره افغانستان ته راغلل، دوی د پښتـنـو پر اسلام او مذهبـي کړو وړو باندې يې ګوتـنيـونې وکړې، دغه عرب وسله وال وهابي جنګيالي د پښتـنـو له ډېرو سختو خونړيو غبرګونو سره مخامخ شول. پښتـانـه دا دعوی لري چې دوی د لومړي ساعت او د لومړی ورځې له صادقو مسلمانانو څخه دي. [د پښتـنـو ستر نيکه قيس عبدالرشيد د اسلام مبين دين مستقيماً د پيغمير (ص) له مبارکو لاسونو څخه منلی دی. دا مهال اکثريت عربان د اسلام د سپېڅلي دين پر وړاندې په جګړه کې بوخت وو. (ايديت کوونکی د ليکوال له دې نظر سره موافق نه دئ. ځکه چط دا يوازې يو روايتي تأريخ دئ. – رحمت آريا.)

په افغانستان کې په رښتـني توګـه د پښتـونولۍ بنسټيز ارزښتونه لکه ننګ، غيرت، شرم او توريالیتوب د اسلام د سپېڅلي دين په چوپړ کې واقع شوي دي. په يو څه توپير سره، پښتـونولي په خپلو بنسټيزو ارزښتونو باندې لږ څه نور تاکيـد کوي. ځکه جګړه په اسلام کې يوازې د ايمان او اسلامي عقيدې د دفاع لپاره جواز لري، نه د فردي وياړ لپاره. پښتـانـه دا مني چې دا د اسلام مبارک دين دئ چې د دوی د ځوان نارينه کهول د طبقي جګړه ييزه روح او مورال يې په شعوري او عملي توګه د دوی خپلو تولنيزو مسؤوليتونو ته هم ورګرځولی دئ. (دا جمله له ليکوال څخه پيچلي سوې ده. ليکوال بايد دا جمله توضيح کړې وای او يا يې لنډه يا پراخه کړې وای. ما ورته بيرته واستوله خو ليکوال له پورتـني پارګراف څخه نيولې تر دوو نورو پاراګرفونو پورې يې بېرته راوستول. داسې ښکاري چې نوموړی زما په موخه نـهٔ دی پوه سوی. لکه د طبقي جګړه ييزه روح او مورال؟ يعنی اسلام د طبقاتي مبارزې دعوی هم کړې ده؟ رحمت آريا)

له ۱۹۷۹کال څخه راوروسته کله چې پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان باندې يرغل وکړ او د شورويانو د يرغل پر وړاندې د پښتـنـو په کليو او باندو کې د خپلواکۍ د جهاد اعلان وشو، د پښتـونولۍ ترمينالوژي او د پښتـونولي اصول د نويو رامنځته شويو اسلامي جنګي لغاتو په وجه قصداً له پامه وغورځول شول او په شا وتمبول شول. ځکه دا جګړه له پيله يوازې د پښتـنـو جګړه نه وه. په دغو پردېو او له ناورينونو ډکو جګړو کې د پنجابيانو، عربانو او نورو بهرنيانو لاسونه ول.

له همدې امله د افغانستان په جګړه کې نور د پښتـونولۍ د ننګياليو، توريالیو، غازيانو او د پښتـنـو د پښتـونولي د قومي اربکيانو له نوم څخه کار نه اخېستل کېده، بلکې د مجاهد له نومه کار اخېستل کېده، ځکه دی د اسلام لپاره جهاد کوي. له افغان کډوالو څخه د افغان نوم قصداً لېرې کړل شو او يوازې د مهاجرو نوم ورکول شو. پښتـانـه په دې پلمه تـېر ايستل شول چې هماغسې چې محمد (ص) مدينې ته هجرت وکړ نو هغو کسانو چې مهاجرينو ته ځای ورکړ هغوي ته د انصارو نوم

وکړل شو. څوک چې په سپېڅلـي جګړه کې ووژل شي، دی د ایمان او د اسلام د دین په لاره کې یو شهید دئ. دی بیا پرته له شکه له خپلو ګناهانو سره جنت ته ځي.

دې ته ورته پر نورو مذهبـي احساساتي هڅو سربېره پښتـانـه مجاهدین خپل ځانونه په مینه سره غازیان بولي یا یادوي خو پښتـانـه له خپل نوم سره د غازي نوم خوښوي، غازي په جګړه کې د یو بریالي جنګیالي نوم دئ، یو غازي د خپل وطن، ایمان او اسلامي عقیدې لپاره فتحې او فتوحات کوي. همدا وجه ده چې توره په خپله له یوه بریالي ګټونکي ویښ احساس سره یو ځای کېږي.

## د خبرو ټولیزه:

د ټولنپوهنې د پوهې په رڼا کې وڅېړل شوه چې پښتونولي د پښتـنو د شخصیت انځور له دننه څخه تفسیر او مانا کوي. ختیځ او سویل پښتـانـه په ځانګړي ډول پښتـونولي د خپل توکم د پېژندلو لپاره استعمالوي. په پښتـني ایدیالوژۍ کې توریالیتوب، زړورتیا، مبارزه او د اتلولۍ توره، د یو پښتـون د دودیز نارینتوب د شخصیت د انځور یو اړخ دئ. د دې په معادل یا په بل اړخ کې یو پښتـون ته عقلانیت، شعوري وړتیا او ټولنیز مسؤولیتونه ولاړ دي. لکه د یوې ټولنیزې موضوع په اړه د پرېکړې د وړتیا درلودل، په خپله ټولنه کې د سخاوت لوی لاس درلودل، د مېلمه مېلمه پالنه، یو محتاج سړي ته پناه ورکول او د هغه له سر او عزت څخه د خپل سر په بیه ساتنـه کول، دی باید د فکري استعداد او توان درلودونکي واوسي، د خپـلـې ټولنې په ټولو خصوصیاتو باندې پوره پوهه ولري، په شخړو او دعوی ګانو کې د یو عادل، منصف انسان په توګـه منځګړیتوب کول، د سولې او د خیرښېګڼې چارو ته له خپل جیبه پېسې او بسپنه ورکول، د خپلو خلکو د هوساینې او سوله مل ژوند لپاره هڅې او د خپلو ګرانو وګړو د مادي ژوند او مادیاتو غم خوړل دي. په همدې ترتیب د پښتـونولی د تورې او عقل په کانسپټ کې پوهه او تجربه خپله ستره ونډه لري، چې کله او څنګه توره ایستل کېږي او کله باید سوله وشي.

پښتـونولي د ختیځو او سویلي پښتـنو لپاره د سوله ییزو خبرو اترو او د یو بل د زغملو کلتوري لار ده. افغانیت د پښتـنو د سیاسي او ټولنیزو شخړو په حل او فصل کې د عدم تشدد معقوله او سمه لار ده. پښتـانـه له پښتـونولي څخه د ژوندانه په ښوونه او روزنه کې، په خپلو منل شویو حقوقي نورمونو، معیارونو او ارزښتونو کې کار اخلي. پښتـونولي د پښتـنو د ټولنیزو کړکېچونو په حلولو کې د حل لارښوونکي کرښه او منل شوې دودیزه قاعده ده.

پښتـونولي د افغانانو لپاره د پردیو یرغلګرو کلتورنو په مقابل کې یوه دفاعي کرښه ده. پښتـونولي د یوه سوله غوښتونکي یا بې وسلې مېلمه لپاره یوه دعوتنامه یا بلنلیک دئ. مېلمه پالنه د سپېڅلـي پښتـونولۍ د خیرښېګڼېو د چارو په لیست کې له نورو ټولو ارزښتونو څخه پاس ځای لري. مېلمه پال پښتـون د مېلمه د مېلمه پالنې لپاره خپل ځان تر وروستي کچې پورې په مادي او معنوي برخه کې تاواني کوي. پښتـونولي د هر پردي او اجنبي دښمن او د هر یرغلګر پوځ د وېرولو لپاره او دوی ته د ګوتـڅـنـدنـې یا اخطار ورکو لپاره یو ه ځواکمنه علامه ده.

نن نه یوازې د افغانانو په ښارونو کې بلکه په کلیو او باندو کې پښتـنـي کلتور او پښتـنـي افغاني ټولنه ډېره سخته ژوبله او ویجاړه شوې ده. د ډېرو پښتـنو کورنی اړیکي له خپـلـې ستې او ټبر سره پرېک شوي دي. ځینې پښتـنـي کورنۍ د خپلواکۍ له سپېڅلـي جـګړې څخه وروسته تر اوسه بېرتـه خپلو قبائیلي دودیزو سیمو ته ستـنې شوې نه دي. دوی په لارو کې د غلو، لارې شکوونکو او ناپېژندل شویو وسله والو له خوا لوټ او چور شوي. د یو مخفي پلان له مخې په بې شمېرو دینې مدرسو کې له ځینو پښتـنـو څخه نوي سختدریځه اسلامپال جوړ شول. د جنګسالارنو د جنګ، جګړو انګیزې او اعمال د پښتـنـو او د پښتـونولۍ له دودیزو کړو وړو سره هېڅ ډول تړاو نه لري.

جنګسالاران د خپلو شخصي ګټو، واک او ځواک لپاره جنګېدلي خلک دي، ډېري جنګسالاران د بهرنیو دښمنو هېـوادونو د انټرست یا لیوالتیاو لپاره وجنګېدل، دغو هېـوادونو غوښتل په افغانستان کې خپل واک د وسلو، پیسو او پروپاګندې له لارې نور غښتلی کړي. په همدې بهیر کې داسې ښکاري چې انفرادیت یا فردي خپلواکي، د پښتـونولۍ د ارزښتونو او نورمونو په چوکاټ کې په یوه ډېره لوړه یا جګه بیه را لویه شوي او رامنځته شوي ده. د پښتـنـو افغانانو دا ګران بیه انفرادي خپلواکي اوسمهال د لمنځه تللو په حال کې ده، ښاغلي زیګریسټ یې هم تائیدوي چې که د پښتـنـو دغې انفرادي خپلواکۍ ته پام ونـشي د دې ارزښـتـونونو د لمنځه تللو مخنیوی نور ګران شوی دئ.

سرچینه: لوموند ډیپلوماتیک د سویس اونیز اخبار
Le Monde diplomatique
WOZ Die Wochenzeitung

Do you speak Pashtunwali,? Mr. Bush
لیکوال: ښاغلی ویرنر شایرر او مېـرمـن ویرنـه توبلر

# یوولسمه برخه
# د طالبانو د رژیم وچ کلک سختدریځه قانون او اخلاقي اصول له اسلام پرته نورې ریـښې هم لري!
### د نړېوالو او سیمه ییزوالو ترمنځ یوه ستره کنډ

زه چې تر نن ورځې پورې ژوندۍ پاتـې شوي یمه، لامل یې دا دئ چې زه تازه پوهـېدلې ومه « کله چې یو څوک یو پـښتـون مشر ته پناه وروړي، هغه مجبور دئ، د پناه وړونکي له ژوند او عزت څخه په خوندي توګه ساتـنـه وکړي. ان که نـنـواتـې وروړونکی انسان د هغه د سر دښمن هم وي ».

د سویسي د اوونیزې مشر دا خبره په داسې مهال لیکي چې ټولې نړۍ له طالبانو څخه د اسامه بن لادن د ژوندي یا مړ ورسپارلو غوښتنه کوله. زموږ د سویسي اوونیزې د ټولو کارکوونکو پام د دغـې ښځې دې لیک ته ور واوښت.

د سویس د (ځیـوغیـښ) ښار اوسـېدونکې یوې سویسي ښځې ادعا وکړه او موږ ته یې لیکلي چې د پښتـنـو د مېلمه پالنې قانون لا تر اوسه ژوندی پاتې دئ. زه د پښتـنـو د مـېلمه پالنې قانون، د پناه ورکولو حق یا د نـنـواتـې له قانون څخه منندویه یم، ځکه زه تر اوسه د همدې قانون له امله ژوندۍ پاتې شوي یمه!



موږ (د اونیزې مشر) غواړو او هڅه کوو په دې اړه له دغـې ښځې څخه نور مالومات تر لاسه کړو. دغې ښځې موږ ته د پښتـنـي کلتور، د پښتـونولی د قانون د ځینو دودونو، اصولو او اساساتو د تشریح کولو هڅه وکړه.

سویسي مېرمن موږ ته وویل، کـېدای شي چې « بن لادن په ترهګریزو برېدونو کې ښکېل وي، خو طالبانو ته د مېلمه پالنې او د پناه وروړونکي سړي حقوق ډېر سپېڅلـي دي. کله چې طالبانو د امریکا له متحده ایالاتو څخه د بن لادن له ورسپارلو څخه د مخه د هغه د جرم په اړه ثبوت وغوښتل، د سویسي مېرمن په اند د دوی دغه غوښتنه له نړېوالو قوانینو سره مطابقت یا سمون درلود!» کله چې د لیک لیکوونکې مـېرمـن توبلر زموږ سره د لیدني او کتـنـې پر مهال له پټانانو یا افغانانو سره د خپلو شخصي تجربو کیسې کولې، هـغـې دې موضوع ته هم اشاره وکړه چې مخکې تر دې د شمالي اتلانتیک د پیوستون پکت یا تړون په دې اړه عملاً لاس په کار شي اصلاً ناټو دغه غوښتنه له طالبانو څخه کړې وه.

سویسي لیکواله مـېرمـن توبلر ویرنه (Tobler Verena) یوه توکمپوهه او د ټولنپوهنې مشاوره ده. له پښتـنـو سره د هـغـې لومړنی پـېژندګلوي او تجربه په پښتـونخوا کې په اتیایمو کلونو کې تر

سره شوې ده. مېرمـن توبلر د افغان کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ او د The) Word Food Programm (WFP)لخوا د کویټې په سیمه کې پر دغه دنده ګومارل شوې وه. هغه له یوې بلې دندې څخه له بنګله دیش د (UNHCR) څخه دلته راغلې وه. دغه مېرمـن دفعتاً دلته په کویټه کې حیرانه پاتــې شوه، هغې ډېر ژر احساس وکړ چې دلته له یو بل ډول مقرراتو سره مخامخ شوې ده. لکه په کویټه کې پښتــانـه بې وسلې شوي نه ول، د پښتـنـو د کډوالو پنډغاړي، له پولې څخه پنځوس کیلومتره لـېـري واټن کې ځای پر ځای شوي نه ول، لکه څنګه چې په بنګله دیش کې د برما د هېـواد له کډوالو سره داسـې چلند شوی وو. افغان کډوال ان د خوراکي توکو د ویشلو لپاره هم نه شمارل کېـدل، یوازې د کډوالو د کمپونو له مشرانو څخه به پوښتنه کېـده چې په خپل کمپ کې څومره کسان لري.

په دې ډول به افغان کډوالو ته خوراکي توکي ویشل کېـدل. ربښتیا خبره دا وه چې افغان کډوالو ته د خوراکي توکو لـېږد یو ډول موډلي یا نمایشي عملیات ول چې سیاسي موخې په بشري مرستو کې نغښتل شوې وې.

د ملګرو ملتونو د (UNHCR –Progremm) اصلي مرسته کونکی هېـواد د امریکا متحده ایالات وو. دا مهال په سیمه کې زښتو ډېرو او بې شمېـرو شخصي مرستندویو موسسو په دغه پروګـرام کې فعاله برخه درلوده. په لویدیځه نړۍ کې له افغان ولس سره د خواخوږۍ له امله او د شوروي اتحاد د یرغلګر پوځ پر وړاندې د دوی د مېـړني مقاومت لپاره په ډېرې بېــړې مرستې راټولیدلې. له افغان کډوالو سره پر مرستو سربېـره افغان مجاهدینو ته د وسلو مرستې او افغان جنګیالیو ته د ترنینګ روزنځایونه هم جوړ شوي ول. له ټولې اسلامي نړۍ څخه خپلسري آزاد جنګیالي د سپېڅلي جهاد لپاره د پاکستاني استخباراتو او امریکایي مشاورینو تر سترګو لاندې په جهاد کې بوخت ول.

په دې اړه د ښاغلي Selig S.Harrison یوه بله لیکنه د لوماند ډیپلوماتیک په ورځپانه کې لوستلې شي.
دلته نه یوازې سي ای ای په خپلو چارو کې ډېـره بوخته وه، بلکې د امریکې Drug Enforcemt) ( Agencyهم خپل شتون درلود. دا مهال د سرو زرو په نیمه سپوږمۍ کې ( ژباړن؛ د لویدیځ په رسنیو او سیاسي نقشو کې د پښـتـنـو سیمو ته د سرو زرو نیمه میاشت ویل کېـږي) د هیروهینو کارو بار او قاچاق خپلې وروستۍ جګې کچې ته رسېـدلی وو.

کله چې مېـرمـن توبلر ویرینه ( Verena Tobler) غوښتـل وپوهېـږي، په کمپونو کې په رښتیني توګـه څومره کډوالو شتون لري او یا د څومره کډوالو مسؤولیت د هغې پر غاړه دئ نو مېـرمـن توبلر ته له لـېـري داسي برېښـېـد چې دلته په کمپونو کې کوم بل ډول چل ول روان دئ. کله چې هغې په یوه کمپ کې د کډوالو شمېـر او د خوراکي توکو اندازه له یو بل سره پرتله کړه نو د کمپ د مشر مـحـمـد ګل رنګ تک زېـړ یا زښت ډېر زېـړ شو او د بدل اخېستلو قسم یې واخیست. که څه هم له مېـرمـن توبلر او د ملګرو ملتونو له ټولو چارواکو سره په قبائیلي سیمه کې د تګ راتګ پر مهال وسله وال ساتونکي مل ول خو بیاهم مېـرمـن توبلر تر څو اوونیو پورې ځان ته د ګواښ احساس کاوه. یوه شپه په ربښتیا سره یو تعقیب کوونکی سړی د هـغـې خیمې ته ځان ور ورساوه. کله چې د مېـرمـن توبلر ویده ساتونکي له خوبه راویښ شول او چیغه ګـډه شوه، مېـرمـن توبلر وايي، ما هغه سړی چې مخ یې پټ وه، وپـېـژند او وپوهـېـدم، چې دا مخپټي سړی چا رالـېـږلی دئ.

مېـرمـن توبلر خـپـلــې کیسي ته داوم ورکوي او وايي. زه پوهـېـدم، چې زه د وژلو په لیسټ کې یم، هغې د دې خبرو د ویلو پر مهال له زړه نه خندل، هغې ویل، لنډه دا چې زه پوهـېـدم چې په هر ځای کې له ګواښ سره مخامخ یم. له دې سره هممهاله مېـرمـنـي توبلر ورو ورو زده کړل چې ځان په

هغه سیمه کې ډادمن او خوندي احساسولي شي، دا هغه ځای وو چې د هغې د وژلو امر ورکړل شوی وو؛ مېرمن توبلر مستقیماً د محمد ګل تر اغېزې لاندې سیمې ته بیول کېږي، محمد ګل تل له مسکا ډکه څېره لري، سویسي مېرمن د محمد ګل د اغېزې په سیمه کې د مېلمه په توګه استوګنه غوره کوي او له دې لارې ځان له مرګ څخه ژغوري، او محمد ګل ته پناه وروړي او مصؤنیت ترلاسه کوي. محمد ګل په ورین تندي مېرمن توبلر ته به خپله سیمه کې پنا ورکوي، محمد ګل په خپله ددې ښځې د سر او امن ساتنـه کوله او دی په خپله مجبور کېږي چې د مېرمن توبلر د بېرته تګ پر مهال د خپلې مېلمنی بدرګه هم وکړي.

دا د مېرمن توبلر خپله شخصي تجربه او کیسه وه، چې دې د پښتنو د پښتونولۍ، د مېلمه پالنې او ننواتې یا د پناه اخېستلو حقوق په خپله تجربه کړی دئ.

مېرمن توبلر وروسته بیا په سویس کې د توکمپوهنې په پوهنځي کې د پښتنو د حقوقي سیستم « پښتـونولی» په اړه لوړې زده کړې ترسره کړې، هغې د دې موضوع په اړه ډېرې ژورې علمي لیکنې ولیکلې.

مېرمن توبلر په ۱۹۹۹ ز کال کې د «طالبان وپېژنئ، له بنسټپالو، دودپالو سره ګـټورې خبرې اترې او چار چلند زده کړئ » په نامـه یوه اغېزناکه هراړ خیزه حقوقي لیکنه ولیکله. میرمېن توبلر دا جګړه د نړېوالو پر وړاندې د سیمه ییزو جګړه وبلله. توبلر د خپلې دغې ادعا لپاره د امریکې له (Seattle) څخه د سویس تر جینوا ښاره پورې لاړه او راغله.

د دغې سویسي مېرمنې په اند، د نن ورځې د جګړه ییز او خونړي کړکېچ منځ - زړی په همدغې موضوع کې نغښتی دئ. دا جګړه د نړېوالو پر وړاندې یوه سیمه ییز جګړه ده.

د نړېوال اقتصاد په مرکز کې ټولنیزې چارې د کسب او کار رانیونه یا د کار په موندلو کې تنظیم شوې دي او یا په ټولنه کې په مناسب ډول د ټولنیز رول لوبول، ټول په دندو او پیسو باندې را څرخي. د خیر ښېګڼې او د ټولنیزې هوساینې او رفاه یو دولت د خپلو بوډاګانو ، د خپلو ناروغانو او د ټولنې په څنډو کې د اوسېدونکو وګړو پالنه کوي او د هغوید هوساینې لپاره روغتیایي خدمات هم وړاندې کوي. د دولت نور ارګانونه او مؤسسات د خپلو وګړو امنیت خوندي کوي او د خپلو وګړو حقوق د قانون په چوکاټ کې تضمینوي. همداسې د ښوونې او روزنې چارې د ځانګړو مسلکي خلکو په ګومارلو سره تر سره کېږي. دولت خپلو په دندو ګومارل شویو کارکوونکو یا مأمورینو ته د کار په بدل کې معاش ورکوي.

نن هم په ټوله نړۍ کې او د نړېوال اقتصاد په څنډو یا حاشیو کې د بشریت یوه ستره برخه خلک ژوند لري. دوی ته په هېڅ ډول د ژوند کولو د لومړنیو آسانتیاو چانس نه ورکول کېږي. دغو بې وزلو خلکو ته په دغه مادي نړېوال اقتصاد کې هېڅ برخه نه ورکول کېږي یا د خپلو بالکل ځانګړو ټولنیزو نورمونو، ارزښتونو، دود دستور د درلودلو په پار له دغه غوړیدلي نړېوال اقتصاد سره نه وصل کېږي.

مېرمن توبلر په پښتنـه ټولنه او د پښتنو په قبائیلي قانون کې د یوې نوې ټولنې یوه بیساري بېلګه موندلې چې په هغې کې ټولنیزې مرکزي چارې د نن ورځې له نوې مدرنې ټولنې څخه مخکې په پرمختللي ډول په کې تنظیم شوې دي، په پښتنـه ټولنه کې د مسؤولیت تر سره کول او یا مسؤولیت اخېستل د پیسو په بدل کې نه مجرا کېږي، بلکې د ننګ، غیرت، عزت، شان شوکت او انساني حیثیت له لارې محاسبه او حق الزحمه ورکول کېږي. څوک چې په ټولنه کې خپلو مسؤولیتونو ته پام نه کوي او یا ورسره بې پروایي کوي او یا خپل مسؤولیتونه بالکل هېروي، هغه ته شرم دئ،

هغه له شرم سره مخامخ کېږي، هغه سړی له افغاني ټولنې څخه د ویستلو په سزا او مجازات محکوم کېږي.

پښتـانـه افغانان په نړۍ کې د ننګ، غیرت او شرم یو لرغوني کمربند دئ، نن د نړۍ د ننګ او شرم د کمربند په سیمه کې د نړۍ ستره طبیعي زیرمې پرتې دي. د کانونو پر طبیعي زیرمو باندې او د سیمې د تولیداتو پر حاصلاتو (کوکنار) باندې ډېره سخته خونړي جګړه روانه ده.

مېرمن توبلر د جګړو یو لامل په همدغو یاد شویو توکو کې ویني، هغه لیکي چې ولې موږ ته تل له سویلي منځی بحیرې یا د مدیترانې له سمندر څخه تر پاکستانه په دې سیمو کې تل یو زړه بوږنونکې جګړه ییز ښکاره کېدونکې موراړ بر لاسی بریښي. ولې په دغو سیمو کې مرکزي دولتي حاکمیت تل کمزوري پاتې شوی دئ. هغه زیاتوي چې کله د ځمکو، اوبو، زیرمو، د طبیعي زیرمو او د خلکو له کمښت څخه د دفاع مسئله رامنځ ته کېږي، د نورو شیانو په پرتلې د طبیعي زیرمو د ساتنـې او امنیت دندې پرنور دندو باندې برلاسه کېږي. په تأریخي لحاظ د یادو شویو توکو ساتنـه او د امنیتي چارو دنده نارینه وو ته ور سپارل کېږي.

مېرمن توبلر ته دا هم یو لامل ښکاري چې ولې په پښتـنـي ټولنه کې د پښتـنـو د ښځینه او نارینه جنسیت د اړیکو ترمنځ جوت بېلوالی او یا یو ستر توپیر شتون لري. په اصل کې دغو یادو شویو توکو او اړیکو د پښتنې ښځې او نارینه پښتـون تر منځ په ټولنیزو چارو کې جوت ویش رامنځ ته کړی دئ. له همدې امله هر ننګیالی پټان یا پښتـون له ځان سره وسله ګرځـوي. په همدې ترتیب سره د جګړو پرمهال د یو ننګیالي جنګیالي او بې وسلې یا ملکي سړي ترمنځ توپیر، یوه ګرانه چار ګرځي. یوۀ ننګیالي پښتـون افغان نارینه ته دوې چارې لومړیتوب لري، لومړی یو ننګیالی باید د کمزورو، بې وسو خلکو ساتنـه وکړي، لکه د ښځو، ماشومانو او په ټولنه کې د بې وسلو خلکو یا د ټولو کاسبینو او ورهڼګرو د حقوقو ساتنـه وکړي. دویم باید د خپلې وسلې د استعمال په اړه سمه پوهه او مالومات ولري. تر څو دی له خپلې خور، مور او لور، خپلې کورنۍ او خپل ولس څخه، له خپلې ځمکې څخه، له خپل عزت، غیرت، ناموس او له پلرنـي هېـواد څخه په مېړانه دفاع وکړي.

د نـړېـوالو او سیمه ییزوالو د ټکر لامل چې اوسمهال نړۍ آرامه ساه اخـېستلو ته نه پرېږدي، په همدې ټکي کې نغښتی دئ، دواړه جنګي غاړې له یو بل څخه سم پوهاوې نه لري او پر یو بل باندې بې باوره شوي دي. د دغـې نا برابرۍ او بې عدالتۍ بنسټ په کبر او بې ځایه غرور باندې ولاړ دئ. که موږ د لویدیځ د تـنـدر ؟ (ایدیټ کوونکی) پخوانی زماني وڅـېړو، په کې د کاتولیکانو انسان وژنه، د کوډ ګـرو ښځو سوځول یا ستې کول او د ښکېلاکګـرو لښکرو ظلمونه وینو، دوی خپل ځانونه له نورو ولسونو څخه په پوهه کې بهتره ګڼل. دوی له پردیو انسانانو سره او د دوی له کلتورنو سره لکه د ځنګلونو د ځنډو په څـېـر بې مانا او بې تفاوته چلند کړی دئ. دغه پردي خلک دوی ته بې تمدنه، مسخره او ټیټ خلک ښکارېـدل، له دوی سره به یې غیر انساني چلند کاوه، دغه پردي خلک به دوی ته د ځناورو او خونخوارو انسانانو په شان برېښـېـدل. د مـېـرمـن توبلر څـېـړنیزې چارې او پوهنیزې لیکنې پر دې ټکي را څرخي چې باید د نورو خلکو حقوق او د نورو خلکو خپلو تصور شویو نورمونو او معیارنو ته باید درنښت وشي؛ دغه مـېـرمـن موږ ته زموږ خپل پخواني زماني حالات او خپل پیدایښ را په یاد وي.

موږ له کله په لویدیځ کې د رفاه یا د ټولنیز دولت بنسټ رامنځ ته کړی دئ. موږ د خپلو خپلوانو د خپلوۍ له اړیکي څخه ووتلو، په ټولنه کې د جنسیت له اړخه یا د ښځې او نارینه رول زموږ د هر چا په خپله خوښه شوی دئ. د نسلونو رول خړپړ شوی دئ. په همدغه بهیر کې د کسب او کار رول قانوني شوی او له یوې ځانګړې طبقې سره تړل شوی دئ. پر دې سـربـېـره زموږ بنسټیزې اړتیاوې ډېـرې لیرې او په نـړېـوال اقتصاد کې باید پوره شي. زموږ

دغه بنسټيزې اړتياوې د سيمه ييز والو د سيمو له زيرمو څخه په مستقيم ډول د دودپالو په نسلونو کې بايد تر سره شي. د سيمه ييزوالو په ټولنه کې د ښځينه او نارينه وو جنسيت رول ته سم نه کتل کېږي، دوی بايد موږ ته زموږ اړينې اړتياوې په خپل انساني او حيواني مټو او زور تر سره شي.

له بل لوري د پښتـنـو د مورال خورا مهم بنسټيز اساسات په لاندې ارزښتونو باندې ولاړ دي. پښتـنـو ته وينه تر اوبو ټينگه ده، ته بايد د خپل پلار او مور درناوي وکړي، د يو هوډمن پښتـون سړي د شخصيت انځور بايد له اتلولۍ څخه يو ډک انځور وي، ښځه بايد ماشوم وزېږوي، د هغه پالنه او روزنه وکړي. د دوی د ښځينه او نارينه جنسيت ته ځانگړي بېلې دندې ور په غاړه دي. په پښـتـنـه ټولنه کې کله چې يو څوک خپل مسؤوليت ادا کړي او خپل وگړنيز رول په ټولنه کې ولوبوي، دواړو شخصيتونو ته که ښځينه او نارينه وي، په گډه او مساويانه توگـه د ولس له خوا ننگ، غيرت او درنښت ډالۍ کېږي. کله چې يو شخص په عام محضر کې په خپلو مسؤوليتونو کې ناکام شي، دی بيا له ستر شرم سره مخامخ کېږي. په ځينو حالاتو کې دی په مرگ هم محکوم کېږي.

د مېـرمـن توبلر په اند د طالبانو په حقوقي سيستم کې نه يوازې اسلامي شريعت شتون لري بلکې په ښکاره ډول د پـښـتـنـو د حقوقي نورمونو تصورات او مورال هم ليدل کېږي. د دوی د بدل په پرنسيپ کې يعنې سترگه د سترگې په بدل کې، غاښ د غاښ په بدل کې او همداسـې په نورو مواردو کې چې ټولنيز تړون يا نرخ مات کړل شي د پښتـنـو دغه دوديزه قانون پلی کېږي.

د پښتـونولی اصول دا ټکی تعينوي چې څوک په کومو حالاتو کې بايد سزا ووينې، څوک کله او له کوم جرم څخه خلاص دئ، له چا څخه بايد ساتـنـه وشي او چاته بايد د مرگ سزا واورول شي او يا دی کومي بلې مرجع او يا بلې سترې جرگه يا مرکې ته ودرېـدی شي.

مېـرمـن توبلر د خپلو څېـړنو په پايله کې په دې خبرې ټينگار کوي او دا خبره جوتوي چې د مورال په اړه يوه سمه پرېـکنده فيصله بايد د هماغو خلکو د ژوندانه له موثقو شرايطو سره تر سره شي. د خلکو په اړه بايد سيمه ييزې زېـرمې وڅـېـړل، وپېـژندل او ومنل شي. دا هغه زيرمې دي چې پر بنسټ يې د سيمې خلک خپل ورځنی ژوند او راکړه ورکړه ترسره کوي.

کله چې په ټولنه کې پخواني ټولمنلي تصورات، ارزښتونه، نورمونه، دودونه، نرخونه او رواجونه له منځه ولاړل شي او پر ځای يې د ټولنې په اقتصادي بنسټونو کې بنسټيز بدلونونه رانشي پرته له دې نور که هر څه تهمتونه دي، تکبر او تکفيرول دي او له دې سره يو ډول امپرياليستي مورال ته لاره خلاصول دي، دا لار به موږ ټول له يو بل ستر ناورين سره مخامخ کړي.

کله چې مېرمن توبلر په پاکستان کې افغان کډوالو ته مرستې ويشلې نو په خپل وخت کې يې هم اوسنيو بنسټيزو ستونزو ته اشاره کړې ده. هغه وايي چې د پټانانو يا افغانانو ټولنه له نوي مډرن پير څخه مخکې په منظم ډول تنظيم او رامنځ ته شوي ده، دوی ته بايد په يو مناسب ډول د خوراکې توکو مرستې وويشل شي، چې دوی له سترې فاجعه سره مخامخ نه شي. مـېـرمـن توبلر بيا په ټينگار سره وايي، لکه څنگه چې اوس حالات همداسـې روان دي، که څوک غواړي، ځان ناشونې يا ناممکنه وښيي، دی بايد يوه مناسبه خبره د خدای په لاره کې د نابلل شويو جنگياليو په اړه هم وکړي. په همدې وجه مـېـرمـن توبلر پر دې خبرې باندې هم تينگـار کوي او وايي، ما تل د ښځو د سختو حالاتو او حقونو په اړه خپل غږ پورته کړی دئ که موږ دغه دواړه خبرې په ايډيالي توگه ومنو او يا په سختدريځې کې يې تکفير کړو، دا عمل به زموږ په لاره کې يو ستر خنډ وگرځي، کله چې موږ غواړو په دغه ستونزه باندې ځان په سمه او ريښتنې توگـه پوهه کړو.

پښتــانـه افغانان يا پټانان د افغانستان په گڼ ـ توکميزه هـېـواد کې تر ټولو ستر توکم دئ. په دېـرو علمي څـېـړنيزو سرچينو کې پـښـتــانـه د افغانستان له ۵۵ څخه تر ۶۵ سلنی پـورې ښودل شوي دي.

آزاد پښتـانـه قبائیل د افغانستان او پښتـونخوا ترمنځ استوګن دي. اکثریت پښتـانـه طالبان د کندهار له شاوخوا سیمو څخه دي.

## دولسمه برخه

# د پښتـونـولۍ د مرکو، ملي جرګو، لویو جرګو سیاسي او حقوقي کانسپټ

په افغانستان کې اسلامیت او افغانیت نه یوازې د هر افغان وګړي ملي هویت دئ، بلکې افغانستان او افغانان په نړۍ کې د افغانیت او اسلامیت په نامه پېـژندل کېـږي. هېـڅ څوک نشي کولی افغانان له خپلو ملي لرغونو ارزښـتـونو څخه پردي کړي. لر او بر افغانان پر خپل عزیز اسلام مین او پر خپل ملي هویت افغانیت باندې ویاړي. اسلام او اسلامیت، افغان او افغانیت د افغان ستر ملت د ملي ارزښتونو ایډیولوژیک بنسټ اېښودلی دئ. له همدې امله د یو خپلواک افغان په پېـژند پاڼه کې باید د افغان او اسلام دوې ښکلې کلمې لیکل شوې وي.



افغانستان په نړۍ کې یوازینی هېـواد دئ چې د پښتـونـولۍ د مرکو، جرګو او لویو جرګو ارزښتمن دودونه، سیاسي ارزښتونه او حقوقي نورمونه په ملي او دولتي کچه په کې له لرغونو زمانو څخه تر اوسه پورې شتون لري. افغانستان په نړۍ کې د لویو جرګو، مرکو او د سوله ییزو خبرو اترو یوه پېنځه زره کلنه زړه تأریخي پخه کلا بلل کېـږي.

د افغانستان په اوږده رسمي سیاسي تأریخ کې لویې جرګې د ملي دولت، یوې معتبرې دولتي مرجع او ملي موسسې ته وده کړې ده. لویه جرګه په نړۍ کې د پښـتـنـو افغانانو یوه بریالۍ عالي سیاسي ملي موسسه پېـژندل شوې ده. ځکه لویې جرګې د افغانستان په لرغوني او معاصرې دولتي فلسفې کې خپلې ژورې ریښې لري او د افغانانو په سیاسي دولتي تأریخ او د افغانانو په ملي فکرونو کې خپل ځانګړی ځای، اهمیت او قدامت لري. لویه جرګه د افغانانو یو تر ټولو ستر عالي او ارزښتمن ولسواکه ارګان دئ. د افغانستان په اساسي قوانینو کې لویه جرګه د افغان وګړو د سیاسي ارادې د تمثیلولو یو تر ټولو ستر عالي مظهر پېـژندل شوی ده. جرګه، قبائیلي لرغوني ایډیالونه او سیمه ییز قانوني فکرونه د نن ورځې په ولسواکه نرخ کې مجسموي، جرګه په افغاني ټولنه کې د ټولنیز عدالت او د حقوقي بېـلانس یا توازن ساتلو لپاره راغوښتل کېـږي. لویې جرګې د بیان د آزادۍ، د خبرو اترو او د یو بل د زغملو ستر لرغونی افغاني کلتور دئ. لویو جرګو د افغان ملت هویت او د افغانانو

د ملي دولتونو حقوقي بنسټ ایښودلی دئ، له شک پرته چي لويه جرګه يوه پښتـنـي قبائـيلي لرغوني ولسواکي ده. افغانانو ته د لويو جرګو پرېـکړې او فيصلې د يوه ځانګړي، لرغوني قبائـيلي پارلمان د پرېـکړې په څـېـر د درنښت وړ پرېـکړې دي. لويو جرګو د افغانستان د کورني او بهرني سياست په اړوندو مسائـلو کې مهمې پرېـکړې ترسره کړي دي. له همدې کبله د لويې جرګې په اړه په نړېـواله کچه په مختـلـفو ژبو يو شمېـر پوهنيزې څـېـړنيزې پلټنې تر سره شوې دي. د افغانستان د دولتي رسمي ملي تأريخ په څـېـړنو کې د لويې جرګې مانا او د لويې جرګې د سياسي کانسپټي مفهوم نن د ټولي نړۍ په هرې يوې سياسي پوهنيزې تحليلي څـېـړنه کې، د نړۍ په هرې يوې پوهنتوني اکاډيميکه علمي ليکنه کې او د افغانستان د تأريخ په اړه د نـړېـوالو په سياسي، تأريخي، حقوقي، دولتي او علمي کتابونو کې د افغانانو د يوۀ لرغونـي ځانـګړي قبائـيلي پارلمان په توګـه پـېـژندل شوې ده. نن نه يوازې افغانان، افغان ځواکمن واکمن مشران او افغان ملي تأريخپوهان د لويې جرګې په اسطوروي پېژندنه، وده او سمون کې مهم رول لوبوي، بلکې د لويديځ سياستوال، د لويديځ پوهنتوني څـېـړنيز مرکزونه او د لويديځې نړۍ د ډله ييزو رسنـېـو پام هم ورته شوی دئ چي د لويې جرګې په منځ زړي کې د زړې او لرغوني استازې ـ ولسواکۍ اساسات، او د يوې ربښتـني دوديزې قبائـيلي پارلماني موسسې معيارونه شته دي. نړېـوال په دې پوهېږي چي په نړۍ کې د افغان ملت اسطوروي هويت او د معاصر افغانستان بنسټ د يوې معتبرې مرجع، يوې عالي موسسې يعنې د لويې جرګې له خوا ايښودل شوی دئ.

په يوويشتمه پـېـړۍ کې دغه پـښتـنـي لرغوني قبائـيلي پارلمنټ د افغانانو د قانوني ملي دولت، دولتي حاکميت، قانونيت، سياسي او ټولنيزو ملي مسائـلو حل په يوه ساده او روښانه افغاني بڼه کې د سوله ييزو خبرو اترو او د ملي پرېکړو له لارې د ټول هـېـواد په ګټه هواره وي.

پارلمان يو زوړ فرانسوي توری دئ. د (perler) مانا خبرې کولو ته ويل کـېـږي، پارلمان يوه لويديځواله ښکارنده ده. همداسـې لويه جرګه يوه افغاني ښکارنده ده. په لويې جرګې کې هم په يو خاص پارلماني نظم او يو ځانګړي افغاني ميکانيزم کې خبرې اترې ترسره کـېـږي. معمولاً پارلمان ته د ولس منتخب استازي ورپـېـژندل کـېـږي. نن په نړۍ کې ډېـرو نورو سياسي غونډو يا ملي اجتماعاتو ته هم پارلمان ويل کـېـږي. د پارلمان غړي منتخب يا نا منتخب استازي هم کـېـدای شي. لويه جرګه د يوې محدودې مودې لپاره، د يوې ټاکلې مهمې ملي موضوع او يا د يوې ملي ربړې د حل لپاره د پاچا يا د ولسمشر له خوا راغوښتل کـېـږي، تر څو د هـېـواد مخور تجربه لرونکي مشران، خانان، ملکان، ديني علما او د اغـېـزې خاوندان سره سلا مشورې او خبرې اترې وکړي، په همدې بنسټ لويه جرګه د افغانانو د يو ځانګړي لرغوني پارلمنټ په څـېـر راغوښتل کـېـږي.

په وروستيو دريو پـېـړيـو کې افغانستان ته په کورنۍ او بهرنۍ سياست کې د ورپـېـښو شويو ستونزو او نـړېـوالو کړکـېـچونو له امله، د زبرځواکو يرغلګرو هـېـوادونو پر وړاندې د ملي مقاومت او پاڅون د پرېـکړي له کبله، د افغان ملت د ملي هويت د ساتلو له کبله، د افغانستان ملي دولتونو ته د مشروعيت ورکولو له کبله، د اساسي قوانينو د تصويب له کبله او د نورو لويو حقوقي، ټولنيزو ملي مسايلو د حل او فصل لپاره لويې جرګې رابلل شوي دي.

جرګه د افغاني ټولنې د ځانګړو ملي ارزښتونو يو ملي ميراثي ارزښت دئ. د لويې جرګې پرېکړې ټولو افغانانو ته د منلو او اعتبار وړ دي، ځکه لويې جرګې ته د افغانستان له هر ټبره، هر قوم، هرې طبقې او هرې سيمې څخه استازي په يوه درنده عنعنوي بڼه کې د افغانستان او افغان ملت د برخليک د ټاکلو لپاره راغونډېږي. جرګوال پوهېږي چي په لويه جرګې کې د ټول افغان ولس د آزادې ارادې تمثيل کـېـږي او د دوی مشروع غوښتـنـې اوريدل کـېـږي او د جرګې خبرې اترې تر هغو دوام کوي تر څو د جرګې پرېـکړې يا فيصلې ټولو جرګوالو ته د منلو وړ وګرځي.

د افغاني ټولنې په تأریخ کې لویه جرګه د ملي یووالي یوه اغېزمنه بریالۍ وسیله ده چې د تأریخ په اوږدو کې یې پر افغان ملت او پښتنې ټولنه باندې ډېرې ژورې ټولنیزې، روحي او رواني اغېزې درلودلې دي. لنډه دا چې په وروستیو درېو پېړیو کې لویو جرګو د افغانستان په ملي او نړېوالو ستونزو کې خورا مهم رول لوبولی دئ.

## لویو جرګو د افغانستان د ملي دولتونو او د افغان ملت د ملي تأریخ د فلسفي بنسټ ایښودلی دئ

د جرګو تأریخ له چینایي مدنیتونو سره تړاو لري. کله چې د چین په لرغوني مدنیت کې یوه شخړه یا لانجه رامنځته کېده نو شخړو ته به خامخا د جرګې له لیارې د حل لاره موندل کېدله.

د جرګو لنډ تأریخي شالید او تأریخي اسنادو او څېړنو ته د کتنو پر بنسټ دا جوتېږي، چې د لرغوني افغانستان آریایي اوسېدونکو خپل لومړنی پاچا یما د جرګې له لارې خپل ټولواک ټاکلی وو. جرګې د آریایانو له زمانو څخه زموږ په سپېڅلي هېواد کې دود لري؛ د باختریانو په عصر کې جرګې د سبها او سیمتي جرګو په نوم شتون درلود. له همدې امله لویو جرګو له لرغونو زمانو د افغانانو د ستونزو په حل او فصل کې خورا مهم رول او اهمیت درلودلی دئ. د پښتنو تأریخ او پښتني ژوند ژواک د پښتونولۍ په فلسفي جرګو، مرکو او د سوله ییزو خبرواترو پر بنسټ ایښودل شوی دئ.

په ۱۵۷۰ کال کې د پیر روښان په مشرۍ یوه لویه جرګه جوړه شوه، په دغه جرګه کې د مغلو د امپراتورۍ پر وړاندې د وسله وال مقاومت او ملي پاڅون پرېکړه وشوه. دا مهال د یوسفزیو او د خټکو د قبیلو دعوی او شخړه د کابل او لاهور ترمنځ د ورېښمو د لارې د کنټرول پر سر باندې راولاړه شوې وه.

دا لانجه د همدې جرګې له خوا د یوې پرېکړې په ترڅ کې په سوله ییز ډول حل او فصل شوه. خټکو او یوسفزیو قبیلو د افغان ملت د ملي تأریخ، د افغان ملت د ملي یووالي د مفکورې او د افغان ملت د هویت د ساتلو په لاره کې بیساری ستر مخکښ رول لوبولی دئ. تأریخ شاهد دئ چې دغو دوو پښتنې قبیلو د پښتنو د خپلواکۍ او یووالي په لاره کې د توري پر مټ هم نه هېرېدونکې مبارزې کړې دي. ښه بېلګه یې د نامتو فلسفي شاعر ستر خوشحال خان خټک بابا ده، خټک بابا درې سوه کله مخکې واړه پښتانه له اټکه تر کندهاره یووالي ته رابللي دي، ننګیالي او توریالي خټک بابا خپل ټول ژوند د پښتنو افغانانو د ننګ، عزت، غیرت، یووالي، بقا ارتقا او لوړتیا په لاره کې تېر کړی دئ.

ستر خوشحال خان خټک لیکي:

بې جرګې نه به هېڅ کار په لاس وانخلي،
که خبر وي د جرګې په برکت

لویې جرګې نه یوازې د غزنویانو، درانیانو د امپراتورۍ بنسټ ایښودلی دئ، بلکې د معاصر افغانستان د ملي دولتونو بنسټ یې هم ایښودلی دئ.

د افغانانو په لرغوني تأریخ کې تر ټولو مهمې برخلیک ټاکونکې او ډېر د پام وړ ربنتونې لویې جرګې د میرویس خان نیکه او د احمد شاه بابا په مشرۍ د لویې جرګو جوړېدل دي، دغه لویې جرګې

د حکومتونو له خوا نه دي رابلل شوي، بلکې د وخت او زمان د اړتیاوو او تقاضا له امله په ملي ولسي ویښ ابتکار سره رامنځته شوي دي. دغو لویو جرګو په نړۍ کې د افغان ملي دولتونو او د افغاني امپراتوریو بنسټ ایښودلو ته لار هواره کړی ده، دغو جرګو په نړۍ کې د افغان ملت شتون او د افغان ملت هویت په بیرته را ژوندي کولو کې مهم رول لوبولی دئ.

لویې جرګې په اتلسمه پېړۍ کې د صفویانو پر ضد د افغانانو په ملي پاڅون کې هم مهم رول لوبولی دئ. میرویس نیکه لومړنی غلجی وو چې ابدالي قبائیل او بیا یې ټول افغان ولس یې د جرګو له لارې یووالي ته راوبلل کړل. میرویس نیکه ته د افغان د خپلواکۍ او بري لاره مالومه وه، ده په مکې معظمه کې د عربو له دیني علماوو څخه فتوا تر لاسه کړه. میرویس نیکه لومړنۍ جرګه په کوکرانو کې را وغوښتله او افغانانو ته یې د حجاز فتوا واوروله. په دویمه جرګه کې میرویس خان هوتک د پاڅون مشر وټاکل شو او جرګوالو د خپلواکۍ اعلان وکړو. میرویس خان د افغانانو ملي احساسات د خپلواکۍ په جهاد کې سره یو ځای کړل. که څه هم د میرویس نیکه د قیادت مشري او د خپلواکۍ هڅې لنډې وې، خو هغه د افغانانو د ملي خپلواکۍ، ملي دولت او د ملي حاکمیت د بنسټ ډېره کیښودله، میرویس خان افغانان د قبیلویت پر ځای قومیت ته رابللي دي او یو ویښ خپلواک افغان ملت ته یې لاره هواره کړي ده. له همدې ورځې څخه تر ننه هره پښتنه او هر افغان په افغانیت او افغان وَلۍ باندې ویاړي.

په ۱۷۰۹ کال کې د حاجی میرویس خان نیکه په مشرۍ د مانجې په سیمه کې یوه بله تأریخي لویه جرګه جوړه شوه. په دغه جرګه کې پرېکړه وشوه چې په افغانستان کې باید د ګرګین د ظالمې واکمنې او د یرغل ټغر نور ټول شي. له حاجي میرویس خان نیکه څخه وروسته بیا لوی احمد خان د ده نیمګړی ارمان چې د یو خپلواک افغان ملي دولت جوړول ول پوره کړ.

د ۱۷۴۷ کال په اکتوبر میاشت کې د کندهار په شیر سرخ کې یوې لویې جرګې له نهو ورځو خبرو اترو وروسته د لوی احمدشا بابا پر سر باندې د غنمو وږی کښېښود او د لوی افغانستان د ستر ټولواک په توګه وټاکل شو. دغه لویه جرګه د غلزیو، پوپلزیو، نورزیو، سدوزیو، اسحاقزیو او نورو مخورو پښتنو قبیلو په مشرۍ رابلل شوي وه. هرې پښتنې قبیلې د احمد خان لویې جرګه ته په رښتني توګه د پښتونولۍ له دود سره سم د خپل ټبر واقعي او رښتني استازي ور لېږلي ول.

په ۱۲۹۰ کال کې د افغانستان د بهرني سیاست په تړاو په لومړي ځل کله چې د جرمني د دویم ویلهام یو پلاوی کابل ته راغی او د افغانستان له ټولواک څخه یې په لومړۍ نړېواله جګړه کې د انګریزانو او روسانو د برخې اخېستلو غوښتنه وکړه، افغانستان د یوې لوی جرګې په رابللو سره پرېکړه وکړه او په لومړۍ نړېواله جګړه کې خپل بې پرېتوب اعلان کړ.

د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال څلور لویې جرګې جوړې شوې دي. لومړۍ یې په ۱۹۲۰ کال په جلال اباد کې جوړه شوې ده، دې لویې جرګې افغانان د خپل د سپېڅلي هېواد د خپلواکۍ ساتنې لپاره ته چمتو کړل.

د ریفومونو او نوښتونو ویاړلي پاچا غازي امان الله خان ډېره هڅه وکړه، چې د جرګو له لارې په افغانستان کې د قانون د حاکمیت بنستیزه ډېره کېږدي.

د اماني عصر د ۱۹۲۸ کال په لویه جرګه کې د افغانستان ملي بیرغ درې رنګه تور، سور او زرغون رنګونه تثبیت شول، له همدې سره د لویې جرګې له خوا د افغانستان د ملي بشکلي بیرغ او علامه یا دولتي نشان پرېکړه وشوه. د افغان ملت درې رنګه بیرغ د افغانستان درې واړه پېرونه یا دورې لرغونی پیر، منځنی پېړۍ او معاصر عصر تمثیلوي.

په ۱۳۳۴ کال لويه جرگه د پښتونستان د مسئلې په تړاو را وغوښتل شوه. که څه هم په دې تړاو له دې مخکې د سفربرۍ اعلان هم شوی وو، د افغانانو لويې جرگې پرېکړه وکړه چې د پښتنو ستونزه د ټولو افغانانو گډه ستونزه ده او د افغانستان شاهي دولت د ډيورنډلاين کرښه په رسميت نه پېژني او د لر او بر يو افغان شعار د هر رښتني افغان په خوله کې را پورته شو.

په ۱۹۴۱ کال کې بيا هم د افغانانو لويې جرگې په نړېواله دويمه جگړه کې د افغانستان نه گډون اعلان کړ.
لويو جرگو د لوی افغانستان په رسمي تأريخ او د افغان ملت په معاصر ملي سياسي تأريخ او د افغانانو د ملي دولتونو په حقوقي مشروعيت کې بنسټيزه ونډه درلودلې ده، لويه جرگه د افغانانو دولتي، سياسي او ټولنيز کلتور يوه نه بېلدونکي برخه گرځېدلې ده. د لويې جرگې ښکارنده او د لويې جرگې اسطوروي سياسي اغېزې په آسانه نه شي تشريح کېدای، چې څنگه افغان څواکمنو پاچاهانو يعنې له لومړني ستر ټولواک اعليحضرت احمد شاه بابا څخه تر وروستي افغان پاچا اعليحضرت محمد ظاهرشاه د ملت بابا پورې او بيا ښې اړخو، کين اړخو ولسمشرانو، دولتمشرانو او ولسواکو دولتونو د دريو پېړيو په اوږدو کې د لويې جرگې له څواک او اغېزې څخه د يوې قانوني مشروع مرجع په توگه گټه اخېستې ده. افغان دولتمشرانو د لويې جرگې له لارې خپل دولتي واک ته قانوني مشروعيت ورکړی او له همدې لارې يې د افغان دولتي حاکميت د واک ستنې په سوله ييزه توگه قانوناً په افغان ولس کې ټينگې کړې دي. افغان ملي دولتونو تل خپلو ملي مهمو سياسي پرېکړو ته د لويې جرگې له لورې مشروعيت ورکړې دئ او ملي دولت له همدې لارې خپلو وگړو ته د عامه پوهاوي لار خلاصه کړې ده. له ليرې پرتو کليوالي سيمو او ولسواليو څخه لويې جرگې ته راغلي ولسي استازي چې کله له کابله بېرته خپلو سيمو ته ستنېږي، د مرکزي حکومت دولتي سياسي پرېکړې او پيغامونه له ځانه سره خپلو سيمو ته لېږدوي.

د لويې جرگې په اړه په نړېواله کچه څېړنو، پلټنو او ارزښتمندو مالوماتو تر اوسه دا ښوولې چې لويې جرگې په نړۍ کې د خپلو تأريخي برياليتوبونو او برياو په لړ کې د افغانانو يوازينۍ خپله عنعنوي سياسي مؤسسه ده چې نړېوالو ته افغان سياست په نړېواله کچه په روښانه توگه او ژوندۍ پارلماني بڼه وړاندې کوي.

د افغانستان په سياسي تأريخ کې لويه جرگه ورو ورو د افغان دولتي درې گونو څواکونو له پاسه يو ستر مهم عالي ممتاز حقوقي ارگان يا څواک ته وده کړې ده.

لويې جرگې په افغاني ټولنه کې څو اړخيزې اغېزې لري، لويو جرگو د تأريخ په اوږدو کې يو دولتي سياسي ارگان ته وده کړې ده، لويه جرگه نه يوازې د افغانانو د ډول ډول اندونو، فکرونو، کړکېچونو، شخړو او دعوی گانو لپاره يوه ځانگړې افغاني د حل لار ده، بلکې د افغاني ټولنې مختلف قشرونه او گوندونه په يو ځانگړي دروند ډيپلوماتيک دود او په افغانستان کې د بېلابېلو سيمو د اوسېدونکو لړه کې په ډېر عزت او درنښت سره د افغان ملت يووالي ته رابللي دي.

په ټوليزه توگه د افغانستان په تأريخ کې افغان دولتونو هېڅکله د دې توان نه دئ درلودلې چې دولتي مرکزي اداره او دولتي واک او څواک د يوې وسيلې په څېر په ولسونو، قومونو کې او لېرې پرتو کليوالي سيمو کې نصب کړي، له همدې امله لويه جرگه د مرکزي حکومت او د هېواد د لېرې پرتو سيمو د ولسونو ترمنځ د واټن را کمولو يوه ښه بريالۍ وسيله ده.

په عمومي توگه په افغانستان کې نېږدې هر قوم يا هر ټبر خپله جرگه يا شورا لري. افغان ملي دولت له قومي جرگو سره نيغ په نيغه تړاو لري. له همدې کبله په افغانستان کې ملي دولت د جرگې دولت دئ. افغان دولتونو لويه جرگه د يو ملي سياسي ارگان په څېر په اساسي قانون کې تعريف کړی

دئ،.تر څو له یوې خوا د ولسي مخورو مشرانو، خانانو، ملکانو، کلیوالي مشرانو او له بلې خوا د مرکزي حکومت ترمنځ یو ډول د اعتماد، اعتبار او باور فضا رامنځته شي، له بلې خوا لویې جرګې دي چې د افغان حکومت او افغان ولس ترمنځ واټن رالنډوي، ورسره هممهاله افغان دولت د ولس له ولسي استازوڅخه خپل مشروعیت ترلاسه کوي.

# د پـښـتـونـولی د لويې جرګې تعريف، جوړېـدل، څرنـګوالی او ټرمينالوژيـک ارزښت

جرګې او مرکې د پـښـتـنـي لرغوني ټولني یو ولسواک اصل او یوه غوره نمونه ده. پـښـتـانـه پرته له حکومتي شتون او دولتي محاکمو څخه خپلې خپلمنځي ستونزې او حقوقي لانجې د جرګو له لیارې هواروي. پـښـتـانـه، جرګه او مرکه د پـښـتـونـولی یو ستر بنسټ او کانسپټ ګـڼـي.

لویه جرګه د افغانستان د ملي ټرمینالوژیو یو مهم عنصرمنل شوی دئ. افغانانو له خپلو جرګو او مرکو څخه د یو ملي میراث په توګـه تر ننه پورې په خوندي توګـه ساتـنـه کړې ده. لويې جرګې په تأریخي لحاظ افغاني ټولنه کې د خپلې لرغونتیا له امله ژورې ریښې لري او د افغانانو په فکرونو، ملي دودونو او عنعناتو کې تر ټولو ستر اهمیت او ځای لري.

افغانانو د خپل لرغوني تأريخ په اوږدو کې تر ننه په بېلابېلو پړاوونو کې د خپلو ملي او سیاسي موخو لپاره تل ملي او لویې جرګې رابللي او جوړې کړې دي. پر جرګو باندې د تأريخ په بېلا بېلو پړاوونو کې بېلابېل نومونه ایښودل شوي او لویې جرګې بېلابېلې بڼې هم غوره کړي دي.

جرګه هغې غونډې ته ویل کـېـږي چې په محلي، سیمه ییز، ملي او نـړيـوالـه کچه د پرېکړو صلاحیت ولري او جرګه د خپلو پرېکړو د پلي کولو واک هم ولري یا د قضیې په اړه د رابلل شوې غونډې حکم ټولو ته د منلو وړ وي. د جرګې کلمه په بـېـلابـېـلو ژبو کې په بـېـلا بـېـلو ماناوو تعریف شوې ده، د پـښـتـنـو په تأریخ او د پـښـتـونـولی په فلسفه کې جرګه یوه مانا او یو مفهوم لري. جرګه د قبائـيلي سپین ږیرو، تجربه لرونکو او مخورو قومي مشرانو غونډې او جرګې ته ویل کـېـږي، چې د بـېـلابـېـلو مسایلو د حل لپاره رابلل شوې وي. دا ډول جرګې د تأریخ په اوږدو کې د پـښـتـنـو په ټولنه او د پـښـتـنـو په کلیوالي سیمو کې په دایروي شکل جوړې شوې دي. د پـښـتـنـو په قبائـيلو کې د جرګې پرېکړې باید عملي شي، مخالفت او سرغړونکي ته ډېرې ناوړه پایلې هم لرلې شي.

د افغانستان په اساسي قوانینو کې لویې جرګې ته یو فصل ځانګړی شوی دئ، د جرګو او لویو جرګو تعریف، د جرګو د غړو جوړښت، اختیارونه، د جوړېـدو څرنګوالی، د جرګو نور اصول او مقررات په کې تثبیت شوي دي او د افغانستان نـبـږدې ټول اساسي قوانین د لویو جرګو له لارې تصویب شوي دي.

لویه جرګه د پاچا یا ولسمشر له خوارابلل کـېـږي، ترڅو د هـېـواد په کچه مهم ملي مسایل، د ملي پوښتـنـو او ملي ستونزو په اړه یوه ټولمنلي ملي روغه او پرېکړه وشي کړای.

لویه جرګه هغه مهال راغوښتل کـېـږي، کله چې په هـېـواد کې ملي مسایل، ملي سیاسي مهمې پرېـکړې او د ملي کړکـېـچونو د حل خبره مطرح شي.

جرګه د پـښـتـنـو د راټولـېـدني او ناستي یو دودیز ډول دئ چې په کې مشر او کشر نشته، د جرګې ګـډونوال ټول مساوي حقوق لري. پـښـتـانـه جرګه د خپلمنځي شخړو او د رامنځته شوي کړکـېـچ د سوله ییزحل په اړوند، د یوې مناسبې پرېـکړې لپاره راغواړي.

مرکه یوې ورې سیمه ییزې جرګې ته ویل کېږي، مرکه په کلي کې د ورو ورو شخړو او لانجو د حلولو لپاره جوړېږي، جرګه یوه هر اړخیزه خپلواکه مرجع یا ارګان دئ، چې د کور، کلي، سیمې، ټبر، ملي مسایلو او نړېوالو چارو د کړکېچونو په کچه باندې پرېکړې او عمل کوي. د جرګې پرېکړې د ټولو افغانانو له خوا منل کېږي. په دودیزه توګه د هرې جرګې دنده، صلاحیت، د عمل کچه او واکونه مالوم وي. لکه مرکه، کلیوالي جرګه، قومي جرګه یا سیمه ییزه جرګه، ملي جرګه یا د لویو جرګه د رابللو موخې او واکونه مالوم دي.

د پښتنو په هره سیمه کې د جرګو او مرکو تجربه لرونکي قومي مشران مالوم او پېژندل شوي وي. په جرګه کې ټول جرګه وال مساوي حقوق او امتیاز لري. د جرګو په بهیر کې هېڅ افغان له بل افغان څخه د برترې د نه لرلو له پرنسیب څخه کار اخېستل کېږي. جرګه کې هر څوک کولی شي په خپل وار سره په اړوندو موضوعاتو باندې په آزاده توګه خبرې اترې وکړي.

د افغانستان له اساسي قانون سره سم لویه جرګه هغه مهال رابلل کېږي کله چې د هېواد خپلواکي، ملي حاکمیت، ځمکنی بشپړتیا او د هېواد په سترو ملي مسایلو باندې پرېکړه کېږي. د لویې جرګې بحثونه علني او سري هم دایرېداي شي.

د افغانستان د ۱۳۴۳ لمریز اساسي قانون د لویې جرګې پر تعریف سربېره د جرګې د غړو جوړښت، واکونه او د جوړېدو څرنګوالی په یوه ځانګړي فصل کې تعریف کړی دئ.د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې په شپږم فصل کې یوسلو لسمه او یو اولسمه ماده کې لویه جرګه په لاندې ډول تعریف شوې ده.

لویه جرګه د افغانستان د خلکو د ارادې ترټولو ستر مظهر دئ، لویه جرګه، د ملي شوری یا ملي جرګې له غړیو، د ولایتونو او ولسوالیو د جرګو له رئیسانو څخه جوړېږي. وزیران، د سترې محکمې رئیس او غړي کولی شي د لویې جرګې په غونډو کې بې له دې چې د رایې ورکولو حق ولري، ګډون کوي. د اساسي قانون په یو سلو یوولسمه ماده کې راغلي چې لویه جرګه په لاندنیو حالاتو کې جوړېږي، د هېواد د خپلواکی، ملي حاکمیت، ځمکنی بشپړتیا او په سترو مصلحتونو پورې د اړوندو چارو په باب پرېکړه کېږي.

له ۱۳۴۳ لمریز کال څخه راپه دېخوا د پښتونولی د جرګو کانسپټ ته رسماً په اساسي قانون کې ځای ورکړل شوی دئ. ولسي جرګې او د مشرانو جرګې رسماً د ملي شورا پر ځای په ملي جرګه نومول شوي دي.

د ۱۳۵۵ لمریز کال اساسي قانون (د شورا) کلمه د پارلمان له نامه څخه لېري او د هېواد په رسمي ژبو پښتو او دري کې ورته ملي جرګه وویل شول.

په لویې جرګې کې انتخابي او انتصابي غړي ګډون کولي شي، کله چې د افغانستان ولسي جرګه یا د پارلمان د استازو غړیتوب انحلال شي، بیا د نوې ولسي جرګې یا د پارلمان تر جوړېدو پورې د لویې جرګې غړي د ولسي جرګې یا پارلمان استازیتوب کوي. په یو ټوپیر سره، چې د لویې جرګې غړي د ولسي جرګې د غړو په څېر قانوني مصؤنیت نلري.

لویه جرګه د پاچا ییا ولسمشر له خوا راغوښتل کېږي. لویه جرګه د کال په کوم معیین وخت کې نه راغوښتل کېږي، لویه جرګه له جوړېدو او د پرېکړې له صادرولو څخه وروسته بېرته منحله کېږي. لویې جرګې تر اوسه د سیاسي واک په مرکز یا پلازمېنه کې لکه د افغانانو په لومړنی

پلازمینې کندهار، دویمې پلازمینې کابل، د اماني دورې د واک مرکز ننګرهار او پغمان کې رابللې شوې دي. تر اوسه هېڅ کومه لویه جرګه له هېواد څخه بهر نه ده جوړه شوې.

## دیارلسمه برخه
## د افغانستان د ملي دولتونو په دولتي فلسفي کانسپټ کې د افغان ملي هویت، د جرګو، مرکو او اساسي قوانینو ارزښت

د افغانستان په دولتي فلسفې کې او د افغانانو په حقوقي، سیاسي، دولتي سیستم کې اسلامیت او افغانیت د هر افغان وګړي ملي هویت پېژندل شوی دئ. له همدې امله افغانستان او افغان ملت په نړۍ کې د افغانیت او اسلامیت په نامه پېژندل کېږي. د افغان نوم د افغان دولتونو په دولتي فلسفي او د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ د افغان ملت پر هر وګړي یا تبعه باندې که هغه افغان پښتـون، افغان تاجک، افغان هزاره، افغان اوزبیک، افغان تورکمن، افغان بلوڅ، افغان عرب، افغان ګوجر، افغان سیکهـ، افغان هندو، افغان قزلباش، افغان قیرغیز، افغان ایماق، افغان پشه یي وي او نور افغانانو باندې اطلاق کېږي. په افغانانو کې په خاصه توګه په پښتـنـو کې د یو واحد افغان ولس یا واحد افغان ملت جوړونې فکر، ویښ شعور، احساس او هوډ ډېر ژور او جدي دئ. ځکه د نړۍ تأریخ او نړېوال سیاست، پښتـانـه د افغانستان د دولتي ولس په څېر پېژندلي دي. په تأریخي بنسټ کې د افغانستان پښتـانـه دولت جوړونکي او دولت سمبالونکي پېژندل شوي دي. دا د دوی تأریخي ایماني، وجداني، مسؤولیت دئ چې د ملي دولتونو د تأریخ او فلسفې، د دولت فورم، دولتي ایډیالوژۍ، د ملي یووالي، د ملي هویت او د افغان د ملي دولت جوړولو له مشروعیت څخه په افغاني بڼه کې ساتـنـه او دفاع وکړي او دغه دورند بار دوی ته ور په غاړه ایښودل شوی دئ.

هېڅوک نشي کولی او دا حق نلري چې افغان پښتـانـه له خپلو ملي لرغونو ارزښتونو او ملي هویت څخه محروم کړي، یا بې عزته کړي او یا یې بې هویته او پردې کړي. د ملي هویت د لرلو حق په نړۍ کې د هر انسان له بنسټیزو حقوقو څخه شمېرل کېږي. لر او بر افغانان پر اسلام مین خلک دي او پر خپل ملي هویت افغانیت باندې ویاړي. افغانان د خپل ملي هویت له پیژندنې او له خپلو ارزښتمندو ارزښتونو او ملي نوامیسو څخه د سر په بیه دفاع کړې او کوي یې. اسلام او اسلامیت، افغان او افغانیت د افغان ستر ملت د


SPECIAL REPORT
NO. 457 | SEPTEMBER 2019 UNITED STATES INSTITUTE OF PEACE www.usip.org
Loya Jirgas and Political Crisis Management in Afghanistan: Drawing on the Bank of Tradition
By Scott S. Smith
Contents
The Modernity of a Tradition ......3
History and Paradoxes of Loya Jirgas ......4
Decisions and Modalities ......6
The Present Era of Consultative Loya Jirgas ......13
Conclusion and Recommendations ......15

ملي ارزښتونو او ملي هویت ایډیالوژیکي بنسټ ایښودلی دئ. یوه خپلواکه افغانه او یا یو خپلواک افغان، د افغان ملي دولتونو د دولتي فلسفې پر بنسټ د افغانستان د تابعیت په لرلو او د ملي افغاني اسلامي واحد هویت په در لودلو سره ځان یو ریښتنی مسلمان افغان شخصیت احساسولی شي. د افغانانو د تابعیت په پېژند پاڼو کې د افغانانو د ملي مشخصاتو دوه اړینې کلمې اسلام او افغان باید

ولیکل شي. د افغانستان په اوسني حکومت کې نه د افغانانو د سر او مال او نه د خلکو له بنسټیزو حقوقو څخه ساتنـه کـېږي. په همداسـې یو بد حالت کې او د پـښتـنـو د بې اتفاقی له امله له افغانانو څخه قصداً د ملي هویت مشخصات، اسلامیت او افغانیت اخـېستل کـېږي. افغان حکومت که یوه خاصه ناپوهه، کوچنۍ متعصبه مزدوره، پردیپالې ډله او مافیایي کړۍ شته چې په خپله یې د افغانستان اساسي قانون تر پښو لاندې کړی دئ.

د افغانستان ملي تأریخ، د افغانستان د ملي دولتونو تأریخ او د افغانستان د اساسي قوانینو تأریخ د لویې جرګې په تأریخي کانسپټ او یا د افغانیت په ستره لمن کې لیکل شوي دي. د افغانستان اساسي قوانین د افغانانو د یو ملي سند په توګـه د افغانستان د اسلامي دولتونو فلسفه او د افغان د اسلامي نظامونو مشروعیت او چوکاټ تـثـبیت کړی دئ. د دولت په دولتي فلسفه کې د دولت جوړښت، د دولت فورم، د دولت وظایف او د دولت موخې تعریفـېږي او همدا شان د دولت مؤسسې، د دولت اخلاقي، ټولنیز، حقوقي شرایط او د دولت پولې هم پکې تـثـبیتـېږي.

**<u>د دولت یو عمومي تعریف په دې ډول دئ</u>**: دولت یو سیاسي او حقوقي سازمان دئ، چې په یوې ټاکل شوې سیمې کې د خپلو کورنیو او بهرنیو چارو په سیاست کې یو خپلواک ځواک رامنځته کړي او په خپلې ځمکنۍ بشپړتیا کې د خپلو وګړو د ګډ ژوندانه لپاره یو ځانګړی حقوقي نظام پلی کړي. د همدې دولتي تیورۍ پر بنسټ د افغانستان معاصرو ملي مډرنو ولسي دولتونو د پـښتـونولۍ ځینې عناصر یا مصطالحات قانوناً د لویې جرګې له پرېکړو څخه وروسته په خپل اداري دولتي جوړښت او چوکاټ کې منلي دي. افغان ملي دولتونو په اساسي قانون کې د خپلو درې ګونو ځواکونو نومونه د مشرانو د جرګې، ولسي جرګې او د سترې محکمې په نومونو نومولي دي.

له ۱۳۰۱ لمریز کال څخه را پدې خوا د افغانستان لومړنی اساسي قانون او نور ټول اساسي قوانین لویو جرګو ته وړاندې شوي او د لویې جرګې له لوري تصویب او یا تعدیل شوي دي. د افغانستان په اساسي قوانینو کې لویه جرګه تسجیل او تشریح شوې او صلاحیتونه یې مالوم دي. له یوې خوا په افغانستان کې د لویو جرګو قانوني او تأریخي بهیر او څرنګوالی په اساسي قوانینو کې تنظیم شوی، له بلې خوا په افغانستان کې د ډیموکراسۍ د لسیزې پیل، د لویې جرګې له شنې اشارې څخه وروسته شوی دئ. د دیموکراسي د لسیزې د قانون د ماتې او ناکامۍ لاملونه یوې بلې مفصلې او هر اړخیز څېړنېز بحث ته اړتیا لري چې دلته ورته ځای نشته.

کله چې د اساسي قانون پر بنسټ لویه جرګه د پاچا یا د ولسمشر له خوا راوغوښتل شي، افغان حقوقپوهان پوهېږي چې په همدې وخت کې لویه جرګه د افغانستان د درې ګونو ځواکونو واک تر یوې لنډې مودې لپاره محدود وي. په بله وینا د مشرانو جرګه او ولسي جرګه د خپل قانوني کار په دوره کې په ګډه د لویې جرګې د ځای ناستو ارګـانونو په څـېـر عملاً کار کوي. له همدې امله لویه جرګه د افغان په دولتي فلسفه کې د دولت د درې ګونو ځواکونو او له نورو مؤسساتو څخه له پاسه یوه عالي موسسه پـېـژندل شوې ده. د مشرانو جرګه او ولسي جرګه د لویې جرګې نه بـېلـېدونکې رسمي دائـمي څانګې دي. له بل پلوه لویې جرګې په ولس کې د ولس ولسمشرانو مشروعیت قانوناً ټینګوي. ولسمشر له همدې امله کولی شي د مشرانو او ولسي جرګو یا د مقننه او اجراییه ځواکونو په شتون کې بیا هم دودیزه لویه جرګه را وغواړي.

د ۱۳۴۳ لمریز کال په اساسي قانون کې لویه جرګه د یو پرېکړه کوونکي او قانون جوړونکي بنسټ په توګـه وپـېـژندل شوه او رسماً دغه رول په اساسي قانون کې لویې جرګې ته ورسپارل شوی دئ ؛ د ۱۳۵۹ کال اساسي قانون، لویه جرګه د پارلمان پر ځای، د یو ثابت بنسټ په توګـه پـېـژندلې ده.

د افغانستان حکومتونو ټل خپل اساسي قوانین لویو جرګو ته وړاندې کړي دي. د افغانستان اساسي

قوانینو لویه جرګه د یو داسي عالي بنسټ او ارګـان په توګه منلي چي نه یوازې د اساسي قانون د بدلون په مهمو مواردو کې پرېکړه کولاي شي بلکې د هېـواد په ګـڼو ملي مسائـلو کې هم تصمیم نیولی شي.
لویې جرګې د افغانانو د ملي ګـټـو او اسلامي ارزښتونو د ساتلو لپاره راغوښتل کېـږي او افغان ملي دولتونه د لویې جرګې د فیصلو پر بنسټ عمل کوي. کله چي بهرنیو یرغلګرو پوځونو پر افغانستان یرغل کړی دئ، دا دودیزه جرګې یا د افغانیت او اسلامیت اصول دي چي افغان غازیانو او مجاهیدینو ته افغاني ننګ، غیرت، د وطن آزادي او له ملي نوامیسو څخه ساتـنـه او دفاع ور په یادوي او د جرګو له لارې افغان غازیان د خپل پلرني هېـواد د دفاع لپاره راټولېـږي. د افغان او انګریز په لومړي، دوهمه او دریمه جګړه کې د جرګو د پرېکړو له لارې د غازیانو خپلواکې ډلې او لښکرې راووتلې. جرګې د افغانانو له اسلامي عقایدو او ملي ارزښتونو څخه د بهرنیانو پر وړاندې دفاع کوي.
له همدې امله دودیزه جرګې د افغانانو د خپلواکۍ سمبول دي. د جرګې ګډونوال باید په ملي او هېـوادنیو ګـټـو، اسلامي ارزښتونو او افغاني پـښـتـنـي اصولو باندې معتقد، پوهه او مخلص خلک وي.

د افغانستان په اساسي قوانینو کې د لویې جرګې واکونه تعریف شوي دي. لویې جرګې ته د فوق العاده یا اضطراري حالاتو اعلانولو واک ورکړل شوی دئ. لویه جرګه د اساسي قانون پر بنسټ کولي شي د جـګړې یا سولې اعلان وکړي. د افغانستان په اساسي قوانینو کې لویې جرګې ته دا واک هم ورکړ شوي وو چي د پاچا یا ټولواک ځای ناستی وټاکي. د افغانستان د جمهوري دولتونو په دوران کې د ولسمشر د ټاکلو او استعفی منل د لویې جرګې له واکونو او صلاحیتونو څخه دي. لویو جرګو د افغانستان د جمهوریت د تأریخ له پیله تر اوسه د اساسي قانون پر بنسټ درې ځلې افغان ولسمشران ټاکلي دي.

کله چي پر ولسمشر باندې د ملي خیانت.او یا د بشري ضد جرایمو جرمونو تور پورې شي او دا جرم د ولسي جرګې د دوه پر دریو غړو له خوا تائید شي، د افغانستان اساسي قانون لویې جرګې ته د ولسمشر د محاکمه کولو واک او اختیار ورکړی دئ.

لویه جرګه قانوناً د یوې مشخصې ملي موضوع لپاره د افغانانو د دودیز قبائیلي پارلمنټ رول لوبوي. په یوویشتمه پېړۍ کې لویې جرګې د افغان ملي دولتونو اساسي قوانین د خپلې دولتي فلسفي په چوکاټ کې په افغاني خپلواکه بڼه تصویبوي. لویو جرګو تراوسه هېـڅ یو داسـي اساسي قانون نه دئ تصویب کړئ چي د افغانانو د افغانیت او اسلامیت او ملي ارزښتونو خلاف لیکل شوی وي.

## لویه جرګه د سوله ییزو ملي خبرو اترو لپاره یو سیاسي پلټفورم دئ

د پښتـونولۍ جرګې او مرکې افغانان یا پـښـتــانـه قومونه نه یوازې د هېـواد ساتـنې، خپلواکۍ او ملي یووالي ته رابولي، بلکې پـښـتــانـه، جرګې د خپلمنځي ستونزو، شخړو او ناخوالو د له منځه وړلو لپاره او په ټولنه کې ټولنیز عدالت او سوله ییز ژوند راوستلو ته رابولي.

په افغانستان کې د لویو او ملي دودیزو جرګو اصلي موخه په هېـواد کې رامنځته شوي سیاسي او یا ټولنیز کړکېـچ ته د حل یا د هېـواد د کومې مهمې ملي مسئلې له څېـړلو څخه وروسته د هغې په اړه د حل د یوې معقولې لارې د موندلو لپاره یوه ښه ټولمنلې حقوقي مرجع ګرځـېـدلې ده. په جرګه کې خلک له یو بل سره د رامنځته شوې مسـئـلې په اړه خپل ولسي سیاسي اندونه او پرېـکړې شریکوي.

په افغانستان کې لويه جرګه د يو عالي ملي ارګـان په څـېـر خپل تأريخي مشروعيت لري. لويه جرګه د افغانانو لپاره په ملي او نړېـوالو کړکـېـچونو کې د کړکـېـچ د هوارۍ لپاره يو مناسب افغاني ميکانيزم دئ.

افغاني ټولنه په خپلې وسيعې مانا کې يوه قبائيلي ټولنه ده. لويه جرګه يوه ولسي - دولـه قبائـيلي سياسي مؤسسه ده، چې دوه اړخيزه مشروعيت لري. د لويو جرګو اوږد تأريخ ته په کتـو سره او د لويو جرګو د جوړېـدو د پرنسيب پر بنسټ لويې جرګې په ملي کچه يو ملي عالي حقوقي ارګـان ته وده کړې ده، ځکه لويه جرګه له لرغونو زمانو څخه را په دېـخوا د استازي يا نماينده ولسواکۍ عنصرونه په خپل جوړښت کې لري.

لويه جرګه د افغانستان په دولتي سيستم کې د ټولو دولتي ارګانو له پاسه يو عالي دولتي ارګـان پېـژندل شوی دئ.
لويه جرګه د افغانستان د خلکو د ارادې د ځرګـنـدولو تر ټولو اوچته ملي مرجع ده. د افغانستان ډېـرې مهمې ملي ستونزې د لويو جرګو له خوا حل شوي دي. د افغانستان اساسي قوانين د لويې جرګې زېـږنده دي. د افغانستان اساسي قوانين د لويو جرګو له خوا پاس شوي دي. د افغانانو ولسي مشران او ولسي مشرتوب لويو جرګو ټاکلي دي. په لويه جرګه کې د ټول هـېـواد رښتـنـې، منلي ملي استازې برخه اخلي. لويه جرګه د افغانانو يو ملي منل شوی ميراثي لرغونی دود دئ.

لويې جرګې په لويو سياسي او ټولنيزو ملي مهمو مسايلو کې د پرېکړو يوه با اعتباره عالي ملي مرجع ده.
افغانستان په خپل معاصر تأريخ کې د ډېـرو لويو جرګو کوربه وو. لويې جرګې د هـېـواد د ولسمشرانو او مشرانو په ټاکلو کې، د اساسي قانون په تصويب کې، له بهرنـی نړۍ سره د اړيکو او د نورو ملي سياسي مسايلو په تړاو رابلل کـېـږي.

# څوارلسمه برخه
# د پـښـتـنـو او پـښـتـونـولۍ قومي جرګه

له يوې پيړۍ را هيسې د پـښـتـنـو ډېـرې قومي جرګې د لرو او بر پـښـتـنـو او د ډيورنډ د کرښې د دواړه خواوو د قبائـيلو له خوا په ګډه جوړې شوي دي. پـښـتـنو قـبـيلـو او د پـښـتـنـو قومي جرګو هـېـڅ وخت د ډيورنډ د استعماري کرښې خيال نه دئ ساتلی. پـښـتـنو، د پـښـتـنـو قومي جرګو او پـښـتـونولۍ د ډيورنډ کرښه په رسميت نه ده پـېـژنـيدلې.



د پـښـتـنـو قومي جرګه د قوم او د سيمې په کچه قومي لانجو، شخړو او د کړکـېـچونو د حل او فصل لپاره رابلل کـېـږي. د قومي جرګې بهير او موخې د مرکې له بهير سره

یو شانته دي. قومي جرگه د یوې ځانـگړې سیمې د خلکو د ټولنیزو کړکېچونو او ستونزو لپاره جوړېږي او پرېـکړې کوي.

د افغانانو قومي جرگه هغه مهال رابلل کېږي کله چې د دوو یا څو قومونو ترمنځ شخړه یا لانجه رامنځته شي چې یا دا لانجه په وسله واله شخړه بدلېږي او یا بدله شوې وي. اکثراً د شخړې د حل لپاره له نورو قومونو څخه یوه بې پرې قومي جرگه سیمې ته استول کېږي. د پښتـنـو دغه قومي جرگه هڅه کوي د دواړو اړخونو د جنگ جگړو او د نورو شخړو او بدیو مخه ونیسي.



په ۱۴۱۴ز کال کې د پښتـنـو په تأریخ کې لومړنۍ مهمه ثبت شوې قومي جرگه په کندهار کې لویه قومي جرگه د یوسفزیو قبیلـې په تړاو جوړه شوې ده. دې قومي جرگې پرېـکړه وکړه چې د یوسفزیو قبیلـه باید له کندهاره پېښور ته خپله کده بار کړي، د یوسفزیو قبیلـه د لویې قومي جرگې د پرېـکړې پربنسټ له کندهاره د پېښور په لور د تل لپاره وکوچېده. د قومي جرگې واک او د قومي جرگې د پرېکړو ځواک په دې کچه هم تر سره شوی دئ.
په ۱۹۴۲ز کال کې په لوی پکتیا کې د منگلو د قبیلـې د آرامولو لپاره یوه قومي جرگه جوړه شوه. همداسـې د پښتـنـو د قومي جرگو شمېـر او لیسټ ډېـر اوږد دی، ځکه پښتـنـو په خپلو کې د ځمکو، اوبو، دښتو، غرونو او ځنگلونو پر سر له یو بل سره ډېرې وسله والې نښتې کړې دي. د جگړو د مخنیوی او د شخړو د ختمولو لپاره له نورو پښتـنـو قومونو څخه قومي مشران، دیني علماء او د ولس له استازیو څخه قومي جرگې جوړېږي. د پښتـنـو د لانجو په حل کې د قومي جرگو منځگړتوب ډېـر اغېـزمن تمام شوی دئ.

# د پښتـونـولۍ د مرکو او جرگو له لارې د کلیوالي ستونزو او شخړو هوارې

پښتـنـه ټولنه د هرې حقوقي شخړې یا د خپلمنځي لانجو او ستونزو په پای کې یوه جرگه یا مرکه رابولي. دغه حقوقي مرجع په سیمه کې د یو شمېـر نا رسمي اما له پېـژندل شویو، منل شویو مُصلحینو او تجربه لرونکو قومي مشرانو او مخورو شخصیتونو څخه رامنځته کېږي. دغه حقوقي مرجع یا جرگه د سیمې عامو خلکو ته هم ورپېـژندل کېږي. د مرکې دنده ده چې د دواړو دښمنو سیالو ډلو او یا د مدعیانو ترمنځ منځگړتوب او جوړجاړی وکړي. مرکچیان په لومړي گام کې پوښتـنـه نه کوي چې گناه د چا ده. په پښتـنـه ټولنه کې د جرگې پرېـکړې د پښتـنـي ټولنې د نرخونو یا د پښتـونـولۍ د دودیزه قانون پر بنسټ تر سره کېږي. د پښتـنـو منل شوي نرخ د تر سره شویو جرگو د پرېـکړې پربنسټ ټاکل او رامنځ ته کېږي.

## د پښتـنـو د پښتـونولۍ دودیزه جرگې دوه ډولونه لري

د مرکو او جرگو دغه دودیز سیمه ییز فورم د پښتـنـو د تیپیـکل دعوی گانو او شخړو په حل او

فصل کې یوه تجربه شوې او ازمویل شوې بریالۍ وسیله ده. د مرکو او جرګو له لارې د قومونو او قبیلـو ترمنځ ډېرې لویې او وړې مسئلې او معاملې حل او فصل شوې دي.

کله چې په پښتـنـه ټولنه کې ځینې کړه وړه له تربګنۍ او یا د پښتـنـو له تربګنیز ژوند سر ه په تضاد کې واقع شي او دغې لانجې ته په ستر کورني یا کلیوالي چاپریال کې د حل یوه مناسبه لار ونه منل شي او یا هم ورته مجازات ونه موندل شي نو د پښتـنـو سیمه ییزه قومي مرکه راغوښتل کېږي. د مرکې مرکچیان د سیمې په منل شویو نرخونو، رواجونو باندي خپله پرېکړه او فیصله کوي. مرکچیان یو قبائیلي نرخ په رامنځته شوي پېښې باندې پلې کوي او یا په را منځته شوې حقوقي قضیې باندې قومي نرخ ږدي. په پښتـنـه ټولنه کې یو قومي نرخ یا حقوقي نورم د څو لسیزو په ترڅ کې یوه چلېدونکي جزایي او مدني دودیز قانون وده کوي او نوی نرخ باید په څو نورو دعوی ګانو کې د سیمې د ولسي خلکو له لوري منل شوی وي. د څېړنو او تجربو پر بنسټ قومي نرخ د پښتـنـو په ځینو قبیلـو او قومونو کې له یو بل څخه یو څه توپیر لري. حقوقي نورم یا قومي نرخ کله چې یوه مرکه یوه پرېـکړه وکړي او روانه شخړه پرې هواره شي او دا پرېـکړه د خلکو د منلو وړ وګرځـي او دا پرېـکړه څو وارې په نورو مرکو او شخړو کې هم د تطبیق وړ وګرځي او د خلکو ستونزې پرې حل شي نو د سیمې خلک دا پرېـکړه د سیمې په کچه د یو قومي نرخ په څېـر پېـژنـي. که څوک له منل شوي نرخ څخه سرغړونه کوي، دا په خپله یو بل جرم پېـژندل کېـږي، د سیمې خلک هغـه سړي ته په ښه سترګه نه ګـوري، چې د جرګو له پرېکړو څخه سر غړونه وکړي او په خلکو کې له نرخ څخه د وتلي سړي په نوم پېـژندل کېـږي. د مرکې خلات یا د مرکچیانو پېـسې، دا هغه پېـسې دي، چې د دعوی د دواړو خواوو له لوري مرکچیانو ته ورکول کېـږي، ځیني کسان په دې اند دي چې خلات اخېـستل حرام دي. په هر صورت، د خلات په ورکولو سره د مرکې د پرېـکړې ضمانت د مرکچیانو پر غاړه کېـږي. کله چې د دعوې یو لوری له پرېکړې څخه وروسته بیا دعوه له سره پیل کړي او د خپـلـې ستونزې هواری د خپل ځان په ګټه وغواړي او یا ووایې چې پرېـکړه په دې ډول نه وه فیصله شوې او دی یې نه مني نو په داسې یو حالت کې هغه مرکچیان چې خلات یې اخېـستی وو را غوښتل کېـږي او خپله کړې پرېـکړې یو ځلي بیا په ډاګه کوي، چې دوی څه ډول پرېـکړه کړې وه او کوم لوری په حقه وو. که یو مدعي بیا هم پرېـکړه نه مني مرکچیان یې د کبرجن سړي په نوم غندي او یا په ټولنه کې د یو سر غړوونکي او نرخ ماتوونکي سړي په توګه پېـژندل کېـږي.

پښتـو متل دی، چې له ښاره ووځه، خو له نرخه مه وځه.

مرکچیان اکثراً د قوم مخور پوه مشران، سپین ږیري، تجربه لرونکي مخلص خلک وي. په مرکو کې سپین پټکیان اکثراً د دیني علماوو رول لوبوي. په مرکه کې مشران او سپین ږیري د خپلې کوچنۍ ټولنې استازیتوب کوي. په مرکه کې ناست سپین پټکیان یا دیني علماء د مرکې د بهیر موضوع د اسلامي پوهې یا شریعت په رڼا کې ارزوي، د کړکېـچ په حل کې باید اسلامي احکام او حدود مراعت شي. په مرکه کې ټول کلی یا د ټولنې هر غړی کیناستلی او برخه په کې اخېـستلی شي. په مرکه کې ناست کلیوال، مرکچیان دې ته اړکوي او دا په ور یاد وي چې د مرکې نرخ او پرېـکړه باید د کلي یا د کلیوالي ټولنې په ګټې او خیر ښیګـنـې باندې تمامه شي او یا د مرکچیانو پام د ټولنې د ساتـنـې دې مهم ټکی ته ور اړوي.

یوه سیمه ییزه قومي مرکه د قـرآنـکریم د مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل کېـږي او ټولو ته د خیر په دعا باندې پای ته رسېـږي. هره مرکه په یوه پرېـکړه باندې پای ته رسېـږي او متهم ته په کې سزا اورول کېـږي، په حقوقي نورمونو او عدالت ولاړه پرېـکړه بیا ورو ورو په خپله یو قومي نرخ یا یو حقوقي نورم ته بدلـېـدای شي.

په جرګه کې د قضیې په اړه تر هغو خبرې اترې او مشورې کېږي، تر څو دواړو خواوو ته یو منلی حل په کې را ووځي، اکثراً د جرګې پرېکړې نقدي جریمې او یا په بدل کې پېسې پرېکول وي .په ځینو مواردو کې کېدای شي، چې د جرګې له خوا د متهم د کور د سوځولو پرېکړه هم وشي، پښتـانـه د پرېکړې د پلي کولو په بهیر کې له الله تعالی څخه ډېره سخته ویره لري، د افغاني ننګ، غیرت، انساني کرامت او د قومي یووالي ارزښتونه مهم ټکي دي، چې د مرکې په بهیر او پرېکړه کې باید مراعت شي. کله چې متهم د مرکې پرېکړه ونه مني، دی له ټول قوم یا ټبر څخه ایستل کېږي او څوک ورته په درنه سترګه نه ګوري.

متهم او یا مدعیانو ته د بیې بلې مرکې د راغوښتلو چانس هم شته، کله چې شک رامنځته شي چې نرخ غلط کارول شوی دئ یا نرخ کوږ تړل شوي دئ او په پرېکړې کې عدالت سم نه دئ پلي شوی نو بله مرکه د نویو مرکچیانو په ترکیب کې راغوښتل کېږي، د نوې مرکې پرېکړه باید د کلي یو خیل خلک وکړي. کله چې ثابته شي، چې نرخ کوږ او پرېکړه له حقوقي پلوه نا سمه تر سره شوې ده، کومو مرکچیان چې په دغه مرکه کې ګډون درلود دوی نور د ژوند تر پایه نشي کولای نرخ وتړي او د مرکو او جرګو په پرېکړو کې برخه واخلي. کله چې د دویمې مرکې ناستې دا وپتییله چې پرېکړه له نرخ سره سمه شوې ده، بیا نو پرېکره پلې کېږي، بله مرکه نا شونې ده چې راوغوښتل شي. د دویمې مرکې ښه والی په دې کې دئ چې نوې سزا یا نقدي جرمونه په کې نه ټاکل کېږي.

هره مرکه یا جرګه ځانـتـه واک او صلایت غواړي، مرکچیان د قضیې په اړه له مدعیانو څخه د پرېکړې واک یا اختیار اخلي. واک په دوه دوله دئ، یو خلاص واک او دویم بند واک چې توی وړی واک هم ورته ویل کېږي. لومړی خلاص واک : په خلاص واک کې د دعوې د دواړو غاړو د تمو او غوښتنو په پام کې نیولو سره پرېکړه کېږي. مرکچیان د جرګې پرېکړې دواړو خواوو ته وراوروي. دا په دعواګیرو غاړو پورې اړه لري چې د مرکې پرېکړه مني او کنه. په بله وینا د جرګې پرېکړې حتمي نه دي چې و دې منل شي او هم دې د پرېکړې په مطابقت سره پلې شي. دویم توی وړی واک یا بند واک : په دغه ډول واک ورکولو سره د دعوې دواړه خواوې د قضیې یا شخړې په اړه مرکچیانو ته خپل پوره واک او اختیار ورکوي. کله چې د دعوی دواړه غاړې مرکچیانو ته توی وړی واک ورکړي، دوی مجبور دي چې د مرکې پرېکړې ومني او مرکچیان د بند واک د مرکې پرېکړې او فیصلې خامخا پلي کوي، کېدای شي په ځینو مواردو کې د جرګې پرېکړې جبراً د اربکیانو په زور او مټ هم عملي شي. د بند واک د اعتباري کولو یو شرط یا ځانګړتیا دا ده چې برمته یا ګرو یا مچلګه اینودل کېږي، برمته د دعوی له دواړو خواوو څخه اخېستل کېږي او یوه دریمګړي اعتباري سړی ته په امانت اینودل کېږي. دغه دریمګړی اعتباري سړی د جرګې یا مرکې له خوا ټاکل کېږي. برمته معمولاً نقدې پېسې وي. دغه برمته د شخړې ارزښت ته په کتو سره تعین کېږي، برمته د دې لپاره اخېستل کېږي، کله چې د دعوې یوه یا دواړه غاړې د جرګې یا مرکې پرېکړې ونه مني، برمته له لاسه کوي.
مرکچیان لومړی د دواړو خواوو ادعاوې اوري. هره خوا هڅه کوي چې مقابل لوری پړ کړي، له دې وروسته مرکچیان په خپلو کې په ګډه سره د هرې خوا ځوابونه څېړي او خپلو پرېکړو ته لارې چارې هواروي، له سلا او مشورې وروسته دوی هڅه کوي چې حق او نا حق سره بېل کړي. مرکچیان په یوه پرېکړه باندې سلا کېږي، چې د شخړې دواړو خواوو ته د منلو وړ وګرځي او رامنځته شوې ستونزه حل کړي. کله چې د جرګو له لارې د قومي نرخ له خوا یوه پرېکړه وشي، او د شخړې یو اړخ له شوې پرېکړې څخه سرغړونه کوي نو دعوی بېرتـه له سره پیلوي. مرکچیان د شخړې د دواړو خواو یا د دعوا ګیرو ډلو له خوا یوې مرکې ته رابلل کېږي. مرکچیان په پیل کې دواړه لورو ته په جلا جلا توګه غوږ نیسي. مرکچیان هڅه کوي چې مرکه د خپل لوري

په ګټه فیصله کړي. په مرکه کې حقوقي وکیل یوازې په هغه صورت کې منل کېږي، چې کله د دعوی یو لوری په مرکه کې نه وي ناست او یا د دعوي یو لوري د خپل ځواکمن سیال پر وړاندې سم منطقي ځواب نشي ویلای. د مرکچیانو د خوراک او څښاک مصارف د لانجې د دواړو خواوو له لوري په ګډه سره ورکول کېږي. د قومي جرګو مصارف یا لګښت د سیمې د خلکو یا د ټول کلیوال ولس له خوا پرې کېږي.

جرګې یا مرکې دوه ډولونه لري. لومړی: محکمې ته ورته جرګه. دویم: جرګه د سوله ییزو خبرو اترو او د جوړ جاړي لپاره د یو پلټفورم په څېر دایرېږي.

# محکمې ته ورته جرګې او مرکې

**<u>محکمې ته ورته د پښتنو او پښتونولۍ جرګې</u>** : دغه ډول جرګې او د جرګې دایرېدل د اروپایي محاکمو یا د نړۍ د نورو هېوادو محاکمو ته ورته د حقوقي مرجع په شان عمل کوي. محکمې ته ورته جرګې دنده لري تر څو وڅېړي چې د دعواګیرو یا مدعیانو په قضیه کې رښتیا ومونډل شي. په دې تمه، چې د دعوی د یوه لوري ګناه یا ګرَمتوب په کې ثابت شي د دعوی په بهیر کې د ګناهکار یا بې ګناه په ثابتولو کې په قرآن کریم قسم ورکول کېږي. په پښتنـي تفکر کې په یوه دعوی کې قرآن کریم باندې سوګند ورکول یو مشروع او منل شوي دود دئ، ځکه د پښتنـي ټولنې بنسټ په انساني وجدان او انساني ضمیر باندې ایښودل شوی دئ، له همدې امله پښتنه ټولنه د نړۍ یوه انساني باوجدانه ټولنه پېژندل شوې ده. په پښتنه ټولنه کې خلک له الله سبحان وتعاله او له قرآن کریم څخه ډېره سخت وېره لري.
محکمې ته د ورته جرګې فورم د پښتنو د ځمکو، د بڼ یا باغ، د اوبو، د شخصي ملکیت، اجارې او کرایې په قضیو کې دایرېږي. د دغو ډول جرګو د دایرېدلو شرط دا دئ چې د جرګې له دایرېدو څخه مخکې چا د پښتونولۍ له اصولو سره سم بدل نه وي اخیستی او مدعیان یا د دعوی دواړه غاړې د رامنځته شوې شخړې یا لانجې حل د جرګې له لارې غواړي. کله چې په پښتنه ټولنه کې د یوې کړنې له لارې یو منل شوی ټولنیز نورم مات شي، پښتانه هغې کړنې ته د یو تېري په سترګه ګوري او خامخا تېري کوونکي ته سزا ورکړل کېږي. په پښتنه ټولنه کې هغه مهال یو کړکېچ رامنځ ته کېږي، کله چې یو څوک د خپل ژوندانه په بنسټیزو چارو کې د بل چا لخوا ګواښ احساس کړي.

# جرګه په حقوقي کانسپټ کې د سوله ییز حل او خبرو اترو لپاره یو پلاټفورم

کله چې په پښتنه ټولنه کې یو حقوقي نورم یا منل شوی قومي نرخ د یو شدید جرمي عمل په تر سره کولو سره لکه د یوه انسان وژنه یا د قتل په ترسره کولو کې مات شي جرګه د سوله ییزو خبرو اترو او روغې جوړې لپاره یو پلاټفورم ګرځي. د جرګې په دغه ډول کې د مرکچیانو دنده د رښتیا موندل نه وي، بلکې جرګه د دعواګیرو یا مدعیانو ترمنځ د منځګړیتوب رول لوبوي. د جرګې موخه په لومړي ګام کې دا وي: څومره چې ژر کېږي، د شخړې د پراخېدو مخه باید ونیول شي، د شخړې په دغه پړاو کې د ګناهکار یا ګرَم پوښتنه نه مطرح کېږي. جرګه تر ډېره بریده هڅه کوي چې د بدل اخیستلو مخه ونیول شي. تېری کوونکی او د قومي نرخ ماتوونکی د قومي نرخ له لارې

،د مادي خسارې ورکولو ته هڅول کېږي. په هغو شخړو او دعوی ګانو کې، چې د ننګ، غیرت او ناموس خبره مطرح وي، دعوی ګیر یا متضرر اکثراً د جرګو دغه ډول د سوله ییز حل لار ردوي، دوی مجبورېږي، چې د توري له غوښتنو سره سم او یا د توري له کانسپټ څخه کار واخلي. پښتون ته بیا بله لار نوره نشته او د رامنځته شوې شخړې حل او کیفیت جګړه ایزي ازموینې ته اړینودل کېږي. د بدل اخېستلو د غبرګون له وېرې، ډېره ترجیح د مالي تاوان پرې کولو ته ورکول کېږي. کله چې د جرګې د مرکچیانو وړاندیز د تېرې کونکي او د زیانمنې شوې ډلې له خوا رد شي جرګه او جرګوال په شا کېږي او د دعوی ګیرو خپلواکي په دغه قضیه کې بېرته منل او پېژندل کېږي.

کله چې د پښتونولی په اصولو کې بدل واخېستل شي د بدل له اخېستلو څخه وروسته جرګه بیا د دښمنو ډلو ترمنځ د منځګړیتوب هڅې کوي، تر څو د نورو وینو تویولو مخه ونیول شي، څکه د دعوی د بل لوري غبرګونیزه بدل خامخا تر سره کېدونکې دئ. جرګه هڅه کوي مخکې له دې چې د عواګیر خپلې د ننګ غوښتنې پلې او عملي کړي، له ټولو دعوګیرو خواوو څخه د دوی د کورنیو د ګټو او د ټولنې د خیر ښیګڼې لپاره له قانوني لارې څخه رامنځته شوې کړکېچ ته د پای ټکی اېښودلو غوښتنه کېږي. کله چې بدل تر سره شي، له تر سره شوي بدل څخه وروسته، که دعوی ګیرې ډلې د بلې جرګې د ناستې غوښتنه وکړي جرګه باید د تر سره شوي بدل اندازه او خساره مالومه کړي.
د مدعیانو او د ښمنو غاړو ترمنځ د شخړې د پای ته رسېدو لپاره راغوښتل شوې جرګه کولی شي د دواړو خواوو ترمنځ د ننواتې پرېکړه او فیصله هم وکړي. له تر سره شوي بدل څخه وروسته ننواتې کول د تسلیمۍ او سر ټیټوالي مانا نه ورکوي، بلکې د ننواتې ورکونکې ډلې یا په ننواتې کوونکې کې مېړانه، شهامت، درونذوالی او د متضرر سړي نوم او نښان ته د پښتونولی ویاړ موندل کېږي، څکه په داسې یو بیرني حالت کې ننواتې کول د پښتونولی د ننګ د کانسپټ اصول پر ځای کېږي. د یو ننګیالي، رښتني پښتون ننګیالتوب په ننواتې کولو او بخښلو کې ازمویل کېږي. په اصل کې پښتون سړی خپل پښتونتوب او خپله انساني صله د رحم ښیي.

## د پښتنو د جرګو او مرکو د رسمي اعتبار، پایښت او پالنې له پاره یو وړاندیز



د افغانستان په عدلي او قضایي سیستم کې زښتې ډېرې نیمګړتیاوې شتون لري. د افغانستان قضایي سیستم کې څو ډوله قوانین کارول کېږي. نن په ټول افغانستان کې نه اساسي قانون او نه دولتي قوانین حاکمیت لري او په ټول هېواد کې شرعي قوانین، قومي نرخونه، نورمونه او رواجونه واکمن نه دي. د هر چا چې په دغو درېواړو قوانینو یعنې شرعي قوانینو، دولتي قواینو او قومي نرخونو کې ګټه وي، د هماغه قانون په رڼا کې د خپلې شخړې او منازعې د حل غوښتنه کوي. د لانجې بله غاړه بیا د بل قانون په رڼا کې د خپلې لانجې د حل غوښتنه کوي. دغه حالت د افغانستان قضایي سیستم له ډېرو نورو ستونزو سره مخامخ کړی دئ. له همدې امله ډېری افغانان پر خپل عدلي او قضایي سیستم باندې باور نه لري او د خپلو دعوی ګانو د حلولو لپاره قومي مرکو او جرګو ته ورځي.

په افغانستان کې د څو لسيزو جنګ جګړو له امله د پښتو او پښتونولی، پښتني قومي ټولنلي دودونه، نرخونه او ارزښتونه په لمنځه تللو دي، له همدې امله اوس څوک د مرکو او جرګو پرېکړې نه مني، او يا لږ ارزښت يا هېڅ درنښت ورته نه لري، په دعوی کې يو اړخ مظلوم او بل اړخ ظالم ښودل کېږي، يو اړخ کبر جن بلل کېږي، بل اړخ نا حقه بلل کېږي او دا پته نه لګېږي، چې په رښتيا څوک په حقه دئ.

د پښتنو په سيمو کې له پېړيو، پېړيو راهيسې پښتـانـه خپلې حقوقي او جزائـي دعوی ګانې او لانجې په قومي نرخونو او رواجونو باندې حل او فصلوي. نرخيان او مرکچيان د دعوی له دواړو خواو څخه واک اخلي، دوی د دعوی يا پېښې په سيمه کې له ځايي خلکو څخه له پوښتنو او پلټنو وروسته خپله پرېکړې کوي، که څه هم جرګه وال د جرګې له فيصلې او پرېکړې مخکې له دعوی ګيرو يا مدعيانو څخه ګروو يا برمته اخلي، د دعوی دواړه اړخونه د برمتې د لمنځه تللو له وېرې د جرګې فيصله مني. کله نا کله د يوه اړخ له خوا پرېکړه ماتيږي او حل شوې زړه مسئله بېرته له سره پيلوي، دا عمل له يوې خوا د پښتـنـي نرخونو او رواجونو باورنه زيانمنوي او بل لوري ته د خلکو ترمنځ د دښمنيو او بديو لامل کېدلی شي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې د افغانستان قضايي سيستم په خپل جوړښت کې د ډېرو ستونزو له کبله فلج دئ، که په افغانستان کې يو نوي مختلط فعال واحد عدلي قضايي سيستم رامنځته کېږي، بايد د نړېوالو منل شويو مدني قوانينو، اسلامي شرعي قوانينو او هم د عرفي سيمه ييزه قوانينو پربنسټ جوړ شي.

کله چې د افغانستان په دولتي رسمي سيستم کې او يا د مرکو جرګو لپاره ځانګړې رسمي قانوني اداري رامنځته شي او په دغو ادارو کې د سيمه ييزو مرکچيانو د جرګو- مرکو بهير او پرېکړې رسماً ثبت او راجستر شي، د هغو خلکو مخه به ونيول شي چې د مرکو او جرګو پرېکړې او فيصلې له يوې مودې وروسته تهديدوي يا يې نه مني او خپله دعوی بېرته له سره پيلوي.

د پښتنو په تأريخ کې د لومړۍ ځل لپاره د پښتو او پښتونولي د درون کوډکس بنسټ د ايښودلو لپاره د جرګو او مرکو او د خبرو اترو سوله ييز کلتور په اړه ژور فلسفي، حقوقي او سياسي فکر په لويه پکتيا کې رامنځته شوی دئ. له همدې امله جرګې او مرکې په لويه پکتيا کې په عام ولس کې يو ځانګړی دورند ځای لري. مرکچيان د همدې پښتـنـي درونډ دود او دستور ته په کتو سره خپلې درنې فيصلې د عدل او انصاف پر بنسټ کوي.

لويه پکتيا د جرګو او مرکو يوه ژوندۍ ټولنه ده. لويه پکتيا کې نن هم د جرګو او مرکو دود ژوندی ساتل شوی دئ. د لويې پکتيا په اداري عدلي او قضايي سيستم کې د يوې ځانګړې رسمي ادارې رامنځ ته کېدل او د حقوقو په پوهنځيو کې د قومي جرګو او مرکو لپاره د يو څېړنيز ډيپارتمنټ په رامنځته کېدلو سره به د مرکچيانو مرکې او جرګې په دولتي رسمي اداري چوکاټ کې ثبت او راجستر شي. سيمه ييزې مرکې او جرګې به په ولس کې يو ډول رسمي مرکزيت، اجرائيوي، اعتبار او حقوقي ضمانت ومومي.

مرکه او جرګه د پښتـنـو يو لرغوني درونډ دود دئ، ټول پښتـانـه نه يوازې مرکې او جرګې په خپل ورځني ژوند او د ژوندانه په چارو کې پېژني، بلکې پښتـانـه مرکو او جرګو ته په خپله ټولنه کې زښت ډېر ارزښت ورکوي.
پکتيا د جرګو او مرکو وطن بلل کېږي، دا ځکه چې جرګه په پکتيا کې يو ځانګړی ځای لري او د يو خاص او درونډ پښتـنـي دستور په سترګه ورته کتل کېږي، قومي مشران او مرکچيان د همدغو ارزښتمنو دودونو او مهمو نرخونو په مرستې مهمې او درنې پرېکړې خپل ولس ته اوروي.

لیکوال: ایټالیوي مورخ، تأریخپوه، سیاستپوه او ټوکمپوه ښاغلی اندري چیوندا

ژباړه: له انګلیسي ژبې څخه آلماني ته مېـرمـن انا لتخ او له المان ژبې څخه پـښـتـو ته سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

ښاغلي لیکوال د ایټالیا په وسله وال پوځ کې له 1999 تر 2004 ز کلونو پـورې په بوسنیا، کوسوا، افغانستان او عراق کې دنده تر سره کړې ده. هغه د یوه تکړه خبریال په توګـه له نوموړو هېـوادونو څخه خبرونه او رپوټونه چمتو کول او رالـېږل. دی اوسمهال د خـپـلـې دوکـتـورا په لیکلو باندې کار کوي.

د هغه د دوکـتـورا موضوع ,, د پـښـتـنـې دودونو او نورمونو اړیکې له مډرن حقوقي سیسټم سره پرتله کول,, دي.

# په ځوان افغان دولت کې د پـښـتـونـولۍ لرغونی زوړ دودیز قانون

په لر او بر افغانستان کې د پښـتـونـولۍ لرغوني موجود دودونه، ارزښتونه، د منځګړتوب خبرې اترې او د روغې جوړې ښکاره نرخونه او نورمونه له پېړیو پېړیو راهیسې د پښـتـنـو تر منځ له یوه نسل څخه بل ته لېـږدول کـېـږي. دا ارزښتونه د دوی د ټولنیز ژوندانه اړیکي او راکړې ورکړې تنظیموي او شکل ورکوي. دغه لرغوني دودیز ارزښتونه او نرخونه د پرېکړو پر مهال انعطاف منونکي او بدلون موندونکي هم دي. په پـښـتـنـي ارزښتونو کې بدلون نه یوازې د اوږدې جـګـړې د پایلو له امله را منځته شوي، بلکې افغانستان په دې نه دئ توانېدلی چې د پښـتـونولۍ نورمونه، ارزښتونه او د مورال کوډکسونه، چې د یوې زیرمې په حیث موجود دي، د خپل دولت په دولتي جوړښت کې په سمه توګـه وکاروي.

له همدې امله افغاني مورالي حقوقي نورمونه او کوډکسونه د نړېوالو مدرنو حقوقي نورمونو له سیسټم سره سمون نه خوري. د افغانستان په لر او بر کې د پښتونولی فلسفي مفهوم یا افغانیت د پښتنو افغانانو تر منځ د یو ګډ ملي پوهاوي په رامنځته کولو کې د ټولو لپاره یو مشترک مفهوم ګرځېدلی دئ. له همدې امله پښتونولي ټولو پښتنو ته یو ټولمنلی ارزښتمن مفهوم دئ. پښتانه د پښتونولی د کلمې په اورېدو سره خپل سر د موافقي یا هوکړې په توګه ښوروي او ښکته پورته کوي. ځکه د پښتونولی فلسفي مفهوم افغانانو ته یو ګډ لرغوني پښتني میراث ور په یاد وي.

په واقعیت کې د ,, پښتونولي,, کلمه د پښتون اوسېدل یا د پښتونتوب مانا ورکوي. په رښتني توګه پښتونولي د پښتون ولس د یووالي یو جامع، مفصل او ستر تصور وړاندې کوي او د پښتنو افغانانو ترمنځ د یو ګډ ملي، ټولنیز یووالي ژورن مانا او مفهوم ارائه کوي. په لر او بر افغانستان کې پښتونولي په همدې مانا او تعریف کې د درست پښتون افغان ولس له خوا پېژندل کېږي. له همدې امله د پښتونولی نوم د همدې قومي ګروپ یا د ټبر د غړو له خوا په ورځني ژوند کې ډېر نه اخېستل کېږي: ځکه په ښکاره ډول داسې مالومېږي چې دغه ګډ پښتني میراث د ټولو پښتنو له خوا منلي شوی دئ؛ دوی مجبور نه دي چې هره ورځ په ځانګړي ټینګار سره ترینه یاد ونه وکړي.

د پښتنو په پرتله بهرنیان په ځانګړي توګه لویدیځوال د پښتونولی له نامه څخه ډېره یادونه کوي او په دې برخه کې يې څېړني ترسره کړي دي. د اټکل له مخې له ۳۵ څخه تر ۴۰ میلیونو پورې پښتانه په لر او بر افغانستان کې ګډ ژوند کوي. (د لیکوال دا شمېر تر ویل سوي شمېرې څو ځله زیات دی، د محکوم افغانستان یعنی پاکستان د احصائیو رسمي ارقام په پښتونخوا او بلوڅستان کې د مېشتو پښتنو شمېر نېږدې ۴۴ میلیونه پښتانهٔ ښیې – مصحح) ,, پښتانه په نړۍ کې له خپل قومي او قبائیلي نظم سره یو ستر تنظیم شوی توکمي ګروپ پېژندل کېږي ,, پښتانه د خپلې ګډې ژبې او ګډ مذهب تر څنګ خپل واحد پښتني مورال او د کوډکسونو یو ګډ سیسټم لري. دوی د خپلو ټولیزو نورمونو او ارزښتونو لپاره یو ګډ د ارزښتونو ټولنیز سیسټم رامنځته کړی دئ، تر څو د خپل ژوندانه ورځنی ګډې چارې او خپلې راکړه ورکړې او خپل کړه وړه د پښتونولۍ په ټولنیزې قانونغونډې او ټولمنلو قاعدو کې سره تنظیم کړي. پښتانه د همدغو نرخونو او نورمونو مطابق خپل شخصي ژوند او د ژوندانه عمومي چارې تنظیم او عیاروي.

## Andrea Chiovenda



ist Althistoriker, Politikwissenschaftler und Ethnologe. Als Offizier der italienischen Armee war er von 1999 bis 2004 in Bosnien, im Kosovo, in Afghanistan und im Irak im Einsatz und hat als Journalist von dort berichtet. Derzeit promoviert er über paschtunische Bräuche und ihr Verhältnis zum modernen Recht.

حداقل پښتانه په خپله په دې ګروهه دي چې پښتونولي د ټولو پښتنو د ژوند په ټولو چارو کې باید عملي شي. اما په حقیقت کې د پښتنو د پښتونولی د مورال کوډکسونه لا تر اوسه نه دي

ليکل شوي او بدلون نه منونکي هم دي. د پښتنو د پښتونولۍ ډېري بنسټيز اصول په سويلي آسيا کې له ډېرو نورو قومونو څخه پر مختللي دي. په لويديځ کې د انګريزي کولونياليستي چارواکو له خوا د لومړي ځل لپاره د پښتنو د پښتونولۍ اصولو هغه مهال ته د يو ځواکمن قانون په توګه مشابهت ورکول سو او يا د قانوني اجرائيوي اصولو سره سم پرتله سو او تصور ورکول سو کله چې دغه دواړه ولسونه د نولسمې پېړۍ په منځ کې له يو بل سره مخامخ شول.

په انګريزي کولونياليستي چارواکي باندې د پښتنو د پښتونولۍ اصولو او ارزښتونو زښت ډېر اغېز کړي وو. سيمې ته د انګريزانو د پلټنو لومړنۍ لېږل شوې ډلې او وروسته د انګريزي امپراتورۍ په پوځي افسرانو باندې پښتونولي په جوته توګه د پامور اغيز شيندلی وو. ظاهراً په انزوا کې ساتل شويو پښتنو قبائيلو چې د انګريزانو د اشغالي هڅو پر وړاندې په پښتني وسله وال مقاومت کې درېدلي ول انګريزي افسران يې زښت ډېر تر خپل شديد اغېز لاندې راوستل. انګريزانو د پښتنو په اړه په خپلو ليکنو او پلټنو کې يو ډېر په زړه پوري، جذابه انځوريزه طرحه وړاندې کړي ده. انګريزانو له همدې امله د پښتنو له زوړ فکر څخه يو په زړه پورې انځور، چې له يو شرقي رومانتيکي بهرني کليشيوي انځور سره يې سمون خوړ، په نښه کړی دئ.

له همدې مهاله وروسته د پښتنو ځيني نورمونه او ارزښتونه په نړۍ کې مشهور شول او وپېژندل شول او تر نن پورې له توکمپوهانو سره خوندي پاتې شوي دي: د پښتنو په اړه بايد لومړی دې ته ټکي زښت ډېر پام وشي چې د يوه پښتون پت او عزت بايد خوندي وساتل شي او همداسې د هغه د کورنۍ عزت هم بايد خوندي وساتل شي. دا د يو پښتون عزت دئ. يو پښتون تل دې ته چمتو دئ چې د هر ناوړه او يا ناروا عمل پر وړاندې مقابله وکړي، دا هم د هغه غيرت دئ. هر څوک، چې د هغه عزت او د هغه د کورنۍ عزت ته د ورنېږدې کېدلو تکل ولري د داسې يو عمل پر وړاندې دی مجبور کېږي چې په خپل ټول زور سره خپل بدل واخلي. يو پښتون له هغه چا څخه بدل اخلي چې دی او د هغه کورنۍ يې بې عزته کړې وي. له داسې غبرګون سره د هغه د کورنۍ غړي هم مخامخ کېداي شي. په دغه صورت کې بيا د بدل خبره نه رامنځته کېږي.

يو اصيل اصولي پښتون مجبور دئ چې د هر مېلمه، مېلمه پالنه وکړي او په خلاص زړه ورته مېلمستيا ورکړي. هر څوک چې د يو رښتوني پښتون کور ته پناه وړي، هغه مجبور دئ چې پناه وروړي سړي ته ان که د خپل سر دښمن يې هم وي په خپل کور کې پناه ورکړي. ننواتې اکثراً د يو لړ مراسمو په تر سره کولو سره تر سره کېږي. هر څوک چې يو پښتون ته په ننواتې ورشي دی خپل ځان د پناه ورکونکي په واک او اختيار کې ورکوي. پښتنه ټولنه کې په همدې ډول ټولنيزې شخړې او کړکېچونه هوارېږي. د بېلګې په ډول د شخړې يوه خوا د بل کور ته په ننواتې ورځي، په تيوريکي لحاظ د شخړې بل اړخ مجبور دئ چې ننواتې ومني او را منځته شوي کړکېچ ته د تل لپاره د پای ټکی کيښودل کېږي.

پښتـانـه قومي مشران او سپين ږيري په کورني چاپيريال کې او په کليوالي ټولنه کې بې له قيد او شرطه واک او اختيار لري. کله چې په کليوالي چاپيريال کې يو چا ته مادي او يا معنوي زيان رسېدلی وي او يا څوک د خپل حق د غوښتلو تکل يا اراده ولري، نو د عدالت بېرته راوستو لپاره سپين ږيرو ته ورځي. په دغه صورت کې سپين ږيري يوه جرګه راغواړي، جرګه د لانجې له دواړو غاړو څخه واک او اختيار اخلي او په رامنځته شوې پېښه باندې له سره غور کوي او د حل يوه مناسبه لار ورته مومي. هر څوک کولی شي د کلي محکمې ته ورشي. له همدې امله ښځې د کلي جرګې يا محکمې ته ورځي.

دولتي محاکمو ته د ښځو نه ورتګ او عدلي ادارو ته د نه لاسرسی لاملونه ډېر دي. د بېلګې په ډول محاکم ډېر جګ مالي مصارف غواړي، د ليرو او اوږدو لارو شتون يې بل لامل دئ؛ له قانون

ځخه د خلکو ناخبري ده چې په ټولنه کې دولتي محاکمو ته په بده سترګه وکتل شي، رسمي محاکمو ته د ښځو ورتګ ښځې په ټولنه کې له ټولنيزې انزوا سره مخامخ کوي او ښځې له دې خبرې ځخه وېره لري. د جرګو ښه والی د جرګو په ساده توب کې دئ. له خلکو سره وخت نشته او په جرګو کې د خلکو شخړې يا لانجې ډېر ژر فيصله کېږي. داسې نور لاملونه هم شته چې ښځې په بې وزلو هېوادونو کې د شخړو پرمهال رسمي محاکمو ته له ورتګ ځخه ډډه کوي. اکثراً ښځې د شخړو پرمهال سيمه ييزو نارسمي مراجعو ته مراجعه کوي، کله چې دوی په کورني چاپيريال کې له شته وو ستونزو سره مخامخ شي او يا د يوې ښځې ځخه غلا شوي وي، ښځې د کلي مشر ته او يا د کلي ديني عالم يا مذهبي مشر ته ورځې.

.

International Development Law Organiszation (IDLO)

د دې اداري د يوې سروې له مخې په وروسته پاتو هېوادونو کې د دعوی ګانو له پينځو قضيو ځخه ځلور قضيې د کليوالي محاکمو او يا د کليوالي جرګې له خوا فيصله کېږي. دغه سازمان په افغانستان کې هم سروې تر سره کړي ده. له پوښتل شويو افغانانو ځخه ۷۳ سلنه وګړو سيمه ييزو جرګو ته د ورتللو علت داسې بيانوي چې دوی ته په سيمه ييزه کچه سيمه ييزه جرګې يا شوراګانې ځکه د اعتماد وړ دي چې دغه جرګې د سيمه ييزو نورمونو او ارزښتونو پر بنسټ خپلې عدلي پرېکړې کوي. دغه لار د ښځو لپاره يو دوه اړخيزه توره يا خنجر دئ. دا خبره سمه ده، چې په نارسمي جرګو کې ښځو ته د جوړ جاړې خبرې اترې په جوته توګه د ښځو په ګټه تمامېږي. د دغو جرګو موخه دا وي چې په کورني او ټولنيز چاپيريال کې بايد همغږي وساتل شي. ورسره هممهاله په دغه ډول حقوقي سيستم کې له ښځو سره توپيري چلند هم کېږي؛ ځکه په يوه نارينه پاله ټولنه کې دوديز جوړښتونه تل جوت ساتل کېږي او د ښځو حقونو ته په کې په کمه سترګه کتل کېږي. ځينې وخت داسې هم پېښېږي، چې د يوه تر سره شوي جرمي جنايت په بدل کې يوه ښځه يا يوه پېغله نجلۍ د خسارې د جبران په توګه په بدو کې هم ورکول کېږي.

ښځې مجبورې دي چې د خپلو حقوقو په اړه پوره مالومات تر لاسه کړي او دوی ته بايد جرئت ورکړل شي تر ځو دا ډول کړنې او فيصلې تر پوښتنې لاندې راولي. د دې سروې په اړه د دې نړېوال سازمان جنرال سيکرټيرې، اغلې ايرينه خان وايې: ښځې کولي شي په دې برخه کې له لا نور فشار ځخه کار واخلي، تر ځو د دوی له حقوقو ځخه په دغه ډول دوديز سيستم کې ښه ساتنه وشي. په دغه ځېړنه کې له يوې ښې بريالي بېلګې ځخه يادونه کېږي، د ناميبيا د هېواد د اوکوامبې په ولايت کې ډېرې ښځې په دې توانيدلي دي چې ځانونه سيمه ييزې دوديزې مشرۍ ته ورسوي. د ښځو شتون په محاکمو کې بايد ډېر شي او د کلي مشر په دې وپوهول شي چې ښځې هم په مساوي ډول حقوق لري. دا ټول د دې لامل ګرځي چې په دوديزو نرخونو کې د شخړو د حل او فصل په بهير کې له ښځو سره په عدالت کې مساوي چلند وشي.

د لر او بر افغانستان په شمال او جنوب کې دغه ارزښتونه، دودونه، نورمونه او کړه وړه د پښتنو د شخصيت انځور او د پښتنو د نړېوال انځور برخي جوړوي. هو؛ ولې نه پښتنو هم په نړۍ کې خپل د ارزښتونو يو عالي ايډيالي موډل را منځته کړی دئ. دا چې ولي دا نورمونه نه ځارل کېږي او يا هم کله کله دغه نورمونه او ارزښتونه په جدي توګه پلي کېږي او په ټولنيزو کړه وړو کې ترينه استفاده کېږي، بيا هم دغه ارزښتونه د پرلپسې خبرو اترو په بهير کې د سيمه ييزو شرايطو په وجه او د شخړې د يوې يا بلي خوا د ليوالتياوو لپاره ټاکل کېږي. ځيني دوديز ارزښتونه د ځينو ځانګړو ځانګړتياوو او د ځينو خاصو شرايطو لپاره نوي تفسير کېږي او نور بيا د تل لپاره له لاسه ورکول کېږي. دا له منځه تللي نورمونه او ارزښتونه نور د پښتنو د دوديزو رواجونو، سنتونو او عنعناتو برخه نه ګرځي.

د پـښـتـنـو پـه ځواکمنه نارینه پاله ټولنه کې ښځې په سیاسي او عامه چارو کې ډېـر لږ رول لوبوي. د ښځو بدمرغي د هغـې له کړو وړو او د کورنۍ له عزت سره هم اړه لري. په پـښـتـنـو کې یوه کورني هغه مهال یوه با عزته کورني شمـېـرل کـېـږي، کله چې دوی د کور پر ښځینه غړو باندې قوي نظارت ولري. نجونې ډېـر ژر وَدېږي او یا اکثراً د یوولسو او دولسو کلنو په منځ کې د چا په نوم کـېـږي. له ژنکیو یا هلکانو سره همداسـې چلند کـېـږي، خو لږ وروسته واده کـېـږي. نجونو ته په کورني چاپېریال کې د هغوی تر دولس یا دیارلس کلنی پـورې لږ آزادي ورکول کـېـږي. ځینې یې ښوونځیو ته هم ځي. خو کله چې واده یې وکړو او یا د واده کېـدلو عمر ته ورسېـږي نو له عمومي نظر څخه ورکې کـېـږي او سَـتـر کوي. دوی د یوې پـېـغـلـې ژوند پـېـلـوي. دا په دې مانا ده، چې دوی باید په خپل کور کې کښېـني او په کورنیو چارو کې برخه واخلي. دوی اجازه لري او کولی شي د ځانګړو محافلو پر مهال له یو شرعي محرم سره په بورکه کې له کور څخه بهر ووځي.

د پـښـتـنـو د کورنۍ ټولیزه سیستم په (پټري لوکال) یا د خسرګـنـۍ پر سیستم باندې بنا ایښودل شوی دئ، په دې مانا چې واده شوې ښځه د مـېـړه د پلار کور ته ورځي. په بله وینا واده شوې ښځه د مـېـړه له کورنۍ سره او یا د مـېـړه له مور سره ګډ ژوند کوي. ناوې د مـېـړه په کور کې د کور د مشرۍ ښځې تر څارنې لاندې وي. واده شوې ښځه له خـپـلـې کورنۍ سره هغه مهال اړیکي نیولی شي او یا ورتلی شي کله چې د مـېـړه له کورنۍ څخه ورته اجازه ورکړل شي. طلاق یوازې د مـېـړه په خوښه شونی دئ. ښځه په خپله نشي کولی طلاق واخلي. له واده شوې ځواني ښځې سره د مـېـړه په کورنۍ کې کله نا کله د هـغـې ښځې له خوا ناوړه چلند کـېـږي، کومې چې د مـېـړه په کور کې یې له پخوا څخه د څه ویلو برلاسي حقونه ځـانـتـه خوندي کړي وي. دود پالنه د ښځې یو مهم معیار دئ، چې په هغه کې د ټولې کورنۍ د پت او عزت کچه محاسبه کـېـږي. د ځواني واده شوې مـېـرمـنـې یوه تـېـروتـنـــه یا یو بې ځایه قدم کـېـداي شي د ټولې کورنۍ عزت او درنښت تر پښو لاندې کړي. د بـېـلـګې په توګه کله چې یوه ځوانه ښځه یوازې په بازار کې د خوراکي توکو رانیونه کوي او ه همدې مهال له کوره بهر له یو پردي سړي سره د خبرو کولو پر حال ولیدل شي نو همدا کافي ده، چې د کورنۍ ښه نوم د تل لپاره بد شي، له دې عمل سره ښځې ته سزا ورکول کـېـدای شي. د ښځو څارنه او ورسره سختګیره چلند هم د پـښـتـونولۍ یوه برخه ده. دا ټول دې پورې هم اړه لري چې دوی دغه حالات په څه ډول ویني او ارزوي یې، دا د پـښـتـنـو یوه ځانـګـړي ځانـګـړنه ده.

له دې سره سره د پـښـتـونولۍ د نورمونو او ارزښتونو قانونغونډه یوه داسـې ټولګه نه ده، چې هر څه په تـیـره کې یا لکه د کانې کرښې په څـېـر لیکلي شوي وي او یا د یو قانون کتاب په څـېـر لیکلي شوي وي او هر څه باید د قانون په څـېـر خامخا ټکی په ټکی پلي شي.

د پـښـتـونولۍ د مهمو پرنسیپونو او کانسپټونو په چوکاټ کې روغې جوړې او یوې منلي شوي پرېـکړې ته د رسـېـدو لپاره ډېـر پراګماتیک هراړخیز عملي توکي شتون لري. پـښـتـونولي د سیمې د خلکو له عنعناتو سره سم، د هماغه وخت او زمان د اړتیاوو مطابق د یو کړکـېـچ په هوارۍ کې د سوله ییزو خبرواترو له لار ې د حل مناسبې طرحې هم لري.

څه شي چې دیرش کاله پخوا د پـښـتـنـو په سختګیرو اخلاقي اصولو کې او د پـښـتـونولۍ په مهمو نرخونو او ارزښتونو کې نه منونکې ول، کـېـداي شي نن دوی ته سم ونه برېـښي. او یا کـېـدای ش دوی ته اوسمهال خورا ډېـر مهم وګرځي او د دوی له خورا اړینو توکو څخه وشمـېـرل شي. د یوه ولس یا یوه ټبر داخلي ټولنیز جوړښتونونه تل د بدلون په حال کې وي او همداسـې دوی خپل ځانونه د نویو واقعیتونو او د شرایطو له څرنګوالي سره سم عیاروي.

د پـښـتـنـو په ښارونو کې بهرنی اغېز زښـت ډېـر جوت لیدل کـېـږي. که څه هم د دولت کمزورۍ

حاکمیت د کلیوالي سیمو په پرتله په ښارونو کې لږ ډېر محسوس کېږي او په ښارونو کې د زده کړې شونتیاوې لږڅه بهتره دي خو دلته له یوه عالیقدر، درونند، با عزته او قدرمن ښاري پښتون افغان څخه د ښاري ژوند تمه کېږي؛ دی خپل ټول ژوند او خپله کورنۍ په یوې داسې طریقې تنظیموي چې د ژوند دغه ډول به یو کلیوال پښتون ته ناسم ځرګند سي او یا د ژوند دغه بڼه ورته ډېره آزاد خیاله وبریښي. ښاري پښتون خپلو لوڼو ته اجازه ورکوي چې ښوونځیو ته لاړې شي. ان تر دولسم ټولګې پورې زده کړې کولی شي. زامن یې پوهنتوني زده کړې کولی شي او نورو ښارونو ته د ژوند لپاره هم تللي شي.

یو ښاري پښتون د کرکېچ یا شخړې په صورت کې کولی شي پولیسو ته ورشي او د سپین ږیرو د جرګو پر ځای محاکمو ته تللی شي. دی مجبور نه دی خپله لور په کم عمر کې واده کړي. دی نور مجبور هم نه دئ، چې زوم یا د لور مېړه د هغه له کورنۍ یا خپلوانو څخه وي.

هغو پښتنو چې خپلو ځانونو ته د ژوندانه دغه ډول غوره کړی دئ په هېڅ مانا دا نه احساسوي چې دوی د نورو پښتنو په پرتله پښتونتوب یا پښتونولي ته لږ وفاداره دي. دا ممکنه ده، چې دوی هغه پښتانه چې په کلیوالي او لیرې پرتو سیمو کې ژوند کوي او د پښتونولۍ په نورمونو او ارزښتونونو باندې ټینګ ولاړ دي، د ناخبرو، وروسته پاتې شویو او یا له ښاري تمدن څخه د لیرې پاتې شویو وګړو په سترګه وګوري. لنده دا چې په هغو تصوراتو او فکرونو کې چې یو اصیل پښتون څه باید وکړي او څه باید ونه کړي له وخت او زمان سره، د استوګنځي یا د ځای په بدلیدو سره خامخا په کې بدلون راځي.

له همدې امله تر اوسه ناشوني شوي ده چې افغان دولت د پښتونولۍ نورمونه او قاعدې رسماً په یوه قانوني بڼه کې تصویب کړي او یا دولت د پښتونولۍ د قانون او د اصولو تګلاره په خپل عدلي او قضایي سیستم کې شامله کړي.
پښتونولۍ ته اکثراً د یو ډول نالیکل شوي جزائي قانون په څېر کتل شوي دي، دا کتاب په خپل ډول کې د خپلو د ځانګړو طریقو او کړنلارو له امله د جزأ د قانون په نامه هم یادېږي.

پښتنو اصلاً له ډېرو پخوا لرغونو زمانو څخه راپه دېخوا په افغانستان کې پرته له هر ډول دولتي لاسوهنو څخه خپل ژوند تېر کړی دئ. پښتنو اصلاً د یرغلګرو په کولونیالستي مستعمرو کې ژوند نه دئ کړئ. له همدې امله پښتانه له ډېرو مودو راهیسې په دې نهٔ دي توانیدلي چې د خپلو ټولنیز چارو د کنټرول او سمبالښت لپاره یو خپلواک سیستم په پښو ودروي. دا خپلواک سیستم د پښتنو د مشرتوب له ارزښتونو، د پښتنو د سپین ږیرو له اتوریتي او د حاکمیت له ارزښتونو او همداسې د پښتنو له کلتوري ارزښتونو څخه خوندي ساتنه کوي. د پښتنو دغه سیستم په عمومي توګه پر هغو قانوني هدایاتو، لارښونو او فرمانونو باندې ټینګ ولاړ دئ چې تر ټولو د مخه د نارینه او ښځینه د جنسیت ترمنځ د ناوړو اړیکو سزا ټاکي. د پښتونولۍ قانونغونډه په خپل ماهیت او اساساتو کې د پښتنو د خپلو لرغونو، کلتوري، دودیزو نرخونو او نورمونو پر بنسټ رامنځته شوې ده.

که څه هم د پښتنو ځیني ناوړه دودونه له اسلامي شریعت سر په ټکر کې هم دي خو پښتونولي تر ډېره بریده خپل مشروعیت د اسلام د سپېڅلي دین په رڼا کې خپل ځان ته ارائه کوي.

دا خبره بلکل سمه ده چې د جرګې په سیستم کې زښتي ډېرې دولتي قاعدې او کړنلارې شتون لري. جرګې او مرکې په سیمه ییزه کچه بې شمېره ډولونه لري. دا بیا د سیمې له هغو تأریخي شرایطو او د قبیلو له غوښتنو سره تړاو لري چې د ارزښتونه دغه ډولونه یې را منځته کړي دي.

حق او عدالت او د جوړ جاړي لپاره د منځګړتوب کړنلارې د پېړیو په اوږدو کې په محلي او سیمه

بيزه کچه په خپلواکه ډول وده کړې ده. په عمومي توګه ددغو حقوقي نورمونو او قومي ارزښتونو پر بنسټ د مورالي هداياتو د بنسټ يو ډول را منځته شوی دئ.

د ساري په ډول د پکتيا ولايت په يوه قبيله کې داسې يو نرخ هم شته چې د جرګې د پرېکړې پر بنسټ يوه نجلۍ بلې کورنۍ ته د بدو په بدل کې ورکول کېږي. تر څو رامنځته شوې خساره يا ګناه بېرته جبران کړل شي .همدغه ګناه يا جرم د ننګرهار ولايت په يوه بله سيمه کې د پيسو په بدل کې بېرته جبران کېږي. دلته بيا په بدو کې خپله لور ورکول يو نه بخښوونکي جرم دئ.

د پښتنو په ټولنه کې پرېکړه کونکي ارزښتونه، اخلاقي ارزښتونه دي، دا ارزښتونه له يوې خوا د پښتنو پر ټولنيزو ځانګړتياوو باندې ټينګ ولاړ دي، له بلې خوا پرېکړه، د دوی د کړکېچ د حلولو د سيسټم پر بنسټ باندې کېږي. د پښتونولۍ دغه قاعده تر ډېره بريده د لويديځ له قوانينو سره سمون نه خوري. په پښتنو کې د نارينه او ښځينه جنسيت اړيکې ډېرې سختګيره نارينه پاله ټاکل شوې دي. له همدې امله ښځې د نارينه وو په پرتله هېڅ حقوق نه لري.

داسې يو چلند د يو نوي مډرن دولت له حقوقي سيسټم سره اړخ نه لګوي. يو مډرن دولت مجبور دئ چې د خپلو ټولو وګړو د حقوقو خوندي ساتنه پرته له جنسيت او عمر څخه وکړي. پښتنو ته دا ستره مانا لري، چې د نارينه په شان کړه وړه له ځانه وښيي. داسې کړه وړه اکثراً له تاوتريخوالي سره مل وي. دا ډول ځان ښودنه په عمل کې ښيي چې په خپل سر بدل اخېستل کېږي او د کورنيو ترمنځ شخړو او دعوی ګانو ته لاره پرانستل کېږي. داسې عملونه په يو قانوني دولت کې نه زغمل کېږي، يوازې دولت کولی شي د يوه ځانګړي تعريف له لارې د تشدد انحصار يا د زور د استعمال ځواک په خپل لاس کې واخلي او دولت کولی شي قانوناً د سزا ورکولو حق ځانه ته خوندي وساتي. په ډاډمنه توګه بايد وويل شي چې پښتانه به صبر ونه کړي، کله چې قانون د دوی له ليوالتياوو سره سمون وخوري او له عمل کوونکو دولتي حقوقي ارګانونو څخه به په شا هم نشي. که څه هم د دولت دغه حقوقي ارګانونه له نيمګړتياو او بې اغېزتوب څخه کړېږي خو په دې اړه خپله دوی په خپلواک ډول په يوه يا بله قضيه کې پرېکړه کوي.

څه شي چې ديرش کاله مخکې د پښتنو په سختګيره اخلاقي ټولنه کې او د پښتونولۍ په مهمو نرخونو او ارزښتونو کې نه منونکي ول، کېداي شي چې نن ور ته سم وبرېښي او دوی ته به اوس خورا ډېر مهم وي او د دوی له خورا اړينو توکو څخه به وشمېرل شي.

د پښتونولۍ د قانون د ليکلو په لاره کې او يا د دولت په عدلي او قضايي سيسټم کې د پښتونولۍ د رسماً شاملولو په لاره کې يو بل خنډ هم شته. پښتونولي لا تراوسه د دولت د قوانينو په پرنسيبونو کې شامله شوې هم نه ده. پښتونولي همداسې په خپل قوت سره ژوندۍ پاتې شوې ده. او په خپله خپل ځانته ځواک مومي. د افغانستان د وروستيو پرلپسې پېښو ډېرشو کالو بربادوونکو جګړو پر پښتونولۍ باندې خپلې ويجاړونکي اغېزې او علائم پرښودلي دي. دغو جګړو هم د پښتنو په کړو وړو کې ستر بدلون راوستی دئ؛ جګړو خپل ځواکمن منفي اِثرات په پښتنو کې پرېښيي دي. اوس ددې وخت رارسېدلي دئ چې د پښتنو د اخلاقي ارزښتونو د لمنځه تللو لاملونه رابرسيره شي.

پښتنه ټولنه په افغانستان کې په دې وروستيو دريو لسيزو کې په ډراماټيک ډول بدله شوې ده. په پښتنه ټولنه کې له سلګونو کلونو راهيسې د مشرتوب، مشرولۍ او د سپين ږيرتوب اغېزمن ځواک شتون درلود، پرله پسې اضطراري بېړني حالات او له تاوترخوالي څخه ډکې خونړۍ جګړې د دې لامل شوې، چې د ولسي مشرانو ځواک او اغېزې يوې بلې ډلې ته ولېږدول شي، دا ډلې د پوځي مشروالۍ وسله والې ډلې دي. په افغانستان کې جنګي قوماندانان په خپله يوه ټولنيزه طبقه

ګرځېدلي ده. د جنګ جګړو پر مهال د دوی هدایات، د دوی اعتبار او د دوی وسله وال ځواک په پرلپسي توګه د قومي مشرانو په اغېز او مشروالي باندې خپل سیوری غوړولی دئ. او دا لړۍ تر نن پورې همداسې دوام لري. تر ټولو مهمه خبردا ده چې د قوماندانو ډلې او د دوی مخکښ رول لږ تر لږه د پښتنو راتلونکو دوو ځوانو نسلونو ته وړپاتې شو. صحنې ته د وسله والې ډلې له داخلېدلو سره د دوی اکثراً خپل کړه وړه او دندې د تشدد او زورزیاتي له لارې په ځان ښودنه کې تر سره کوې. دوی د خلکو د دودونو، نرخونو او د عنعناتو په تر پښو لاندې کولو برسیره د مشرانو دودیزه حاکمیت ته هیڅ پاملرنه نه کوې. دوی په خپله خپل ځان ته نوې ارزښتونه رامنځ ته کوې. دا ارزښتونه له پخوانیو ارزښتونو سره په ټکر کې دي. د هرې وسله والې ډلې هر یو غړی د خپلې ارادې د تحمیلو لپاره کافي ځواک لري، دوی د خپلو څو وسله والو کسانو په زور خپلو ناوړو اعمالو ته برائت هم ورکوي، دا هغه جرمي اعمال دي چې پخوا به د پښتنو د مشرانو او سپین ږیرو له خوا په جرګو کې محکومېدل او خبره دومره ډېره ورانه شي چې د جرګو کانسپټ خپله مانا او د خپل توازن د ساتلو قابلیت په خپله له لاسه ورکوي. همدارنګه پر ټولنیز مساوات او ټولنیز احساس باندې کنټرول لمنځه ځي. دا هغه څه دي چې د دغو ارزښتونو ساتنه به پخوا جرګو کوله.

لیکوال لیکي. له هغو پښتنو سره چې ما په دې اړه خبرې اترې کړي دي ماته یې د تشریح کولو پر مهال دا احساس راکاوهٔ لکه چې دوی هم لا تر اوسه د پخوا په څېر د لویدیځ په وحشت کې ژوند کوي، چېرته چې د امنیت او د شخصي ژوند د ساتنې په اړه هېڅ راز ضمیر او وجدان شتون نه درلود. د دغو ناوړو کړنو پایله دا شوه چې ډېر هغه دودیز کړه وړه دي له منځه لاړ شي چې په خلکو کې یې دوه اړخیز اعتماد او اعتبار را منځته کاوه. د بېلګې په ډول په مېلمستیا کې، په پښتنه ټولنه کې د هر انسان مېلمه پالنه کېږي، کله چې یو سړی د مېلمه په توګه خپل کور ته ورشي، طبیعي خبرده چې په دې ډول د دغه ارزښت مخه نیول کېږي او دا ناشوني کېږي او مېلمه پال سړی نامطمینه کېږي، چې د خپل مېلمه امنیت او عزت په رښتني توګه خوندي کولې شي او کنه، دا ارزښت په دې وجه ناشوني کېږي ځکه چې د کوربه کورنۍ د خپل مېلمه د ساتلو او مېلمه پالنې په بدل کې د انتقام له اخېستلو سره مخامخ کېدای شي. او یا.کله چې څوک په خپل کور کې د یو بهرني او یا یو بل ناسم مېلمه، مېلمه پالنه وکړي. زورور جګړه مار د خپلو عجیبو غریبو جنایاتونو په بدل کې هېڅ نه مجازات کېږي. دا ډول ناوړه جرایم مخ په زیاتیدو دي. د خوندي امنیت د نشتون له امله دا هم یو دلیل کېدا شي، چې ښځه د خپلې کورنۍ د غړو له خوا لانوره وڅارل شي.

څېړنوال د خپلې څېړنې په پای کې دې پایلې ته رسېږي چې پښتونولي د ټولو لپاره یو منظم، ټینګ او واحد سیستم نه دئ، چې په کې دا ټول حقوقي نورمونه او کړو وړو یو ډول وي. بلکې پښتونولي له یو ډینامیک قوت څخه ډک ځواک دئ او دا یوه ځواکمنه بدلون موندونکې قانونغونډه ده چې موږ ورته د یوې مورالي پرنسیبي قاعدي د ټولګې په څېر کتلي شو. د پښتنو دا قانونغونډه پر خپلو اساساتو ولاړه ده. د پښتنو هره یوه ټولنه د خپلو کلتوري اساساتو او پرنسیبونو پر بنسټ ولاړه ده او پښتنې قبیلې پخپلو میراثي دودونو کې په قاعدوي توګې سره یوځای متحدې ساتي. افغانستان نن په دې هڅه کې دئ چې یوه نوي مډرنه او د لویدیځ په تصوراتو ولاړه دولتي اداره رامنځته کړي. دا به ډېره ګرانه پریوځي، چې د پښتونولي په قانونغونډه کې ټول خلاصه شوي نورمونه، دودونه او ارزښتونه ولیکل شي او بیا دې په نوې قانوني سیستم کې داخل کړل شي. کله چې ارزښتونه، ټولنیز او حقوقي دودونه او رواجونه ټاکي او دا ارزښتونه د دولت له هغه ایډیالوژیک موډل سره تضاد یا مغایرت ولري، چې دولت یې د تر لاسه کولو په لټه کې دئ نو دا به ناشوني وي چې دغه دواړه عملي کړنې دې په دولتي سیستم کې سره پخلا کړل شي.

# د پښتـونـولۍ د حجرې او جومات کانسپټ

حمزه بابا لیکي!

چې هر کله داستان د افغان لیکم
یوه شه پت او ننګ د مسلمان لیکم

په پښتـنـه ټولنه کې حجره د خبرو اترو، اند جوړولو، د ولسي یووالي ځای، د مېلمه استوګنځای، د مېلمه پالنې، د عزت او درنښت یوه خونه ده. کلیوال پښتـانـه په جومات کې د الله تعالی د عبادت او دیني عقیدت لپاره را غونډېږي. پښتـانـه افغانان د اسلامیت فلسفه په جومات کې زده کوي او د افغانیت فلسفي نرخونه، دودونه او اخلاقي معیارونه په حجرو کې زده کوي. له همدې امله پښتـنـه ټولنه کې پښتـنـو ته په هر کلي کې د حجرې او جومات شتون خورا اړین بریښي. د افغانیت د ارزښتونو او د کلیوالي جوړښتـنو پر بنسټ کلي کې حجره او جومات باید څنګ پر څنګ وي. پښتـانـه په دې ګروهه دي چې یو ښه پښتـون یو ښه مسلمان دئ. د بېلګې په ډول ځینې پښتـانـه په دې اند دي چې د پښتـو قانون مو دومره اسلامي دئ چې که اسلام نه وای، نو بیا به هم موږ مسلمانان وای. په پښتـنـه ټولنه کې د پښتـونولي ډېر اصول او ارزښتونه له اسلامي ارزښتونو سره مطابقت لري. د پښتـونولۍ د ننګ او غیرت اصول د اسلامي شریعت د صریح احکامو په ننګه کې ولاړ دي، نه یې ماتولي شي او نه یې له پامه غورځولي شي. پښتـانـه په دې باور دي چې پښتـونولي د پښتـنـو یو لرغونی دودیز- عدالتي او د اخلاقي کړو وړو یو نا لیکل شوي قانون دئ او د اسلامي شریعت صریح احکام، الهي احکام دي.

د همدې نړدیوالي له امله پښتـانـه نشي کولي په یوه وړوکي کلي یا کلیوالي چاپېریال کې د پښتـونولۍ او د اسلامي شریعت ارزښتونه سره بېل وساتي. سربېره پردې د حجرې سرې په جومات کې خپل دروند ځای لري او د جومات سرې په حجره کې د ستر عزت خاوند دئ. د حجرې سرې په جومات کې خپل پنځه وخته لمونځ او عبادت کوي او ورسره په جومات کې په خپله اسلامي عقیده کې زده کړې کوي.

له پېړیو پېړیو راهیسې د پښتـنـو په ټولو کلیوالي سیمو کې د حجرې او جومات ترمنځ نشلېدونکې اړیکې شتون لري. دغو تأریخي اړیکو د دیندارو مخلصو پښتـنـي قبائیلو ترمنځ د یووالي، سولې، عدالت، برابرۍ او د مساوات بنسټ ایښودلی دئ. حجره او جومات د پښتـنـي ټولنې د پاینښت او جوړښت دوه خورا مهمې ستنې دي. همدلته په کلي کې د افغانانو ترمنځ د اسلامیت او

افغانیت د ربښتینولی یو سپېڅلـی ولسي تړون رامنځ ته شوی دئ. هر کله چې افغان ملي دولتونو د ولس او دولت ترمنځه د واټن د لیرې کولو هڅه کړې، نو حجرې او جومات ته ورغلي دي. د افغان ملي دولت او افغان ولس ترمنځ د باور او اعتماد اړیکې په حجرو او جوماتونو کې رامنځته کېږي. د پښتـنـي ټولنې همدغه دوه ستې دي چې افغان ملي دولتونو ته د پایښت او خپلواکۍ ځواک وربخښي او له کمزوریو یې ساتي. په افغانستان کې د حجرې او جومات بنستیزه ستـنې د دولت او ټولنې ترمنځ خورا مهمې اړیکې جوړوي. د حجرې، جومات او افغان دولت ترمنځ متوازنه اړیکې د دې لامل ګرځي چې د افغان ملي دولتونو او افغان ولس تر منځ واټن لږ شي. د افغانستان په تأریخ کې هېڅکله یو افغان دولت پرته له حجرې او جومات څخه په خپلو پښو نه دئ دریدلی. د افغانیت او اسلامیت ملي ارزښتونه دي چې خپلواک افغانان له سختدریځۍ او دیني توندلاریتوب څخه منځلاریتوب ته راګرځـوي. په پـښـتـنـه تولنه کې حجره او جومات د عدالت، مساوات او برابرۍ دوه مهمې بنسټیزې ستـنې دي. په بله وینا افغانیت او اسلامیت د یو خپلواک افغان دوه وزرې دي چې د یو ویشتمې پېړۍ نړۍ کې هم پرې الوځي.

کلیوال ځوانان په حجرو کې د کیسو او بنډار لپاره هم راټولېږي. دوی په حجرو او دېرو کې توکې ټکالې کوي، شعرونه، غزلونه لولي، ټـنـګ ټکور او رباب هم غږوي. کلیوال د حجرې د مـېـلمه پالنې په مالي لګښتونو کې په مساوي توګـه برخه اخلي. د کلي ځلمیان د جومات په ساتـنـه او چوپړ کې ولاړ دي. کلیوال د حجرې او جومات د جوړولو په چاروکې برخه اخلي. د پښتـنـو د کلیو جوماتونه په عبادت کوونکو او مقتدیانو باندې ښکلې برېښي او د پښتـنـو حجرې د پښتـنـو په درنو مـېـلمنو ښایسته برېښي. که سړی ښه ځیر شي، له آمو تر اباسنه د پـښـتـنـو افغانانو کورونه، د پـښـتـنـو کلي د پـښـتـنـو د کلیوالي ژوند انځور او د افغانانو ټولنیز جوړښتونه له یو بل سره زښت ډېر ورته ـ والی لري. د پښتـنـو اړیکې د افغانیت او اسلامیت د ټولنیز تړون له لارې له یو بل سره ټینګ تړل شوي دي. په ډېرې خواشینۍ سره نن د څه دباندې ځلویښتو کالو جنګ، جګړو په اور کې د پښتـنـو د حجرو، دېرو، جوماتونو او ښوونځیو دړې یا دروازې بندې او یا قصداً په بمونو الوځول شوی او ویجاړې کړل شوي دي.




د پـښـتـنـو دښمنان د مـېـلمه په پلمه د پښتـنـو له مـېـلمه پالنې څخه ناوړه ګټه اخلي. بې عزته، بې غیرته مـېـلمه (دښمن) په ډېرې سپین سترګۍ او بې شرمۍ سره د پښتـنـو په حجرو او جوماتونو کې بمې چاودنې کوي، د بې ګناهو افغانانو په منځ کې ځانمرګي بریدونه تر سره کوي، د همدې اوږدې جـګـړې په بهیر کې د پـښـتـنـو حجرو، جوماتونو او د

پښتنو د کلیو ښوونځیو ته سخت زیانونه او تاوانونه وراوښتي دي او ورسره د پښتنو د ټولنیز ژوند جوړښتونه او د پښتونولی د اصولو دودیزه چوکاټ مات کړل شوی دئ. د پښتنو بې غیرته، بې عزته دښمن، ناخبره ساده پښتون مېلمه پال په خپل کورکې وژني. پښتانه اوس په خپله حجره کې دروند مېلمه ته د شک په سترګه ګوري. د پښتنو د درنو مېلمنو پرمخ دړې تړل شوي دي. نن ځوک مېلمه ته په ورین تندی ښه راغلاست نه وايي. د کلیوالو په منځ کې وېره خپره شوي ده. د خلکو د تګ راتګ او ورسره د خپلوي ټولنیزي اړیکې هم پرې شوې دي.

که لږ نور ژور فکر وشي، له پخوا راهیسې لومړی انګریزانو وروسته د پنجاب واکدارانو په شعوري او پلان شوي توګه خپل استعماري سیاستونه داسې عیار کړل چې د افغان پښتون ولس له ویشلو سره سم د پښتنو د حجرو او جوماتونو ترمنځ اختلاف هم رامنځته شي. د روسانو د یرغل پر مهال او د افغان جهاد او مقاومت په ترڅ کې د ساده کلیوال پښتون ملا ماغزه د پاکستان د ای ایس ای په سیاسي مذهبي مدرسو کې د اسلام په نامه وریریمینځل شول، د پښتنو د ځینو دیني علماوو په ماغزو کې د افغانیت ملي احساس او افغاني ملي ارزښتونه فلتر شول، ساده کلیوال ملا د یوې مودې له تېرولو وروسته بېرته د سیاسي شوي او بدل شوي سړي په توګه د خپل کلي ورانولو ته له پردي توپک سره راغلی دئ. د ساده کلیوال ملا زوی جنګي قوماندان شو او ورسره دغه ناخبره او ناپوه استخباراتي ملا په کلي کې د حجرې دروند مسلمان سړي ته په بده سترګه برګ برګ وکتل. همداسې د حجرې سړي، سیاسي ملا ته چې پردی توپک یې ترغاړې وو، د شک په سترګه وکتل. له همدې مهاله راوروسته په پښتنو کې د بربادۍ، تباهی او خونړیو ناورینونو لړۍ پیل شوه، او دا لړۍ تر نن پورې روانه ده. اوس ځیني بې پښتو ملایان په افغان ولس کې د منافقت او شرارات جوړولو ماسټري لري.

افغان سیاسي مشران د غفلت په خوبونو کې ویده دي او نه راویښېږي. که افغان مشران له خپلو شخصي تنظیمي غوښتنو ځخه تېر شي او د خپل ولس د ژغورنې لپاره د خپلو پلرونو په څېر خپل قومي جوړښتونه او خپلې ملي افغاني ستونزې وپېژني، په خپل افغانیت او اسلامیت باندې پل کېښږدي او د افغانانو د ملي یووالي او دایمي سولې لپاره یو بل ته لاسونه سره ورکړي، د افغان ولس د ژغورنې لاره به ډېره ژر لنډه شي. که نن د حجرې، د جومات او د پوهنتون افغانان د خپل ویاړلي او ځورېدلي ولس د ژغورنې لپاره سره یو موټي نشي، د هېواد د خپلواکۍ، د ملي یووالي او د ملي سیاسي مشرتابه لپاره د یووالي په تغر سره کښېنني، د پښتنو افغانانو نني قومي مشران، د مذهبي ډلو مشران او د افغان سیاسي ګوندونو مشران به د لوی خدای ج په قهر او غضب اخته شي، دوی به د یو بل سرونه سره وخوري. مظلوم افغانان به له څېرلي ګریوان سره، د دوی د بې اتفاقۍ او بې کفایتۍ له امله د جګړو په اور کې وسوځي.

لکه چې ښاغلي نورالبشرنوید د پښتونخوا کالم کې لیکي :

لکه چې لښکر وي او سر خیل نه وي
لکه چې سنګر وي، خو سنګروال یې نه وي
لکه چې قام موجود وي، خو وجود یې ځو ځو ځایه تقسم وي

اوسمهال هغه وخت رارسېدلی دئ چې پښتون قام خپل یرغمل شوی سیاسي واک، قیادت او مشرتوب بېرته ترلاسه کړي.

## د پښتونولۍ د لښکر او اربکي کانسپټ

د پښتونولۍ په اصولو کې لښکر د پښتنو یو قبائیلي خپلواک رضاکاره وسله وال پوځ ته ویل کېږي. د یوې قومي جرګې له پرېکړې وروسته، کله چې اربکیان د پښتنو له بېلابېلو ټبرونو او قبیلو څخه د امنیت د ساتلو او یا د یوې مهمې ټولګټې ټولنیزې، خیر ښېګڼې چارې لپاره له هر کلي څخه په مساوي توګه رابلل کېږي، یو قبائیلي لښکر ترې جوړېږي. لښکر په ځانګړو حالاتو او ځانګړو قضیو کې رابلل کېږي. د بېلګې په ډول د یوې قبیلې په خپل خپلمنځي شخړه کې د دوو قبیلو ترمنځ په جګړه کې او یا د یوې معیني سیمې د امنیت د ساتلو لپاره راغوښتل کېږي.

د پښتنې لښکر هر غړي د هېواد د خپلواکۍ په جګړه کې یا د ولسي ګټو د ساتلو لپاره او د یو سپېڅلي ولسي ارمان د تر سره کولو لپاره خپله ملا ټینګه په کمربندونو تړي، په خوښه او غورځیو، جنګ ته ورځي. اربکیان د پښتون ولس د ننګیالیو، نومیالیو او مېړنیو ځوانانو یوه غښتلي خدمتګاره ډله ده، چې یوازې د خپلو مشرانو د جرګو او مرکو پرېکړې عملي کوي. اربکیان د پښتني ولس د سیاسي ارادې یو خپلواک لښکر دئ. کله چې د دو ټبرونو یا کلیو ترمنځ بدي او یا د ځمکو، غرنو او څرځایونو په اړه شخړه رامنځته شي د بل قوم یا کلي اربکیان د دوو دښمنو قبیلو ترمنځ په مرچو کې ځای په ځای کېږي او په دښمنو ډلو باندې د سولې او د خبرو اترو غږ کوي. د دوی مخور مشران او سپین زیري د سیالو ډلو تر منځ د جرګې او مرکو له لارې د سولې او روغې جوړې هڅې پېلوي. اربکیان یوازې د پښتني جرګې پرېکړې عملي کوي. په پښتنه ټولنه کې د اربکیانو راوتل د پښتنو په ویاړلي تأریخ کې د لمر په څېر یوه جوته ټولمنلې ښکارنده ده.

د پښتونولۍ د اربکي کانسپټ د پښتنو په ځلانده اوږد تأریخ کې ستر مهم رول لوبولی دئ. د اربکیانو دود او دستور په پښتنو او د پښتنو په سیمو کې خپلې ژورې تأریخي ریښې لري. اربکیانو د پښتني ټولنې غښتلي، ویاړمن او غیرتمن رضا کاره ځوانان دي. پښتانه اربکیان د ویښ ضمیر او پاک وجدان خاوندان دي، دوی له یوې سپېڅلي او رښتني سیمه ییزه مبارزې څخه خوند اخلي. اربکیان د خپل اربکي دود ستور په چوکاټ د خپل ټبر او د خپلو مخورو مشرانو پرېکړو عملي کوي، دوی د خپلو قومي مشرانو نوم، ننګ او د غیرت هسکې شملې جګې او درنې ساتي. اربکیان له خپلو وسلو سره د پښتني ننګ، غیرت او مېړانې ډګر ته په خوښه وردورمي. اربکیان د خپل خدمت په بدل کې له چا څخه اجوره او یا تنخوا نه غواړي، بلکې د خپلې خیرښېګڼې ددندې اجر له خپل خالقه غواړي. اربکیان ځان ته ورسپارلي شوي ټولنیزې چارې خپل وجداني مسؤولیت ګڼي. دوی د یو پاک سپېڅلي پښتني احساس په چوکاټ کې خپله دنده د یو خپلواک خدایي خدمتګار په څېر تر سره کوي. د ورسپارل شوې دندې له تر سره کولو وروسته د اربکیانو لښکر ړنګېږي او هر څوک د خپل ورځني ژوند په چارو پسې روانېږي.

پښتانه اوس پوهېدلي او پوهېږي چې دښمن نه یوازې د دوی د جسمي تباهۍ او بربادۍ لپاره را دانګلي، بلکې د غازي افغانانو د غرور، شهامت، د افغانانو د ملي نوامیسو، د اتلولۍ د اصلي منځ زړي او د جوهر د له منځه وړلو لپاره یې هم پټ پلانونه جوړ کړي دي. دښمن غواړي لومړۍ د پښتنو په سپېڅلو ملي ارزښتونو او اسلامي عقیدتي ارزښتونو او په ولس کې منل شویو سنتونو باندې ملنډې ووهي. د پښتنو دښمنان د مسلمان په جامه کې نن دومره سپین سترګي شوي چې د پښتنو په مخ کې د دوی ملي احساس، اسلامي دودونه او پښتني لرغوني ارزښتونه، د پښتنو د خپلواکۍ ویاړلي غازیان او د پښتنو ملي اتلان مسخره او سپکوي.

## اربکیان که سیمه ییزه پولیس ؟

د بېلګې په ډول د خواشینۍ ځای دئ او د تعجب وړ خبره ده چې له څو لسیزو راهیسې ځینې پوه

روڼ - اندي پښتانه سیاستوال او افغان خبریالان د پښتونولی د اربکي یا لښکر - دود او د جنګي جنایتکارو اجیرو ملیشو او د سیمه ییزو پولیسو د مفاهیمو ترمنځ سم توپیر نشي کولی.

ملیشو د پیسو په بدل کې هر ډول جنګي جنایتونه تر سره کړي او کوي یې. افغان جنګسالاران د ګاونډیو هېوادونو لخوا د افغان ولس د بربادي لپاره ګومارل شوي او پېژندل شوي خلک دي. ملیشي انارشي، خپل – سري او ملوک الطوایفي رامنځته کوي. کلي په کلي او سیمه په سیمه کې جنګ او جګړې زېږوي.

ځیني افغان سیاسي چارواکي، سیاسي شننونکي او افغان خبریالان په پوهې یا نا پوهی، د پښتنو د دښمنانو په څېر ملیشې، محلي یا سیمه ییزه پولیس د پښتنو د اربکیانو په نوم یادوي. سیمه ییز پولیس د حکومت په اداري تشکیلاتو کې ثبت شوي دي. دوی له دولت څخه وسلې، پیسې، جنګي تجهزات، مهمات او نور وسایل تر لاسه کوي. د افغان حکومت وسله وال مخالفین، پښتانه طالبان، هم په ناپوهی سره د پښتنو له ملي ارزښتونو سره ستر ظلم او ستره جفا کوي. دوی د پښتنو ځوانانو د خپلواکی له احساساتو څخه ناوړه استفادې کوي. دوی په خپلو رسنیو کې حکومتي ملیشي او سیمه ییزه پولیس د پښتني دودونو خلاف د اربکیانو په نامه یادوي.

په لوی افغانستان کې له شپیتو، اوویا کلونو راهیسې انګریزانو، پنجابیانو، روسانو او امریکایانو د خپلو شومو پلانونو عملي کولو او استعماري موخو لپاره جنګي قبائیلي ملیشې، ځاني دفاع یا دفاع- خودي او د سیمه ییزو پولیسو په نومونو وسله والې مرموزې، مزدورې ډلې رامنځته کړي دي. د پنجاب پوځیانو د خپلو بدرنګو تورو استعماري موخو لپاره د ډیورنډ کرښې په ورڅېرمه په قبائیلي سیمو کې له پښتنو قبائیلو څخه پښتون ضد ځواکونه او پوځي ملیشې جوړې کړي دي. روسانو د خپل یرغل پر مهال هم د خپلو استعماري موخو لپاره د دفاع خودي او ګلم جم په نامه جنګي ملیشې را منځته کړې وې.

د پنجاب پوځیانو د پښتنو په قبائیلي سیموکې ملیشه- یې ځواک د خپلو استعماري انګریزي ډوله ګټو لپاره جوړ کړی دئ. د پنجاب او اسلام اباد د واکمنانو سترګې د پښتنو له اربکیانو څخه سختي سوځي. دوی پوهېږي، چې اربکیان د افغان ولس د بېړني غبرګون یو دفاعي خپلواک ځواک دئ، دوی غواړي د پښتنو پر دغه پښتني لرغوني سپېڅلي ارزښت باندې هم ملندې ووهي. یرغلګر غواړي پښتانه د چل ول، د زور او زر له لارې په خپله قبضه کې وساتي.

په دې وروستیو کلونو کې کله چې د امریکایي ځواکونو ستر قوماندان جنرال ډیویډ پیټریوس د ناټو عمومي قوماندان په توګه وګومارل شو، هغه په افغانستان کې د سیمه ییزو پولیسو یوه طرحه جوړه کړه، د دې لپاره چې دغه ځواک افغاني ځواک وښودل شي، د اربکیانو په نوم ونومول شول. دا سیمه ییزه پولیس هغه قومي اربکیان نه دي، کوم چې د پښتونولی له سپېڅلي دود سره سم او د پښتني ټولنې د اصولو پر بنسټ د یوې قومي جرګې لخوا د یوې ځانګړي دندې د تر سره کولو لپاره راغوښتل کېږي. په افغانستان کې سیمه ییزه پولیس د خپلې سیمې امنیت نشي ساتلی او خپله خپلواکي هم نلري.

سیمه ییزو پولیسو د اربکیانو په نامه په کلیوالو سیمو کې سیمه ییزې دښمنی او د خلکو تر منځ اختلافات زېږولي دي. افغاني ټولنې ته په کتو سره له کله چې د سیمه ییزو پولیسو فعالیت پیل شوی، دغه ځواک د قومي او سیمه ییزو شخړو او لانجو لامل شوی او د قومي او سیمه ییزو اوږدو دښمنیو اور یې د پښتنو په سیمو کې بل کړی دئ. له همدې امله د دښمن لخوا په افغاني ټولنه کې د اوږدو خونړیو بدیو او جنګ جګړو بنسټ ایښودل شوی دئ. دغه استعماري طرحې یا پلانونه د پښتنو افغانانو ترمنځ د جنګ جګړو له اوږدولو سره مرسته کړې.

سیمه ییزو پولیسو سیمه ییز ولسي وګړي تر پوزې راوستي دي، دغو سیمه ییزو پولیسو د اربکیانو په نوم د ولسي وګړو ژوند دومره تریخ کړی چې دوی یې د خپلې سیمو او کورونو پرېښودلو ته اړ کړي دي.



په ځینو افغاني رسنیو کې لیکل کېږي. ,,اربکیان د لویو لارو په اوږدو کې ولسي خلکو ته د بې عزتیو اړولو سربېره له خلکو پېسې هم اخلي,,. هیله ده، هغه افغان روڼ - اندي، چې پښتني خویونو، دودونو، رواجونو او ارزښتونو ته د زړه له کومې درنښت لري او د بهرنیو پردیو تمدنونو او د پنجابي، ایراني، روسي، امریکایي او انګریزي کلتورنو تر اغېز لاندې نه وي لاغلي او هغه پښتانه افغانان، چې د ننګ ، غیرت، د شرم او حیا جامې یې نه وي څېرلې، د افغان او افغانیت او د اسلام او اسلامیت په سیوري کې له افراط او تفریط او قومي تعصب څخه ځان ژغورلی بولي او د خپل سپېڅلي دین اسلام په سیوري کې د منځلاري امت احساس په زړه کې لري؛ له هغو پښتنو افغانانو څخه چې خپل پښتانه وړونه له هر ډول بدمرغیو او ناخوالو څخه تر خپل وس او توان پورې ساتل غواړي، یو ځلي بیا تمه کېږي، چې نوره خپله ګټه د خپل ولس په ګټو کې ولټوي، که غواړو له اوسنیو حالاتو او ناورینونو څخه ځانونه وژغورو، نو مجبور یو چې د یو واحد ملت په توګه له خپل ملي هویت، له خپلو ملي نوامیسو، له خپل اصیل افغاني ملي کلتور او پښتني ارزښتونو څخه په ویښه ساتنه او پالنه وکړو.

خپلواک اربکیان د افغان ولس د ملي نوامیسو او له افغان هېواد څخه دفاع کړې او کوي یې. اربکیان د افغان ټولنه کې د افغان ولس د عزت، غیرت، مېړانې او د خپلواکۍ د ساتلو یو خپلواک او د بېړنې غبرګون ځواک دئ. یرغلګر او پردي استعماري ځواکونه تل د افغان ولس له خود- جوش، خپلواک، ولسي پاڅون او بېړني دفاعي غبرګون څخه وېره لري. د افغانانو په تأریخ کې انګریزان، پنجابیان، ایرانیان، روسان او امریکایان د پښتنو له دې ډول خپلواک غبرګونیزه ځواک څخه زښتي ډېرې بدهې خاطرې لري. یرغلګرو تل هڅه کړې چې د افغان باتوره ولس ملي ارزښتونه، ملي شخصیتونه او ملي هویت بې ارزښته او مسخره کړي. بهرني یرغلګر پوهېږي، چې د پښتنو د اربکیانو د لښکرو مشران سردار ایوب خان، فقیر اپیې، سردار وزیر محمد اکبرخان، عجب خان اپریدي، میربچه خان لوګري، محمدجان خان وردک، غازي ببرک خان ځدراڼ او سلګونه نور بې نامه بې نشانه غازیان وو. افغان غازیانو تل د خپل هېواد د خپلواکۍ او د افغان ولس د عزت د ساتلو لپاره د اربکي په کانسپټ کې خپل سرونه قربانیو ته د هېوادپالنې په مینې راپورته کړي دي.
پښتانه افغانان د نړۍ یوازیني خلک دي چې د یرغلګرو پر وړاندې د همدې اربکي کانسپټ په چوکاټ کې دریدلي دي. پښتونولي په خپله د خپلواکۍ، ریښتینولۍ او د پښتنو د ژغورلو یوه لار ده، که پښتانه خپل افغانیت خپل کړي، بلې پردۍ مفکورې، ایدیالوژۍ او بل پردي ځواک ته هېڅ اړتیا نه لیدل کېږي. د افغانانو دښمنان هڅه کوي، چې د اسلامیت، افغانیت او د افغان ولس د پت او ننګ لرغوني ارزښتونه ورک کړي، په ټولنه کې افغاني ارزښتونه ملي اتلان مسخره او سپک کړي. تر څو له افغانانو څخه د ملي نوامیسو، ملي احساس، ملي هویت، د خپل ځان دفاع مفکوره او حق

واخلي. د انګریزانو، روسانو، امریکایانو، پنجابانو او د ایراني جاسوسانو له مزدورو کړیو او رسنیو څخه اصلاً ګیله په کار نه ده، دوی قصداً د اربکیانو په مانا او د پښتـونولی په کوډکسونو باندې ځانونه نه پوهوي. د پنجاب واکدارن د ایران د اخوندانو په شان غواړي او هڅه کوي چې د افغانانو سنتي او دودیز جوړښتونه ګډوډ کړي، افغان کلتور، د افغان د ژبې ترمینالوژي او د افغانانو ملي او اسلامي ارزښتونه لمنځه یوسي.

## اوولسمه او ورستی برخه

## د پـښتـونـولی په قانونغونده کې د تربور او تربورګلوي کانسپټ

د پښتـونـولي د تربګنی کوډکس هر پښتـون دې ته هڅوي چې د پښتـنـو په کلیوالي چاپریال کې له خپل تربور سره په ګډه همغږی او سالمي سیالی کې سوله بیز ګډ ژوند وکړي او د تربورګلوی دواړه غاړې د یوې مدني تـولـنـې جوړولو ته رابولي. د تربورګلوی په کانسپټ کې یو پښتـون باید له خپل تربور سره د سیمې په هره چار کې او د کلي په هره ستونزه او راکړه ورکړه کې ګډ ودرېږي. د پښتـونولی د تربګنی کوډکس په خپله خپل ځانـتـه یو نورم یا یو نرخ لري، چې څوک تربور دئ او څوک تربور نه دئ. تربور د قبـیلـې یو مخور غړی دئ. له تربور سره په کلیوالي چاپیرپال کې زښت ډېـر پام کـېـږي. کلی یو سیمه بیز اقتصادي - ټولنیز ګډ واحد دئ؛ تربوران په کلیوالي چپریال کې او د کلیوالو د خیرښېګـنـې په چارو کې او د کلي د پرمختګ په چارو کې له یو بل سره په ګډه کار کوي.

پښـتــانـه په کلیوالي چاپریال کې له هر تربور سره په ډېـر احتیاط، درنښت او متقابل احترام کې ژوند کوي. پښـتــانـه په مجلسونو کې په زغرده او ویاړ وایي، دا زموږ تربوران دي. پښـتــانـه په کلیوالي چاپیریال کې له خپلو تربورانو سره په ګډه سوله بیز ژوند کوي. د پښـتـنـو د تربګنی کوډکسونه د اسلام له سپېـڅلـې دین سره په مطابقت یا د اسلامي شریعت تر حکم لاندې تل اصلاح او کنټرول کـېـږي.

په پښتـونولي کې تربور اکثراً د تره زوی یا د ورور زوی ته ویل کـېـږي. تر بورولي په مثبته مانا د ورور زامنو ته هم ویل کـېـږي، په پـښـتـنـه ټولنه کې د تره زامن په خپلو کې مساوي او برابرحقونه لري او له یو بل سره په سوله کې ګډ ژوند کوي. په پـښـتـنـه ټولنه کې تربور او تربورګلوي اکثراً د سیالی او دښمنی په مانا هم تعبیرکـېـږي. تربور که ښه سړی وي، د تره زوی دئ، که بد سړی وي د خره زوی دئ. د پـښتـو ژبې متل دئ، چې وایي، د تره زوی د خره زوی وي، یو پښتـون له خپل تربور سره تر هغو چې د دوی ترمنځ کومه لانجه نه وي رامنځته شوې، په ډېـر درنښت چلند کوي. د پـښـتـنـو په ټولنه کې تربور ته په منفي مانا سیال او ان د دښمن تر پولې کتل کـېـږي. په پـښـتـنـه ټولنه کې د دوستی او د دښمنی پولې جوتې دي. د دوستی او دښمنی د پولو ترمنځ د تربورولی نری پوله پرته ده. دا په یوه پښتـون پـورې اړه لري چې خپل تربور خپلوي یا دښمنوي.

د پښـتـنـو لوی ننګیالی شاعر حمزه بابا د پښـتـنـو د تربګنی په اړه لیکي:

رقیبه راشه چې ترمنځه تربګـنـی کړو لـېـرې
هغه ظالم خو تا په ما او ما په تا سوځوي

یا یو بل پـښـتـون شاعر لیکي:

څه ساده دئ دا پښتـون چې تربګنـی کا
زه د زړه ویني ځښم دئ دښمني کا

خلکو لاندې تر پښو ستوري سپوږمی کړل
دئ لا دوو میړو ته ناست دئ او شپني کا

## د پښتـونـولی د تیږې کانسپټ

د پښتـونولي په حقوقي اصطلاګانو یا کانسپټونو کي تیـږه یا د روغي – جوړې کانی د سولي د یوه ټاکل شوي مودل یا معیار لپاره کارول کېږي. کله چې د دوو کورنیو، دوو ډلو یا دوو قبیـلـو ترمنځ دښمني رامنځ ته شي او د بدو یا متخاصمو خواوو ترمنځ جګړه پیل شي نو د شخړې مسئله یا دعوا جرګې ته وړاندې کېږي؛ جرګه د یوې ټاکلي مودې لپاره تیـږه ږدي. د ساري په ډول رابلل شوې جرګه تر دوه ورځو یا یوې میاشت پـورې د اوربند موده ټاکي، د دې مودې په ترڅ کې هېـڅ څوک حق یا رښته نه لري، چې یوه خوا پر بلې خوا باندې تـېری وکړي. تر څو د نورو دښمنیو تـېریو او نورو جګړو مخه نیول شوې وي. ښکېـلي خواوې یا دواړه قبیـلـې د تیـږې د ایښودلو مقررات مني او د تیـږې نرخ ته په درنه سترګه ګوري، د قبیـلـې هر یو غړی دا نرخ پر خپل ځان پلي کوي. تیـږه د یوې جرګې له فیصلې څخه وروسته ایښودل کېږي. د جرګې پرېـکـړه خامخا عملي کېږي، هېـڅ څوک نشي کولی د جرګې له پرېکړو څخه سرغړونه وکړي .که څوک تیـږه ونه مني، هغه د پښتـونولی پر یو نرخ یا نورم باندې تـېري کړي دئ. تـېري کوونکي ته بیا د جرګې له خوا سزا هم ورکول کېږي. په بله وینا تیـږه یو قومي نرخ یا نورم دئ. تیـږه یوه خبرتیا ده، دغه خبر یا خبرتیا مقابل لوري ته ور پېـژندل کېږي.

د دعوی ګیـرو ډلو ترمنځ د احتمالي شخړو او د جګړو د مخنوي لپاره یوه کرښه ایستل کېـږي، دا کرښه د تیږې په نامه یادېږي. د جرګې پرېـکـړې د تیـږې د کرښې په څـېـر پـېـژندل کېږي او هېـڅ یوې ډلې ته اجازه نشته، چې له یولې یا کرښې څخه واوړي او د تیـږې نرخ مات کړي، پښتـنـو کې په عامه توګه ویل کېږي چې په دغه دعوی کې تیـږه ایښودل شوي ده. تیـږه د فیصلې او مقرراتو نوم دئ. پښتـانـه وایي، راځئ د پښتـونولی له نرخ سره سم تیـږه کېـږدو، چې له دې وروسته به هېـڅ څوک داسـې نه کوي.

## د پښتـونـولی د بدرګي کانسپټ


بـدرګـه کوونکی هغه چا ته ویل کېـږي چې د قبیـلـې د یوغړي یا د یوې ډلې د بدرګي لپاره د بدرګې په دنده ګومارل شوی وي. د بېلـګـې په توګـه، دوه کورنۍ له یو بل سره دښمني لري او له یوې کورنۍ څخه یو سړی زیاتره وژل شوی دئ او له بلې کورنۍ څخه یو مړی د قصاص په ډول پوروړی دئ، کله چې د وینې پوروړی د بلې کورنۍ له کلي یا سیمې څخه تـېـرېـږي، طبیعي خبره ده چې په ده باندې وسله وال برید کېږي او وژل کېږي. دی د ځان د ژغورلو لپاره مجبور دئ، چې له بل کلي یا کلا څخه یو سړی د بدرګي لپاره له ځانه سره واخلي، تر څو دی د وینې د پور اخېـستونکي له کلا یا کلي څخه په خوندي توګـه تـېـر شي. غچ اخېـستونکی د بـدرګـه کوونکي سړي په درنښت د وینې په پوروړي باندې ترهغو برید نه کوي، تر څو چې خپل مدعي یې یوازې یا ګوښې نه وي لیدلی. په بـدرګـه کوونکي سړي باندې برید، یوې بلې قومي دښمنۍ ته لاره خلاصوي.

## د پښتـونـولی د همسایه یا ګـاونډي کانسپټ

د پښتونولۍ په دود او دستور کې همسایه هغې ډلې ته ویل کېږي چې خوندیتوب او امن ته اړتیا ولري. همسایګانو د یو ځواکمن مخور قومي مشر په کلي کې یا د یو قومي خان د کور تر څنګ اړولي وي. همسایه په اصل کې هغه خلک دي، چې په خټه پښتانه نه دي، خو له پښتنو سره په ګاونډ کې ګډ کار او ژوند کوي. د پښتونولۍ په اصولو کې په همسایه باندي هر ډول برید داسې انګېرل کېږي لکه چې پر ساتونکي یا امن ورکونکي سړي باندي برید تر سره شوي وي.

## د پښتونولي د پګړي یا حشر کانسپټ

د پښتونولۍ په کانسپټ کې پګړه د افغاني مدني ټولني یو زوړ او لرغوني دود دئ. پګړه د په ګډه یا د شریکه په مانا استعمالېږي. سبا ته پګړه ده، یعني په شریکه کار کول دي. پګړه په کلیوالي چاپریال کې یوې ټولنیزې ستونزې ته په ګډه حل کولو ته وایي. د پګړې له لارې ډېرې د خیر ښېګني ټولنیزې چارې په ګډه تر سره شوي دي او کېږي. په یوه پګړه کې د کلي ټولو غړو ته خبر ورکول کېږي چې په دغه ورځ پګړه ده. لکه د لارو جوړول، د ویالي پاکول او د کاریزنو کیندل، له غرنو څخه لرګي راوړل، د غنمو لو یا رېبل، د شولو کرل د پګړو له لارې تر سره کېږي او یا د ختو د کلا د پخسو وهول هم د پګړې له لارې تر سره کېږي، کله چې د کلیوالو ویالې بندې شي سیل او یا توی - وړې وي او کله چې د کلي عمومي لار خرابه شي، کلیوال په پګړه راوځي. یا د طبیعي پېښو رامنځته کېدل لکه زلزله، د سېل یا د توی د راوتلو له کبله پګړه یا اشر تر سره کېږي. کله چې د کلي نایي په ډول وهلو پېل وکړي، کلیوال په خوښه له یوې چرۍ یا کولنګ سره را ټولېږي او رامنځته شوی زیان په ګډه بېرته رغوي. د پګړي غړ د هغو خلکو لپاره هم کېداې شي، چې نشي کولای یو کار په خپل یوازېتوب، بې وسۍ او د نورو خنډونو له امله تر سره کړي. د



پګړي له لارې د کلیوالو ترمنځ مینه، یووالی او ولسي پیوستون او اړیکي ټینګېږي. پښتانه هېڅکله د چا ښیګړه له یاده نه کاږي.

## د پښتونولی د لونګی، پټکي، پګړی، بګړی او د شملې کانسپټ

په پښتني روایاتو او اصولو کې د پګړی، لونګۍ یا دستار هسکه شمله د پښتنو د درناوي، پت ، عزت او ویاړ نښه نښانه پېژندل شوي ده. د پګړی پر سرکول د سنت یوه طریقه هم ده. د رسول الله مبارک به تل لونګۍ پر سر وه، پښتانه د پښتني ټولني له دود او دستور سره سم له لرغونو زمانو څخه پټکی پر سر کوي. یعني پښتانه له اسلامي سنت څخه پرته هم د پښتني ارزښتونو او دودونو پر بنسټ پټکی پر سر کوي.

کله چې پښتنه ټولنه کې د قوم یو مخور مشر ټاکل کېږي او یا یو مخور سړی د ښه او نیک عمل د تر سره کولو له کبله ستایل او نازول کېږي، هغه ته د مشر توب یا سړیتوب د قدر او عزت له

مخې پټکی ورترل کېږي.
شمله د افغان ننګ، ناموس او عزت د ساتلو مانا لري. شمله د نارینه توره او غیرت ده، شمله زمونږ د پلرونو او نیکونو د غیرت، شهامت او ویاړونو ګډ میراث دئ، نن یو ربښتـني ننګیالی پښتـون مجبور دئ چې د خپلو مشرانو او بابا ګـانو په ننګ او اتلولی باندې پـښتـنـي غیرت وکړي. یو عاقل اصیل پـښتـون هیڅ وخت د جاهلیت یا د جاهلانو په شان لـېوني بې ځایه ننګ او غیرت نه کوي.

د افغان د ننګ او غیرت شمله د افغانانو په دولتي تأریخ کې د افغانانو د ټولو مېړنیو پاچایانو پر سر هسکه ولاړه لیدل کېږي. د لونګۍ شمله په پښتـنـي ټولنه کې معنوی ارزښت لري. بې ننګه سړی په پښتـنـو کې هیڅ ارزښت نلري. لونګۍ د پښتـونـولۍ د ارزښتونو یوه ځانګړې ځانـګړتیا ده. پـګړی یا لـونګـۍ یوه سمبولیکه مانا لري. پټکی د نارینتوب نښه ده، چې د یو پښتـون ایډیالي شخصیت او د پـښتـونولي ټول اوصاف، ننګ، غیرت، مـېړانه او د اتلولۍ ټوله ټولګه افاده کوي.

له همدې امله په افغانستان کې ټول افغانان له شماله تر سویله له ختیځه تر لویدیځه لکه افغان تاجکان، افغان وزبیکان، افغان تورکمنان، افغان عربان، افغان هزاره ګـان لونګۍ پر سر کوي.

پـښتــانـه لـونګـۍ خپلو ولسي مشرانو ته ور په سر کوي. لـونګـۍ پـښتـنـو ته د پلرونو او نیکونو د ننګ، غیرت او عزت شمله برېښي. ټیکری یا پوړنی د افغاني ښځې د عزت او پت جامه بلل کېږي.

د پټکي یا لـونګـۍ ارزښت او یا د درنوالي مانا په شمله کې نغښتې ده. کله چې قومي خان او یا د قـبـیـلـي مخور مشر د پـښتـونولۍ په اصولو کې د پـښتـون ولس د ارمانو په لاره کې دریدلی وي، دی د خپل قام د شملې په نامه نومول کېږي. لـونګـۍ د افغانانو د قدر، عزت، ستاینې او ویاړ یو سمبولیک دود دئ، کله چې په پـښتـنـه ټولنه کې د پـښتـنـو د سیاسي مشرتابه یا د قـبـیـلـي د سپین ږیرو یا قام د مشرانو له خوا چا ته پګړی د ډالۍ په توګـه ور په سر کړل شي، هغه ته هممهاله یو لړ نور ټولنیز، سیاسي مسؤولیتونه ور په غاړه کېږي. پـګـړی یو عزتمن، غیرتمن سړي ته یا د قـبـیـلـي یو مخور پوه ځوان مشر ته ور په سر کـېږي، دی باید د خپل ولس او د خپلو خلکو د مشري جوګه وي.

ښه بـېلـګه یې د پـښتـنـو او د پـښتـونولۍ په اصولو کې ستر مخکښ ستر ټولواک، ستر افغان احمدشاه بابا علیه الرحمه ته د شیر سرخ د جرګې د غړو لخوا د ټولو افغانانو د مشرۍ پـګـړی ور په سر کړل شوه.

د پـښتـنـو په سیمو کې د قـرآن کریم د حفظ کولو او د دیني علومو د زده کړو د سند ترلاسه کولو په ویاړ د فراغت د پـګـړۍ ترلوغونډې جوړېږي. شمله یا پـګـړۍ د پـښتـنـو ځوانانو د ښایست او ویاړ نښه نښانه ده. یو بې غیرته پـښتـون د خپل قام شمله نړوي. یو با عزته اصیل شمله - ور پـښتـون افغان، خپله پلرنۍ شمله هسکه ساتي او خپل قوم ته ننګ، نیک نوم او نشان راوړي. په خواشینۍ سره په پـښتـنـه ټولنه کې نن سبا پـښتــانـه د لـونګـۍ په سرولو دود ورو ورو هـېروي. نن بې غیرته دښمن په خپله بې غیرته لـونګـۍ کې چاودیدونکې توکې ځای پر ځای کوي چې د روغبړ او ستړي مشي پرمهال یو بې ګنا ه ناخبره سړی په بمي لـونګـۍ کې الوځوال کېږي. یو ننګیالی او غیرتمن پـښتـون ته هیڅ د منلو وړ نه ده، چې خپل دښمن د لمنځه وړلو لپاره دې د لونګیو له بمي برید څخه کار واخلي.

دا هم د تعجب وړ خبر ده، چې نن هر سړي او نا سړي ته لـونګـۍ ور په سرکـېږي. د سړي ټولنیزو اخلاقو او صفاتو ته هیڅ نه کتل کـېږي او لـونګـۍ ور په سر کـېږي.

خوشال خان بابا په خپله دستارنامه کې لیکي:

چې دستار تړيي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي.

هسکه شمله دې ټيټه مه شه
د پښتـنـو په شمله ویاړي تأریخونه

که مې پښتـو درسره نه کړه
بیا به پـګړی د سره ځنګه تاوومه

د شملو وطن ته راشه، چې شملې درته په سر کړو، ته رڼا د ستور راوړه موږ به ویني د زړه در کړو.

## د پښتـونـولی د خان او قومي مشر کانسپټ

په پښتـنـه ټولنه کې په دودیزه توګـه خان یو میراثي نوم او لقب دئ. خو سـربېـره پردې ځینې د اغېـزې او شتنمنۍ خاوندان کولي شي دغه نوم ځـانـتـه د پښتـونولی په اصولو کې نوی وګـټـي. خان د خپل ټبر لومړنـی سړی ګڼل کـېـږي، په دې مانا چې په پښتـنـه ټولنې کې د پښتـنـي ټولنې ټول غړي مساوي حقوق او ګډ مسؤولیتونه لري او خان د دوی په منځ کې لومړی سړی دئ. د خان سیاسي او ټولنیز مشروعیت په دې کې نغښتي دئ چې دی باید خپل مسؤولیت د خپلو خلکو پر وړاندې د پښتـونـولی په اصولو کې تر سره کړي. خان کولي شي د خپل حاکمیت په سیمه کې د خپل اغېـز له لارې خپل واک نور پراخ کړي. خان کولي شي د کلي او د خپل ټبر د اړتیاوو په پوره کولو کې پر دولتي ادارو باندې خپل رسوخ او اغېـز وشیندي. په بله وینا خان په خپله ټولنه کې یو اغېـزمن، ځواکمن منلی سیاسي شخصیت دئ. په دې وروستیو څلورو لسیزو کې د خان نوم او د خان سیاسي وضعیت ته ستر زیانونه اوښوتي دي. د پښتـنـو د خان د سیستم د بېـرتـه راژوندي کولو لپاره باید نوی خان د وفات شوي خان له کورنۍ څخه وټاکل شي. دی باید په کافي اندازه اقتصادي زیرمې ولري او په ټولو کې لومړی باید د پښتـنـو په ایډیالي انځور او دودونو پسې روان واوسي. په دې مانا دی باید یو غیرتمن او ویاړمن سړی وي. خان باید له ناندریو پرته د پښتـونولی په ارزښتونو کې او د پښتـنـو په قبائیلي کوډکسونو کې ژوند وکړي. په پښتـنـه ټولنه کې چې هر څوک شتمن وي خان کـېـدای نشي، خان باید خپله شتمني او خپله پوهه، خپله تجربه او خپله مېـړانه د خپلو ولس په ګټه وکاروي.

پښتـنـو په خپل تأریخ کې پرته له دولتي ځواکه د پښتـونولی په چوکاټ کې د مشرانو، خانانو، جرګو، اربکیانو او د پښتـنـو د لښکرو له لارې خپل امنیت او عزت په خپله خوندي ساتلی دئ.

د پښتـنـو د مېـړنتوب د ایډیالونو په انځور کې نه یوازې توره بلکې د عقلانیت یا د عقل شعوري عمل، وړتیا او ټولنیز مسؤولیتونه هم شتون لري. یو پښتـون مشر په خپل شخصیت کې توره، عقل، شعوري وړتیا او ټولنیز مسؤولیتونه عملاً یو ځای په ګډه عملي کوي یا د سړیتوب همدغه ارزښتـنـاکـه ارزښتونه په ده کې هم مهاله یو ځای کـېـږي. پښتـنـي ټولنه کې کله چې یو پښتـون له ویاړونو او اتلولۍ ډک عملونه تر سره کړي، هغه د خان د نوم یا د خانۍ د لقب د ګټلو مهم رکنونه پر ځای کړي دي. له دې وروسته له هغه څخه په افغاني ټولنه کې یو مـېـړنـی خان سړی جوړیدی شي. دغه مـېـړنـی خان سړی باید د یوې سترې او ژورې پوهې خاوند هم وي، دی باید شعوري وړتیا ولري، تر څو د شخړو پر مهال سمې پرېـکړې او فیصلې وکړي. دی باید یو تـکړه ویاند هم واوسي. دی باید د پښتـونولی له منل شویو نورمونو او ارزښتونو څخه پالنه او ساتـنـه وکړي. دی باید په

مېـلمه پالنه کې ستر زړه او خلاص لاس ولري. دی باید اقتصادي بریالیتوبونه ولري. دی باید دې ته چمتو واوسي، تر څو په خپلو برياوو کې خپلو پلویانو ته، خپلو مېـلمـنو ته، د پناه غوښتونـکو او د خوندي ساتنې مستحقو کسانو ته خپله برخه ورکړي.

د خان خبره او د خان مشرتوب د سیمې په ټولو غونډو، مرکو، جرګو او د خیر ښېګـنـې په چارو کې مهم رول، ارزښت او خپل ځانګړی درونـد وزن لري. خلـک د خان خبرې اوري او مني يې، د خان واک او قدرت د هغه د پلويانو په شمېـر کې مالومېږي، دا هغه خلک دي چې د هغه په حجره کې تل کښته پورته کـېـږي. دغه خلک بيا له خان سره د شخړو او دعوی ګانو د حلولو په بهير کې درېږي. خان په دعوی ګانو کې د دې لپاره راغوښتل کـېـږي، چې شخړې ته نور د پای ټکی کـېـږدي، کليوال خپل خان د خپل استازي په نامه هر چـېـرې لېږي. خلک له خان څخه د عدالت، برابرۍ او مساوات غوښتونوونکي دي، کله چې خان دغه وړتياووې له لاسه ورکړي، دی بيا د خان نوم يا لقب هم له لاسه ورکوي.
د افغانستان د جګړو په بهير کې خانان د جنګي قوماندانانو له خوا په ډېـرو برخو کې شاتګ ته مجبور شوي دي، ځکه په افغاني ټولنه کې دفعتاً نويو مشرانو ته اړتيا پيدا شوه، د افغان جهاد په بهير کې مهمه خبر دا وه چې له پاکستان، ايران او له ګـرديږ نړۍ څخه راروانو وسلو، پيسو او خوراکي توکو ته لاره ومونـدل شي. د سيمې قوماندانان مجبور شول، چې د مقاومت او جهادي تنظيمونو غړي شي. تر څو د غړيتوب له لارې وسلې او مهمات تر لاسه کړي. ځينو دوديزو خانانو داسـې نشوای کولای چې له هر ناماللوم سړي او هر لوري څخه پـېـسـې او وسلې تر لاسه کړي. ځيني خانان مهاجرت کولو ته مجبور کړل شول. په پـښـتـنـه ټولنه کې د خانانو تشه او د دوی موقف د دې لامل شو چې د خانانو واک نويو را توکـېـدلو جهادي قوماندانو نسل ته وسپارل شي.

# پـښـتـونولي او پـښـتـنـه ټولنه کې ناوړه منفي دودونـه او رواجونـه

نورمونه او ارزښتونه له ګډ ژوند او انساني کړو وړو سره خورا مهمې اړيکې لري. کله چې په ټولنه کې نورم يا نرخ ماتوونکي ته سزا نه ورکول کـېـږي ورو ورو د ټـولـنـې په وګړو کې د نورمونو او ارزښتونو بدلون رامنځ ته کـېـږي. يوه ټولنه هغه مهال خپل شتون ثابتولی شي چې د نرخ ماتوونکي سړي ټول کړه وړه رابرسيره کړل شي. په هره ټولنه کې نورمونه شتون لري. د غه نورمونه د ټولنې د وګړو لپاره د وظايفو، مسؤوليتونو، اجازتونو، ممانعتونو يو چوکاټ جوړوي.

هره ټولنه د ډېـرو هراړخيزو منفي او مثبتو اړيکو او دودونو يوه ټولګه ده. دا د ټولنې په وګړو پـورې اړه لري چې په ټولنه کې کوم ارزښـتـونـه، جوړښتونه او نورمونه مراعاتوي او کوم نه مراعاتوي. د نړۍ په هره ټولنه کې منفي دودونه شتون لري. په کومو ټولنو کې چې ښه رواجونه، ښه دودونه، ښې کړنې او ښې اړيکې شتون ولري، هلته خامخا ناوړه او منفي دودونه هم شتون لري. پـښـتـنـه ټولنه هم د نړۍ يوه ستره وروسته پاتې دوديزه يا ستـنـي او پرعنعنوي عقايد ولاړه ټولنه ده، چې د سمون،روزنې، لارښوونې او سمبالښت لپاره يې ډېـر لږ کار تر سره شوی دئ.

يوه ټولنه هغه مهال يوه بريالۍ ټولنه ګڼل کـېـږي، چې په کې د وګړو فکرونه، اخلاق او استعدادونه په ښه توګـه وروزل شي، ټولنه د مثبت پرمختګ پر لور بدلون منونکي اوسي، ټولنه خپله خپلواکي ولري او د ټولنې خلک مسؤوليت منلو ته چمتو واوسي.

د پـښـتـنـې ټولنې غوڅ اکثريت ښځې او نارينه په کليو او بانډو کې يو ډېـر خوار او زار، ستړی ستومانه او له کړاونو ډک ژوند لري، دوی د نوې نړۍ له پرمختګونو څخه لېرې پاتـې شوي دي او

له خپلو مدني حقونو څخه نا خبره دي. پښتنې ټولنه کې خلک له خپلو اسلامي حقوقو څخه هم ناخبره دي. په پښتنه ټولنه کې تر اوسه د اسلام د سپیڅلي دین د قوانیونو په شتون کې او د پښتونولۍ د ارزښتونو په شتون کې له اوږدې مودې راهیسې ناوړه او منفي دودونه په خپل قوت سره پاتې شوي دي.

پښتنه ټولنه له ناسمو دودونو او بدو رواجونو څخه زښته ډېره کړېږي. د بېلګې په توګه په ځینو سیمو کې د نجونو د لوړ ولور ناوړه دود، په بدو کې د ښځې د ورکولو دود او د میراث له حقه د ښځې محرومېدل، داسې نور منفي دودونه، ناسمې ښکارندې، غیر شرعي کړنې د اسلامي او د پښتونولۍ له اصولوسره تړاو نلري.

په پښتنه ټولنه کې قومي مشرانو او دیني عالمانو د دغو ناوړو دودونو، غیر انساني، غیر شرعي او ټولنیزې ستونزې پر وړاندې تل غونډې، ویناګانې او پرېکړې د یو قومي تړون په څېر کړې دي. د سرغړونې په صورت کې سرغړوونکي سړي یا کورنۍ ته یې د ناغه سزا هم ورکول کېږي. سربېره پردې سرغړوونکي ته په پښتنه ټولنه کې په سپکه سترګه کتل کېږي او د یو بې نرخه سړي په څېر پېژندل کېږي.

پښتنې ټولنه کې له ناوړو منفي دودونو او راوجونو سره زیاتره ښځینه جنسیت مخامخ دئ. په پښتنه ټولنه کې غیر انساني او غیر دیني دودونه له پخوا څخه شتون لري، له همدې امله پښتانه له ډېرو کلتوري محدودیتونو او ناوړو دودونو سره لاس او ګرېوان دي. دغه ټولنیزې ستونزې ډېرې ژورې ریښې لري.

پښتنه ټولنه له یوې نیمې پېړۍ راهیسې د انګریزي او روسي امپراتوریو د سیاسي، پوځي سیالیو او امپریالستي سیاستونو له امله قصداً په انزوا کې ساتل شوي ده. له همدې امله د ښځینه او نارینه پرمخ د زده کړې درې/دوازې تړل شوې دي. په پښتنه ټولنه کې د نالوستو خلکو سلنه ډېره جګه ده. پښتنه ټولنه د پوهې له نشتوالي سره مخامخ ده. که په ټولنه کې ټول خلک په موازي توګه عام پوهاوي او ساینسي پوهنې ته لاسرسي ومومي تر ډېره بریده به د ښځو او نارینه وو ستونزې حل شي، په ټولنه کې به د ناو تریخوالي کچه کمه شي او د منفي دودونو مخنیوی به وشي.

## په پښتنې ټولنې کې پښتنو او پښتونولي دغو لاندو ارزښتونو ته ډېر پام کړی دئ.

په پښتنه ټولنه کې پښتنې خویونو او پښتنې اخلاقو ته پښتونولي ویل کېږي. هر هغه څوک چې پښتو ولري، غیرت او مېړانه ولري، جرئت ولري، مېلمه پالنه ولري، پر خپله ژمنه، وعده او قول وفا ولري، د حق یا رښتیا پلویتوب وکړي، په خپل ناموس کلک ولاړ وي، له دښمن سره جګړه وکړي او یا په جګړه کې اتلولي تر سره کړي؛ هر انسان چې له ځانه ولسي زړورتوب وښیي، هر څوک چې د خپل ځان او د بل عزت، حیثیت، انساني کرامت ته درنښت ولري او همداسې شرم او حیا ولري او کله چې یو انسان له فساد، له بداخلاقیو، بې شرمیو او بې ناموسې څخه ډډه وکړي؛ همدا انسان د پښتو او پښتونولۍ د ارزښتونو احساس په ځان کې لري، د پښتنو په نړېوال فکر او د پښتون د شخصیت په انځور کې، همدغه سړی یو رښتنی او ایډیالي افغان پښتون دئ.

پښتونولي د پښتون د پاک وجدان په برخه کې وده کوي. افغانیت د سلیم عقل او پاک وجدان پر بنسټ تر سره کېږي. پښتونولي، انسان له بدو اعمالو څخه منع کوي او سمه لار او بده لار ورته ښیي. افغانیت یو انسان د بل انسان متقابل درنښت ته هڅوي، پښتونولي یو انسان ته یوه بېساري فردي آزاد ي او خپلواکي وربخښي.

پښتـونولي د يو پاک او صادق انسان په ضمير کې وده کوي. پښتـونولي همدلته په يو پاک انساني احساس باندې بدلېږي. يو پښتـون انسان په دغه پښتـنـي احساس کې ځان ځواکمن، ډاډمن، غيرتمن، خوشاله، نيکمرغه او بريالی احساسولی شي. همدغه پاک احساس په هغه کې د ښو او نيکو اخلاقومديريت کوي. د يو انسان په فکرونو کې د ښو او بدو کړنو توپير په ګوته کوي. همدغه احساس يو انسان د خپل پاک وجدان په برخه کې ښو او نيکوعملونو ته هڅوي. د پښتـنو يو بل متل دئ چې : پښتـون هغه دئ چې پښتـو ولري، نه هغه چې پښتـو وايي. پښتـانـه په دې باور دي چې پښتـونولي د ښو انساني اخلاقو، آدابو، رواجونو، ښو دودونو او لوړو ټولنيزو خويونو يوه مدني ټولګه ده. څوک چې ظلم او ناروا عمل تر سره کوي، د بل حق خوري، بې شرمي او بې غيرتي کوي او د خلکو بې عزتي کوي، شر جوړوي، دی يو بې پښتـو انسان دئ.

د افغانيت په ارزښتونو کې يوازې پښتـون نه محاسبه کېږي، بلکې د پښتـونولی په ارزښتونو کې هر انسان تلل کېداي شي. د بېلګې په توګـه د يو چا مورنی ژبه به پښتـو وي خو پښتـونولي به نلري. د بل چا مورنی ژبه به پښتـو نه وي خو د هغه کړه وړه به د پښتـونولی پر اصولو باندې برابر وي او د يوه رښتوني پښتـنـون په سترګو کې د ده کړه وړه د پښتـونولی په چوکاټ کې تر سره کېږي؛ دغه ستر با وجدانه انسان په پښتـو او د غيرت په لاره کې ولاړ دئ او پښتـونولی ته يو ژمن انسان دئ. کله چې يو انسان په خپل ځان کې مينه، محبت، په ځان باور، رښتينولي، مساوات، عدالت، سړيتوب، شخصيت او قوي ايمان ولري، هغه پښتـونتوب کوي.

## راتلونه او لنډيز

ارزښتونه د يوه ولس ژور احساسات دي او د ټولنـې ټول وګړي ځان په کې ګډ احساسوي؛ ټولنيز ارزښتونه ټولنيز معيارونه دي. افغانيت نه يوازې د افغان ملت د حقوقي نورمونو او ارزښتونو يوه ټولمنلې ټولګه ده، بلکې پښتــونولي له لرغونو زمانو څخه د پښتـنـو په ژوند کې لرغوني ميراثي ايډيالوژيکي کوډکسونه دي. د افغان ملي دولتونو په کورنيو او بهرنيو سياستونو کې د پښتـونولی ځينو کانسپټونو لکه لويې جرګې، د مشرانو جرګې، ولسي جرګې او ملي جرګې ستر رول لوبولی دئ. د پښتـونولی د فلسفي فکر اصلي تمرکز په دې ټکي باندې را څرخي چې د پښتـون افغان ولس د هر يو غړي شتون او عزت له ګواښ سره مخامخ دئ. همداسي د هرې قبيلـې او ټبر شتون او په ټوليزه توګه د ټول افغان ولس برخليک د تل لپاره د افغان ولس د دښمنانو لخوا تر ګواښ لاندې دئ. پښتـونولي د يو اصيل پښتـون افغان ايډيالي انځور او سړيتوب په مساوات، برابري او فردي خپلواکی کې ترسيموي يا په کې ښودل کېږي. پښتـونولي پښتـنـو ته په ټولنه کې د مشرتوب، مشرولی او د ولسي يووالي لارښوونه کوي او د يو پښتـون د انفرادي ژوند د کړو وړو لپاره معيارونه ټاکې. د پښتـونولی دا نورمونه او معيارونه د اصيلو افغانانو له خوا د زړه له کومي په يو ډېر عالي احساس او پاک ضمير سره پلي کېږي.

د پښتـونولی اصلي منځ - زړی او د رښتينولی فلسفي فکر، هر رښتوني افغان پښتـون ته دا ورزده کړي دي چې ته، ستا کورنی، ستا قبيلـه، ستا سيمه، ستا ولس، ستا هېـواد، ستا مشران او ستا پښتـنـي افغاني ملي هويت، ملي ارزښتونه تل د پرديو له ګواښونوسره مخامخ دي. دا ستا د ننګ او غيرت ايماني دنده ده چې د بهرني دښمن پر وړاندې دفاع اوساتـنـه وکړې. پښتـونولي د پښتـنـو افغانانو په ستر هېـواد کې د سوله ييز عدالتي ګډ ژوند لپاره هر پښتـون ته يوه منل شوې او د لرغونو ارزښتونو يوه ستره قانونغونډه ده.

پښتـونولي يا افغانيت د پښتـنـي ټولني قبائيلي لرغوني ايډيالوژي ده. پښتـونواله يا پښتـونولي

پښتنو ته له پلرونو او نیکونو څخه، له یو نسل څخه بل ته، په شفري، شفاهي او شعري تحریري ډول په میراث پاتی شوي ده.
د پښتونولی د پوهي اصلي مانا په دې کې ده چې دغه انساني پوهه د انسانانو پر کولکټیفي سالمه ګډه پوهنه باندې راڅرخي. پښتونولي له پېړیو پېړیو راهیسي پښتنو ته په پښتنه ټولنه کې د ټولنیز امن او نظم ټولنیزعدالت، عدم تشدد، د سوله ییز ګډ ژوند پر لور هدایت او لارښوونه کړې ده.

پښتونولي د پښتون افغان ولس د ملي یووالي او ملي دولتونو ایډیالوېیک بنسټ ایښودلی دئ. پښتونولي له لرغونو زمانو څخه د سوکاله، خوشحاله ټولنې لپاره د باوجدانو با ضمیرو انسانانو یو ګډ فکر دئ. د لویدیځ ټولو مخورو نامتو ښاغلو څېړونکو د پښتنو افغانانو د پښتونولی یا له فلسفي حقوقي فکر څخه لږ یا ډېر د یو ډول انځور او پوهنې اخېستنه کړې ده.

پښتونولي یا افغانیت په لوی افغانستان کې دننه او بهر یا په ګرده نړۍ کې د درست پښتون افغان ولس د سریتوب یا د شخصیت یوایډیالي انځور په څېر پېژندل کېږي.

مسلمان پښتون مجبور دئ چې د پښتونولی مثبت ارزښتونه او نورمونه په خپله پر خپل ځان باندې تطبیق او پلي کړي. د پښتونولی اصول په ډېر قوت سره د پښتون افغان ولس په ملي هویت، انفرادي کرکتر او کړو وړو باندې راولاړل شوي دي. د بېلګې په ډول د پښتونولی په حکم او قانون کې سړی له خپل سر څخه هم تېرېږي او دا نه مني چې له پښتي یا پښتونولی څخه دې وایستل شي. پښتنه ټولنه یوه هویتي دودیزه قبیلوي رنګه ټولنه ده.
د افغانانو تأریخ او د پښتونولی په اړه د نړۍ په تأریخي کتابونو کې او د نړېوالي مدني ټولنې هر توکمپوه، ټولنپوه او حقوقپوه په خپلو لیکنو او څېړنو کې د پښتنو له لرغونو انساني ټولنیزو نورمونو څخه په عزت او درنښت یادونه کړې ده. دوی اقرار کوي او وایي چې پښتنې ټولنه له پخوا وختونو څخه کومه ابتدایي، ساده، آسانه یا پریمیتیف ټولنه نه وه. پښتونولي یا پښتون اوسېدل دودیز قومي قانون دئ چې یو پښتون باید په څه ډول په ټولنه کې یو پښتون واوسي. ځکه هر څوک پښتون کېدای نه شي، په لومړي سر کې پښتونولي د پښتونو د عزت کوډکس دئ، عزت او ننګ د پښتون یوه ستره انساني معنوي شتمني ده. په پښتونولی کې خپلسری عمل او یا پرېکړه نشته، هره پرېکړه جرګې ته د پوره واک له ورکولو څخه وروسته ټاکل کېږي، د جرګې فیصله د قومي لښکر له خوا خامخا پلي کېږي.

په افغانستان کې پښتانه نه یوازې تر ټولو ستر توکم دئ، بلکې پښتانه په نړۍ کې هم د شمېر په پرتله یوه ستره قبائیلي ټولنه جوړوي. په عمومي توګه حد اقل پښتانه په ایډیالي انځور کې خپل نارینتوب په برابری، مساوات، فردي خپلواکۍ کې ښیي. دا د دې لامل کېږي چې یو پښتون هیڅ وخت بل څوک پر خپل ځان ونه مني؛ دغه حالت خپل په خپله کړکېچونه رامنځته کوي. د شخړې او تاوتریخوالي او د زور زیاتي د کچې د راتیټولو یا د کړکېچ د حل او فصل کولو او د ټولنیزو ستونزو د لیري کولو لپاره د پښتنو جرګه یا مرکه، د خبرو اترو د یو پلاټفورم په څېر په اختیار کې لري.

د څو لسیزو جګړو، ترخو تجربو، کډوالیو، ټولنیزو او اقتصادي کمزوتیاوو زمونږ په افغاني ټولنه کې بنسټیز بدلونونه راوستي دي. د څلویښتو کالو جګړو په ترڅ کې د پښتنو د لرغونو دودونو او ارزښتونو ترمنځ اعتماد او اعتبار ډېر سخت او د پامور اغېزمن شوی دئ. په خواشینی سره څوک د جرګو پرېکړو ته سر نه ږدي.

په افغانستان کې بېړنیو حالاتو، خوارځواکیو، ناامنیو، جنګ جګړو، د مخدره توکو دولت، په دولت

کې مافیایي کړی، اداري فساد، د عدالت او بې پرې قضایي ارګانو د نشتوالي له امله ډېریو خلکو یو ځل بیا خپلو دودیزو کلیوالي، کورنیو او قبائیلي ارزښتونو ته مخ وراړولی دئ. دا دپښتنو د زرګونو کالونو قومي اصول دي. په ځینو پښتني سیمو کې د جرګو او مرکو واک او اختیار د پردیو پنجابي، عربي، وزیبکو او سختدریځو چیچینایي اسلامي بنسټپالو په واک کې ورغلي دئ. دوی د ناپوهه قوماندان ملا په اشاره د پرېکړو واک له قومي پښتنو مشرانو، خانانو څخه د جهاد پر مهال اخېستی دئ، دوی په پرېکړو کې له سختدریز سیاسي اسلامي فکر څخه کار اخلي.

موږ ټول په دې ډېر ښه پوهېږو چې ډېرو خلکو د اسلام له سپېڅلي نامه او قانون څخه په پوهه او یا نا پوهی کې ناوړه ګټه اخېستي ده. همداسې د پښتنو په څو زره کلن نا لیکل شوي قانون کې غیر انساني، غیر اسلامي او غیر مدني افغاني دودونه په پوهه او یا ناپوهی کې ورګډ شوي دي. هر غیر انساني، غیر اسلامي او غیر افغاني عمل له پښتونولی سره تړاو نه لري؛ هغه یو جنایي جرمي عمل دئ، پښتانه یې نه مني. د جرګو پرېکړې چې په ډېرو کې د پښتونولی له حقوقي نورمونو څخه کار اخېستل کېږي، د کلیو جرګوال، چې حقوقي زده کړې نلري له بشري حقوقو څخه ناخبره، د کمې تجربې خاوندان دي او د کم عمرو خلکو په لاس کې دي. دوی د پښتونولی اصیل مدني، انساني، افغاني توکي او بلاخره د پښتونولی په فلسفه، ټولنیز عدالت، اصولو او مقرراتو باندې سم نه پوهېږي، پرېکړې او فیصلې د زورور او شتمن سړي په ګټه کوي. طبیعي خبره ده چې دا پرېکړې او فیصلې د پښتنو لپاره د منلو وړ نه دي. له همدې سره د پښتونولی ارزښتونه خلکو ته بې ارزښته کېږي او پرېکړې نه عملي کېږي. دغو بې مخو بې سټو پرېکړو او فیصلو زموږ افغاني ټولنه له نورو سیاسي، ټولنیزو، حقوقي، نویو خپلمنځي تربګنیو، دښمنیو او کړکېچونو سره مخامخ کړې ده. کله چې تأریخ، کلتور ټولنیز اخلاق، مورال، لرغوني دودیز ارزښتونه او مخور تجربه لرونکي قومي مشران لمنځه ولاړ شي، په ټولنه کې یوه تشه رامنځته کېږي. ټولنیزه وفاداري، اعتماد او اعتبار لمنځه ځي، یوازې د زور او زر یا د مادیاتو کلتور په ټولنه کې حاکم کېږي.

هیله ده چې د افغانستان پوهنتونونه د ژبواو دبیاتو، ټولنپوهنې، د تأریخ او فلسفې پوهنځي، هېواد-پـال افغان محصلین په دې برخه کې پوهنتوني، پوهنیزه څېړنې وکړي او ورسره د افغانستان قانون جوړونکي ارګانونه د پښتونولی ځینې نورمونه د نوې مدني ټولنې د قانون په چوکاټ کې له سره ولیکي ترڅو د غیر انساني، غیر اسلامي او غیر افغاني، له وېرې او نفرت خپرونو او له دښمنیو، تربګنیو د ډکو پرېکړو او فیصلو مخه ونیول شي. هیله ده، په ګران افغانستان کې پوهنتوني ځوانان د دې مهمې موضوع په اړه نور دقیق، کره او مؤثق اسناد ومومي او ښې څېړنې تر سره کړي. هیله ده چې د پښتونولی دغه نالیکل شوی قانون د یوې رسمي او معتبرې مرجع له خوا ولیکل شي. او په یوه ملي زیرمتون کې خوندي وساتل شي.

د دې اوږدې لیکنې د وروستۍ برخې په پای کې زه له درنو لوستونکو څخه بخښنه غواړم، که څه هم ما تر خپله وسه د کور، کار او زموږ د ټولنیز ژوند د ځانګړو ستونزو په لرلو سره سره هڅه کړې او په دغه لیکنه کې ما له بېلابېلو باندنیو څېړنو، ژباړو او کورنیو منابعو او آثارو څخه کوم چې ماته په لاس راغلي استفاده کړې ده، ښایي په دې لیکنه کې ډېرې املایي، انشایي تېروتنې او تخنیکي نیمګړتیاوې شتون ولري. دا یوه جوته خبر ده، چې زه په دې نه یم توانېدلی چې د پښتونولی په اړه ټول مالومات راټول کړم او په سمه توګه یې د یو پوهنتوني استاد تر څارنې لاندې ولیکم، زه پوهېږم داسې یوه څېړنیزه لیکنه د یو سړي کار نه دئ. دا کار د یوې علمي ډلې کار دئ تر څو هر اړخیزه ژوره علمي څېړنه وکړي. ما په خپل توان سره هڅه کړې، چې زه د یو مسلمان افغان په توګه خپله پښتونولي افغانیت په څه ډول پېژنم، ما له یوه نا پېژندل شوي او نا څېړل شوي او له پامه غور ځیدلي پښتني سمندر څخه یو څو څاڅکي را پورته کړي دي.

پای